د هېواد لرغوني ښارونه
او
د تاريخ پاڼې

لومړی ټوک

ليکوال
پوهاند رازقي نږ[illegible]
۱۳۸۵

بسم الله الرحمن الرحیم

د هیواد لرغوني ښارونه
او
د تاریخ پاڼې

لومړی ټوک

لیکوال

پوهاند رازقي نړیوال

خپرونکی

دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت
د خپرونو او فرهنګي چارو ریاست
د خپرونو لوی مدیریت

۱۳۸۵

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم:	دهېواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې
لیکوال:	پوهاند رازقي نړیوال
مهتمم:	الحاج محمد انور شمسه خیلي
د چاپ نېټه:	۱۳۸۵
دچاپ شمیر:	۱۰۰۰ ټوکه
کمپوز او ډیزاین:	اکمل "عازم"

چاپ: بنگاه انتشارات و مطبعه میوند، جوار ریاست فارمسی، مقابل لیسه عالی افغان ترک، کابل - افغانستان
تیلفون و فکس: ۲۱۰۳۵۶۹(۲۰)۰۰۹۳، ۰۲۰-۲۲۰۰۴۵۵
تیلفون های همراه: ۰۷۰۲۹۵۲۱۴، ۰۷۰۲۸۴۹۵۴، ۰۷۹۹۳۲۰۳۶۶، ۰۷۹۹۸۶۰۲۲۱
پست الکترونی: maiwand@asia.com

یادونه

د سرحدونو. قومونو او قبیلو چارو وزارت د خپرونو او فرهنگي چارو ریاست د خپرونو لوی مدیریت ویاړي چې د پښتو د ویاړلي او ځواکمن ادب په گلبڼ کې نور گلان را ټوکیږي او د هغې ښایست لا زیات او ارزښت یې لا پیاوړی کوي.

دادی بیا هم د پښتو ژبې مینه والو او دوستانو ته د ښاغلي پوهاند رازقي نړیوال اثر (د هېواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې) تر سرلیک لاندې لومړی ټوک د کتاب په شکل ډالۍ کوو. په دې کتاب کې د هېواد د دیرلسو لرغونو ښارونو او د سیمو جغرافیوي موقیعتونو او تاریخي ارزښت. دفاعي خصوصیات. نظامي ارزښت او داسې نورې ځانگړتیاوې څېړل شوي دي. موږ د هېواد د پېښلیک مینانو. لیکوالو. شاعرانو په تېره بیا تاریخ لیکونکو ته د یوه تاریخي هنري جامع او ښکلي انځور په توگه په زړه پورې ارزښت لري. ښاغلي نړیوال د ۱۳۲۹ کال راهیسې په څو ادبي او فرهنگي چارو کې برلاسی لري او څو کاله کیږي چې د هېواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې تر عنوان لاندې اثر د ډیرو ستونزو په گاللو او ژورې څېړنې سره د پښتو په خوږه ژبه ټول او چمتو کړی دی. د نړیوال صاحب دا اثر نه یوازې په تاریخي لحاظ نه بلکې په ژبني لحاظ هم ډیر ارزښت لري. موږ ښاغلي نړیوال صاحب ته په ژوره مینه د دغه کتاب د خپریدو مبارکي وایو. او د خپرونو په برخه کې یې د ښاغلي نور محمد "حیدري" نه ستړي کیدونکي هڅې ستایو. او د هېواد پیاوړو او درنو لیکوالو. ادیبانو. پوهانو. شاعرانو ته ډاډ ورکوو چې د سرحدونو. قومونو او قبیلو چارو وزارت د خپرونو او فرهنگي چارو ریاست د بیلابیلو ارزښتناکو اثارو د چاپ او خپرونو په برخه کې نه محترمو پوهانو سره د نه هیڅ راز مرستې څخه ډډه نه کوي.

په ډیر درناوي
الحاج محمد انور "شمسه خیل"
د خپرونو لوی مدیر

د موضوعګانو فهرست

موضوعګاني	مخ

تقریظ - سر محقق نصر الله سوبمن ۱

تقریظ- سر محقق ډاکتر الف محمد شرر ت

تقریظ- د سر محقق مرستیال نظر محمد عزیزي ح

سریزه ۱

۱- کندهار (اشرف البلاد) ۵

۲- کابل (د افغانستان زړه یا خلور لارې) ۱۵

۳- بلخ (ام البلاد) ۳۸

۴- هرات (د مرغلرو ښار) ۵۰

۵- غزني (عروس البلاد) ۶۷

۶- ننګرهار (د باغونو او ګلونو ښار) ۷۷

۷- زرنج (مدینة العذرا) ۹۴

۸- کاپیسا – بګرام (د هندوکش د لارو ور) ۱۱۷

۹- ګردیز (د پکتیا ولایت دروازه) ۱۴۲

۱۰- لوګر (مثلث الشکله سیمه) ۱۵۳

۱۱- کونړ او نورستان (د افغانستان کشمیر) ۱۶۷

۱۲- غور (د ښکلو ښارونو ماڼیو او مستحکمو کلاګانو مجتمع ۱۹۵

لومړی

۱۳- تخارستان (د نجيبه ډبرو او د قيمتي کانونو سيمه	۲۲٤
- برنۍ تخارستان (بدخشان يعنې بلخشان)	۲٤٠
- ښکتنۍ تخارستان	۲٥٨
- د تخارستان طبيعي عجايب	۲٧٧
۱۴- پايله او وړانديزونه	۲٨٠
۱۵- اخځليکونه	۲٨٢
۱۶- د ليکوال لنډه پيژندنه	٠

تقريظ

د هېواد لرغوني ښارونه او د تاريخ پاڼې

محترم پوهاند رازقي نړيوال د پورته سرليک لاندې اثر مې ولوست په دې کتاب کې د هېواد د ۱۳ لرغونو ښارونو او سيمو جغرافيوي موقعيتونه. تاريخي ارزښت. نظامي ارزښت. د تاسيس بڼه. دفاعي خصوصيت او داسې نورې ځانګړتياوې څېړل شوې دي. تر دې وخته په دې موضوع کې يو ځانګړي. مفصل او جامع اثر په تېره بيا په پښتو موجود نه و. په دې اساس د استاد نړيوال په همت دې برکت وي چې د هېواد د لرغونو ښارونو په هکله يې څېړنه. ګروېږنه وکړه او خپل اثر يې په روانه پښتو ژبه ترتيب او چاپ ته چمتو کړ.

لکه چې پورته ياده شوه. په دې اثر کې ۱۳ ښارونه شرحه شوي او داسې معلومېږي چې د کتاب دويم ټوک به هم د استاد په همت په ورته بڼه چاپ ته آماده شي. په دې لومړي ټوک کې استاد نږدې له ۸۰ ماخذونو څخه استفاده کړې چې دا پخپله د اثر د غنا له پاره بنسټ برابر کړي دي.

مؤلف خپله څېړنه د اشرف البلاد کندهار څخه پيل کړې او بيا يې د کابل. بلخ. هرات. غزني. ننګرهار (د باغونو او ګلونو ښار) زرنج. کاپيسا-بګرام.

ګردیز، لوګر، کونړ، نورستان او غور ښارونه او تاریخي سیمې په سیستماتیک ډول څېړلي دي

د اثر لیکوال، استاد نړیوال نه یوازې په تاریخي لحاظ د دې اثر په بشپړتیا کې زیار ایستلی، بلکې په ژبني لحاظ، یې هم هڅه کړې چې د اثر په کښنلو کې له معیاري او عام فهمې ژبې څخه کار واخلي، تر څو په لوستلو کې یې هرڅانه آسانتیاوې برابرې شي. له بلې خوا څرنګه چې استاد نړیوال د هیواد یو خوږ ژبي شاعر او ادیب دی، نو په کتاب کې یې د انشاء او ادبي خواوو څخه هم څه کمې نشته او ښکلې کلمې او جملې یې کارولي دي

لیکوال د دې اثر په ترتیب کې زښتیا زیات زیار ایستلی او د لومړي ځل له پاره یې د هیواد د فرهنګي بډایې په منظور دا اثر چاپ ته چمتو کړی. له دې اثر څخه د عامو لوستونکو تر څنګ محصلان، په تېره بیا د لرغون پوهنې د څانګې زده کوونکي پوره ګټه اخستلی شي زه د دې اثر چاپ یو ګټور اقدام بولم او لیکوال ته له الله پاک څخه د دغسې نورو آثارو د تالیف توفیق غواړم.

سرمحقق نصرالله سوبمن منګل

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د بشري علومو مرستیال

۱۳۸۴/۱۰/۲۸

تقريظ

د محترم پوهاند رازقي ړيوال پر اثر د هېواد لرغوني ښارونه او د تاريخ پاڼې

د سرحدونو او قبايلو د چارو وزارت د ۶۴/ ۱۳۸۴/۹/۱۶ ګڼې مکتوب، او د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو د اکاډمۍ د بشري علومو د معاونيت د ۸۱۲/ ۱۳۸۴/۱۰/۸ ګڼې مکتوب په ځواب کې بايد ووايم، چې د ټولو مصروفيتونو سره سره، د پورتني اثر د لوستلو او مطالعې مسؤوليت مې په غاړه واخيست.

محترم څېړونکي د موضوع د ماهيت او د ټولنيزو پديدو د مبرميت د پېژندلو په ترڅ کې دا تشخيص کړي دي چې څه؟ څه دي؟ نو ځکه دی دې ته وهڅېد تر څو د هېواد بډای لرغوني تاريخ د هېرېدني نه وساتي او د انسانانو په مفکورو او تصوراتو کې ورځای کړي.

څېړونکی چې اوږده د ليک، لوست او څېړنې بډايه تجربه لري او د څو تکاملي پړاوونو وهونکی دی، په خپله څېړنه کې يې محتاط او دقيق دريځ غوره کړی دی. د ده د څېړنې نه داسې ښکاري چې دی د لرغونپوهانو سره مينه او د لرغونپوهنې سره نږدې اړيکې او ښه زده کړه لري. ده په خپله څېړنه کې دا ثابته کړې ده چې، هيڅ ډول تعصب د ده په ليکنو کې نه ليدل

کيږي. که څه هم چې د دغه اثر ليکنه ډېره تحليلي بڼه لري، خو بيا هم د ده ليکني په ډېر ښه ادبياتو او مناسبو جملو سمبال شوي دي. د ده په ليکنه کې، لوستونکي ته دا امکان لاس ته ورځي تر څو د ليکني په ميتود آګاه او د هغه نه ښه انتباه واخلي. د ده ليکنه نه يوازې دا چې د هېواد ښارونه توضيح کوي، بلکه د نوي مفکورې وړاندي کوونکي دی.

ده دا ثابته کړې ده چې انساني ماهيت د ده په څېره کې نه، بلکه د ده په مفکوره کې پروت دی. ښې جامې، ښکلي الفاظ د ښه مفکورې تضمين کوونکې نه دی. علت هر ځانته معلول لري، هيځکله د يوې پديدې معلول د پردی (بلي) پديدې د علت محصول نه شي کېدای. نو ځکه د محترم څېړونکي ليکنه مونږ د ده زحمت بولو.

محترم پوهاند رازقي نړيوال د دغه اثر په ليکنه کې ښه زيار ايستلی دی. د ده په اثر کې د عناوينو فهرست، سريزه، د ديارلسو ښارونو تشريح، پايلي او وړانديځونه، اخځليکونه او د څېړونکي پيژندنه ځای لري.

محترم ليکوال په سريزه کې د هېواد لرغونی انځور وړاندې کړی دی، او دا يې جوته کړې ده چې افغانستان کوم مصنوعي او ناڅاپه پديده نه، بلکه يوه اوږده طبيعي پروسه ده چې د دې هېواد لرغونتوب ثابتوي.

ده په دغه ټوک (لومړي ټوک) کې يوازې ديارلس ښارونه په تاريخي لحاظ تشريح کړي دي، چې ښه په زړه پوري معلومات په دې هکله وړاندې شوي دي. د هر ښار د تسميې وجه، تاريخي شاليد او لرغوني ځايونه شتون ښودل شوی دی.

د ده پایلي په اثر کې د ده د مفکوري څرګندوي دي، چې دی دا هیله او هوډ لري تر څو خپل دغه پیل شوي دنده (د هېواد د لرغونو ښارونو پېژندنه) هېوادوالو ته بشپړه او وړاندې کړي

دا اثر چې په ټولېزه توګه ۱۷۰ مخونه لري. په لیکنه کې له ۸۰ ماخذونو څخه کار اخیستل شوی دی. زه د ده کار او زیار په دغه هکله ستایم، او د دغه اثر د چاپ وړاندیز کوم او ګران لیکوال ته پوره روغتیا او د لا ښه ځیرني هیله کوم

په درناوی

د افغانستان د علومو د اکاډمۍ علمي غړی

سرمحقق ډاکتر الف محمد شرر

۲۱ / ۱۰ / ۱۳۸۲

تقريظ

پيرامون اثر محترم پوهاند رازقي نړيوال

به تاسی از مکتوب شماره ۸۴۴ / ۷۶۹ مؤرخ ۲۷ / ۱۰ / ۱۳۸۴ که از جانب مقام محترم معاونیت علوم بشری اکادمی علوم افغانستان برای بنده جهت ابراز نظر اثر تحت عنوان "د هېواد ښارونه او د تاريخ پاڼې" لومړی ټوک" می باشد. گسیل گردیده که اینك در زمینه چنین ابراز نظر صورت می گیرد.

محترم پوهاند رازقي نړیوال در زمینه نبشت اثري اقدام ورزیده که هم اکنون نسل های بالنده کشور و به ویژه محصلین، دانشمندان و عام بدان ضرورت مبرم آگاهی و استفاده را داشته و می تواند در معرفی و شناخت آثار مادی، عناصر کهن و تمدنی کشورش آگاهی لازمی را به دست بیاورند.

نویسنده محترم که در نگارش و آفرینش آثار متعدد ید طولا دارد. اثر متذکره که فصل اول از معرفی ساحات باستانی و شهرهای عمده کهن کشور نماینده گی می نماید. برخورد و ژرفنگری خوبی داشته، معلومات لازم و در خور توجه را مربوط به شهرهاي چون کندهار، کابل، بلخ باستان، هرات، غزني، ننگرهار، زرنج، کاپیسا، گردیز، لوگر و امثالهم ارائه داشته و در هر مقطع از معرفت شهرها، وجه تسمیه، محتویات متنوع از نظر تاریخ، باستان شناسی و جغرافیا را مد نظر گرفته به صورت تسلسل و منطقی با کاربرد

کلمات و واژه هاي مطبوع و قابل پذیرشي را در تدوین اثر، جملات و بخش هاي مربوط مراعات نموده است.

علاوتاً نویسندهٔ محترم در بسیاري از موارد، محتویات و ارزش هاي ویژه شهرها و شهرك ها، نقش زعامت ها در ایجاد چنین شهرها با ابعاد گونه هاي تمدني و فرهنگي را با تحقیق و اسناد، مستدل نموده و بر غنامندی هرچه بیشتر اثر افزوده است.

اثر مذکور عاری از استعارات و پراگنده گی بوده ابعاد متعادل متن نمایشگر طرز تفکر عالی و طرز تفکر دانشمندانه بوده، سعی ورزیده شود تا حدود امکان معلومات و اطلاعات دقیق ویرا بیشتر ضم اوراق زیرین تاریخ کشور در برهه از زمان موجود نماید.

من به نوبه خویش اثر دانشمند محترم پوهاند رازقی صاحب مثبت و در خور توجه ارزیابی نموده. امیدوارم این اثر اقبال چاپ یابد.

با احترام

معاون سرمحقق نظر محمد عزیزی

رییس مرکز بین المللی تحقیقات کوشانی

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوی او ښښونکي خدای په نامه

سریزه

زموږ د ګران افغانستان د لرغوني تاریخ پاڼې له تلپاتې ویاړلیو یادګارونو، علمي، فرهنګي، مدني او مذهبي بډایو میراثونو، بې سارو اتلولیو، حماسو او د سرسارو شهکاریو څخه ډکې دي او په هر سیمه کې یې د ستراتیژیکو سنګرونو، د پریمانو نجیبه او قیمتي ډبرو د [redacted] طبیعي عجایبو، او بې شمېرو معدنونو زیرمې خوندي دي، د آسمان تورږونکو غرونو، ځپاندو سیندونو، هسکو درو او سردرو، ګڼو ځنګلونو، غونډۍ غونډۍ ریګونو، پراخو کروندو او داسې نورو جغرافیوي مظاهرو ورته لاغنا ورکړې ده.

دا د پریمانو حاصلاتو، ډول ډول خوږو میوو او ګلونو وطن د دې کوچنۍ محدودې سره سره په نړۍ کې هیڅ ساری نه لري

دا چې افغانستان د نړۍ خوځنده زړه، پامیر یې د نړۍ هسك پام او دا هېواد د نړۍ څلور لارې (اورتسپانا) بلل شوی دی کومه سرسري او بې بنسته خبره نه ده.

افغانستان که څه هم د فاتحانو او جهان کشایانو د زور ازمایي او د هغو د ددمنشیو ډګر ګرزیدلی دی د دې تر څنګ د بې شمېرو مدنیتونو او فرهنګونو د یو ځای کېدو کانون هم پاتې شوی دی.

په دې لرغوني هېواد کې نه یوازې د وریښمو لاړې ختیز او لویدیز سره نښلولي دي بلکې همدا کابل په لرغونو اناتو کې د روم، یونان، ماورالنهر هند او چین تر منځه د سوداګرۍ د مالونو د راکړې ورکړې او د واټونو کنټرولي نقطه هم ګرزیدلې ده.

زموږ لرغونی اریانا هېواد نه یوازې د زر تشترا د واحد خدای پرستۍ او بشر دوستانه آیین مرکز ؤ بلکې د علم او فرهنګ د بیلابیلو متحرینو، فیلسوفانو، نوږغو، نوونښتګرانو، طبیبانو، صنعتګرانو او د داسې نورو ځانګو د ماهرانو روزنځای ؤ. هغه چې د پوهې او خلاقیتونو او مفکورو پلوشې یې تر شرق او غرب پورې خپرې وې هوکې د البیروني، ابن سینا، فارابي، سید جمال الدین افغان او داسې نورو سترو شخصیتونو ویاړلی تاټوبی هم دی.

د هېواد لرغونی ښارونه او د تاریخ پاڼې په دې اثر کې به په مستنده توګه وکتل شي چې د نامتو مورخانو جغرافیا پوهانو او د تذکره لیکونکو په بیلابیلو اثارو کې د دې ښارونو د جغرافیوي، تاریخي، رزمي او اقتصادي، علمي و افرهنګي بډاینو، شایستګیو او بې ساری توب ته څومره زیات د

ستاينې ور لقبونه ورکړ شوي دي هغه چې د نړۍ د هيڅ هېواد ښارونه په دې ممتاز توب نه دي ياد شوي.

هوکې د اووګونو عجايبو خاوره. د تلپاتې سترو شخصيتونو سيمه د اشرف البلاد . ام البلاد يعنې د لوړو او ښکلو بيرغونو د ښار. د ملغلرو د ښار او د عروس البلاد د ښار لرونکې هېواد . د افغانستان زړه. د نړۍ څلور لارې همدلته پروت دی. اورتاکانا . د باغونو او ګلونو ښار مدينته العذرا . باګرام. د افغانستان کشمير. د هندوکش د لارو ور. د ښکلو ښارونو او مستحکمو کلاګانو مجتمع د همدې خاورې نامتو سيمې دي. دا د ريګونو او حماسو وطن د لعلونو او د نجيبه ډبرو د کانونو او د طبيعي عجايبو لرونکې د خوږو او رنګارنګ ميوو. خربوزو انګورو او پستو او نارنجانو خاوره.

دا زموږ د نوميالیو نيکه ګانو . د هسکو هسکو برجورو کلاګانو استحکامي د ژونو. حصارونو او بالاحصارونو. ښکلو او لوړو قصرونو. پر تمنيو کوشکونو او ارګونو او د تاريخي پلازمينو هېواد ، هغه چې د هرې تيرې او کنډوالې لاندې يې د تاريخي شخصيتونو د توری او قلم خاطرې پرتې دي. هغه چې هر يوه يې جلا جلا خو وياړلې ځانګړتياوې لري

لنډه دا چې زموږ لرغوني او وياړلي افغانستان دغه هر اړخيز لوړ مقام زه دې راوبللم چې د ښارونو او د هغو د پراخو مدنيتونو پيژندنې ته لاس واچوم. هغه لرغونی ښارونه او تاريخي آثار يې چې يا د طبيعي افتونو په وجه له منځه تللي دي او يا انساني وحشتونو او يرغلونو پوپنا کړي دي. حتی د ځينو يې هيڅ نښه نښانه نه ده پاتې شوې او د ځينو کنډوالې او پاتې شونې د هغه د لرغوني برم او د بدبې نماينده ګی کوي. د ځينو نومونه يې تعويض شوي او ځينې يې زموږ د معاصر تاريخ له حافظې څخه هېر شوي دي. او لا د دې امکان موجود دی چې نه يوازې د هېواد نوی نسل به يې د زوړ برم او عظمت سره بې تفاوته او بيګانه شي بلکې دا انديښنه هم شته دی چې راتلونکي نسلونو ته به يې هيڅ نوم او نښان هم پاتې نه شي او دا به په حقيقت کې زموږ له لرغوني پرتمين فرهنګ او له تاريخي وديعو سره د بشپړې بې خبرې لامل وګرزي.

نو د دې لپاره چې موږ د خپل هېواد د تېرې د بدبې. شان او شوکت او له تاريخي بډاينو سره د پژندګلوی لړۍ شليدلی نه وي، نو د جګړو په سختو شرايطو کې يعنې د اور. لمبو. لوګيو. د راکټونو. ګوليو. مرګ. ژوبلی. نا امنيو په ډېرو ځورونکو شپو او ورځو کې چې مور او زوی سره يو له بله بيليدل، ما د خپل ژوندانه د ورو ستنيو قيمتدارو طلايي شيبو څخه په ګټه اخستنې سره. د هغو کتابونو په پاڼو کې چې په عامې کتابخانې او زما په محدوده کتابخانه کې موجود وو خپل دې علمي تحقيقي فعاليت ته دوام ورکړ.

"د هېواد ښارونه او د تاريخ پاڼې" دا اثر لکه چې له نامه څخه يې جوته ده. د هېواد د ښارونو باب د هغو معلوماتو مجموعه ده چې حتی الوسع مې پکې مونډلي دي. نو په پوره صراحت سره وا حې د

دغو تیتو پرکو معلوماتو را اخیستل او بیا سره پیوندول او مطلوب بحث ترې جوړول هغه هم په هر اړخیزو نامساعدو شرایطو کې څه آسانه خبره نه ده نو خامخا به بې نیمګړتیا نه وي.

د دې اثر د محتویاتو په بډاینو کې چې لا اغیزمني لري هغه دا دي هر ښار د دې تر څنګه چې یې د تسمیې د وجهې او د مورخانو او جغرافیا پوهانو په آثارو کې تر څېړنې لاندې نیول شوي دي د هغوئ په ځینو ځانګړتیاوو هم یو څه رڼا اچول شوې ده، د بېلګې په توګه لکه د کاپیسا ، بګرام، د ښار د معرفي کولو په بحث کې ګورو چې دا ښار نه یوازې د ستر کنیشکا د امپراتورۍ د دوبني مهم شاهي ښار او پلازمینې په توګه بلکې د کوشانی ځلاندې دورې د بودایي آئین او د کوشاني مدنیت د عروج د مرحلې خورا ویانده ممثل بلل کېدای شي.

کله چې زموږ د لرغونی زماني د بخدي کورنۍ د یما د پاچهۍ د ښکلو او لوړو بیرغونو د ښار تاریخي مقام او په دې عصر کې د هغه ام البلاد ښار د معمارۍ عالي سبك او د لوړ مدنیت بیلګی د لوستونکي په وړاندې تجسم پیدا کوي.

د افغانستان زړه یعنې دا په زیاتو نومونو یاد شوی کابل د یوې څلور لارې په توګه د تمدنونو او د علم او فرهنګ د متلاقي کېدو د نقطې په توګه د ځانګړې اهمیت وړ بلل کېدای شي او لا چې د هغه د بالاحصار د ښار بې ساری عظمت او د بد به او د هغه د غر ګوټو پر سرونو باندې د دیوالونو روایتونه ولوستل شي زموږ لرغونی ښارونه هر یو په خپل ذات کې ویاړلی تاریخ لري داریه د اورتاکانا کلا هم د خپل پوخوالي له مخې او د معمارۍ د ځانګړي سبك له مخې خورا بې ساری ګڼل کیږي.

د دې ښار په ډله کې د آی خانم ښار د خپلو یو لړ مشخصاتو تر څنګه د هغې د کتبې متن هغه د یو لاړښوونکی سند په توګه د یو تلپاتې اثر حیثیت لري، د غزني پخه کلا او بالاحصار او د هغه منارونه هغه یادګارونه دي چې د دې عروس البلاد ښار د علم او فرهنګ شهکارونه له هیریدنو څخه ژغوري.

نګاراها را د نارنجانو د میوو د ښار تر څنګه د طراوت او همیشه بهار ښار او د یو مذهبي ستر مرکز په توګه د ګلونو ښار پاتې شوی دی.

که غور او زرنج له تاریخی سیمو څخه یادونه کیږي د دغو ریګو او حماسو په پراخه خاوره کې، د لرغونو عظمتونو، ښکلو ښارونو، مستحکمو کلاګانو، لوړو او پرتمینو کوشکونو او د معمارۍ شهکارونه د تاریخ له حافظې څخه هیرېدای نه شي.

د لوګر او ګردیز د ښارونو سره په تاریخي او فرهنګي محلاتو کې لکه د میرزکې د مذهبي او مستظرفه صنایعو د تاریخي آثارو سره آشنا پیدا کیدای شي.

کونړ او د نورستان د طبیعي ښکلو مناظرو او د رودونو په شتون سره، د افغانستان د کشمیر مقام جوتوي او د ده په خوا کې د نرۍ د بام په دا بله لمنه کې تخارستانونه او د هغو مربوط ښارونه هر یو د

طبيعي شتمنيو د نجيبه ډبرو او د لعلونو د معدنونو په خوا کې د دې هېواد د بډايه فرهنګونو بېلګې او د کوشاني مدنيت د معرفي کولو د زياتو مثالونو معرف ګڼل کېږي.

اشرف البلاد نه يوازې د کوشاني د ځلاندې دورې د اشوکا د زمانې د مدنيت د کتيبو درلودونکي دی بلکې د پانی پت د ميدان د قهرمان ستر احمد شاه او د ملي جرګو د موسس ميرويس خان هوتک د شهکاريو کيسې هم بيانوي.

که موضوع را لنډه کړم زموږ د هېود دا ټول لرغونی ښارونه او سيمې زموږ د لرغوني تاريخ هغه تلپاتې وديعې دي چې تر آبده به د لوی افغانستان د آريانا او خراسان لرغونی نوم او نښان ژوندي وساتي.

د دې کتاب لومړی ټوک له فهرست، تقريظونو او سريزې پيل کېږي د ښارونو تر پېژندنې وروسته په پايلې او اخيستليکونو پای ته رسيږي.

او دوهم ټوک چې يې هم چاپ ته چمتو دي انشاءالله تعالی وروسته به چاپ شي.

زه له موقع نه په ګټه اخستنې سره د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د سرحدونو د قومونو او قبايلو چارو د جلالتمآب وزير محترم تورنجنرال عبدالکريم "براهويي" څخه زياته مننه کوم چې د هېواد د لرغونو افتخاراتو سره د خاصې علاقمندی له مخې يې په ډېر اخلاص د دې اثر په دوو ټوکو کې د چاپولو هدايت ورکړ چې لومړی ټوک يې له همدې کتاب څخه عبارت دی.

همدا شان د افغانستان د علومو اکاډمی د مشرتابه په تېره بيا د اکاډمی د بشري علومو د برخې مرستيال زما د روند استاد سر محقق نصرالله سوبمن ، د کوشاني څېړنيز نړيوال مرکز رييس د سرمحقق مرستيال نظر محمد عزيزي او د تاريخ او انتوګرافی د انستيتوت آمر سر محقق ډاکتر الف محمد شرر څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په ډېر محدود وخت کې يې د دې اثر چاپ ته د چمتو کېدو او د تقريظونو د ليکلو په برخه کې زما څخه هيڅ ډول همکاری و نه سپمولو.

په درنښت

پوهاند رازقي نړيوال

د کوشاني څېړنيز نړيوال مرکز علمي منشي

د ښارونو پيژندنه

۱ - کندهار

(اشرف البلاد)

زموږ د هېواد د ښارونو نومونه هميشه په هماغه لومړنی نوم نه دی پاتې شوی د مختلفو عواملو له کبله د دغو ښارونو بڼه او نوم بدل شوی دی چې کندهار (قندهار) هم له دې ډلې ښارونو څخه دی.

د کندهار (قندهار) نوم دومره تاريخي سابقه نه لري ځکه چې دا ښار په وروسته زمانو کې د ګندهارا د نوم په انتساب سره مشهور شو چې په دې برخه کې د هېواد په تېره بيا خارجي محققانو ډېر څه ليکلي دي.

د تاريخي مدارکو په اتبار پخوا تر دې چې دا ښار د کندهار په نوم شهرت پيدا کړي په بېلابېلو نومونو باندې ياد شوی دی لکه اراکوزيه په اوستا کې هره هوای تي او د داريوش په کتيبو کې Harauuaitsh او په اسلامي دورو کې ارخوذ، ارخد اخذو، رخج (او په معرب شکل الرخج) ياد شوی دی.

د اسايکلو پيډيای بريتانيکا له مخې هغه خرابې چې په (اولان رباط) کې پرتې دي د اراکوزيه د لرغوني ښار محل دی د ولاړو اوبو لويديز ته د ترنک د سيند په حوزه کې موقعيت لري او د بار تولد د

عقیدي له مخې په میلادي اومه پیړۍ کې دا سیمه درخج په نوم یاده شوې ده.[1]

د سکندر د حرکت په وخت درخج او اراکوزیه څخه داسې یادونه شوې ده هغه وخت چې مقدوني سکندر د درنګ (زرنج) سیمې فتح کړې درخج له لارې دا اراکوزیه حوزې ته چې د ننې کندهار سره مطابقت لري راورسید.[2]

دلته دا خبره فکر ته راځي چې رخج داراکوزیه یو محل ؤ او ممکن درخج څخه د کندهار ښار او داراکوزیه څخه مراد د کندهار حوزه ده چې یو د بله سره جلا مفاهیم افاده کوي خو په راتلونکو څیړنو کې بیا دواړه یو مفهوم ورکوي مګر سر او لف کارو په خپل اثر پټانزکی الرخاج (الرخج) بیا داسې معرفي کوي:

الرخاج د کلاسیك اراکوزیه عربي شکل دی او هغه سیمه لرو ډیره د کندهار ولایت ټوله سیمه په غیږ کې رانیسي.[3]

اصطخري بیادرخج په هکله داسې وایي:

رخج د یوه اقلیم نوم دی او په دې سیمه کې کرنه او ډیره غله موجوده ده.

ابوحوقل لیکي: رخج د اقلیم نوم پنجوایي یې حاکم تشین او بل ښار یې کهك دی د "بلدی" داور (زمینداور) او بلشل (بالشتان) تر منځه پروت دی زیات اوښان، غوایان او میږې لري.

حدودالعالم رخج په رخذ ظبط کړی لکه چې لیکي: رخذ یوه سیمه ده، آباده او د زیاته نعمتونو رلودونکي او یوه جلا ناحیه لري، پنجوری (پنجوایي) چې د رخذ کلي دي. (۱۰۳ مخ)

د هفت اقلیم مؤلف چې په ۱۱ ه پیړۍ کې تیر شوی دی. د قندهار په هکله وایي:

قندهار د یو پوخ بند ښار لري وایي هر وخت چې کوم لښکر هغه ښار کلا بند کړي د هغوی په نظر د بند ښار تر هغې پورته دی چې فکر کیږي او د کلا په منځ کې په سنګ خاراکې یو ژور کوهي لري.

د هغې اوبه یې رواني لیدلی دی او کله چې له هغې کوهي څخه اوبه راوباسي د ونو پاڼې او د بوټو څانګې ترې راوزي او د هغې د ملحقاتو څخه یو هم زمینداور دی چې د سوری پایتخت ؤ. څوك چې د غوري پاچاهانو نیکه ؤ او بل یې بست دی چې یو له برمه ډك ښار دی او په دې سیمه کې ګنبدې وي، هلته دوه قبرونه دی.[4]

ابوالفدا هم په یوه ځای کې د سستان، سند او کرمان د ښارونو په ډله کې د الرخج او کندهار څخه

---

[1] علي احمد جلالي، تاریخ افغانستان از نګاه عسکري، ج ۱، وزارت دفاع ملي، اردو مطبعه، ۱۳۴۶، کابل

[2] پورتني اثر، ۹۴۰ مخ

[3] پښتانه (پټانز) سر اولف کارو، ژباړه شیر محمد کریمي – دانش کتابخانه، پیښور، ۱۳۷۸.

[4] غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، مؤسسه طبع کتب، دولتي مطبعه، ۱۳۴۶ مخ.

يادونه کړې ده او د اتمي پيړۍ مشهور سياح ابن بطوطه کله چې يې د ماورالنهر په هېوادونو کې د خپل مسافرت د واقعاتو په باب خبرې کولې، د قندهار په هکله يې هم کيسه کړې ده.

په همدې شان د هند د وروستيو جغرافيه ليکونکو څخه مرتضی حسين بگرامي په خپل کتاب حديقة الاقاليم (۱۲ پيړۍ) د خراسان تر عنوان لاندې د ښارونو په ډله کې له قندهار څخه هم يادونه کړې ده. خو دلته د تامل وړ موضوع دا ده چې دا د قندهار څخه مطلب کوم کندهار دی؟

لکه چې دا پوښتنه تر اسلامي دورې راوروسته په يوه روايت کې داسې بربنډه شوې ده:

... څو کاله وروسته د سنجستان (سيستان) بل عرب حکمران عباد بن زياد چې د الهند سرحدونو حملې وکړې او سيدونکي يې وتښتول. خو دوئ ته يې هم ډېر تلفات ورکړل.

(د اپريل ۶۷۲م / ۵۳ هجري) کې ؤ په دې لړ کې کندهار هم ياد شوی دی[1]

مګر د البيروني له خوا روښانه شوې ده چې دا اوسنی کندهار نه دی لکه چې په (۱۱م) پيړۍ کې د محمود غزنوي په دوره کې يې ليکلي دي. البيروني چې د هندي پاچاهانو په باب خبرې کوي، محمود غزنوي چې په کابل او کندهار کې حکومت کاوه او پايتخت يې ويهيندو چې دا کندهار نه بلکې ګندهارا دی[2] د محمود د عمر په وروستيو کې د ده امپراطورۍ چې تر مشهد، نيشاپور، پنجاب او صوبه سرحد او آمو دريا تر آخوا پورې پلنه شوې وه. د ده د امپراطورۍ زړې (هسته) د اوسنيو غلجيو هېواد چې د کابل او کندهار (چې لا نه ؤ تاسيس شوی) تر منځ سيمه تشکيلوي[3]

له ګندهار څخه د کندهار په مفهوم په زياتو تاريخي پېښو کې يادونې شوي دي لکه "دالپتګين او نه محمود ؤ چه د کابل وادي او پېښور څخه (لا تر دې وخته پورې ګندااهار په ګندهار سره ياديده او عربي شکل يې قندهار ؤ) د هندوانو د ښرلو پريکړه وکړه[4]

په يوه بله پېښه کې بيا الرخاج A erukhag اوسني کندهار) زابلستان، غزني جنوب او لويديز سيمه او حتی د کابل د پاچا په نامه ياديدله (پورتني اثر ۱۶۳ مخ) د يو سفريو دودونه ښيي چې دوئ د ۱۴م پيړۍ د پيل تر ۸ هـ پيړۍ پورې د کندهار په شاوخوا کې اوسيدل او بيا پېښور ته ليږديدلي دي. مګر دا د حيرانتيا وړ تصادف دی چې د پخواني ګندهار (د البيروني کندهار) نني اوسيدونکی "کاکي Khakhay" او غوريا خيل قبيلې څه ډول او څه وخت له کندهار څخه راغلي حال دا چې د کندهار ولايت او ښار وروسته پيدا شوی دی. پوښتنه دا ده چې د افغانستان د دغه جنوب غربي ولايت نوم کندهار څه

---

[1] پښتانه پټمانز، ۱۰۶مخ

[2] همااغه اثر، ۱۶۰ مخ

[3] همااغه اثر، ۱۶۱ مخ

[4] پښتانه (پټان)، د کريمي ژباړه، ۱۸۹ مخ

ړول راپيدا شو؟ په دې کې هيڅ شك نشته چې د محمود غزنوي د وخت د (١١ هجري پيړۍ) کندهار چې البيروني ترينه يادونه کړې ده د ګندهار (ننی پيښور وادي) عربي شوی شکل دی. دا د کندهار ښار نه دی او د ټولو مسلمانانو ليکوالو په اثارو کې د کندهار د ښار ذکر نشته، که د کندهار ښار موجود هم ؤ خو د توجه وړ اهميت يې نه درلود او چېرته د هغه ذکر نه دی شوی.

بيليو عقيده لري چې کندهار د ګندهارا د مهاجرو په واسطه جوړ شوی دی چې د پرديو د يرغلونو څخه له ګندهارا څخه تښتيدلي او دلته ميشته شوی دی. هيرودوتس "ګانداريوی Gandarioi" خپل نوم دغه نوی سيمې ته ورکړ هغه يرغل چې دوئ وشړل، هيردوتس هغوی "سايتيان Seythis" بولي او د دوی د مهاجرت نيټه "٦-٥ م پيړۍ" پيل بولي، له دې څخه ثرګنديږي چې په تاريخي لحاظ به دا خلك سپين هونيان وي او دا سايتيان واقعاً د ګوجرو نيکونه دی.

د نوموړي روايت په حواله دغه مهاجر نه يوازې د ګندهارا نوم خپلې مستعمرې ته ورکوي بلکې لس پيړۍ وروسته ببرته خپل اصلي ټاټوبي ته يوه غښتلی استعماري قوا راليږلی هغه ځوك چې اصلي ټاټوبی ته راګرځيدل د تبعيد په زمانه کې د اسلام د منلو او قبلولو په واسطه يې اصل کور هېر کړی و، مګر هغه کاکي او غورياخيل چې راستانه شوی وو په ډېره آسانی سره د پيښور د وادي په شاوخوا کې سيمو کې له نفوسو سره منحل او يو ځای شول چې د همدې حرکت پر بنياد بيليو خپله تيوري تاييدوي.

د بيليو ټينګار په خپله نظريه د تاريخي فك په توګه د ثابت تاريخ په ډول د منلو وړ نه دی، لرغوني فرض شوی مهاجرتونه د اسنادو، مسکوکاتو، ليکنو او کتيبو په واسطه نه وو تاييد شوی، صرفاً داسې تيوري ده چې د ددود "قندهار" د اړيکو له مخې طرح شوی ده.

اسلامي دايرة المعارف Encyclopaedira of Aslam د دې تيوري يادونه کوي چې په دې هکله دې نوري څيړنې هم په راتلونکي کې تر سره شي. د کندهار د دې متن پخواني نظريې کندهار اسکندر جوړ کړي دي او نوم يې "سکندريه" ارا کوزيه Alexandria-Arachosia ده او دوئ لکه چې پښتو اريانا دايره المعارف د کندهار د تسميې د وجه په باب وايي:

د کندهار د نامه په هکله (چې پخوا رخج يا اخذ بلل کېده) بيلا بيلې رای او عقيدې شته دی ځينې يې منشا "الکزاندره" بولي او ځينې نور بيا دا عقيده لري څنګه چې د ګنداهارا مهاجرين دی مځکې ته راغلل نو د ګندارا نوم يې هم د ځان سره راوړو او بيا عربيانو هغه قندهار وباله [1] چې دغه يادونه د ګندهارا څخه دی سيمې ته د ګندهارا يانو چېرې لېږ ديدل تاييدوي. د پټانز (پښتانه) اثر خپل تير متن ته بيا داسې ادامه ورکوي. د کندهار مشابهت له ګندهارا سره چې د کابل سيند د ښکتني وادي د هندي شاهانو لرغوني پايتخت ؤ هغه لا پخوا اباد شوی و منطقي بريښي قندهار د عربي تذکره ليکونکو له

[1] پښتو آريانا دايره المعارف، ټ٧. تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ١٣٥٥، ٨٤٥ مخ

خوا د ګندهارا عربي شکل دی.

بیلیو وايي چې د کندهار کلمه (قندهار) دا را کوزیا د حوزې په باب هغه مهاجرینو ته اطلاقيږي چې په پنځمه میلادي پیړۍ کې یې له ګندهارا څخه مهاجرت کړي دي او دا پیړۍ د دوئ د مهاجرت د پاره چې د اراکوزیا (ارغنداب) په حوزه کې تر سره شو بیخي سمه ښکاري ځکه چې په همدې وخت کې یفتلیانو کابل فتح کړ او دا پیښه د چیني زایر سونګیان له یادونو څخه چې په ۵۲۰ میلادي کې یې له ګندهارا څخه لیدنه کړې ده او د بودا کچکول یې د سلطان ویس په زیارت کې د ساتنې په حال کې لیدلی ؤ په ډېره ښه توګه څرګندیږي.

ځیني بیا داسې عقیده لري چې په (۵) او (۶) م پیړیو کې د هندوکش د شمالي صفحاتو څخه د هغه جنوبي لمنو ته او د اریانا ختیزو سیندونو او حوزو ته د کوشانیانو د ورتګ په وجه، دا مهاجرتونه منځ ته راغلي دي او ویل کیږي چې ګندهاریانو د (قو) کاسه یعنې کچکول چې د بودیزم له یادګارونو څخه ؤ احتمالاً د کوم بودايي صوفي مهاجر (Mank) له خوا راوړل شوی و.

له کندهار څخه په اسلامي دوره کې یادونه شوې نه ده او همدا شان د غزنویانو په اسنادو کې هم په دې نوم کوم تذکرات نشته دی[1] د موضوع د ښه وضاحت د پاره چې له ګندهارا څخه کندهار ته کومه قبیله راولیږدیدله او څنګه یې د کندهار نوم د ځان سره هغې سیمې ته یووړ او بیا بیلیو د دغه کچکول په مورد کې زیات معلومات لري او ده دا کاسه (دا کچکول) په ۱۸۷۲م د سلطان ویس په زیارت کې لیدلی ؤ. چې اوس د کابل په موزیم کې ساتل کیږي. نوموړي وايي چې د دې کاسې قطر ۷ فټه او له یوې توتې تیږې څخه کیندل شوی و. د سلطان ویس زیارت د کندهار له ښار څخه آخوا د کندهار د زاړه ښار په لویدیزه برخه کې واقع دی. البته د کندهار زوړ ښار د نادر افشار له خوا وران کړی شو.

(پښتانه ۲۶۳ مخ) او بیا د بودا د اوبو د (کاسې) کچکول سره د یادونې وروسته د کندهار اوسنی نوم د ګندهار سره څنګه انتساب پیدا کړ محترم محمد ابراهیم عطايي په خپل یوه اثر کې په دې هکله داسې معلومات وړاندې کوي.

د هرودت (هیرودوتس) د پکتیکا د څلورو قبیلو د نومونو د یادولو په ترڅ کې لومړنی قبیله ګندهارې ښودلې ده. او وايي چې دا د هغې تاریخي مځکې (ګندهارا) (د کابل دره تراندوسه پورې) د اوسیدونکو نوم ؤ چې د تاریخ په ټولو دورو کې د "ګندهارې" یا "کندهارې" په صفت یاده شوې ده.

په اویستا کې هم د یوه پهلوان نوم "ګندهاروا" ؤ او څنګه چې له تاریخي پیښنو څخه څرګندیږي. دا قبیله په خپل اصلي ځای کې د همیشه د پاره نه ده پاتې شوې، بلکې ځیني کورنۍ یې نورو ځایونو ته تللې دي لکه د هندوکش شمالي خواوو ته تر آمو پورې، سیستان او د ارغنداب پولو ته ورکوچیدلې دي

[1] پښتانه تیمانز هماغه اثر، ۲۶۳ مخ.

ځوك وايي چې د "كندهار" څخه اخيستې شوى ده.

ښاغلى كهزاد په خپل كتاب تاريخ افغانستان كې دا نظريه هم تر يوه ځايه معقوله بللى ده او ليكي چې ځو ځلې گندهاريانو د كابل د رود له شرقي حوزې څخه د ارغنداب حوزې ته مهاجرت كړي دي چې يو مهاجرت يې په ۵/۶ مسيحي پيړۍ كې صورت موندلى دى. په دې مهاجرت كې يې د "قو" د اوبو كاسه له براندوس څخه ارغنداب ته يووړه چې د بوديزيم يو مهم يادگار ؤ.

بې مورده به نه وي چې د كندهار اوسنى نوم د "گندهار" له نامه څخه اخيستى شوى وي.

"گندوفار" د "پهلوان" د خپلواك كهول ډېر لوى پاچا ؤ او ده د ارغنداب په حوزه كې يو ښار هم پخپل نامه يا د ده و نامه ته نژدې جوړ كړى ؤ.[1]

د اوسنى كندهار كلمې د غوريانو د واكمنى تر وخته پورې هم كوم خاص شهرت نه درلود، او د غزنويانو په دوره كې هم د كندهار څخه كومه يادونه شوى نه وه.

خو تر دې وروسته يې شهرت مخ په زياتېدو شو. او دا په دې معنا چې د كندهار (قندهار) نوم په بيلابيلو تاريخي اسنادو كې راښكاره شو چې دا موضوع د دې ښار د جوړېدو د نيټې سره سم تړاو لري.

پښتانه (پټانز) په اثر كې په دې هكله په ليكل شوو واقعاتو كې داسې يادونې شوى دي.

د كندهار ښار وروسته له هغه جوړ شو چې په ۱۱۵۰ م كې علاوالدين غوري جهانسوز د بست ښار او غزني په ايرو بدل كړ.

د چغتايي جنگيزيانو په زمانه كې، د كندهار د ښار څخه يادونه شوى ده چې په ۱۲۸۳ م د هرات د كارت كورنۍ د حكمران له خوا ونيول شوه ځوك چې د مغلو د فيوډالي سيستم استازي ؤ.

تر دې وروسته گوډ تيمور كندهار ونيو او بيا د ده لسمي پير محمد ته وركړ شو او په راوروسته د ورو كې كندهار چې سلطان حسين بايقرا (۱۴۳۸ - ۱۵۰۵م) كې پاچاهى ته ورسېد نومړي هم مغول او د بابر د تره زوى ؤ. د كندهار نوم د ده په زمانه كې د لومړي ځل د پاره د يوې سكې پر مخ راښكاره شو. د ده واكمنۍ ته په نژدې وختونو كې ذوالنون بيگ چې زميندار يې د خپلې واكمنى په برخو كې ورگډ كړ نو كندهار يې هم خپل پايتخت وگرزاوه.[2]

بيا وروسته كندهار د تيموري كورنى د حاكمانو په لاس كې و او له درو خواوو څخه تر تهديد لاندې و. ازبك شيباني خان (چې بابر له ماورالنهر څخه شړلي ؤ) صفوي پاچا شاه اسمعيل او بابر هر يوه غوښتل چې كندهار ونيسي.

كله چې بابر په ۱۵۰۴ م كې كابل ونيو او شل كاله يې په دې هيله او چمتووالي تېر كړل چې هند

[1] پښتانه (پټان) ۶۲ مخ

[2] پښتانه (پټانز) هماغه اثر. ۲۶۳ مخ. اريانا مجله. ۲ گڼه ۱۳۳۵. كابل

ونیسي، تر څو چې یې د خپلو سنګرونو تر پیاوړي کولو وروسته د هند نیولو ته اقدام وکړ او د کندهار نیول ده ته بیخي زیات ضرورت ښکارېده او د سرحدي لشکر کشیو په ترڅ کې یې څو پلا د کندهار د نیولو قصد وکړ بالاخره په ۱۵۲۲ م کال کې یې کندهار ونیو.

دا ویلای شو چې بابر د کابل او هند د فتوحاتو په لړ کې تل دا هیله درلوده چې دواړه کندهار (لرغونی ګندهارا او نوی جنوب غربي کندهار) د خپل کنترول لاندې راولي.[1]

په یو بل روایت کندهار د سلطان حسین مرزا صفوي، شهزاده ولایت شو او له ده څخه وروسته د ده زوی مظفر مرزا ته ورکړ شو.

په ۱۵۸۷ م چې راجا بیربل مړ شو د صفوي تاج و تخت په اصفهان کې لوی شاه عباس ته ورسید. کندهار هم د صفویانو د سلطنت یوه برخه ده. دوه کاله وروسته ملك سدو (د سدو زو نیکه) د کندهار د شاوخوا ابدالیانو مشر وټاکل شو.

د پورتنی څه اوږدې څېړنی څخه بیخي په ډاګه کیږي چې د غوریانو تر واکمنی د مخه کندهار د کندهار په اوسني نوم نه یادیده او په هر بل نوم چې یادیده هغه د کندهار (قندهار) نوم نه ؤ.

خو بیا څه وخت چې د کندهار ښار په لومړنی شکل آباد شو نو تر دې وروسته په تاریخي اسنادو کې په واضح او بې احتماله شکل یې یادونې شوې دي تر هغې چې لوی احمد شاه بابا هغه په نوی شکل جوړ کړ.

<u>کندهار په افغانستان کې د هند د مغولي پاچاهانو په وخت کې</u>

د کندهار زوړ ښار چې نادر افشار هغه په ۱۱۵۱ هجري کې وران کړ د لکه چې یا قیتول د غره په ختیزه لمنه کې پروت ؤ چې دا غر شمالاً او جنوباً امتداد لري او د دې غره د پاسه د کندهار کلا او ارګ جوړ شوی ؤ د اکبر نامي او آئین اکبري مؤلف او د اکبر د دربار مشهور مؤرخ او لیکوال ابو الفضل علامي په قول د کندهار ښار دوې دروازې درلودلې او ډېر مستحکم حصار ؤ د هغې کلا ډېره سخته وه او ګرد چاپیره ترې خندق هم موجود ؤ.

د حصار په منځ کې د ارګ لوی برج واقع ؤ چې اوس یې هم بقایاوې شته دي. او د هغه لوړوالی سلو مترو ته رسیږي او خلك ورته نارنج وایي

سربېره پر دې د ننه په ښار کې د خاکستر برج او نوی برج په نوم برجونه هم شته دی او د نوموړي په ختیز کې موقعیت لري. هلته د اوبو، حوض او د ودانیو آثار لیدل کیږي چې د میر معصوم په قول د هغه د پاسه آتشکده ده.

له پخواني زمانې څخه دا عمارت له اومو خښتو څخه چې د هرې خښتې اوږده او پسور دوه ګزه او

[1] همدغه اثر، ۲۶۴ مخ

وسط يې يوه لويښت وه. او د اکبر پاچا تر زماني پورې په خپل حال موجود وو او کوم زيان ورته نه ؤ رسيدلی.

د شاه جهان په زمانه کې د دې د غره د پاسه درې برجونه هم موجود وو په دې دوره کې د کندهار حصار يو شمېر دروازې درلودلی.

- د چهل زينې په طرف د ښار شمال ته دروازه ګندګان.
- د شيخ ولي دروازه.
- د ښار جنوبي لور ته د ماشور دروازه.
- د ښار ختيزې خواته نوی دروازه.
- د خضري دروازه.
- او قيتول ته نژدې د علي قابي دروازه.

د ابوالفضل د تصريح له مخې د قندهار د قاضي شمس الدين علي باغ، چهار دره او زوړ ښار چې دا د ماشور د دروازې په اطرافو کې واقع و.

او د ارګ په د ننه عمارت کې د خچه (آقچه) په نامه يو برج ؤ. او د ګنج علي خان باغ هم دې شخص د شاه جهان په عصر کې (۱۰۳۲ هجري) د صفوي دربار له خوا چې د کندهار حکمران ؤ د ښار په اطرافو کې يې جوړ کړي ؤ.

د غره په لمنه او د ښار په داخل کې يوه کلا وه چې د وسلې او جبه خانې مخزن شميرلی کېده او له هغه ځايه د ماشور تر دروازې پورې د ښار په منځ کې يو اوږد بازار و.

د هغو دروازو څخه چې ابو الفضل يادې کړې دي نواب صمصام الدوله يوه بله دروازه هم د "ويس قرن" په نوم يادوي. کله چې په ۱۰۵۸ هجري کې د ايران پوځ کندهار محاصره کړ شادي خان د دې دروازې ساتونکی ؤ.

اوس هم د کندهار د زوړ ښار ختيزې خواته ننبتې يو مزار د سلطان ويس په نوم شته دی نو ځکه د دې دروازې محل هم د ښار شرقي خوا ته اټکل شوی دی.

د کندهار حصار لکه چې پرې خبرې وشوې په ګورګاني دوره کې موجود ؤ او شاه جهان تر اتو لکو روپو پورې د هغه د تعمير په ترميم ولګولې [1]

شاه جهان همدا شان د کندهار، بست او د زمينداور د کلاګانو په جوړولو اته لکه روپۍ مصرف کړې بايد زياته شي چې د هند د مغلي پاچاهانو په دوره کې کابل او کندهار له ابتدا څخه دارالقرض وو او په دې دورو کې دلته زيات مسکوکات وهل شوي دي چې د کابل د موزيم د اسلامي مسکوکاتو مهمه برخه

[1] تاريخ افغانستان در عصر ګورګاني هند مؤلف عبدالحي حبيبي ۲۰۵ ۲۰۷- مخونه

شمېرل کيږي.

د ابوالفضل د تصريح له مخ د اکبر په زمانه کې کابل له هماغو څلورو ولايتو څخه ؤ چې اکبري طلاوي پکې سکې وهل کيدلې د سپينو زرو او مسو سکي هم دلته وهل کيدلي لکه چې ليدل کيږي زياتې مسي سکې د زرم هجري کال او تر هغه وروسته په کندهار کې وهل کيدلې.

په جهانګيري عصر کې هم دا سکې د آسماني دولس ګونو برجونو په تقويمي شکل ضرب شوې دي.

په همدې شان په يوولسمه پيړۍ کې چې د جهانګير زمانه ده د هغه فلزي روپۍ په کندهار کې وهل شوې او دا بيت پرې منقوش ؤ:

ز جهانګير شاه اکبر شاه - سکه قندهار شد دلخواه.[1]

د کندهار ښار د نادر افشار په وخت کې

هغه وخت چې نادرشاه د خپلو لښکر کشيو په ترڅ کې چې د هېواد په لويديزو او جنوب لويديزو سيمو کې يې تر سره کړي او د کندهار ښار يې د خپل يوه پوځي مرکز په توګه وګرزاوه، نو بيا يې هلته يوه پخه کلا هم جوړه کړه په دې کلا يې هغه وخت شروع وکړه چې د شير سرخ د مزار په سيمه کې يې خپله قرارګاه واړوله او بې له ځنډه يې په دغه پوځي کلا بنا وکړه. د دې کلا د ديوالونو او برجونو د جوړولو په کار کې د کليو بې وسلې بزګران او افغاني بنديان وګمارل شول. او دا کلا په "نادر آباد" باندې ونومول شوه د دې کلا ويجاړ شوي ديوالونه اوس هم موجود دي نادر افشار د دې پوځي کلا په واسطه وکړای شو چې ځان يې د کندهاريانو د شبخونونو څخه وژغوره.

د کلا د ديوالونو په يوه کيلو متري کې يې جنګي برجونه جوړ کړل چې په هره يوه کې توپک لرونکي پوځيان مؤظف وو. د دوو برجونو تر منځه مسافه د سلو مترو په اندازه وه او لس لس تنه پکې وګمارل شول. په دې توګه نه يوازې د کندهار د ښار محاصره سخته کړای شوه، بلکې ځانته يې ښه پناه ګاه هم جوړه کړه.[2]

په يوه بل روايت د کندهار د ښار حصار په ۱۱۵۱ هجري قمري کې د نادرشاه له خوا جوړ شوی دی نادر افشار په ۱۱۵۰ هجري کې د کندهار هوتکي حکومت ته سقوط ورکړی ؤ له ډېر پخوانه هغه موجود ؤ چې د عبدالحميد په قول مغولي شاه جهان هغه د اتو لکو روپو په لګښت بيا له سره ترميم کړ.[3]

بايد وويل شي چې د نادر افشار په جګړو کې د کندهار په شا و خوا کې يو شمېر نور پخو کلاګانو ته هم اشاره شوې ده.

---

۱ تاريخ افغانستان در عصر ګورګاني هند ص ۲۰۸.

۲ مير غلام محمد غبار. افغانستان در مسير تاريخ، ۱۳۴۶ کابل.

۳ عبدالحي حبيبي، تاريخ مختصر افغانسان، انجمن تاريخ، ۱۳۴۹ کابل، ۲۵۴ مخ

د کندهار ښار د احمد شاه بابا په وخت کې

د کندهار د نوی ښار بنسټ د احمد شاه بابا د يادګارونو څخه دی، او هغه وخت چې احمد شاه بابا د پاڼي پټ له جګړو څخه راستون شو په يوه پراخه سيمه کې يې د کندهار د ښار بنسټ کيښود، لرغوني نوم يې اراکوزيه ورپسې يې نور نومونه هم درلودل خو وروسته په احمد شاهي ښار او بيا د اشرف البلاد په نوم ونومول شو او بالاخره دغه ښار د کندهار د ښار په نوم شهرت پيدا کړ. د کندهار ښار په کلاسيکي سبك په مستطيل شکل جوړ شوی او يو حصار ترې راتاو شوی ؤ او لوړ برجونه يې درلودل.

د دې ښار څلورو خواوو ته څلور دروازې وې. د کندهار ښار سلامخانه او شاهي ارګ هم درلود د کندهار د ښار دروازې دا دي:

- دروازه د شمال بازار د عيدګاه د دروازې او يا د شاه بازار په نوم يادېدله.
- جنوب ته د شکار پور دروازه يا د شکارپور بازار
- شرق ته د کابل دروازه
- شمال ته د هرات دروازه

په دغه دوره کې تر کابل وروسته کندهار زموږ په هېواد کې دوهم مقام درلود.[1]

خاطره:

بايد عرض وکړم چې د اخستليکونو د محدوديت او د امکاناتو د نامساعدت په وجه ممکن زما دا تحقيقي، تاريخي څېړنه بې نيمګړتيا نه وي، هيله ده چې معذرت به مې ومنئ.



[1] محمد اکبر شورماچ، جغرافيه عمومی افغانستان، انتشارات زوري، کابل، ۱۳۵۰، ۲۸۰ مخ

۲- کابل

(د افغانستان زړه یا څلورلارې)

کله چې د کابل نوم اخیستل کیږي نو بې شکه د سرې ورانديې د کابل کهندز د کابل بالاحصارونه، شیر دروازه او اسمایي غرګوټي او د هغوئ پر سر پاخه دیوالونه د کابل لرغوني توب او د هغه لرغوني څیره، د کابل د ښار دروازې، د کابل تاریخي پېښې، تجارتي مرکز، څلور لارې، پوځي، مذهبي، اداري او سیاسي موقعیت او د داسې نورو تاریخي پېښو او موضوعګانو پس منظرونه مجسم کیږي.

ښکاره ده چې د کابل لرغوني تصویر د هغه د اوسني تصویر سره بیخي زیات توپیر لري او دا ځکه چې د کابل ښار پخواني مظاهر له منځه تللي او نوي مظاهر یې ځای ته شوي دي کاشکې د کابل د ښار هغه لرغوني تصویر په ټوله معنا خوندي پاتې وای چې اوس د هغه له رویه د کابل لرغوني څېره په تمامه معنا معرفي کیدلای شوه ځکه چې د کابل د هغو لرغونو مظاهرو څخه یوازې د کابل کهندز (بالاحصار) د شیردروازې او اسمایي پر څوکو دیوالونه او د کابل قلعه جنګي د نمونې د مثال په توګه د دې امکان ورکوي چې د کابل سوق الجیشي او نظامي موقعیت، او د هغې زمانې د تعمیراتي هنر او سلیقې کیفیت او په خلص مفهوم د کابل د پخوانیو زمانو د برم او د بدبې ډیرې ویاندې بیلګې راجوتې کړي.

افغانستان د آسیا د زړه په توګه او کابل د دغه زړه د هستي په توګه د تاریخ په پړاوونو کې همیشه د خپل ژوندیتوب، اغیزمن توب، ګټور تحرك او فعالیت په دوامداره توګه جاري ساتلی دی

او په همیشنی توګه یې دا تیوري او دکتورین محقق او په اثبات رسولي دی چې وایي:
هر هغه جهاني او یا سیمه ایز قدرت چې په افغانستان باندې حاکمیت ولري، پر ګاونډیو هېوادونو تسلط تر لاسه کولای شي او بیا په افغانستان باندې حاکمیت درلودل هغه وخت امکان پیدا کوي چې په کابل کې واکمنی ولرلای شي.
د دې ادعا د ثبوت ډېر زیات شواهد موږ د خپل هېواد د تاریخ په دې وروستیو لسیزو کې د سر په سترګو لیدلی او وینو یې، پخوانیو او وروستیو حکومتونو یوازې په کابل کې حکمروایي درلودله او په همدې اعتبار په نړیواله سویه د یوه دولت په حیث پېژندل کېدل.
زه د کابل معرفي په دې څېړنیزې او تاریخي لیکنې کې د کابل د پورتنیو یادو شوو محتویاتو د تاریخي پس منظر او د کابل د تاریخي ښېرې په باب رڼا اچول غواړم چې طبعاً دا مطالب د کابل د تسمیې وجه، لرغوني موقعیت او څېرې د کابل د ښار د پراختیا د کابل کهندز (بالاحصار)، شیردروازې او آسمايي غرګوټو د تسمیې د وجهي، او د هغو پر سر دیوالونو، جنګي کلا او داسې نورو تاریخي پس منظرونو او لړو ډېر د تاریخي واقعاتو په چوکات کې او هغه هم د هغو باندنیو ختیز پېژندونکو، تاریخ او جغرافیه پوهانو، سیاحینو، نورو هېوادونو پیاوړو پوهانو او لیکوالو د نظریو، د عقیدې په استناد بیانیږي، هغه چا چې کابل یې په خپلو سترګو لیدلی او یا د کابل په باب د پراخو معلوماتو دلودونکو وو. چې دا دی دلته په عمومي ډول د کابل د پېژندنې موضوع په لاندنیو برخو کې تر څېړنې او کتنې لاندې نیول کیږي.

۱- کابل په تاریخي آثارو کې او د هغه د تسمیې وجه.
۲- د کابل د لرغوني ښار موقعیت، د هغه څېره او د هغه پراختیا.
۳- د کابل کهندز او بالاحصارونه.
۴- د شیردروازې او آسمايي غرګوټي د تسمیې وجه او د هغوی د پاسه دیوالونه.
۵- کابل د څلور لارې په توګه.
۶- د شیر آباد ښار او جنګي قلعه

باید وویل شي چې د دې موضوع ګانو د ښېرنو په ترڅ کې د هغوئ په اړوند تاریخي پېښې په مختصر ډول بیانیږي کومې چې هغوی ته تاریخي استناد او مدلل توب ورکولای شي.
کابل زموږ د هېواد د ډېرو لرغونو او مهمو ښارونو څخه یو ښار دی یا په بل عبارت کابل هغه نوم دی چې د لرغونو پېړیو راهیسې د زړې آسیا د جغرافیا او تاریخ په پاڼو کې ځای لري.
دا نوم هغه ښار ته اطلاقیږي چې د همیشه د پاره د مقتدرو پاچاهانو او پیاوړو واکمنانو د تمدن او سلطنت مرکز ؤ، که څه هم تر اسلام نه د مخه د کابل سیاسي موقعیت دومره څرګند نه دی. خو دومره

معلومه ده چې کابل زياتې پېړۍ د مخه حتی د مقدوني سکندر د عصر څخه هم د مخه موجود ؤ او د سکندر مؤرخانو په مکرر ډول له هغو څخه يادونه کړې ده.

د طبقات الارضي په اصطلاح کابل يوه "ته کاسه" يعني "ښکته کاسه" وه چې په هغې کې د نژدې نقطو له ارتفاعاتو څخه اوبه راټولېږي او يا په بل عبارت د اوبو د راټولېدنې ډنډ دی. که د کابل کاسې ته په يوه لنډ نظر وکتل شي نو ليدل کيدای شي چې په شمال کې يې د خواجه رواش چمن په لويديز کې يې د بيني حصار چمن او په جنوب کې يې د حشمت خان قلعه چمن پروت دی او هغه اوبه چې له لوړو برخو څخه راښکته کيږي مجرانه لري او په بيلابيلو کاسو کې راټوليږي چې اوس هم د کابل په شاوخوا کې دغه شواهد ليدل کيږي او څرګنده ده چې په پخوانيو زمانو کې رودخانې د مهاجرينو د تګ او راتګ طبيعي معبرونه وو، کلي او ښارونه د دغو رودخانو په غاړو آباد شوي وو.

د کابل څخه په ډېرو زياتو تاريخي اسنادو کې يادونې شوې او په مختلفو مفهومونو د هغه د تسميې وجهې تعبيرې شوي دي. لکه چې د کابل ښار د کابل د درياب په نوم په ويدي سرودونو (ويدي سرودونو) کې چې معمولاً د هېواد ډېر داسې ځايونه د سيندونو په نامه ياد شوي دي کابل هم د "کوبها" په شکل په تکرار سره راغلي دي. چې د "کوبها" په کلمه کې د کابل سيند ډېر پخوانی نوم چې "کو" د "اوبو" په معنا په "الف" باندې د "واو" په بدلون اوس هم د کابل په کلمه کې هغه له منځه تللی نه دی.

د شاعرانو د ادبي صنعت او تخليق له مخې چې کابل او ګل د کلمې په منځ کې "اوبه" وينو او د فيلالوژی د حقايقو له مخې دغه حقيقت ته نژدې خبره ده يعنې "ك آب ل" چې دلته ګل له کل څخه مانوس شوی شکل ګڼل شوي دي په يوه بل روايت يو وخت کابل ته بګرام انتساب ورکړ شوی ؤ او دا هغه زمانه ده چې بګرام د ګندهارا او يفتليانو د اداري مرکز مقام هم درلوده.

لکه څنګه چې د کابل څخه په ويدي سرودونو کې د کوبها په نوم يادونې شته دي په همدې ډول د هغه د قدامت له مخې په اوستا کې هم د ۱۶ ګونو ملکو څخه "اومه ملکه" د "ويکده ته" په نوم ياده شوی او معمولاً پوهان دا اومه ملکه کابل بولي او د دې ملکې د حماسې پهلوانانو څخه "کرسپه" چې ډېر شهرت لري او د ده د پهلواني د نوم او کارنامو منشا چې وروسته کابل او کابلستان ته نسبت ورکړ شو له همدې ځای څخه نشئت کوي.

له ميلاده درې پيړۍ د مخه يو يوناني مؤرخ "اراتوسنس" په دې سيمه کې د يوه ښار نوم اخلي چې "اورتسپانا" يا "اورتسپنه" په نوم چې پوهانو د بطليموس له متونو څخه چې نوموړي يوناني مصري جغرافيه ليکونکي ؤ په دوهمه ميلادي پيړۍ کې دغه مفهوم په کابل باندې تعبير کړی دی چې د څلور لارې معنا ورکوي.

د احمد علي کهزاد د ليکنې له مخې چې د کابل نوم د "کوبها" په شکل راغلی او د دارمستر د "زند"

او "اوستا" د ترجمې په اعتبار د ده په قول "ديګره ته" او د هيرودت په قول "کسپا تيرودس" او د استرابون په قول اورتسپنه يا څلور لارې ليکل شوي دي.

او همدا شان "کوفن" "کوفس"، "کاوفو"، "کاروارا" يا "کابورا" د بطليموس له قوله ليکلي دي.

د هند د پخواني جغرافيې په کتاب کې د کنګهم د يادونې له مخې د کابل ناحيه د لومړي ځل د پاره د پتولمي (بطليموس) چې د کابل خلکو ته يې د "کابيلتو Kabolito" او مرکز ته يې "کابورا Kabura" وايه او "اورتاسپانا Ortospana" نوم ليکلی شوی دی.

د پليني په ځينو کاپي ګانو کې د "اورتمه سپانوم Ortospananum" چې ويلسن يې ګومان کاوه په قوي احتمال سره "اردهشتانا Orddhashan" سانسکريت کلمه ده چې د لوړ ځای او يا لوړ ښار معنا ورکوي.

هېوان تسنګ هم همدا نوم د کابل ناحيې ته ورکړی دی.

په تاريخي منابعو او د چين په پخواني جغرافيه کې هم له کابله يادونه شوې ده "ديموزات" د "چين د امپراطوري پراختيا" په کتاب کې د "تانك" په تاريخ کې د "کاويو" څخه د يوه هېواد يادونه کړې او هغه ته يې د کابل سره مطابقت ورکړی دی.[1]

"ريتر". "Ki Pin" چيني نوم په "تانك چو" کې راغلی او د کابل څخه يې شمېرې او د چينايانو دا غربي هېواد له پنځمې پيړۍ راهيسې پېژانده او همدا وجه وه چې هغه ته يې "کوفين Ko-phene" [2]

لسترنج په خپل کتاب کې "جغرافياي تاريخي خلافت شرقي" ۳۷۴ مخ کې ليکلي دي چې اصطخري کابل ته "اطابان" وايه چې معمولاً په کابل يې اطلاق کېده لکه چې د مخه وويل شو بطليموس چې په دوهمه پيړۍ کې يې ژوند کاوه د پارو پا ميزاد د ښارونو او کليو په جمله کې د "کارورا" په نوم له يوه ښاره يادونه کړې چې پوهان د هغې سم تلفظ کابورا قبول کړی دی نومړي اورتسپانا او کابورا دواړو ته "بازليوس" يعنې شاهي ښار هم وايي چې دا خبره د کابل د ښار په تاريخچه کې خاص اهميت لري د کابل وروستنی تلفظ "کاول" يعنې کابل دی چې "کاول" د "پراچي" او "اورمړي" د لهجو د تاثير له مخې د يفتليانو په وخت کې رامنځ ته شو او دوهم مفهوم يعنې کابل په "پهلوي ادبياتو کې د "بندرهش" په متن کې ذکر شوی دی لکه کاول (کاولستان) زاول (زاولستان) او نور دا تلفظ د پنځمې ميلادي پيړۍ راهيسې د يفتليانو سره په يوه وخت کې معمول شو کابل په کاپل هم تلفظ شوی دی چې نژدې له زرو کلونو راهيسې د کابل په نوم يې شهرت موندلی دی.

يعقوبي په دريمه پيړۍ کې د کابل له ښاره يادونه کړې او د کابل لوی ښار ته يې "جروس" ويلی دی.

---

۱ آريانا مجله، ۲۸ ګڼه، ۹۶ مخ

۲ مير غلام محمد غبار، جغرافياي تاريخي افغانستان، ۱۳۶۸، ص ۱۹۶ – ۱۹۷

اصطخري ورته "طابان" يا "اطابان" وايي د مقدسي حمد الله قزويني او ابن بطوطه په آثارو کې چې دی وروستنی شخص يوه پيړۍ وروسته کابل ليدلی ؤ وايي:

کابل پخوا يو لوی ښار ؤ او اوس د يوه کلي په توګه دی ۱

لنډه دا چې په زياترو تاريخي مدارکو او بيلابيلو تاريخي پړاوونو کې د کابل څخه په مختلفو نومونو يادونې شوي دي.

د کابل د تسميې وجه:

په تېر بحث کې هم تر يوه حده د کابل په باب او تقريباً د هغه د تسميې د وجهې په باب لکه د کاول څخه کابل اخيستل شوی شکل دی اوږدې خبرې شوې. خو دلته به د کابل د تسميې د وجهې په باب د يوې محلي کيسې روايت هم را واخلو چې وايي:

په تېره زمانه کې يو پاچا د لښکر سره کابل ته را ورسېد. کله چې يې وليدل چې ټول د اوبو. لاندې وو لکه چې د دې قول په تاييد د بګرامي. د قلعه حشمت الله خان مقابل نيزارونه. جبه او بيني نيزار ډنډ. د خواجه رواش چمن او داسې نور ځايونه د دې اوبو په منځ کې يو کوچنی ټاپو ښکاريده.

پاچا لږ مخه د دغو اوبو په غاړه تم شو او بيا ورته وزيرانو مشوره ورکړه چې د دغو اوبو څخه د تيريدلو او ټاپو ته د ورپورې وتلو په مقصد يوه زياته اندازه واښه ضرور دي چې هغه په اوبو کې واچول شي او بيا پرې خاورې ور تخته کړي نو په کراره به ترې پل جوړ شي.

د پاچا په امر يې دواره د ښار د شاو خوا د زراعتي مځکې څخه واښه راټول کړل او اوبو ته يې واچول او د پاسه يې پرې خاورې ور تخته کړی دا وه چې يو ډول پل جوړ شو او لښکريان ټاپو ته ورپورې وتل هلته يې وليدل چې يوه موسيقي نوازه کورنۍ په پوره خوښۍ او کراری سره هلته په ساز او خوشالۍ مشغوله ده.

دغه پل چې د ونو پل يعني "کاه پل" ؤ چې د هغه په انتساب هغه ټاپو د کابل نوم واخيست او وروسته دغه ځای په کابل مسمی شو. او هغه کابلي موسيقي غږونکی کورنۍ د ښار په دې محله کې چې خرابات ورته وايي هستوګنه شوه نو څرګنده ده چې په دې شان "پ" د "ب" په بدلون سره هغه ځای د کابل نوم وګرزيد. ۲

د کابل د لرغوني ښار موقعيت، د هغه څېره او پراختيا:

پخوانی کابل چې هر چېرته موقعيت درلود. پروت به ؤ خو محققه خبره دا ده لکه چې د کابل په

---

۱ احمد علي کهزاد. افغانستان در پرتو تاريخ. ۱۳۴۶ ص ۲۰۴ - ۲۰۵

۲ اريانا مجله. ګڼه ۹، ۱۳۳۴. مخ ۴ - ۵

غرونو باندې د هغه دیوالونو ظهور وکړ د ښار د ثقل مرکز د شیر دروازې او آسمایي غرګوټو منځ ته پراختیا وموندله.

د تاریخي شواهدو له مخې د کابل د اوسنی ښار موقعیت د هغه د پخوانی موقعیت سره پوره توپیر درلود، دا ځکه چې پخوا د هغه موقعیت د لوګر د سیند په دواړو غاړو کې ؤ. ښاغلی احمد علي کهزاد په خپل اثر (افغانستان در پرتو تاریخ) کې په دې هکله په لاندې ډول څرګندونې لري.

د تاریخي مدارکو په استناد یو وخت د کابل ښار د لوګر د سیند په وادي کې پروت ؤ چې د دوهمې څخه تر دریمې پیړۍ په اوږدو کې د "چکري" د غره سلسلو په بیخ کې یې موقعیت درلود. او ورو ورو له هغې حوزې څخه یې د کابل رودخانې دواړو غاړو ته محل بدل کړ، البته د دې ښار پراختیا په لومړی سر کې د مرنجان د تپو غربي لمنې ته چې د حضوري چمن د کلوپونو او ننداړتونونو ساحه پکې شامله وه او بیا د آسمایي د غره شمالي لمنې یې احتوا کولې.

ځینو مؤرخانو د دې ښار موقعیت یو څه ښکته او پورته وړي دي.

په یوه بل روایت کابل د جغرافیوي موقعیت له پلوه د څو تاوو راتاوو پرتو غرګوټو او غونډیو لکه د مرنجان تپه، کلوله پشته، بي بي مهرو او داسې نورو په منځ کې پروت دی. دلته د پخوانیو یادو شوو روایتونو په تایید تر اسلام د مخه هم ودانی وجودې وي چې تاریخي سابقه یې تر میلاده دوه پیړۍ پخوا زمانې ته رسیږي.

هغه مسکوکات چې د حضوري چمن د کول څخه تر لاسه شوی دی وایي چې ۳-۵ پیړیو تر میلاده او مخه هم په دې سیمه کې ودانی موجودې وي خو کله چې مقدوني سکندر او ځینې سیاحان د دې ښار څخه تیر شول او توقف یې پکې و نه کړای شو نو له دې څخه دا خبره جوتیږي چې کابل تر اسلام د مخه که څه هم ودانی او معبدونه درلودل خو بیا یې هم دومره اهمیت نه درلود او دا ځکه چې د ده په ۶۰ کیلو متری کې د بګرام ښار د زیات اهمیت وړ بلل کېده او د بګرام دا ښار د کوشانشاهانو په دوره کې پایتخت هم وګرزید.

اصلي خبره دا ده چې د کابل لومړنی هسته چې د یوه کلي په شکل یې درلود په دوهمه، دریمه او څلورمه میلادي پیړۍ کې د چکري د جنوب شرقي زاویې څخه په تدریج سره شمال غربي خواته تغییر محل وکړ. کمري، شیوکي، د تخت شاه لمنه، زنبورک، جبه کهنه او بالاخره هغه پوزي ته وروغزیده چې د شیر دروازې، آسمایي د پخوانیو دیوالونو، بارو، برجونو او بالاحصار، ګوشه ایزي بقایاوې یې لیدلای شو. له دې نقطه نظره د محل د بدلون له سیر وروسته بیا یې هم هماغه شمال غربي استقامت تعقیب کړی. له بالاحصاره او د هغه له خرابو څخه د کابل د سیند حوزو ته د ښار ودانی را نقل شوی دی.

په لومړی مرحله کې د ښار آبادی د کابل د سیند ښی خواته (د غرب له خوا ښي لاس) او بیا وروسته

کم کم کين اړخ ته مخ په شمال غرب پراختيا موندلې ده. په دې ترتيب له چکرۍ څخه تر شير دروازې، کلوله پشته، سپين کلي، مهتاب باغ او دارالامان، د هغې ساحې پر مخ چې د وخت په تېرېدلو سره د کابل ښار پراخوالي موندلي او د ثقل مرکز يې هم بدلون خوړلی دی او بالاحصار يې د چکرۍ پر ځای په منځنۍ تکۍ کې پاتې شوی دی.

د پخوانيو يادوو شوو مفکورو په تعقيب او پيروۍ احمد شاه بابا هم کابل له خپل نظره نه ؤ غورځولی او غوښتل يې چې خپل مرکز يې وګرزوي نو ځکه يې په ۱۱۶۶ هجري کې پر کابل باندې د ديوال د راګرزولو او احاطې (ربض) امر صادر کړ او سردار جهان خان دغه ديوال په څلورو مياشتو کې پای ته ورساوه.

د دغه ديوال يو اړخ د اندرابي د ماشينخانې د برخې څخه د ګلستان د سرای ... تر پايه او بل اړخ يې د خاصې سلامخانې څخه (دارالاماري سيمه) د بابا کيداني (عدليې وزارت) د زيارت څخه تيرېږي او په يوه کږليچ سره تر لاهوري دروازې پورې رسيږي بل اړخ يې د چنداول څخه تيرېږي او د ماشينخانې –په شاوخوا پای ته رسيږي د کابل ښار دغه ديوال څو دروازې درلودلي چې په لاندې ډول دي.

- په دهمزنګ کې د کندهاريانو دروازه.
- د خاصې سلامخانې په برخه کې سپينه دروازه.
- د بابا کيداني په برخه کې د سردار محمد جانخان دروازه.
- د عيدګاه مسجد شاته د بيت دروازه.

همدا راز د ګذرګاه، لاهوري، خافيا، ساسمنديان، فرتا، شيرازيانو په نامه دروازې هم يادېږي.

دغه ديوال ۱۲ مهرې درلودلي چې يوه برخه يې په اندرابي کې په يوه عمارت کې راغلی ده چې درې نيم متره پسور لري او بله برخه يې د ختکيو خرڅولو په منډه اي کې په يوه خانقا کې راغلې ده.

په يوه بل عين روايت کله چې تر نادر افشار وروسته احمد شاه بابا په ۱۱۶۰ هجري کابل ونيو نو غوښتل يې چې کابل د خپل مملکت اداري مرکز کړي، د دې مقصد د پاره يې په ۱۱۶۶ هجري قمري د کابل په ښار کې د يوه لوی ديوال د جوړولو امر صادر کړ چې د سردار جانخان سپه سالار په څارنه او اهتمام پای ته ورسيد. دې ديوال ۱۱ مهرې (په تير روايت کې ۱۲ مهرې دي) او شپږ دروازې يې درلودلې چې په دې ليکنه کې په پخوانيو څلورو دروازو سربيره د ګذرګاه دروازه او د کابل بالاحصار شمال جنوب ته لاهوري دروازه يو څه څرګنده ښودل شوې ده.

که څه هم دا دروازې له لسو دروازو څخه چې د مخه ترې يادونه وشوه عبارت دي.

د احمد شاه بابا تر مړينې وروسته د هغه زوی تيمورشاه چې په ۱۱۹۰ هجري ۱۷۷۴ ميلادي کې پاچا شو، د پلار ارمان يې تر سره کړ او د کابل ښار يې رسماً د خپلې پاچاهۍ پلازمينه وټاکله او پايتخت يې

له کندهاره ورته را نقل کړ.[1]

که څه هم په هيڅ يوه شوي اثر کې د کابل د ښار بنسټ ايښودونکي نه دی معرفي شوی خو د جغرافيايي تاريخي افغانستان مؤلف ښاغلي غبار په قول چې يې له يوه روايت څخه اقتباس کړي دي داسې ويلي شوي دي.

د الماني آثارو څخه په يوه اثر کې چې نوم يې راځني هېر شوی دی لوستلی دی چې د کابل ښار په ۷۷۰ تر ميلاده د مخه کلونو کې د "اثور سلمانا" پاچا "دوهم سار" له خوا يې تادا او ايښودلی دی.

د کابل قهندز او بالاحصارونه:

(حصار او ارگ)

د کابل د موجوده ښار په سهيلي خنيزه برخه کې يوه جنگي کلا ده چې د يوې ډېرينې غونډۍ په جگه او هواره سطحه باندې د ختيز طول البلد ۲۹ درجو. ۱۰ دقيقو او ۴ ثانيو او شمالي عرض البلد د ۳۴ درجو. ۳۰ دقيقو او ۱۸ ثانيو تر منځه پرته ده.

په تاريخ کې د اکلا د کابل د بالاحصار په نوم عمومي شهرت لري. په پخوانيو زمانو کې بالاحصار د يوه مستحکم (ارگ) د پنډواو لويو ديوالونو درلودونکي ؤ چې له تيرو څخه جوړ شوی ؤ دغې کلاته د کابل قهندز يا کهندز او يا زړه کلا ويل کيدله.

لکه چې ويل کيږي کابل هم د هېواد د نورو لويو ښارونو غوندې يو کهندز درلود. چې د هماغه بالاحصار څخه عبارت دی. يعنې جگه کلا او يا جگ ديوال.

په ټولو پخوانيو موخذونو کې که عربي دی که فارسي لکه المسالك و الممالك. ابن خرداد به حصار. دژ. کهندز. قلعه دا ټول په حصينو او مستحکمو صفتونو ياد شوی دی او دا ښار هم له ځانه ربض (احاطه) يا حوزې درلودلی چې د کلا د ديوالونو د باندې لمنه يې پراخه ده. د دې کلا موقعيت همدا اوس مشهود دی چې د کابل د آسمايي غره. ديوال په ختيزه برخه کې چې د بالاحصار په لويديزه گردنه ختميږي او ترې لاندې هديره ده. د غونډۍ په دې جگې برخې په جنوب لويديزه برخه کې دا کهندز ليدل کيږي د کابل له بالاحصار څخه په تاريخي اسنادو کې په لاندې ډول يادونې شوی دی.

حدود العالم هغه داسې معرفي کوي.

"کابل شهريست و او را حصاريست محکم و معروف. با ستواري او اندروی مسلمانان و هندو اند. و اندر وي بتخانه است و راي قنوج را ملك تمام نگردد. تا زيارت اين بتخانه نکند و لوای مملکت

[1] پښتو اريانا دايره المعارف. ۷ ټ. ۱۳۵۵. ۷۷۶ مخ

اینجا نبندند "[1]

د پورتني لیکنې له مخې بیخي جوته ده چې په دې پخه کلا کې نه یوازې مسلمانانو هستوګنه درلوده بلکې، هندوان هم پکې اوسېدل او هغوی بتخانه هم لرله

د یعقوبي په قول چې وايي:

"شهریست بزرګتر کابل را که به آن "جروس" ګفته مي شود. عبدالرحمن بن سمره در خلافت عثمان بن سحقان فتح کرد و این شهر اکنون ناګشوده است جز اینکه بازرګان بدان وارد مي شوند.

میر غلام محمد غبار د ابن هوقل په حواله ویلي دي:

"در بغل شهر کافران و یهودان سکونت دارند (چې دا کافران هندوان دي) مردم کابل معتقدند که کسي پادشاهي را نشاید جز اینکه در کابل او را به پادشاهي نامزد کند و اګر کسي از این شهر دور باشد باید بدانجا رود و با شرایطي که از قدیم باز اندکي از آنرا نګهداشته اند او را به پادشاهي بګمارند..."

له دې لیکنې څخه د کابل ستراتیژیکي اهمیت په ډېره ښه توګه څرګندېږي.

مقدسي چې کابل د سیستان د ایالت وروستنی نقطه ګڼي او ابوالفدا په تقویم البلدان کې کابل د هند د خاورې ډېره مشهوره ناحیه بولي او وايي چې یو جماعت دی د اهل علم څخه، خو د دې فرهنګي حیثیت او مرکزیت بیا هم خپل ستراتیژیکي موقعیت خوندي ساتي لکه چې په وروستیو زمانو کې بابر ویلي دي:

هغه وخت به په هندوستان حاکمیت وساتلای شئ چې کابل یې په لاس کې وي او د بابر د وصیت سره سم په کابل کې د ده ښخیدل هم په خپل ذات کې د یوې سیاسي دور اندیشي څخه پیدا شوی خبره ده دا کار ده څکه مصلحت وګڼه چې اخلاف به یې د نیکه د هډوکو د ساتنې په خاطر کابل له نظره، نه غورځوي او کله چې کابل ور سره وي نو په هند به یې حاکمیت پوخ او دایمي جاري وي.[2] چې وروسته احمد شاه بابا او تیمورشاه هم د دې مفکورې په پیروي کابل پلازمینه وګرزوله.

او د دې ښار زیات تاریخي اهمیت په دې ټکي کې پروت ؤ د هغه پاچا فرمانروایي نه شي چلیدلی تر څو چې د دې بتخانې زیارت و نه کړي او دلته د خپلې واکمنۍ لوا و نه تړي.

مګر په دې ښار کې که څه هم مسلمانانو هستوګنه درلوده د کوم جومات یادونه شوې نه ده. اصطخري بیا د دې محکمې کلا په باب داسې معلومات ورکړي دي:

کابل قهندزي دارد، سخت استوار از یك راه نتوان شد و این قهندز مسلمانان دارند ربض کافر آن دارند و ګویند شاه پادشاهي را نشاید تا آنکه او را در کابل بیعت بندند.

۱ حدود العالم، طبع ۱۳۴۲، ص ۱۰۴

۲ د کابل پر تاریخي جغرافیه، د محمد ابراهیم عطایي د تقریظ څخه

(د المسالك و الممالك (۲۱۹ – ۲۲۰ مخونو په حواله)

د اصطخري په ليکنه کې د حدود العالم له قوله سره کوم توپير نشته دی او دواړو د کابل د کهندز په باب يو شان نظريه وړاندې کړې ده. خو يوازنی تکی چې د اصطخري په قول کې د پاملرنې وړ دی هغه دا دی چې د حدود العالم هندوان او د اصطخري کافران د کلا په محوطه کې اوسيدل.

که څه هم په تاريخونو کې د کابل د کهندز څخه د کابل د بالاحصار په نوم يادونې شوې دي خو په حقيقت کې دا بالاحصار يو بالاحصار (جګه کلا) نه بلکې دوه بالاحصاره دي.

يو برنی بالاحصار دی چې د هماغه قهندز څخه عبارت دی چې د بيني حصار په طرف او په جنوبي برخه کې قرار لري.

او بل لرنی يا کوز بالاحصار دی چې د برني بالاحصار څخه راښکته د نوموړې غونډۍ په هواره لمنه کې جوړ شوی دی.

برنی بالاحصار پرته له دې چې يوه مستحکمه کلا ده بلکې ارګ يې هم دلود مګر په کوزني بالاحصار کې بيا د ښار ودانۍ شاملې وې.

راغلو دې خبرې ته چې د کابل بالاحصار په کومه زمانه کې او د چا له خوا جوړ شوی دی محقق او اتفاقي معلومات په لاس کې نشته خو د تيرو پاڼو يوه روايت ته که وګرزو نو په هغه کې ويل شوي دي.

چې د کابل ښار يعنې دا بالاحصار په ۷۷۰م کې د "الثور سلمان" پاچا د "دوهم سار" له خوايې بنسټ ايښودل شوي دي او که له ده پرته بل څوک ؤ او لومړنی اوسيدونکی يې څوک وو؟ په دې هکله د افغانستان په تاريخي جغرافيه کې داسې اشاره شوې ده:

د کابل کلا (حصار) د لومړۍ ځل د پاره د ترکي پاچاهانو هستوګنځي ؤ او وروسته برهمنانو هلته هستوګنه غوره کړه. ۱

زما په ګومان دلته په برهمنانو اتفاق کيدای شي ځکه چې دلته بتخانه هم موجوده وه د هندوانو او بودايي مدنيت څخه هم په زياتو تاريخي مدارکو کې يادونې شته دي، اما د ترکانو په باب خبره يو څه د غور وړ موضوع ده.

بله موضوع چې د دقت وړ ده چې په دې هم اتفاق کيدای شي چې د بالاحصار د ودانۍ سابقه د کابل په غرګوټو د ديوالونو څخه قدامت لري او دليل يې دا دی چې دغه ديوالونه د کابل د کندز د ساتنې او دفاع په خاطر جوړ شوي وو. نو طبعاً د بالاحصار د جوړېدو تاريخ د کابل د ديوالونو څخه د مخه دی يعنې دا په هغې زمانې پورې تعلق درلودلای شي چې لا اسلام دې محل ته نه ؤ رارسيدلي لکه چې وايي، د دې ديوال د جوړېدو څخه د مخه کابل يو کوچنی کلی ؤ، خو ديوالونو ورته خاص مرکزيت او تاريخي

---

۱ جغرافياي تاريخي افغانستان، ص۲۰۰

اهميت ورکړ.[۱]

بالاحصارونو په حقيقت کې د يو ښارګوټي حيثيت درلود. په بالاحصار کې يو شمېر وداني موجودې وې لکه د بالاحصار د شمالي لمنې په هواره برخه يعنې په کوزني بالاحصار کې د بالاحصار پخواني وړوکی ښار ودان ؤ. او له دې ځايه څخه جوتيږي چې دلته د بالاحصار ارګ، سلطنتي مقر، د حکامو او امراوو د پاره د ناستې او هستوګنې محلونه، د نغدو او ګران بها او قيمتي څيزونو د ايښودلو او ساتلو د پاره ځانګړي ځايونه موجود ؤ.

د بالاحصار ښار د مامورينو منصبدارانو او وګړو د کورونو ځای، د ماڼيو، بازارونو او حمامونو درلودونکي وو.

که د بالاحصار د غونډۍ جنوب شرقي لمنې ته وکتل شي يعنې د برني بالاحصار ختيز اړخ ته د سياه سنګ د واټ مخامخ سړك ته په دغه هواره او جګه سطحه کې يعنې د بالاحصار د جادې ښي خواته د يو شمېر ويروونکو او وحشتناکو زير زمينو بقاياوې ليدل کيږي چې په اغلب ګومان سره دلته د بالاحصار د ښار زندان او سياه چالونه هم موجود وو.

د بالاحصار (کهندز) د ساختماني سبك ځرنګوالی

که چېرته د کابل کهندز يعني لوړی کلا او ارګ پاتې شوی وداني او ديوال د بيني حصار له خوا يعنې د شهدای صالحين د سړك پر سر وليدل شي نو په ځرګنده توګه پوهيدلای شو چې د دې لوړې او پخې کلا ديوالونه، د تيرې، ګچو، چونې او پخو خښتو څخه په ډېر پاخه ډول جوړ شوی دی او برجونه يې چې د بيني نيزار خواته بازوکي دري برجونه دي په ډېر پاخه او مدور شکل جوړ شوی دی چې د ديوال د باندې او لوړوالی يې د ديوال سره برابر دی. دوه قطاره تير کشونه لري.

د برنی بالاحصار د دې برخې ساختماني نقشه د هماغې کلا سبك سبك کاپي ګڼل کيږي چې د هېواد د لويديزو او مرکزي ولايتونو په لرغوني استحکامي کلاګانو کې لکه د غور او سيستان په کلاوو کې يې ليدلای شو او په قوي احتمال سره دا کلا د سيستان د هزار برج او چغانسور کلاوو ته ډېر زيات ورته والي لري.

پادر کسپاني چې وروسته به يې څېړنيزه مشاهداتي ليکنه په تفصيل سره راشي د بالاحصارونو او د هغه د ودانيو او دروازو په باب وايي:

بالاحصار لکه چې د سدوزايي کورنی په عصر کې (۱۷۴۸م او ۱۸۴۲م) پورې په خپله بنه موجود ؤ. د هغې مبدا د مغولو عصر ته رسيږي او دا د بالاحصار د جوړولو لومړني دوره ده. يعنې ۱۵ ميلادي پيړۍ او تر هغې وروسته د سدوزيانو او په تېره بيا د تيمورشاه د واکمنۍ دوره (۱۷۷۳م – ۱۷۹۳م) چې د

---

[۱] افغانستان در پرتو تاريخ، ۲۰۴ – ۲۰۵ مخ

بالاحصار پادشاهي ماڼۍ او د هغې مربوط تعميرونه، د ښکتنیَ بالاحصار په ښکتنی برخه کې د مغلو د ساختماني سبك په شان جوړ شول او په دې وخت کې پاسنی بالاحصار هم موجود ؤ.

د ښکتنی بالاحصار په احاطه کې شرق خواته د شاه شهيد دروازه او ښکتنی بالاحصار لويديز ته د نغاره خانې دروازه ده.

پاسنی بالاحصار د ښکتنی بالاحصار په مقابل کې څو دروازې درلودلې لکه، په شرق کې يې يوه دروازه درلوده چې د کاشي دروازې په نوم مشهوره ده او د هغې پسې يوه کوچنی دروازه د شير دروازې په استقامت چې خونی دروازه نوميده. ١

د تاريخي واقعيتونو له مخې د وخت واکمنانو د بالاحصار د ودانی د سالمې باقي پاتې کيدو په ترميم کې يې خاصه توجه کړې ده.

لکه څنګه چې زموږ د هېواد دا له برمه ډك تاريخي يادګار له پخوا راهيسې موجود ؤ او حصار يې د جهانګيري تزك په قول د مرزا کامران له خوا ترميم شوی دی او د بالاحصار عمارتونه د (١٠١٥هـ) د صفري په مياشت کې د نوموړي پاچا په امر جوړ شوی دی. ٢ خو را وروسته وختونو کې د کابل بالاحصار په امن پاتې نه شو او په ١٢٩٦قمري/ ١٢٥۶ش/١٨٧٨ميلادي کې کله چې انګريزان له کابل څخه مخ په تيښته شول نو هغوی د بالاحصار کلا، او د هغه د ښار هغه برخه چې د کابل چارچته پکې شامله ده د کيوناري انګليس د خونخواهي او انتقام په عنوان په باروتو وسوزوله، چې په دې صورت سره دا ښکلې او ودان ښار چې نژدې شپږ پيړی د کابل د حکمرايي محل او ځينې وخت هم د ټول مملکت پايتخت ؤ وران او ويجاړ کړ.

د اعليحضرت محمد نادرشاه په زمانه کې د دې تاريخي ځای د بېرته ودانولو اراده د هغه له خوا وشوله او د ده په امر دا ودانی د حربي پوهنځي (حربي پوهنتون) د پاره ودانه او ماڼۍ ګانې يې جوړې شوې چې د نيم مربع په شکل ؤ او په لويديزه برخه کې برجوره ماڼۍ او ترينه لاندې يوه ښه سينما هم موجوده وه او حربي پوهنځي پکې هستوګن دی ٣

کله چې حربي پوهنځي، حربي پوهنتون ته ارتقا وکړه بيا هم تر ١۴۴۵ ش پورې هغه د حربي پوهنتون يو د برمه ډك مقر ؤ.

تردې وروسته چې حربي پوهنتون د پلچرخي د تخنيکي ورکشاپونو د رياست تعميرونو ته ور انتقال شو په دې ځای کې د اردو کماندويي قطعات اوسيدل او بيا ور پسې د کارمل په وخت کې د سياسي

---

١ آريانا مجله، ٣ګڼه، ١٣۵٣، ٣٢ مخ

٢ عبدالحي حبيبي، تاريخ مختصر افغانستان، طبع ١٣۴٩، ص ۴٠

٣ آريانا دايره المعارف، ټ۴، ١٣۴۴، مخ ٣٣۵

پوهنتون مقر وګرزید او چې کله په کابل کې د تنظیمي جګړو اورونه بل شول زموږ د تاریخي ویاړونو دغه تلپاتې سمبول د دغو شومو جګړو د کرغیړنو آثارو او بقایاوو څخه یوه د بلې زړه دردوونکي غمیزې او فاجعې نښانه پاتې شوه.

د شیردروازې او آسمایي غرګوټو د تسمیې وجه او د هغوی پر سر دیوالونه

د کابل د ښار د آسمایي او شیردروازې د غرونو پر سر یو اوږد پوخ دیوال غزیدلی دی چې د کابل ښار یې شمالاً او جنوباً احاطه کړی دی که څه هم د کابل د ښار دغه دیوالونه څه د خارجیانو د پاره او څه د هغو افغانانو د پاره چې پخوا یې دا دیوالونه لیدلی نه دی ۱ یوه د عجایبو څخه ډکه منظره ده، خو بیا هم تر اوسه پورې هیڅ مؤثق تاریخي ماخذ، د هیڅ یوې کتیبې او ډبرینې لیکنې له مخې پته لګول کیدای نه شي چې په دقیقه توګه د دې عجایبو په باب معلومات ورکړي.

که چیرته د کابل لرغوني ښار د محوطې منظره تر سترګو شي نو ګورو چې د برې کوټ په برخه کې او هغه خوا د آسمایي غره د ګذرګاه په شمال لویدیزه لمنه کې د دواړو غرګوټو پوزې راوتلې دی چې د شیردروازې پوزه یو څه زیاته ده. او په دې برخه کې د ښار یوه دروازه وه. او ممکن دغه دروازه چې د کندهار دروازه ده په شیردروازه مشهوره وه. او د دې دروازې له نوم څخه څرګندیږي چې په دې دروازه کې د زمریالیو سپاهیانو په واسطه د ښار په دغه برخه کې دفاع کېدله، او دغه غرګوټي هم د دې دروازې د نوم سره په انتساب پیدا کولو د شیر دروازې د غرګوټي نوم اخستی وي.

پردې یادونې سربیره نور څه معلومات په لاس کې نشته چې د شیردروازې د تسمیې وجه پرې وښودلای شي.

اما د آسمایي غرګوټي په باب هم دومره ثقه معلومات نشته دی خو د هغه د نوم په استناد دومره ویلای شو چې ممکن دا نوم د آسمایي، یعنې هسک څخه اخیستل شوی وي، یعنې د شیردروازې په نسبت لوړ غر.

ځینو څیړونکو آسمایي (اسه ماهي) په یو لوی رب النوع ترجمه کړی دی او وایي د پورتنی غره د بیخ په شمالي لمنه کې یو معبد او یوه لویه تیږه ده چې خلکو هغه په تقدیس سره وپیژندله او د هغې پرستش یې کاوه. چې بیا وروسته همهلته د هندوانو درمسال جوړ شو.

د تاریخي شواهدو څخه داسې څرګندیږي چې د بالاحصار په غونډۍ د بودایي معابدو او عمرانانو په وخت کې لکه د کابل تپه سلام، د علي آباد او په کافر ګردنه، خواجه صفا، د خزانې په غونډۍ (پل رتل ته نژدې) د مرنجان په غونډۍ کې، په خواجه روشنایي، په خضر، پنجه سیاه، او نورو سیمو کې

۱ د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په وخت کې د دې دیوالونو پر سر رنګارنګ ګروپونه ځړول شوي ؤ او ښار داسې ښکاریده که د یو فانوس په منځ کې

موندل شوی وو او په بالاحصار کې هم يوه مهمه غونډی ده چې هلته يو معبد موجود ؤ.[1] او دا ده چې آسمايي د هغو مذهبي رب النوع څخه د يوه د نوم سره ارتباط ولري.

مګر احمد علي کهزاد وايي چې په محلي کيسو کې د آسمايي تعبير په دې ډول شوی دی.

وايي چې يوه ظالم پاچا د آسمايي او شيردروازې د غرو په څوکو د يوه ديوال د جوړولو په مقصد امر کړی ؤ چې د ښار له هره کوره په نوبت سره يو تن د خاورو، تيږو او نورو عمراني موادو په راوړلو او لګولو کې مرسته وکړي.

يوه ورځ يوې هسې کورنی ته نوبت راورسېد چې يوازې يو بوډا او د هغه ځوانه لور پکې اوسېدل.

د پاچا سپاهيانو غوښتل چې دغه بيګار ته بوډا په زوره بوزي کله چې يې لور وليدل چې هغوی يې د پلار زاری نه مني او په هيڅ شان يې نه پرېږدي نو د پلار په عوض ور سره پخپله روانه شوه.

او د بيګارچيانو سره يې په کار شروع وکړه، تقدير ته ګوره چې په دغه ورځ پخپله پاچا د شيردروازې د کار جريان وکوت او بيا د آسمايي د غره څوکې ته راوخوت، ټکنده غرمه او سوزونکې لمر ؤ تيږې يې بيخي سرې کړي وې ټول خلک تندي او ستړيا وارخطا کړي وو، کله چې پاچا د ديوال بيخ ته راورسيد ناڅاپه هغې پيغلې د ده د تشدد، ظلم او خپلې ډېرې ناتواني او بيچاره ګۍ د احساساتو له مخې وپتيله چې پاچا ته منځه يوسي، نو يې يوه لويه تيږه چې يې په لاسونو کې پورته کړې وه ښه يې ورپسې پورته کړه او د پاچا په ککرې يې ورګوزار کړه د خلکو شورماشور پورته شو چې پاچايې وواژه.

څه رنګه چې د دغه نجلی نوم سومهي (سپوږمی) ؤ نو په ټول ښار کې خوله په خوله دا آوازه خپره شوه او تر دې وروسته دغه غره په آسمايي مشهــور شو.[2]

د کابل د ديوالونو په باب چې مفصل معلومات وړاندې شوی هغه بې -اي کسپاني له خوا چې پوره اتلس کاله يې په کابل کې ژوند کړي دي او هر څه يې په سترګو ليدلي دی.

د کابل بالاحصار او ديوالونه دا دواړه هغه مفاهيم دی چې په ډېرو برخو کې سره تړلي مطالعه کيږي او په تاريخي څېړنو کې يې يو له بله جلا کول د موضوع تسلسل ته زيان رسوي.

په هر صورت پادرکسپانی په کابل کې د خپلې هستوګنې په موده کې د کابل په هکله يوه کتاب د "د افغانستان چارراهی آسيا" يعنې اورتسپانا په نوم ليکلی، هغه عقيده لري چې د کابل د ښار دغه ديوالونه د يفتليانو په زمانه کې چې په پنځمه ميلادي پيړی کې يې ظهور کړی ؤ.[3]

د يو بل روايت له مخې دا ديوال لکه چې د مخه وويل شو د عجايبو څخه ډك او د پوره دلچسپی

---

[1] احمد علي کهزاد، بالاحصار کابل و ... ج ۱، ۱۳۳۶، ص۶

[2] آريانا مجله، ۹ ګڼه، ۱۳۳۴، ۱ - ۴ مخونه

[3] افغانستان در پرتو تاريخ، ۲۰۴ - ۲۰۵ مخونه

منظرې درلودونکی دی تاریخي قدامت لري.

د دې دیوال د جوړېدو نیټه غالباً د اسلام د لومړنی پیړی ۱۸۱هـ/۷۰۰م د کوشاني سلسلې د کابلشاهانو یوه پاچاته منسوبوي چې رتبیل شاه یا زنبورك شاه نومېده او دا دیوال یې د خلکو په واسطه په بیګار آباد کړی دی.[1]

خو د دې نظریې په خوا کې افغاني مورخانو تر یوه وخته پورې داسې فکر کاوه چې اصلاً د کابل پخواني دیوالونه د عربي مهاجمینو په مقابل کې د اسلام د سپیڅلي دین د خپرولو زمانې ته په نژدې وختونو کې په دې سیمه کې د کابل زمین د پاچاهانو لکه رتبیل شاهانو له خوا جوړ شوی دی مګر که د دیوالونو د بنا او د کار اوږدولی او عظمت ته چې د هغو په جوړولو کې په کار اچول شوي وکتل شي نو په مطلق ډول داسې حکم کوي چې د احصارونه په تلوار او عجله نه دي جوړ شوی او د هغو د جوړولو مفکوره ډېره پخوانی سابقه لري.

مګر د غربي پوهانو له جملې څخه پادر کسپانی په هغه مقاله کې چې په ۱۹۴۶م کې د افغانستان په مجله کې خپره شوی ده چې د خپلې ادعا د ثبوت د پاره داسې دلیل راوړی چې یفتلیان نژدې د شلو زرو تنو په شمېر د بدخشان د فیض آباد په شمال کې اوسېدل نو د پنځمې میلادي پیړی په اوږدو کې د یوې دینامیکي قوې په توګه د هندوکش شمال او جنوب ته په فعالیت راغلل او ساسانیان یې د مملکت له زړه څخه د لویدیزو پولو په لور وشړل او د هندوکش په جنوب کې یې یوه مشهوره قبیله (زاولې) په نوم په زاول (زابل) کابل یعنې په غزني او د اوسنی کابل په شاوخوا کې هستوګنه غوره کړه او زاول او (کاول) زابلستان او کابلستان نومونه د هغوی د میشته کېدو د زمانې له خاطره دی. څه رنګه چې یفتلیان سلحشور او جنګیالی خلك وو او د سوق الجیشي له مخې یې د اراضي په پیژندلو کې خاص مهارت درلود نو دا یطالوي نوموړي دانشمند په عقیده قوي احتمال شته چې د کابل د پخې کلا (بالاحصار) هسته د اوسني بالاحصار په محل کې او د کابل د غرونو پر سر دیوالونه د دوی په لاس د کلا د ساتنې او دفاع په مقصد آباد شوی وي او تر یوه حده دا احتمال هم لري چې د کابل دغه دیوالونه د اسلام د ظهور په نژدې زمانې کې جوړ شوی دی.

که د کابل د دیوالونو د جوړښت سبك او هنري ځانګړتیاوو ته وکتل شي او د کابل دیوالونه د چین د ستر دیوال سره مقایسه شي نو د کابل پخواني دیوالونه د چین د ډېرو لویو او اوږدو دیوالونو سره یوه کوچنۍ مقایسوي نمونه ده. چې د پیکن په لویدیز (۱۹۰) کیلومتری کې پراته او په نړۍ کې خاص شهرت لري.

لکه څنګه چې پوهېږو د چین دا ستر دیوال نژدې درې زره کیلو متره اوږد او (۲۵۰) کاله تر میلاد د

[1] پښتو آریانا دایرة المعارف، ټ ۷، ۷۷۸ مخ

مخه په حدودو کې د چين د لويې قبيلې له خوا چې مانچو نوميږي د "هيوانګتو" د تهاجمونو په مقابل کې جوړ شوی وو.

د کابل ديوالونه د چين د سترو ديوالونو په مقابل کې يو ډېر کوچنی شی دي او يوازې د يوې کوچنې ښار د دفاع د پاره چې د دوو غرګوټو په منځ کې پروت دی جوړ شوی دی.

مګر د آبادۍ د سبك له مخې د دې دواړو ديوالونو تر منځه چندان توپير وجود نه لري د کابل د ديوالونو په جوړولو کې د تيږو له ټوټو د پخواو او مو لويو خښتو څخه کار اخيستل شوی دی. د دې ديوالونو کنګرې، تير کشونه او برجونه اوس هم په څرګنده توګه تشخيص کيدای شي. او د ديوال د تعمير د محل انتخاب په تېره بيا د هغو غرونو په لمنو کې چې د دهمزنګ په تنګي کې د يو اوبل په مقابل کې قرار لري د جنوب له خوا ډېر ښه معلوميږي.

دی ديوالونو ځانته يو شمېر دروازې درلودلې چې يوه يې په همدغه سيمه يعنې د دهمزنګ په تنګي کې واقع ده او له امکان څخه ليرې نه ده چې د شيردروازې د تسميې وجه لکه چې د مخه هم وويل شول له همدې ځايه نشئت کړې دي.

دا ديوالونه چې د رتبيل شاهانو په دوره کې د عربو د تهاجماتو په مقابل کې يعنې د اسلام د دريم خليفه په وخت کې چې کابل د تازيانو د تهاجم لاندې راغی (۸۱هـ) کابلي رتبيل شاه د شيردروازې او آسمايي د غرونو د پاسه هغه جوړ کړل او په هره څنډه کې يې ورته پخې کلاګانې ودانې کړې چې ښار يې شمالاً او جنوباً احاطه کاوه.

دا چې ساحوي ريسرچ شوي نه دي نو د ديوال نور مشخصات لا مجهول پاتې دی. په دې نژدې زمانه کې دا ديوالونه مرمت کاري شوي دي لکه د دراني احمدشاه او سدوزايي تيمورشاه په عصر کې هم په دغو ديوالونو کې مرمت کاری تر سره شوی دی. او څه رنګه چې د ښار په ختيزه برخه کې ديوال د ځنګلو او د کرنې د مځکو (د ده خدای داد، قابلبای او بي بي مهرو) څخه تيرېده نو دا ځکه يې آثار په ځای پاتې نه دي او د هغو د خط تعينول څه مشکل کار دی.[1]

روايت دی چې د آسمايي او شيردروازې د غرونو څوکې په يوه ديوال پای ته رسيږي چې په مهمو نقطو کې په کوچنيو کلاګانو باندې مجهزې شوي دي د کابل کوچنۍ دره د يوه پل په واسطه تړل شوي ده چې د يوې کلا په واسطه ترې دفاع کيدله.

د سترې کلا (قندز) په جنوب کې بالاحصار جوړ شوی دی، د دې تعميراتي مواد تيږې او هغه وچې خښتې دی چې د لمر په واسطه کلکې شوي دي.

د دې ديوالونو او کلا د جوړولو دوه مهمې دورې معلومې دي.

---

[1] افغانستان در پرتو تاريخ، ۲۰۱ - ۲۰۳ مخونه

- يوه يې د بابر او جهانګير په وخت کې چې علي مردان خان په دې کار کې مرسته وکړه (۱۰ - ۱۱ هـ او ۱۷ م پيړی)
- دوهمه دوره يې د دراني احمد شاه بابا او د هغه د زوی تيمورشاه په وخت کې وه چې د دې کلا او بالاحصار په جوړولو او مرمت کاری کې يې پوره توجه وکړه.

د امير عبدالرحمن خان د سلطنت په وخت کې او سنی ديوالونه چې د کابل د سيند د کيڼې غاړې په کليو کې واقع وو. د ښار د پراختيا خنډ ګرزيدل دا وه چې د دغو ودانيو څخه يوه لړ څه ورانه شوي چې د پوځي نقطه نظره بې ګټې هم وي خو ديوالوه د غرونو د پاسه په خپل حال پاتې شول.

د ټولو هغو ځايونو او دروازو چې وراني شوی دی نو مونه هم د خلکو په حافظو کې پاتې شول [1]

کابل د څلور لارې په توګه:

دا يو څرګند واقعيت دی چې په پخوانيو زمانو کې له يوه ځايه بل ځای ته تګ راتګ په ډله ييزه توګه د مهاجرت، تجارت او د پوځي سفرونو په شکل وو. چې په طبيعي ډول د مهاجرتونو د مسير انتخاب د رود خانو د مسير سره سم وو او ډېر کم په نورو برخو کې تر سره کېده او دا ځکه چې د رودونو مسير او درې يوازنۍ طبيعي لارې وي چې دوئ پرې يوه محل ته رسيدای شول. او رودونه په حقيقت کې د هغوی طبيعي "راه بلد" ګڼل کيدل.

خو تجارتي لارې بيا هغسې نه دي او په هغو لارو تجارتي کاروانونو تګ راتګ کاوه چې د مخه غزول شوي او معلومي وي. اما د پوځي لښکرو بهير و نه بيا له هرې ممکنې او اغيزمنې لارې څخه استفاده کوله.

لکه چې د تاريخي واقعاتو د جريانونو له مخې څرګنده ده چې کابل زياتره د تجارتي کاروانونو لاره او حتی د لارو يو مهم مرکز او کاروانسرای و چې زموږ بحث هم په دې ټکی دی.

د کابل څخه له مختلفو استقامتونو څخه لارې متلاقي کيدلې او تيريدلې. هغه لار چې له لويديز او جنوب لويديز څخه شرق ته غزيدله يوازې د کابل له سيمې څخه په آسانه تيريدای شوه او هغه لار چې له شماله جنوب ته غزيدله. خامخا د کابل د حوزې څخه تيريدله را به شو تاريخي اسنادو ته چې په دې باب پکې يادونې شوی دی.

ځينې مؤرخان وايي د کابل د ښار موقعيت د اورتسپانا د جغرافيايي موقعيت سره دومره بې مطابقته نه دي

د اورتسپانا د موقعيت اهميت له دې څخه څرګنديږي چې دا د هغو پخوانيو کاروانونو د لارو په منځ کې پروت ؤ چې د هند. باختر او اراکوزي (قندهار) خواته غزيدلي وې او د دې ښار له مخې يې د

[1] آريانا مجله. ۳ ګڼه. ۱۳۵۳. ۳۲ مخ

ښارونو فاصلې محاسبه کولې، له همدې کبله استرابون هغه ته اورتسپنه (څلور لارې) ویلي دي یعنې اورتسپانا اوسنی کابل ته اطلاقیږي نورو پوهانو هم دا نظریه تایید کړې ده.

کابل په خپل وخت کې له اوله څخه د دوو براعظمونو یعنې هندوستان او ترکمنستان تجارتي مرکز ؤ او د یونان د مؤرخ یوروتس (هیرودت) په قول د کابل مال التجاره یونان او روم په ټولو بازارونو کې مشتریان درلودلی دی، ممکنه ده چې د افغانستان لاجورد (د بدخشان لاجورد) چې د مصر د دولسمې سلسلې د فراعنه په نزد یې لوړ مقام درلود د هغوئ د سلطنتي ماڼيو د نقش او نګار د پاره ترې کار اخیستل کېده تر میلاد نژدې دوه نیمې پیړۍ د مخه یعنې تر مقدوني سکندر وروسته، د یوناني باختر (بلخ) په وخت کې د کابل مدنیت او اقتصاد مخ په ترقي او لوړتیا روان ؤ.[1]

چیني سیاح هیوان تسنګ هم یو وخت د کابل څخه لیدنه کړې او هغه ته یې -کوبها- ویلي دي.

د وریښمو د لارې څانګه هم د کابل څخه تېره شوې ده.

مقدوني سکندر هم پرته د کوم توقف څخه د کابل له حوزې څخه خپل سفر ته دوام ورکړی دی.

دا مثالونه د کابل د لارو د مرکزیت موضوع په ډېره ښه توګه په اثبات رسوي یعقوبي په دریمه هجري پیړۍ کې د کابل د ښار په باب وایي:

سوداګر دې ښار ته ډېر راځي او له دې ځایه د کابل لویې هلیلې وړي.

مقدسي ترده یوه پیړۍ د مخه وروسته وایي: کابل د هندوستان سره د سوداګرۍ د راکړې ورکړې یو مرکز ؤ او د هغه د نیل بیه ډېره جګه وه.

ابن هوقل د خپل کتاب صورت الارض په ۱۸۴ مخ کې لیکلي دي:

"کابل هم د هند په خوله کې پروت دی او له هغه څخه هرې خواته لار ده. په دې ښار کې نیل ډېر زیات لاس ته راځي د هغو نیلو بیه چې د کابل په ښار او کلیو کې تهیه کیږي، د سوداګرو یوه ستره برخه ده..."

په عجایبُ المخلوقات کې د کابل د سوداګرۍ د مرکز د اهمیت په هکله راغلي دي:

"کابل ... هندوستان در میان کوه و کوه، بر ګرد وی در آمده مدور چون حلقه و ګرد به ګرد دی سي فرسنګ هیچکس در آن نتوان رفتن مګر جواز کی جای تنګ است بر آن یك در حرس بر آن موکل هیچ (هیلیله) در این شهر بود..."

د څلورمې پیړۍ په لومړنیو کې مسلمانانو، حکیمانو او بت پرستانو هر یوه په کابل کې خاصې ناحیې درلودلې او زیات شتمن بازارونه.

کابل له پخوانیو وختونو څخه د نړۍ د لویو او بیلابیلو فاتحانو او مهاجمانو معبر واقع شوی دی او د هند، چین، یونان، فارس او د مغلو رنګارنګو ملتونو د نفوذ لاندې راغلی یو بل ته تحویل شوی دی

[1] جغرافیاي تاریخي افغانستان، ص ۲۹ ـ ۳۰

لکه یونان، عربو او فارس نفوذ له دې لارې په هند کې او د هند و چین نفوذ په فارس کې قایم شوی دی او البته دا هغه وخت دی چې کابل د سوداګرۍ د موقعیت د درلودلو سربېره ستراتیژیکي موقعیت هم پیدا کړی دی.

همدا اوس موږ کتلای شو چې د کندهار -کابل لار- او کابل- ننګرهار لارې سره په کابل کې مخامخ کیږي.

همدا شان د شمالي صفحاتو لار کابل ته راغزیږي او د جنوبي سیمو لارې هم پر کابل ختمیږي او که بیا هم پخوانیو زمانو ته وګرزو، یو وخت له بلخه تر تکسیلا پورې لار د بګرام څخه د پای منار له غاښې له کابله تیریدله او د موسئ څخه ګندمك ته او سرخرود ته ورغزیدله.

همدا شان دلته بند او د ماهیپر له لارې د جوړېدلو څخه د مخه هم د شمالي صفحاتو او لویدیزو سیمو لار له کابل. بتخاك او خورد کابل څخه ګندمك ته او له هغه ځایه ننګرهار ته رسیدله.

په کومه اندازه چې موږ د کندهار کابل په لار کاروانسرایونه او منزلونه پیژنو په همدې ډول کابل ننګرهار په پخوانی لار کې راته هم د منزلونو معلومات شته دی.

لنډه دا چې مؤرخان کابل څلور لارې بولي او هر یوه په خپل وار سره د هغه اهمیت په ډاګه کړي دي، نو بې له شکه نن ورځ کابل نه یوازې څلور لارې پاتې دی بلکه د زیاتو لارو مهم مرکز هم ګرزیدلی دی. او د حربي دکتورین هغه خبره پرې تایید وړ ده چې بابر، احمد شاه بابا، او تیمورشاه هغه عملي کړې ده.

د کابل ښار او حصار

افغانستان د هند د مغولي پاچاهانو په زمانه کې:

مرحوم عبدالحی "حبیبي" په "تاریخ افغانستان در عصر کورګاني هند" د کابل د ښار او حصار په هکله یو څه څرګندوني لري او وایي

هغه غره چې د بالاحصار ارګ پرې جوړ شوی دی په پخوانیو زمانو کې ورته د کابل پاچا ویل کېده. د هغې د پاسه د دوو عقابانو شکلونه وو.

د کابل ښار دوې ختینی کلاوې درلودلې او پردې سربېره یې یو ځانګړي ارګ او کلا هم درلودله د بالاحصار ښار کلاچې انګریزانو مسمار (میخ) کړې وه مرزا کامران د بابرزوی هغه بیا له سره ترمیم کړه او کله چې جهانګیر کابل ته راغی د کابل د بالاحصار پخوانی ودانی یې ورانې او په عوض یې د ځان د پاره مناسب تعمیر آباد کړ. له دې نه علاوه د کابل بیروني حصار د جهانګیر په وخت کې په ګچ او اهکو جوړ شو. د بالاحصار کلا او ارګ چې خام ؤ په ۱۰۵۶هـ د شاه جهان په امر د ګچ او اهکو څخه راپورته کړ او د ارګ د پاره اوبه هم برابرې شوې (آئین اکبري، اکبرنامه، تزك بابري او پادشاه نامه په حواله)

په مغولي دوره کې د کابل د ښار قلعه یوه ډېره مستحکمه کلا وه چې یو شمېر دروازې یې درلودې.

«ممکن د کابل ښار او د بالاحصار ښار سره ځانګړي وي. ځکه چې د بالاحصار د ښار د دروازو څخه د مخه یادونه شوې ده»

د ښار دروازې دا دي:

- د دهلي دروازه ختیز خواته.
- دروازه پارک (مبارک)
- دروازه طاقیه دوزان [1]

د کابل په ښار کې دوې رواني ویالي موجودې وې چې یوې ته یې د خطیبانو ویاله ویله. او دا ویاله له للندر څخه راغلې له شهرارا او ښار څخه تیریدله. او بله ویاله د ده یعقوب له تنګي څخه د دهلي دروازې مخې ته بهیدله او هغې ته یې د پل مستان ویاله ویله.

ښار ته په نژدې برخه کې "ما هم بیګم" د جلال الدین اکبر دایه یوه ویاله راوستې ده چې د ګلکه له محلي تیریدله. د کابل له غره څخه درې چینې رابهیدلې یوه یې د خواجه هموچینه، بله یې د قدمګاه خضر او دریمې ته یې خواجه روشنایي ویله (پورتنی اثر ۲۰۵ مخ).

په دې دوره کې معولي پاچاهانو په کابل کې له ۱۱ زیات عصري باغونه جوړ کړل لکه: چارباغ کابل، باغ شهرارا او په هغه درې تعمیرونه. باغ جلوخانه. اورته باغ، باغ صورت، باغ مهتاب، باغ آهوخانه، باغ پغمان. باغ علي مردان. باغ استالف او باغ بابر.

د شوربازار جومات هم د اورنګزیب د ودانیو څخه دی [2]

د شیر آباد ښار او جنګي کلا:

د کابل قلعه جنګي چې د شیر آباد ښار د جنګي کلا په نوم هم یادیږي. د کابل یوه بله مستحکمه پوځي کلا ده چې د جوړېدو دقیقه نیټه یې ښیخي څرګنده نه ده او دا ځکه چې د دې جنګي کلا یو شمېر تعمیراتي آثار لا اوس هم پر ځای پاتې او د استفادې وړ دي.

افغانستان در مسیر تاریخ د دې پوځي کلا په هکله داسې معلومات وړاندې کوي:

هغه وخت چې د امیر شیر علي خان د سلطنت دوره وه. د هغه پاچا په فرمان د افسرانو، عسکرو او مامورینو معاشونه چې تر دې وخته پورې په مالیه ورکوونکو حواله کیدل، منع اعلان شول او د دولت له خزینې څخه ورته نقد تادیه کیدل منظور شول. د دې تر څنګه دا حکم هم صادر شو چې تر دې وروسته دولتي سپاهیان نه شي کولای چې د دولتي ښارونو په د ننه کې هستوګنه ولري نو د دوئ د سکونت د پاره د ښار د باندې محلونه باید موجود وي او دا دې له کبله چې عسکري منسوبان د ښاریانو سره زور

---

[1] دروازه آهنین د لویدیز خواته (تاریخ افغانستان در عصر گورگاني هند. مؤلف حبیبي، ۱۳۴۱، مخ ۲۰۴.)
[2] همدغه اثر. ۱۹۸ - ۲۰۴ مخ

زیاتې و نه کړای شي. دا وه چې امیر شیر علي خان د شیر آباد د کلا (ښار) بنسټ د کابل په شمال (۱۲۸۸ هجري قمري/ ۱۸۷۰ میلادي) کې کېښود د پنځو کلونو څخه په زیاته موده کې به هره ورځ شپږ زره تنه چې نژدې یو زر تنه معماران او نجاران د هغې په جوړولو اخته وو.

د استاد کارانو ورځنۍ اجوره او د کارګرانو (چې عسکر وو) د میاشتې پنځه روپۍ د هغوئ پر معاش سربیره وټاکل شوه او د دولتي خزانې له خوا ورته ورکول کېدلې. په داسې حال کې چې تردې د مخه د ودانیو او لارو جوړول د بیګار (اجباري کار) په ډول د خلکو او دهقانانو په غاړه ؤ.

د شیر آباد ښار (کلا) په دوو زرو جریبه مځکه کې د بیماهرو (بي بي مهرو) د تپې د پاسه ګرد چاپېر د ۲۰ فوټو په لوړوالی د خارجي او داخلي دیوالونو او د یوې نظامي قشلې (جنګي کلا یا چونۍ) په شمول ودانه شوه.

د ښار د دیوالونو عرض د توپونو د ګرزولو د پاره مساعد ؤ، د هغو ختمه د پیلانو د پښو لاندې پخیدله تر اوسه لا د ښار د ودانۍ کار نه ؤ بشپړ شوی، شرقي او غربي دیوالونه یې لا نه وو جوړ شوی چې د افغان - انګلیس دوهمه جګړه (۱۸۷۴م) کې ونښتله او د شیر آباد د ښار د جوړېدلو پروژه نیمګړې پاتې شوه او بیا د زماني په تیریدلو سره یو څه ودان شو [۱] چې په اوسنی شیرپور کې یې ځینې یو شمیر تعمیرونه اوس هم د پوره استفادې وړ دی. په یوه بل روایت د دې ښار د جوړولو په هکله یو څه نور معلومات هم شته دی.

په ۱۲۸۲ هـ ۱۸۷۰ میلادي) د شیر آباد په نوم د نوی ښار بنسټ کېښودل شو دا نوی ښار د خواجه رواش د غونډیو په لمن کې او د کابل په شمال غرب کې واقع دی.

د دې ښار نقشه د کندهار د احمد شاهي ښار له مخې په زیات عصري شکل جوړه شوه او د ناظر حسن علي جانخان یې (هغه څوك چې بیا وروسته د سپه سالار حسن علي په نامه د امیر شیر علي خان حربیه وزیر شو.) د دغې ښار د نقشې د ودانۍ په کار وګماره. د ښار په جوړولو کې زیات تعمیراتي مواد او سامان. مساله او عمله په کار واچول شوه او پوره پنځه کاله یې پر له پسې کار پکې وکړ. د ښار بیروني او ځیرمه دوه دیوالونه او څو نورې بنیادي ودانۍ سرته ورسیدلې. خو ارمان چې د امیر شیر علیخان د سلطنت عمر د ده سره وفا و نه کړه او دا ښار نیمګړی پاتې شو.

دغه ښار د ولسي قیام او انقلاب په وخت کې انګریزانو د خپلې مورچې په توګه استعمال کړ او له دغه کبله د جګړې په جریان کې وران شو (یو څو ودانۍ یې باقي پاتې شوی) له دې پس د نوموړي پاچا اخلافو لکه چې په ختیزو ملکونو کې د زاړه رواج او عاداتو له مخې د دغې ودانۍ بشپړولو ته توجه و نه کړه او نن د دغو ټولو خواریو او لګښتونو یادګار فقط یو نړیوالی دیوال دی او بس او دا جنګي کلا او

[۱] میر غلام محمد غبار. افغانستان در مسیر تاریخ، ص ۵۹۴

یو شمېر تعمیرونه.

خو بیا وروسته د دغه ښار تاریخي نامه (شیر آباد) د راژوندي کولو په مقصد د وخت د دولتي مقاماتو له خوا د کابل د نوي ښار سره د لګیدلي نوم شیرپور کېښودل شو.[1]

د پورتنیو څرګندونو څخه په ګوته کیږي چې هېواد دوارو مؤرخانو معلومات سره یو ډول دي او ممکن له یوه ماخذ څخه یې استفاده کړې وي.

شېر آباد او د کابل د قلعه جنګي تعمیراتي نقشه:

که څه هم شخصاً ما د دې پوځي چونۍ د ساختماني څرنګوالي په باب یو څه نسبي ساحوي ریسرچ کړې دی خو د موضوع د لنډیز په مقصد د احمد علي کهزاد په هغو معلوماتو بسنه کوم چې په دې باب یې وړاندې کړي دي.

د امیر شیر علي خان د تجدد پسندۍ افکار بالخاصه د ده د امارت په دوهمه دوره کې کله چې د هندوستان له سفره راستون شو. د دې باعث شول چې د بي بي مهرو د تپې په شا و خوا کې نظامي قشله، نوی ښار او نوې عمارتونه کوم چې د دیوان، دفتر د پاچا د دربار او هستوګنځي د پاره ضروري وي آباد کړي په دې کې کوم شك نشته چې د امیر شیر علي خان تر زماني تقریباً ۳۰ کاله پخوا یعنې د ده د پلار امیر دوست محمد خان د لومړي امارت په وخت کې او هغه غوغا چې د شاه شجاع او د انګلیسانو په راتلو سره راپورته شوه مکناټن دغه فرنګي وزیر مختار او سفیر د بي بي مهرو د تپې تر څنګه د یوې قشلې ودانۍ چې د انګلیسي ځواکونو څخه د کابل د تخلیې په وخت کې د غازیانو له خوا هغه وسوزول شوه. نو امیر شیر علي خان په همدې سیمه کې چې د آسمایي او شیردروازې د غرونو څخه لیرې واقع دي او د دوئ د جګړه ایزو تاثیراتو او اغیزو څخه په امن وي د یوه نوي ښار په خیال کې شو او په هغه یې د خپل نوم په انتساب شیر آباد نوم کېښود.

امیر شیر علي خان اصلاً په نظر کې درلودل چې د خپلو سپاهیانو د پاره یوه لویه قشله د بي بي مهرو د تپې په جنوبي لمنه کې جوړه کړي. د تپې پر پاسني برخه حرمسرای او سلطنتي مقر ته اختصاص ورکړي او د قشلې په بیروني برخه کې ورو ورو نوموړي ښار ته پراختیا ورکړي.

خو واقعات بل ډول راغلل او د دې کار د پاره یې موقع پیدا نه کړه. د نورو مورد نظر ودانیو کارپاتي شو او یوازې د شیر پور قشله یې جوړه کړه چې وروسته دغې قشلې په قلعه جنګي باندې شهرت پیدا کړ. د دې قشلې ساختماني شکل په دې ترتیب ؤ.

دا کلا مستطیل شکله ده. د هغه دیوال اوږدوالی چې د شرق نه غرب ته پروت دی ۲۶۵۰ ګزه او یا له یوه میله څخه زیات دی. او کوم دیوال چې د شمال نه جنوب ته واقع دی ۱۰۰۰ ګزه اوږد دی.

[1] سید قاسم. رښتیا. په نولسمه پیړۍ کې افغانستان. طبع ۱۳۴۱، ۳۳۸ - ۳۳۹ مخونه

د قشلي د جنوبي ضلعې په اوږدو کې چې د ښار پر مخ ده یو شمېر بارکونه جوړ شول چې د هغوئ بامونه هوارو او د بامونو غاړو په جنوبي اوږدو کې یو دیوال چې ۶ فټه لوړ ؤ تېر کشونه درلودل چې د قشلی د جنوبي ضلعي د خارجي دیوال په مقابل کې د ۲۰ فټو په ژوروالي یو خندق هم ایستل شوی ؤ اوبه یې نه درلودلی او د ضرورت په وخت کې له اوبو څخه ډکیدلای شو.

د قشلی د دیوالونو لوړوالی ۱۶ فټو ته رسیده او حد په حد یې نیمه مدور او ځینې یې د هرم د مقطع په شکل برجونه درلودل. چې په هغوئ کې د توپ انداخت د پاره مخصوص تیر کشونه ایستل شوی وو او ۵ فټه ښکته د دیوالونو له سره د سپاهیانو د پاره یو گردش گاه جوړه شوی وه.

د قشلي داخلي بارکونه. د مستطیل شکلو کوټو چې ۹۰ فټه طول او ۶۰ فټه عرض یې درلود عبارت وو په ژمي کې د اورلگولو د پاره هر بارك څلور دیوالی بخاری درلودلی چې دوه یې د دوو منزلونو په وروستی برخه کې او دوه یې د دیوالونو د ربع په فاصله کې جوړې شوی وي

هر بارك ځانته زینه درلودله. د زینې سره ښتی یوه کوچنی کوټه وه چې ۱۵x۱۶ فټو کې وه چې هغه د بارك د پهره دارانو د پاره وه

د قشلی د شمالي ضلعې په امتداد کې یوه برنډه وه ۱۲ فټو په عرض چې پایې او کمانونه یې درلودل او د پخو خښتو او خټو څخه جوړه شوی ده

د قشلی غولی یو پراخ میدان درلود چې د سپاهیانو د مشق او تمرین د پاره ترې کار اخیستل کېده [1]

باید بې یادونې پاتې نه شي چې د دې کلا په څلورو کونجونو کې د پنځو مترو په لوړوالی یو مدور برج موجود ؤ چې د پخو خښتو څخه جوړ شوی ؤ د هر برج په منځ کې یوه لویه پایه وه چې محیط یې ۵ متره او ۳۰ سانتي د برج د ننی قطر ۹ نیم متره ؤ د برج په دننه کې د درندی او سپکي وسلې د پاره روزنې دلودلی چې حتی په ولاړه ترې انداخت کېدای شو

د کلا په د ننیو تعمیرونو کې په پارکونو سربېره د لوړ رتبه افسرانو د پاره هستوګنځي. دفترونه. تحویلخانې او دیپوګان هم موجود وو

د کلا د باندې محوطې په شمالي برخه کې زراعتي سیمه او په نورو درو ساحو کې میوه لرونکی ونې او بوتان وو

[1] (بالاحصار کابل و پیش آمدهای تاریخي آن. ج۲- مؤلف کهزاد. طبع (۱۴۲۰ص۳۸۰ – ۳۸۱)

۳- بلخ

(ام البلاد يا د لوړو پيرغونو ښار)

لرغونی بلخ (بخدي) زموږ د هېواد په پنځه زره کلن (حتی تر دې هم د مخه) تاريخ کې ډېر لوړ او منلی مقام لري او په ګردو تاريخي مدارکو او شواهدو کې پرته له کوم ګومان او شك څخه په ممتازو او پرتمينو نومونو او القابو ياد شوی دی.

اريايان چې د خپل تمدن په لومړنی پړاو کې دی ځای ته رارسيدلي وو، د دوئ نورو ډلو او څانګو چې زياتره ښاري هستوګن او زراعت پيشه وو. هم په بخدي کې خپل بيرغونه پورته کړی وو.

دلته په دې ټکی يو څه تامل په کار دی تر څو چې د بلخ په ماهيت او اهميت او اساسي معرفت وپوهيدلای شو هخامنشيانو چې د اريايي تاريخي شهنشاهي لومړنی بنسټ يې په (پارسارګاد) کې اېښودلی او دا ښار يې په خپلو کتيبو کې په (باختريش) ياد کړی دی. او بيا وروسته مقدوني سکندر او يونانيانو هغه د بکتر او بکترا په نوم زيات مشهور کړ. که چېرته تر دوی د مخه او حتی د ويدې او اوستايي دورونه په پخوا زمانو کې دا ښار بهليکا، بلهيکا او بخدي په نومونه ياد شوی او که په ايراني منځنيو ژبو چې يوه پهلوي او بله يې د فراموشۍ د پيرپو په نوم (بلخي) ښودل شوی ده د (باخل) يا (بخل) او بهل په شکل راغلی او د بلخ د دغو کلمو اړول شوی شکل دی چې دوه زره کاله د مخه د هغه او سيدونکو دغسې تلفظ کاوه چې بلخ ته د بخل نه اړونه دا نظريه ثابتوي. [1]

---

[1] کهزاد. افغانستان در پرتو تاريخ، ص ۱۴۸

ټول مؤرخين او محققين په دې هم عقيده دي چې بلخ يا بخدي د ټول هغو نومونو نتيجوي او ثيقل شوی نوم دی چې په بيلابيلو مؤخذونو کې په بيلابيلو شکلونو يې يادونه شوی ده خو د دې ټکي صراحت ضروري بريښي چې د بلخ او باختر نومونه تر دې سرودونو څخه د مخه په کوم سند کې نه دی ياد شوی. او د هغه يادونه په بلهيکا شوی تر څو چې له دې کلمې څخه بلخ اشتقاق شو.

اګرچه دا خبره منلی شوی ده چې بلخ او باختر د هندي، يورپی آريايانو مرکز وو او بيا له دې ځايه دا خلق، هند، ايران او يورپی ملکو ته تللی دی، ولې د دې با وجود د بلخ يا باختر ذکر په (رګ ويد) کې نشته، د دې خبې وجه څرګنده ده، يعنې دا چې اريايي قبايل د بلخ او بآختر په علاقه کې په ډېره پخوانۍ زمانه کې هستوګن وو. او د ريګ ويدا سرودونه د مهاجرت په زمانه کې په مختلفو وختونو او مختلفو ځايونو کې ويلی شوی دی. يعني د ويدا موجود سرودونه د زمانې له مخې د مهاجرت د وختو سره او د مکان له مخې د هندوکش د جنوبي علاقو او د پنجاب مځکو ته منسوب دی، نو ځکه د بلخ او باختر د ذکر نه خالي دي. سره د دې هم په (اتهر ويدا - **Atheruida**) کې بلخ د بهليکا - **Behlika** په نامه ذکر دی. دغه نوم په مهاجرت او د سنسګريت په کلاسيکي ادب کې هم ذکر دی. او ځينې اريايي قبيلې چې د باختر نه لېږديدلی او په اباسين پورې شوی او د پنجاب په مځکو کې ميشته شوی دی هغه د بهليکا په نوم مشهور دی، چې د دې کلمې ريښه (بهلي) او (باهلي) ده او د دې لفظ (هـ ل) چې په (خ د) تبديل يې يو (بخدي) يا (باخدي) به ترينه جوړ شي او دا هغه نامه ده چې په اوستا کې د بلخ د پاره ذکر شوی ده.[1]

د اريا او آريانا د کلمې په باب چې د مخه يې ذکر راغی داسې نظريه موجوده ده:

د ټولو پخوانيو منابعو په شهادت (بخدي) د نورو ټولو مدققينو په تعبير د هغو هندو اروپايي ځانګې د هستوګنې او مدنيت کانون ؤ چې په آريانا او هندو پارس کې خپره شوی ده. او د آريانا نوم يوازې هغه وخت رامنځ ته شو چې دا ځانګه په باختر کې هستوګنه شوه.

يعنې په بل عبارت د آريانا په (باختری کتلی) پورې منحصره ده چې په دې کې آريانا که د لفظي معنا څخه يې تير شو د آريا مسکن هم جوړ شوی دی.

د ويدې او اوستايي مدنيتونو له هغو څخه د (آريا) او (ايريا) شکلونه رامنځ ته کړل او دا دواړه نومونه هند او فارس ته د مهاجرينو سره يو ځای لاړل.[2]

لکه چې د مخه ورته اشاره وشوه بلخ د يو شمېر مؤرخينو او مدققينو له خوا په مختلفو شکلونو ياد شوی دی. چې دا دی دلته د هغه د تاريخي قدامت او تاريخي شکلونو په باب خبرې کيږي او په جغرافای تاريخي افغانستان کې په دې هکله مفصل معلومات وړاندې شوی دی.

---

[1] ظفر کاکاخيل، پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ۷۷ مخ

[2] تاريخ افغانستان، ج اول، ۵ مخ

وايي چې په شرقي ناحيت کې يو ښار دی چې هغه ته بلخ وايي او دا د دنيا دوهم ښار دی او تر ده د مخه په دنيا کې بل ښار موجود نه ؤ مګر هغه لومړنی ښار چې حضرت آدم (ع) بنا کړ (په اندليب کې ؤ) او د هند په خاوره کې ؤ او د (اوق) ښار ورته وايي

د بلخ ښار د قابيل له خوا شوی څوك چې د هابيل وژونکي ؤ (د فضايل بلخ د ۵ مخ په حواله)

بلخ په اوستا کې د (ونديو دات) په دوو برخو کې د (باختي - Bakhtri) او له ده نه د مخه باختري (Bacthire) له نوم څخه رامنځ ته شوی دی او هغه خاوره ده چې د اريانانو لومړنی مذهبي پيشوا زردشت (سپينتمان) د خپل آهورايي آئين په تبليغ ترويج دلته پيل وکړ[1]

د احمد علي کهزاد له قوله په اوستا کې چې د سپينتمان مذهبي کتاب دی له ۱۶ هيوادونو څخه ځلورم مملکت يې بخدي ؤ چې د (بخديم سريرام) (ښکلی بلخ) په صفت ياديده او د اوستا پيژندونکو له قوله د دې نوم عنصري توری (ب-ا-خ-د-ی) او د جيکسن (Jachson) په قول د اوستا په پهلوي نسخه کې (اتمه ميلادي پيړۍ) ليکنه چې له سمرقند څخه کشف شوی دا نوم (بخل باميك) چې په ادب کې (بلخ باميك) پاتې دی د مرحوم پوهاند حبيبي له قوله دا د انساني لرغوني مدنيت مرکز د پخوانيو آريانا او ځلورم ديني کتاب چې (وا ويدا) نوميږي د ۱۴۰۰ق-م د (بلهيکه) په نوم د هند د حماسي داستان مطابق مهابهارت د ۱۲۰۰ق-م (بهليکه) ؤ او کله چې (پاني نې) (مشهور ګرامر ليکونکی عالم) د اټك په غاړه خپلې اته ويناوې په ۳۵۰ق-م کې ليکلې د ځلورو فرهنګي ولايتونو له جملې څخه د بلهيکه. ګندهاره، کهپيشه او کمبودچه خاوره ده چې روهيتا ګيري يعنې د روه غرنۍ سيمه (هندوکش) هغه له کهيشه جلا کوي. (آريانا ګڼه ۲۸۶ مخ ۱) په حواله په چينايي منابعو کې هم په څو مواردو کې له بلخ څخه يادونه شوې ده.

ريموزات (Ta-hig) مملکت چې جنرال چانك کين په ۱۲۹ق-م کې هلته رسيدلی و همدا باختر ګڼي.

هيوان تسانګ د لويديزو هيوادونو په بيانوتو کې (FO-HOLO) مملکت هم يادوي چې له شماله د (Fo-Tsu) (اکس-امو) سره پيوسته دی او همدا بلخ دی.

او سنت مارس (FO-HOLO) ته بلخ وايي چې (فوقبلايو) هم تلفظ کيږي په (يوان شي) کې څو ځله له بلخه يادونه شوې ده.

(يانګ شي) وايي چې (Ban-Le-Ho) د لويديزې آسيا يو لوی ښار دی کله چې چانګ د سمرقند له لارې هندوکش ته د (Ban-li) له ښاره تير شو چې دا (بان-لي) د همدې ښار څخه عبارت دی.[2]

د حدود العالم نوم ورکې مؤلف د بلخ په باب مفصلي څرګندونې لري او وايي چې بلخ يو ستر او

[1] جغرافياي تاريخي خلافت شرقي. ۴۲۸ مخ

[2] آريانا مجله ګڼه ۳۱۹ مخ ۶ په حواله،

سمسوره ښار دی او د پاچاهانو هستوګنځي و. په پخوانیو زمانو کې په بلخ کې د پاچاهانو ودانۍ وې. چې ښکلي نقشونه او عجیبه شهکارۍ یې درلودلی او وران شوی دی. هغه ته نوبهار وایي او د سوداګرانو ځای دی او یو لوی رود لري چې پوره ګټه ورځنی اخیستل کیږي. په دې سیمه کې ترنج. نارنج. ګنې او نیلوفر زرغونیږي. بلخ یو شارستان لري چې محکمې باري لري او د ده د الفیل په منځ کې ډېر بازارونه دي (۹۹ مخ په حواله)

د کابل مجلې د ۱۳۱۰ کال په ګڼه کې د بلخ په باب تقریباً داسې تاییدې یادونې شته دی بلخ د یوې جلګې په منځ کې له غره څخه څلور فرسخه لیرې موقعیت لري د باکتروس او (بلخاب-بلخ آب) مخرج (سرچینې) ته نژدې ډېره حاصلناکه سیمه او د هندوستان سره د تجارت مرکز ؤ.

د هند سره د بلخ ارتباط غالباً د خلم د جلګې له لارې قایم ؤ د بلخ له اطراف څخه اوږدې باری راتاوي شوي وې چې یعقوبي یې اوږدوالی ۱۲ فرسخه ښودلی دی او د عربو د استیلا په وخت کې یې وجود نه درلود[1]

په تاریخي اسنادو کې د بلخ لقبونه

د تاریخي مدارکو له مخې بلخ ته یو شمېر توصیفي لقبونه ورکړ شوی دی چې د هغه پرتم او د بډ به عروج. ښکلا او تاریخي لوړ مقام په ډاګه کوي

لکه د بیلابیلو ممالکو او مسالکو په کتابونو کې بلخ ګزین. بلخ الحسنا. بلخ البهیه. ام البلاد. پرتمین بلخ د ښارونو مور او داسې نور

همدا شان د غوره بلخ. بلخ بامي بلخ بامیك (چې د بامیك کلمه په پهلوي ادبیاتو کې استعمال شوی او د درخشان. پر نور. مشعشع او وړانګیز معنا ورکوي

د بلخ د غوره ښار له صفتونو څخه یو صفت (شاواران) دی چې دا کلمه د ترجمې له مخې لایق شاه یا سزاوار شاه یعنې د پاچاهي لایق په معنا ژباړل کیږي خو اصلي معنا یې یو بل څه ده چې هغه باید د شاهي کوچنی ښار یا شهر کوچك شاهي یا (پاچاهي ښارګوټی) ترجمه کیږي

یوناني باختري لوی پاچا ایوتیدس (اوتیدم) د عصر جغرافیه لیکونکي (استرابون) د بلخ په باب وایي

بلخ د آریانا د مرواریدو صفت او د هزار قلعه اصطلاح په دې عصر کې منځ ته راغلی ده. په همدې شان بلخ د تاریخ په زیاتو اسنادو کې د (ام البلاد)، (د ښارونو مور) یعنې د آریانا خراسان او د افغانستان لومړی ټاټوبي او د غزني غوندې (عروس البلاد) د ښارونو د ناوې د ښکلو او لوړو بیرغونو د ښار په نوم

---

[1] کابل مجله ګڼه. ۱۳۱ کال. مخ ۳۵.

ياد شوی دی. ۱

مسلسل د ابو ذر غفاري (رض)، د حضرت محمد (ص) څخه روايت کوي:

وايي: د وده ښارونه دي چې جبرائيل امين يې په خپلو مبارکو وزرونو باندې د هغو د اوسېدونکو سره لکه د ناوې د ډولۍ غونډې په ډېر ناز او آرامۍ سره بيت المقدس ته وړي هغه ورځ چې تبديل الارض غير الارض وي دوی د قيامت د ورځې وېرې او زارې څخه خلاصون ولري او دا ښارونه نيکانو ته وبخښل شي. دا دواړه ښارونه يو په مشرق کې دي بل په مغرب کې هغه چې په مغرب کې طرابليس دي او هغه چې په مشرق کې دي د بلخ ښار دي. (ص۱۳-۱۴)

همدغه ليکوال د حضرت علي (رض) له قوله ليکي:

يو سړي د ده حضور ته راغی، پوښتنه يې ترې وکړه له کومه راغلی، ويې ويل له خراسان څخه بيا يې ترې وپوښتل د خراسان له کوم ښار څخه، ځواب يې ورکړ دبلخ له ښاره حضرت المؤمنين دعا وکړه د هغه ښار اوبه او واښه دې خواږه او تازه وي او دا ځکه چې د علم او عالمانو څخه داسې ډک دي لکه انار د هغو په دانو. (ص۱۴ فضايل بلخ) ۲

جغرافياي تاريخي افغانستان د بلخ د ښار په ستاينه او د لوړ تاريخي مقام په باب وايي:

د کوفي ځينو عالمانو بلخ ته (مرجيا باد) وايه او دا په دې سبب چې ابو حنيفه (رح) ورته (مرجي) وايه. چې عالمانه او فاضلانو هم بلخ ته دار الفقا هم وايه ابو القاسم سمرقندي د بلخ په تاريخ کې راوړی دی چې بلخ په اول کې د (برخ) يعنې (برخه) په ځای ؤ چې نصيب ورته وايي او په بامي منسوب ؤ چې د بام يا لوړ مکان په معنا دي. يعنې د بلخ مملکت او پاچاهي د ډېرو لوړو مملکتونو څخه دی. (واعظ بلخي او فضايل بلخ د ۲۸ مخ او ۲۸ مخ په حواله. ۳

د بخدي کلا (ښار) د وارا مانۍ (ارګ)

وارا د ارګ، حصار، بالاحصار، حصن، او جګې کلا په مفهوم افاده شوی دی. وارا چې د اريانا لومړنی پناه ګاه او پايتخت د بخدي د کلا او ښار مفهوم د دوئ د پيژندنې له مخې ځرګندوي چې دا محل ارګ هم دي، احمد علي کهزاد د دې کلا د ښېښت اينبودلو او آبادولو په باره کې وايي:

په آريايي پخوانی تاريخ کې په عام مفهوم او د آريايي کتلی (هندو ايراني) د مهاجرت او ميشته کېدو په تاريخ کې په خاص مفهوم او د افغانستان د تاريخ نه د مخه تاريخ کې په اخص الاخصه معنا ډېره مهه ده، د غوړ او ځيرنې يوه وړه موضوع د ارګ (وارا) د ودانی څخه عبارت ده.

۱ افغانستان در پرتو تاريخ، کهزاد، ۱۴۸ – ۱۴۹ مخونه
۲ غبار، جغرافياي تاريخي افغانستان، مخ ۲۲۹ – ۲۳۰
۳ پورتني اثر، ۲۲۸ مخ

وارا چې دلته يې په ارګ سره ژباړلی ده په نورو تعبيرونو باندې هم معنا او ترجمه شوی ده لکه چې د مخه ورته اشاره هم وشوه وارا: پـه مانۍ، کلا، حصار، کلي، ښار، هستوګنځي او مقر ترجمه کيدای شي.[1]

د وارا تاريخچه

وارا لومړنی ارګ او لومړنی مقر دی چې (ياما) اريايي لومړنی پاچا د هندو آريايي کتلې لومړنی پاچا چې د بلخي پيشدادیانو د کورنۍ د لومړنی پاچاهی مؤسس شو او په خپل ژوند کې يې د هغې په ودانولو او جوړولو کې خاصه پاملرنه ولرله.

ياما لازمه وګڼله چې د ژمي د سختو او نامساعدو شرايطو لـه امله د ځان او نورو ور سره آريايانو د پاړه يوه سرپناه جوړه کړي نو يې د وارا د محوطې په جوړولو پيل وکړ چې پراخه ساحه يې درلودله او د هغې هربازو داس د يوې ځغاستې سره برابر ؤ.[2]

احمد علي کهزاد د بخدي کلا او د وارا د مشخصاتو او څرنګوالی په باب وايي

د اوستا په شهادت هغه وخت چې ياما پاچا سلطنت ته ورسېد د (اهورا مزدا) د امر له کبله يې د يوې پناه ګاه په جوړولو لاس پوري کړ چې وارا نوميدله، د وارا نه مقصد لکه چې د مخه ورته اشاره وشوه پاچاهي کلا يا پاچاهي ارګ چې د پاراداتا د کورنۍ مؤسس ياما د بلخي پيشدادیانو د سلطنتي کورنۍ د سلسلې مشر (جمشيد) د هغې د بنسټ تيږه په خپل لاس کيښودله.

د اوستا دوهم فرګاد (ونديدا) تر يوې اندازې پورې د وارا مانۍ د جزئياتو څخه بحث کوي او له هغه نه د مخه تر پوره اندازې پورې د مانۍ او د هغې د شاوخوا احاطې په باب نظريه قايميدلای شي. او هر کله چې همدغې احاطه کرار کرار پراختيا وموندله، د بخدي ښار ورځنی جوړ شو.

په هره اندازه چې د وارا د مانۍ په هکله معلومات تر لاسه شي د ډېر اهميت وړ دی د ونديدا دوهم فرګاد د مطالبو روح له ۳۱ فقرې څخه تر ۴۲ فقرې پورې په لاندې ډول ښودل کيدای شي.

(.....) اهورا مزدا يما ته وويل د ويوانګت زويه! په يوه پونده (پاشنه) مځکه ووهمه او د کولال په شان خټه په لاسونو لمده او هواره کړه.

يما د (اهورا مزدا) د لارښوونې سره سم مځکه په پونده ووهله او لکه چې اوس يې کولالان کوي خټه يې په لاسونو باندې لمده او هواره کړه او له هغې څخه يې يوه داسې وارا جوړه کړه چې هره ضلع او بازو يې د اس د يو ځل ځغاستې په اندازه اوږدوالی درلود په دغه ځای کې يې د اوبو، وياله و ايستله او په غاړو کې يې ورته چمنونه او سمسور ځايونه او شنې جلګې جوړې کړې چې تل به ترو تازه وې او واښه

[1] پښتو اريانا دايره المعارف، ج۲، طبع ۱۳۳۲، ۸۳ مخ

[2] افغانستان در پرتو تاريخ، ص ۱۸

يې نه تماميدل. دلته يې کورونه او تعميرونه آباد کړل او د دغه ځای له ودانيو څخه يې يوې ودانۍ برنډې، داخلي او بهرني کوټې او رواقونه درلودل او د ميدان په پاسنۍ برخه کې يې درې خيابانونه هم جوړ کړل

د پاسنۍ برخې په خيابانونو کې يې ۶۰۰ تنو ته او د ښکتنۍ برخې په خيابانونو کې يې ۳۰۰ تنو ته ځايونه ورکړل

د وارا د تعميرونو د جوړېدنې وروسته يې په خپل طلايي لور (د اس د زين) يوه دروازه او کړکۍ وايسته چې رڼا په کې پيدا شي او بيا يې داسې ښځې د قد و قامت په لحاظ لوړ شکلي او په ښايسته والي کې بې مثاله وې دغه شان ډېر ښه جنس د مرغانو، حيواناتو، نباتاتو او د داسې ميوو نه يې چې په ښکليتوب، ښايسته والي، خوند او لذت او په خوشبويي کې يې په نړۍ کې مثال نه درلود د وارا په ماڼۍ او د هغې د شاوخوا په احاطه کې يې ځای ورکړ او د مرغانو د پاره يې د سيند د مجرا او د هغه د چمنونو په اوږدو کې ځای وټاکه

د ماڼۍ او د هغې په احاطه کې يې ټولو اوسيدونکو انسانانو او حيواناتو او نباتاتو په پوره محبت، سلامتي او په ډېره خوشالۍ سره ژوند کاوه، د دغې ماڼۍ د اوسيدونکو په منځ کې ناروغ عيبجن، کمزوري، کم طاقته، تنګ، متقلب، کينه ناک او دروغجن نه ليده کيده [۱]

د دې ماڼۍ او د بخدي ښار د ځرنګوالي په باب او ستا دغه ښار بخدي سريرام د پهلوي فارسي په ادبياتو کې بخل باميك چې بامي د روښان په معنا دی او د زند له کلمې څخه مشتق شوی دی، بللی دی

مسعودي ورته بلخ الحسنا او دقيقي بلخي د بلخ ستر شاعر يمين همدغه مطلبونه د غوره بلخ په صورت ادا کړي دي

وارا چې د سرپناه معنا لري په کرار کرار سره د کور، ماڼۍ، او معبد په مواردو کې هم استعمال شوې ده

وارا له اوستايي دوران څخه وروسته له منځه لاړه نه شوه او د هيوان تسنګ له خوا د پخوانۍ او نوو ويهاره يادونه الزاموي چې پخوانۍ ويهارا هم په بلخ کې ودانه او اباده وه

د اسلامي دورې نامتو مؤرخينو او شاعرانو له ويهارا څخه (بهار) او له (ناوه ويهاره) (نه بهار) جوړ کړي دي او تر اوسه پورې د بلخ د سيمې ودانۍ او خرابۍ، کلا او حصار د جنوب له خوا يوه دروازه د نوبهار د دروازې په نوم شهرت لري

ښکلی بلخ، روښانه بلخ، ورانګيز بلخ، بلخ الحسنا، غوره بلخ چې د نجيب قوم (آريا) د مدنيت او تهذيب، ژبې او ادبياتو او فرهنګ کانون ؤ د آريانا ټول افتخارات له دې ځای څخه نشئت کړی ؤ.

---

[۱] د افغانستان پخوانی تاريخ، ج ۱، ۲۷۰ ـ ۲۷۱ مخونه

سياسي او اداري مرکز. د حکومت او مملکت داري کانون هم وګرزيد.

(... آريانا هورينو) يا اريايي فرشاهي هم له دې ځايه ميدان ته راووت او د لومړي ځل د پاره لوی ياما (پيشدادي جمشيد) د خپل سلطنت او پاچاهي د خپل نجيب قوم د سيادت بيرغ د وارا د مانۍ د پاسه په کتارو (د کنګرو) باندې ورپاوه او د (بخدي سريرام)، (اردو درفشام) يعني د ښکلو او لوړو بيرغونو خاوند وګرزيد.

د اردو درفشام لغت يعنې د لوړو بيرغونو درلودونکي او ستا په توله اريانا نشينو مځکو کې بخدي ته ورکړ.[1]

د آريانا دايره المعارف د ليکنې له مخې هغه خرابې چې د بلخ د شاوخوا په څو کيلومترۍ کې ليدلې کيږي، د دغه ځای برم او تاريخي عظمت په منظرونو کې مجسم کوي چې د هغه د پاتې شوونو. بقاياوو او آثارو څخه يې د بلخ بالاحصار. د بالاحصار مدخل برج عياران، يو پنډ او لوی ديوال. لوی لوی منارونه او يوه د خاورو غټه غونډۍ ده.

د بلخ (بخدي ښار)

مؤرخينو او محققانو د بلخ د ښار او د هغه ساختماني او تعميراتي څرنګوالي په باب زياتې څرګندونې لري چې د هغو له رويه د بلخ تاريخي قدامت او عظمت ښه په ګوته کيداى شي.

يعقوبي په دريمه هجري پيړۍ کې د بلخ د ښار او د هغه د ودانيو په هکله داسې ليکي.

بلخ د خراسان يو لوی ښار دی په پخوانيو زمانو کې يې (۳) بارې (پاخه ديوالونه او ۱۳ دروازې درلودلې

مقدسي وايي

په ايراني کتابونو کې بلخ ته له برمه ډک بلخ. پرتمين بلخ ويل شوی. د نوبهار ربض د ښار څخه د باندې دی.

د ښار مساحت درې ميله په درې ميله کې دی.

د يعقوبي د وينا له مخې بلخ څلويښت جوماتونه درلودل.

اصطخري وايي. د بلخ ښار په يوه جلګه کې واقع دی او د (چهل کوه) نامې غرونه ترې څلور فرسخه لېرې پراته دي.

جامع جومات د ښار په منځ کې دي او بازارونه د جومات په شاوخوا کې موقعيت لري.

بلخ يو نهر لري چې (دهاس) نوميږي چې د ابن حوقل په قول په فارسي کې د هاس ته (ده آسيا) (لس ژرندي) ويل کيږي. دا نهر وروسته له هغې چې دغه لس ژرندي وګرزوي د نوبهار له دروازې څخه تيريږي

[1] همدغه اثر ۲۷۵ - ۲۷۶ مخونه

او بيا د ښار کلي ته تر سياګرده او ترحد د لارې سرخړوبوي.

د نهر شاوخوا د بلخ نيلوفر، ګنيو او انګورو شنه شنه باغونه دي. د دې محصولات د بلخ څخه د باندې ليږل کيږي. د بلخ بازارونه معمور او له سوداګرو څخه ډك دي.

د بلخ ښار اوه دروازې لري (د يعقوبي په قول ۱۳ دروازې ښودل شوي ي) چې هغه دا دي:

- دروازه نوبهار
- دروازه ميدان (واخته)
- دروازه آهن (باب الحديد)
- دروازه يهود
- دروازه شست بند
- دروازه يحي (په بل قول بختي)

په کال ۵۵۰ هـ د غز تر کانو د استيلا په وخت کې بلخ ته زيات زيان ورسېد او بيا وروسته يې خپل رونق تر لاسه کړ. ۱

پورتنی دروازې د نومونو په لړ تفاوت سره جغرافياى تاريخي افغانستان هم تاييد کوي او زياتوي چې د بلخ ښار بار ولري او د ښار دروازې له هغه څخه بيرته کيږي. ۲

يعقوبي ليکي چې بلخ د ناحيو او ښارونو درلودونکي دي.

او عبدالرحمن بن ثمره د معاويه بن سفيان په وخت کې چې بلخ فتح کړ نو يې د هغه په باب وويل: د بلخ ښار د خراسان ډېر لوی ښار دی او د خراسان پاچا (شاه طرخان) هلته هستوګنه درلودله.

بلخ يو ښار دی چې له عظمته ډك دی او دوه باري لري، يوه باره د بلې باري شاته واقع ده. او په پخوانيو زمانو کې يې درې بارو درلودل او د هغه دولس دروازې وې ويل کيږي چې بلخ د خراسان منځ دی.

لکه چې د هغه ځايه تر فرغانې پورې ۳۰ ميله د مشرق خواته دي. او له دې ځايه تر (ري) پورې دروازې موجودې دي.

او د دوهم بارو چې د ښار د څنډو د ودانيو د پاره ده، څلور دروازې دي او له يوه بارو څخه بل بارو او بيا له هغه څخه د بارو تر منځه مسافه يو فرسخ ده، نو دا ده چې د بلخ د ښار مساحت ۳ (۳۰) منزله (دا مسافه سمه نه ده ځکه چې د کابل کندهار پورې څو منزله تفاوت شته دی) او له هغه ځايه تر کرمان پورې ۳۰ منزله او له هغه ځايه تر کشميره پورې ۳۰ منزله او له هغه ځايه تر خوارزم پورې ۳۰ منزله او له هغه

۱ لسترنج، جغرافياي تاريخي سرزمين هاي خلافت شرقي، طبع ۱۳۳۷، مخ ۴۴۷
۲ همدغه اثر، ۴۴۸ مخ

ځايه تر ملتان پورې ۳۰ منزله.

د بلخ لوی بارو د بلخ له کلیو، ابادیو او د کرنې له سیمې څخه راتاو شوی دی. لکه د مزرعو او ودانیو له دروازې څخه تر هغې دروازې پورې چې مخامخ ورته پرته ده (۱۲) فرسخه فاصله ده او د بارو د باندې کوم تعمیر، زراعتي سیمه او کلي نشته دی او یوازې ریګستان دی او د دې لوی بارو د پاره چې د بلخ د مځکې څخه راتاو شوی دی ۱۲ میله په درې میله کې دی (یعقوبي ص۶۳ -۶۴ په حواله). ۱

حافظ ابرو د بلخ د توابعو په باره کې وايي: تخارستان، سمنګان، بغلان، سرای درهنګ، طالقان، اندخو د (اندخوی)، شبورغان، فارياب، جوزګان، باميان، غزنه، بنجهير، کابل او د فراوان ترسند تر غاړو پورې بلخ شمېرل کیږي. او د هرات له طرفه لنګر ججکتو تر مرغاب د بلخ له توابعو څخه دی.

اصطخري هم د بلخ د ښیګنو په باب یادونې لري او وايي: ډېره پر تمینه ډېره آباده او ډېره پر نعمته خاوره ده. او ورپسې د بلخ د ساختماني ځرنګوالي په باب داسې معلومات وړاندې کوي.

ښار په یوه دښته کې پروت دی، له بلخه تر غره پورې څلور فرسخه مسافه ده بلخ بار ولري، ربض او مسجد ادینه د ښار په د ننه کې پروت دی او د جومات ګرد چاپیر بازار دی چې همیشه ودان دی.

ابن حوقل وايي که د بلخ ښار د هرات او (مرو) غوندې مهم او لوی ښار دی د دې ښار مساحت د هغه د چاپيريال سره يو فرسخ په يو فرسخ کې دی. دا ښار په ۵۹۰هـ (چې دا نيټه د يوه بل روايت د نيمې سره توپير لري) د غزانو په واسطه وران شو. بيا وروسته ورته خلك بېرته راستانه شول او په دښته کې يې د پخواني ښار تر څنګه له ختو څخه نوی ښار جوړ کړ. ۲

ابو الفضل بيقهي د سلطان محمود په تاريخ کې د بلخ، د ښار د نورو ودانيو تر څنګه وايي: سلطان محمود غزنوي په بلخ کې يو لوی باغ د خلکو په واسطه په بيګار جوړ کړ چې ګرد چاپير يې يو فرسنګ ؤ او هر ډول ميوې او ونې پکې ايښودل شوې دی د بلخ د لويوالي او عظمت په باب به يوازې دا بيلګه کافي وي لکه چې يعقوبي ويلي دي بلخ (۷۴ منبره درلودل). ۳

بلخ بيا هم تر اوږدې مودې پورې په خپل حال ودان او په رونق کې پاتې نه شو. په ۶۱۷هجري کې د بلخ ښکلی ښار د مغولو د وحشي لښکرو تر پښو لاندې پايمال شو او حتی د هغه د جومات په ورانولو يې هم صرفه و نه کړه.

ابن بطوطه وايي: جنګيز ته خبر ورکړ شو چې د بلخ د جومات د ستنو لاندې خزانې ښخې شوې دی دا و چې د چنګيز په حکم د جومات يو په دريمه برخه يې ورانه کړه خو کومه خزانه پکې و نه موندلای شوه.

---

۱ جغرافاي تاريخي افغانستان، مخ ۲۲۸

۲ پورتنی اثر، ۲۳۰ مخ

۳ همدغه اثر، ۲۳۴ مخ

«او دا د هماغه د مصر د سکندریې د عجایبو ډك د منار کیسه شوه چې دا حنف بن قیس له خوا د دغسې خزانې په ګومان» وران کړی شو. او هغه وخت چې ابن بطوطهٔ د اتمې پیړۍ په لومړیو کې بلخ لیدلی ؤ نو په یوې کنډوالې بدل شوی پروت ؤ. ۱

د بلخ بالاحصار

د بلخ د تاریخي پیښو او استحکامي ودانیو له جملې څخه یو هم د بلخ بالاحصار دی چې ځینې ورته د هندوانو کلا وایي. دا کلا له پخوا زمانې راهیسې یو پراخ متین او پر تمین بالاحصار ؤ چې تر اوسه یې هم د برجونو او بارو «پخو دیوالونو» آثار پاتې او شاهدان دي.

د بالاحصار مدخل ډېر لوی او د یوې مستحکمې کلا په شکل جوړ شوی دی.

د برج او بارو آثار یې تر اوسه پورې هم موجود دی. او ممکنه ده چې د هغو کلاګانو له جملې نه به وي کومه چې مقدوني سکندر دلته جوړې کړې وې. یو وخت فرانسوي لرغون پېژندونکي هیئتونو لکه مؤسیو فوشه او موسیو هاګن په واسطه په دغه بالاحصار کې د ننه کنیدنې وشولې خو د کیندنو آثار او یو زیات شمېر استوپې دلته ځرګندې ښکاري.

د بلخ د عیارانو برج

د بلخ یو بل تاریخي ساحمان هغه ښکلی او قدیمه مثمن شکله ساختمان دی چې د «برج عیاران» په نامه بلل کیږي.

دا برج د بلخ د مرکز د جنوب لویدیز د یو نیم نیم متری په فاصله د برج عیاران په کلي کې واقع دی. دغه برج ډېر پخوا جوړ شوی دی. او اوس یې هم د هغه پاملرنې په اثر چې د ترمیمولو په برخه کې شته. هماغه خپله پخوانۍ ښکلا او برم یې ساتلی دی.

د بلخ دیوال «حصار»

د بلخ د لرغونو بنیو او پخوانیو آثارو په جمله کې یو هم ډېر ضخیم او ډېر لوی دیوال دی چې د ازبك عبدالمؤمن خان. د عبدالله خان د زوی په عصر کې د ښار ګرد چاپیر راتاو شوی دی.

دغه دیوال چې د بلخ په جنوب کې واقع دی یوه برخه یې د برج عیاران سره نښتلی ده دا ډېر ټینګ او پوخ دیوال دی او تر اوسه پورې په هماغه ضخامت پاتې دی.

خو ځینې برخې یې د نورو سرکونو د ایستلو په وخت کې ورانې شوی دی ۲

---

۱ جغرافیای تاریخي سرزمین خلافت شرقي. ص ۲۲۸

۲ پښتو اریانا دایره المعارف. ج ۲. طبع ۱۳۵۴. مخ ۲۵۸

د بلخ خاورینه غونډۍ

د بلخ یوه بله تاریخي ابنیه هغه ډېره غټه یوه خاورینه غونډۍ ده، چې د برج عیاران جنوب غرب کې پرته ده او د (توپ رستم) په نوم بلل کیږي. د دې غونډۍ پر سر د ودانۍ آثار او یوه مربع شکله صُفه څرګنده ده او له دې څخه معلومیږي چې پخوا د دې تپې پر سر باندې یو تعمیر ؤ او آبادي پکې موجوده وه.

د بلخ منارونه

د بلخ له لرغونو ابنیو څخه هغه لوی منارونه هم دي چې د زردشت د زماني پورې تعلق لري دغه منارونه د خښتو او ختو څخه جوړ شوي دي. ١



٢ یورتنی اثر ۴۵۸ مخ

همدا شان حدود العالم. کابل مجله. ۵ ګڼه. ۱۳۱۰. ۳۴ مخ. کابل او آریانا مجلې کلکسیونونه



٤- هرات

(د مرغلرو ښار)

هرات چې په تاريخي اسنادو کې د شهر مرواريد (د ملغلرو ښار) او د خراسان د ښارونو د مور لقب ورکړ شوی دی زموږ د هېواد د لرغونو، مهمو، تاريخي، فرهنګي، مدني، پوځي او ستراتيژيکي ښارونو څخه يو نامتو ښار دی. او بې ځايه به نه وي چې د علم، ثقافت او د تجارتي ستر مرکز په نوم هم ياد شي.

د هرات ډېر لرغوني ښار د بطليموس په قول (آريه) دي چې د آريانا د اوو ګونو ولايتونو له جملې څخه شمېرل کيږي.

په قطعي دليل (هريو) د (هر) په (زير) او د (واو) په زور هرات دی د محشتمې برهان هراه (هراة) چې د هرې او هريو سره معادل دي په اوستا کې (هريوا) ضبط دی.[١]

د لرغوني هرات څلور خواوې په دې ډول دی:

- شمال: د مرګيانو او مرو ولايت په صفحاتو پورې.
- جنوباً د درنګيانا (سيستان او فراه ولايت په صفحاتو پورې.

[١] (جغرافيې تاريخي سر زمينهاي خلافت شرقي، ۴۱۴ مخ)

- شرقاً: د غور او غرج (غور او هزاره جات) صفحاتو پورې.
- غرباً: د پارتيا (د اوسنی خراسان يوه برخه) د صفحاتو پورې تړلی ؤ.[1]

هرات په تاريخي اسنادو کې:

هرات په تاريخي مدارکو او اسنادو کې په بيلابيلو نومونو او مفاهيمو ياد شوی دی.

هريوا (Haraya) يوه نامه ده چې په اوستا کې د هريرود په لويديز کې د سرسبزي خطې د پاره استعمال شوي دي.

په دې کلمه کې د پخواني اريانا د لفظ رېښه موجوده ده. په ځينو نومونو کې چې اوس د زمانې په تيريدو سره د (هري) (اري) او (اريا) نه هرات شوی دی [2] چې په عين مفهوم سره ښاغلي کهزاد په تاريخ افغانستان ج. ا. ۴۱ مخ کې داې ليکلي دي:

هريوا يو نوم دی چې اوستا د هريرود د ناوې سمسوري سيمې ته ورکړي دي.

د هرې، اري، اريا او د هرات نوم ترې اشتقاق شوی دی.

د هرات نوم په دې شکل د لومړي ځل د پاره د زردشت په فهرست ونديداد (Vendidad) کې ياد شوي دي.

زردشت په خپل مذهبي کتاب اوستا کې د هرويو يا هرايوه په شکل ياد کړي دي.

د کوروش په نقشه کې (۵۴۶ق.م- ۵۳۹ ق. م) هرای و. اريا او هريرود ذکر کړي دي.

د هخامنشيانو په نقشيه کې د هرات په شکل راغلي دي.

د نقش رستم په کتيبه کې، د تخت جمشيد په کتيبه هم د هرات په شکل ترې يادونې شوي دي [3]

د اشپيگل د (۲۴۹مخ، په استناد هرات ته په پهلوي کې (هره) او (هريك، ويل کېده مارکوارت وايي چې د پخواني ايران له ښارونو څخه دي خو ياقوت حموي څرگندوي چې هرات د لويو ښارونو څخه دي او د خراسان د ښارونو مور بلل کيږي.

د هرات د ښارونو د جوړيدنې په باب زيات روايتونه شته دي چې د ليکنې د لنډيز په مقصد ترې صرف نظر کيږي. [4]

د هرات ښار د تاريخ په بيلابيلو مرحلو کې په يو شمېر نورو نومو لکه (اريامتروپوتس) هرات، هريوا، ارتاکوانا (ارتاکون، ارتاکانا، ارتاکان، شاهي ښار، اريانه، هري او داسې نورو باندې هم پوره

---

[1] (آريانا مجله گڼه ۶، ۱۳۱۰کال. مخ ۴۶)
[2] پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ظفر کاکخيل. ۷۹ مخ.
[3] کابل مجله ۱۳۱۶ش، ۵۹ مخ
[4] آريانا مجله، ۱۳۶۲ کال

شهرت درلودلي دي. (جغرافیاي تاریخي سرزمین هاي خلافت شرقي په حواله).

د هرات د ښار مؤسس معلوم نه دي. اما تاریخي قدامت يې ډېرو پېړيو ته رسيږي. تاریخ ښيي چې د اریایي قومونو چې د سیحون او جیحون نه اریانا ته هجرت وکړ، لومړي يې په هرات کې هستوګنه غوره کړ.[1]

د هرات لرغوني ښار چې په پخوانیو زمانو کې تقریباً پراخه ساحه رانیوله، پخه کلا ارګ او پاخه برجونه لري چې په نړۍ کې بې ساري دي.

په اسلامي دوره او په لسمه میلادي پیړۍ کې هرات د مقدسي او ابن وقل په قول یو لوی ښار ؤ چې لوی دیوالونه (حصارونه) برجونه، کهندز، ارګ او نورې ودانۍ يې درلودلي.

د هرات د ښار دروازې

د هرات د ښار او کهندز دروازې په مختلفو روایاتو بیلابیلې ښودلي شوي دي.

د تحفة الاشراف مؤلف وایي. د هرات شهر بند په پنځو دروازو دوو فصیلونو (د دوو بارو ترمنځه فاصله) چې د هر فصیل ترمنځه مسافه له ګزه، (۱۴۹) برجونه شامل دي چې ګرد چاپیر يې ۷۳۰۰ ګامه کیږي. د ښار قطر د ملك له دروازې څخه تر فیروز آباد دروزې پورې، د خوش له دروازې نه د عراق تر دروازې پورې ۱۹۰۰ په ۱۹۰۰ ګامه دي.

شهر بند خندق لري چې ۲۰ ګزه عرض لري

ابن حوقل د هرات د ښار دروازې څلور بولي:

۱- د سرای دروازه په شمال کې د بلخ په طرف چې د ماښی په دروازه مشهوره ده.

۲- د زیاد دروازه په غرب کې د نیشاپور په طرف.

۳- د فیروز آباد دروازه په جنوب کې د سیستان په لور

۴- د خشك دروازه په شرق کې د غور په لور

دا ټولې دروازې پرته د سرای له دروازې څخه چې له اوسپنې څخه جوړه شوې ده نورې درې واړه دروازې د لرګي څخه جوړې شوی دی. او بیا دا هره دروازه ځانته حلا بازار لري ۲

د ښار په د ننه کې حوض دي چې د جاري اوبو درلودونکي دي.

پخپله د هرات کلا هم څلور دروازې لري چې د ښار دروازو ته مخامخ پرتې دي او د هغو په نوم یادیږي (د صورت الارض د ۱۷۲ مخ په حواله اریانا مجله)

مقدسي او لسترنج هم د هرات د دروازې شمېر څلور تاییدوي.

---

[1] کابل مجله ۱۳۱۰، ۴۳ مخ

[2] جغرافیاي تاریخي سرزمین هاي خلافت شرقي، ترجمه محمود عرفاني، ۱۲۳۷، ص ۴۱۴

خو د ترکي (جهان نما) کتاب ليکوال چې په ۱۰۱۰ هـ کې يې ژوند کاوه وايي چې دغه وخت د هرات ښار پنځه دروازې لرلې چې په لاندې ډول يې معرفي کړي دي

- شمالي دروازه چې د ملك د دروازې په نوم شهرت لري.

- غربي دروازه چې د عراق د دروازې په نوم يادېږي.

- جنوبي دروازه. چې د فيروز آباد د دروازې په نوم يادېږي

- شرقي دروازه، چې د خوش د دروازې په نوم يادشوې او دا خوش چې خشك ورته هم ويل شوي او ممکن د کوشك دروازه هم وي.

- پنځمه دروازه چې دا هم د کلا په شمالي بازو کې او نوي آباده شوې ده د قيچاق د دروازې په نوم يادېږي.

په جهان نما کې د هرات د لسو ملکونو (کليو) نومونه هم اخيستل شوي خو محلونه يې معلوم نه ده.[۱]

د قيچاق تر دوو دروازو پورې چې تر چارسو پورې دي بازار نه لري.

د ملك بازار د حصار له بيخه تر چارسو پورې له پخو خښتو څخه جوړ شوي دي او څو تيمونه لري چې هر يو يې د بل بازار سره موازي دي. او د دروازو په بهرنيو برخو کې هم د ښار تر سواد پورې بازار دي[۲]

حافظ ابرو د خراسان د ربع د برخې په جغرافيا کې له هراته داسې يادونه کوي او وايي:

هرات پنځه دروازې لري

د ښار د ديوال په شمالي برخه کې دوې دروازې شته دي چې په دې دروازو کې د خلکو ګڼه ګوڼه زياته ده او هغو دواړو ته د ميدان دروازه او د رامان دروازه او ملك دروازه هم وايي لسترنج هم پورتني قول تاييدوي[۳]

نوموړي وايي.

چې د اختيار الدين کلا هم دوې دروازې لري

يوه يې شمالي دروازه چې هلته د اسانو بازار دي

بله يې د جنوب له خوا چې د شنوز په خوا ده.

د هرات د شهر بند په د ننه کې څلور بازاره دي چې له هرې دروازې څخه څلورو خواوو ته يو بازار دي

۱ غبار. افغانستان در مسير تاريخ ص۲۱۹

۲ (روضات الجنات اسفزاري ج۱. ۷۷ - ۷۸ مخونه)

۳ آريانا مجله ۳ ګڼه ۱۰۹ - ۱۱۲ مخونه. ۱۳۵۶ کال

او د هماغې دروازې په نوم یادیږي.[1]

د هرات د ښار ودانی او رونق تر هغه وخت پورې په خپل حال باقي پاتې ؤ چې د مغولو په مصیبتونو لا نه ؤ اخته شوي او دا ځکه چې د مغولو قساوتونو او وحشتګریو هرات هم د هېواد د نورو ودانو او معمورو محلاتو غوندې د خاورو سره خاورې کړ.

یاقوت حموي چې په ۶۱۴ یعنې پر هرات د مغولو تر حملې څلور کاله وروسته چې په هرات کې اوسیدلی وایي:

په خراسان کې د ډېر لوی. ډېر مهم او ډېر ښکلي. له ډېر رونق او نفوس څخه ډك ښار پرته له هراته یې نه دي لیدلي چې زیات باغونه او پریمانه اوبه لري.

قزویني هم په همدې وخت کې د یاقوت د خبرې په تایید وایي: هغه ژرندې چې د باد په واسطه ګرزیدلې له هغوی څخه یې یادونه کړې ده. البته نوموړي تر دې وخته پورې دغه بادي ژرندې هیڅ چېرته نه دي لیدلي.

هرات د مغولو تر فتنو وروسته دوباره بیا له سره آباد شوي ؤ او حمدالله مستوفي د مغولو تر حملې وروسته یوه پیړۍ د ابن بطوطه وینا تایید کړې چې ویلي ؤ.

هرات تر نیشاپوره وروسته د خراسان د ډېرو سترو ښارونو څخه دی. د دې ښار دوه باره ۹ زره ګامه دي ډېره په زړه پورې او ښه هوا لري او په اوړي همیشه باد چلیږي او (دیه) یې اته باره دي د هغې سره نښتې ښار او ربض دي او د هریرود رودګي ترې تیریږي.

هلته یوه محکمه کلا ده چې (سمیرم) ورته وایي چې د هرات په اوه فرسخي کې پرته ده، د غره اتشکده ده چې اشك او دلته پرتې کلاته مکلچه وایي.

(جغرافیاي تاریخي خلافت شرقي. ۴۳۵ مخ)

د هرات ښار په دولسمه او دیارلسمه میلادي پیړۍ کې چې د شپږمې او اومې هجري پیړۍ سره سمون خوري پراختیا وموندله تر هغې چې ویل کیږي (د نزهت القلوب مؤلف حمدالله قزویني) د غوریانو د سلطنت په عصر کې د هرات ښار ۱۲ زره دکانونه. ۴۴۸ زره کورونه. ۳۵۰ بابه مدرسې او خانقاوې درلودلې.[2]

د قزویني له یادونې داسې معلومیږي چې تر دې وخته پورې هرات ته د مغولو تاړاکونه نه ؤ رارسیدلي.

په یوه بل روایت د تاریخي شواهدو په استناد د هرات ښار د افغانستان د پخوانیو او لرغونو

---

[1] یورتني اثر. ۱۱۲ مخ

[2] غبار. افغانستان در مسیر تاریخ. ص ۲۱۹

ښارونو څخه دي که څه هم د دې روایت له مخې د جوړېدو تاریخ یې معلوم نه دي (یعنې د اختیار الدین پر کلا برسیره او د اورتاکانا د کلا د مؤسس په شمول) مګر ویل کیږي چې دا ښار د سلطان غیاث الدین محمد سام په زمانه (۵۴۴هـ) جوړ شوي دي دا ښار لکه چې د مخه ورته اشاره وشوه د تاریخ په اوږدو کې په مختلفو نومونو لکه هرات هریوا، ارتاکوانا، ارتاکوان یا ارتاکان یعنې د اریائیانو شاهي ښار، اریانه، هري او داسې نورو باندې یاد شوي دي.[1]

د دې ښار د ښکلا او رونق په باب میلسن لیکي

زه هغه الفاظ نه شم پیدا! کولای چې د هرات لرغوني د بد به اوښکلیتوب پرې افاده کړم پرته له دې چې هرات ته هرات ووایم.

په همدې ډول نیلامایر وایي: که چېرته د هرات ښار د قاهرې د ښار سره مقایسه شي ګورو چې قاهره که څه هم د هرات د ښار د ودانیو په نسبت زیاتې ودانۍ لري مګر په ښکلا او برم کې د هرات مقام ته رسیدلای نه شي.

زما په عقیده که څه هم د غزني ښار ته د عروس البلاد لقب ورکړ شوي دي خو د برم او دبدبې او ښکلیتوب او ساختماني سبك او فورم له مخې به د هرات د ښار مقام ته و نه رسیدلای شي چې یو دلیل یې د دې ښار ډېر مناسب جغرافیوي موقعیت او ستراتیژیکي اهمیت دي.

د عبدالرحمن جامي د روایت په اساس د هرات د ښار د آبادۍ څخه تر ۱۵۰۰ کلونو زیاته موده تیریږي او په یوه وجه ویل شوي دي چې د هرات د ښار بنا د طهمورشاه بن هوشنګ ابن فرسب بن کیومرث د زماني څخه ده.

هرات د ساختماني څرنګوالي له مخې:

د هرات کهندژ او شاهي ارګ:

موږ به د هېواد لرغوني او مهم ښارونه ډېر په ندرت سره ولیدلای شو چې هغه به کهندژ او ارګونه چې په کلاسیك سبك او عنعنوي شیوه جوړ شوي وي. د خپلو ودانیو په جمله کې و نه لري چې په دې موضوع باندې همیشه خبرې شوي دي. او هرات چې زموږ د هېواد د لرغونو فرهنګي، مدني، تجارتي، پوځي او داسې نورو مرکزونو څخه یو مهم مرکز دي کوم چې د وریښمو د لارې یو مهم کاروانسرای او د شرق و غرب، شمال او جنوب په منځ کې د څلور لارې او حتی څو لارو د تلاقي په محل کې پروت دي، بې له شکه د باندنیو یرغلګرانو او فاتحانو د توجه وړ پاتې شوي دي. او خامخا د کهندژ درلودونکي دي، چې دا دي په دې مورد کې بیا هم د تاریخ او جغرافیه د پیاوړو پوهانو له نظره او قوله دا موضوع تر

[1] غبار. جغرافیاي تاریخي افغانستان، ۱۳۶۸، ص ۶۴

څېړنې او مطالعې لاندې نیول کیږي.

بطلیموس دا ښار د «اریامتروپولتس - **Ariametropoltis**» په نوم نومولی دی د هرات ښار د سکندر تر حملې د مخه د ارتا نا په نوم یادیده او همدا شان «کهن دژ» او «دژسمیران» په نوم هم یاد شوی دی «جغرافیه افغانستان ۶۴ مخ»

د حدود العالم نوم ورکي مؤلف وایي:

هری شهریست بزرگ و شهرستان وی استوار است و او را قهندزو ربض گرداگرد شهر یا پیرامون شهر.[۱]

خو په یوه اثر کې د هرات د کهندژ په باب یو څه په تفصیل سره بحث شوی او ویل شوي دي.

د هرات کلا هم د قهندز «زړې کلا» په نوم یادیږي او دا کلا هم لکه د هرات ښار څلور دروازې لري چې هر یوه دروازه یې د ښار دروازې ته مخامخ پرته ده. او د ښار د دروازو په هماغو نومونو یادیږي د هرات د ښار مساحه نیم فرسخ په نیم فرسخ کې ده

د هرات د ښار دارالاماره په یوه داسې محل کې موقعیت لري چې په «خراسان آباد» شهرت لري. د ښار د باندې په یوه سیمه کې د فشونګ د لارې پر سر چې د لویدیز په استقامت غزیدلې ده ارګ ته نژدې څلور دروازې موقعیت لري او د هرې دروازې د باندې یوه پراخه سیمه موجوده ده

د ښار په داخل کې یو بازار شته. د دغه بازار په منځ کې جامع جومات او د هغه د قبلې لورې د شاته د ښار زندان دی.

یاقوت حموي دا ښار په ۶۱۴ هـ کې په پوره برم او دبدبې کې لیدلی. وروسته د مغلو له لاسه وران شو خو بیا وروسته بېرته ودان کړی شو.[۲]

په یوه بل روایت کې د هرات د لرغوني ښار په باب داسې راغلي دي:

د هرات د پاخه عمر لرونکي ښار په یخوانیو زمانو کې د نسبتاً پراخې ساحې درلودونکی او د هغې د کلا او برجونو پوخوالي بې ساری و.

مرزا عطا محمد شکارپوري د هرات کلا په دې ډول ضبط کړې ده:

له کومه ځایه چې د هرات کلا په ټینګوالي او متانت کې ساری نه لري بلکې د سد سکندر په شان ده، چې د زیاترو یا جوج ماجوج اصلو مخالفینو د پاره په هغې لاس بری نشته مګر که د کلا په داخل کې څوک د خیانت او ټګۍ اوربل کړي. کنه په هیڅ صورت دغه کلا څوک نیولای نه شي

ویلیم جان کې لیکلي:

---

۱ د اریانا مجله ۲ ګڼه. ۱۳۶۲ مخ ۱۲۰

۲ آریانا مجله، ۲ ګڼه، ۱۳۶۲، مخ ۱۲

د هرات ښار له هرې خوا نه د يوه ابي خندق او بيروني پخو ديوالونو په واسطه د پنځو دروازو سره چې هر يوه يې په خاص تکتيك سره مدافعه کيږي ډېره مستحکمه شوې ده. ۱

جغرافياي تاريخي افغانستان د جغرافياي عمومي افغانستان، ۲۸۴ مخ په حواله ليکي. د هرات د تاريخي بناګانو په جمله کې د ارګ قلعه هم شامله وه. او له دې څخه ځرګنديږي چې پخپله د هرات ښار پخوا يوه پخه کلا (کهندژ) درلود او دې ښار داخلي او خارجي ديوالونه هم درلودل. ۲

حمدالله (مستوفي) د هرات د ښار د پوخوالي او د کلاګانو په متعلق وايي:

د هرات خلك چې په وسله مين او جګړه مار خلك دي هلته يوه محکمه کلا موجوده وه چې اشك ورته وايي او په اوس وخت کې د مکلجه په کلا مشهوره ده.

اوس چې خبره دمکلجه پخې کلاته راغله او د ځينو تاريخي روايتونو له مخې ممکن دا هماغه د هرات کهندز وي چې تر اوسه مو د هرات د پخې کلا په نوم پرې بحث وکړ.

نو د دې د پاره چې د مکلجه په نوم يې وپېژنو لاندې څېړنه ايجابوي

د هرات کهندز د ارشك (رشك) او املکچه کلا په نوم که څه هم د دې پخې کلا په هکله په يو څه تفصيل سره د نامتو مورخانو د قولونو په استناد بحث وشو خو که د رشك کلا له هغې بله کلا وي نو هغه په دې ډول معرفي کيږي.

دا امکلچه او اشکلچه د نومونو د مشابهت په استناد د (ارشك) کلاته (قلعه امان) هم ويل شوي دي. لکه چې په يوه تاريخي سند کې راغلي دي:

د ارشك کلا د اشکلچه او اشکلچو په شکلونو هم ضبط شوي ده، روسي نامتو مستشرق بار تولد په قول دا کلا د کرت د پاچاهانو په دوره کې د نه تسخيريدونکو او بر لاسي نه منونکو کلاګانو په رديف کې راغلي ده چې د ښار د جنوب غرب په څلور فرسخي کې بنا شوې ده.

چې د دې کلا دا خصوصيت لکه چې د مخه هم وويل شو شکار پورې په قول کې هم د عباراتو په يو څه بدلون تاييد شوي دي.

د روضه الصفا ليکوال د دې کلا په هکله هم داسې ځرګندونې لري:

د امان کوه کلا چې په اشکلچه هم مشهوره ده هغه د ده پلرونو او نيکونو (چې مراد ترينه ملك فخرالدين کرت دي) د هرات د لويديز مخ څوړې په طرف جوړه کړې ده. د زياتو خزانو څخه ډکه ده. (روضه الصفا ۲۹۹ مخ) دا کلا د کرت د پاچاهانو يوه نه تسخيريدونکي او ډېره مهمه پناګاه ده، لکه چې ملك فخرالدين کرت چې د هرات د انقلاب او شورش په موده کې (۷۰۶هـ) تر مرګ د وخته پورې په دې کلا

---

۱ جغرافياي تاريخي افغانستان، مخ ۶۴

۲ آريانا مجله، ګڼه ۶، ۱۳۲۳، مخ ۱۴

کې اوسیده.(۱) باید وویل چې د هرات د انقلاب او شورش څخه مطلب یو څه تحریف شوي شکل لري څکه چې دغه تاریخ د مغولو د وحشتګریو او ورانکاریو وختونو ؤ. او دغسې له جنایت ډکو عملونو ته یوازې د فتنو او تباهکاریو نوم ورکولای شونه د انقلاب. (لیکوال)

لسترنج د حمدالله قزویني په حواله د رشك (ارشك) د کلا په باب وایي.

د هرات په دوه فرسخي مسافه کې د یوه غره د پاسه یوه آتشکده ده چې هغې ته اشك وایي او اوس ورته امکلچه قلعه ویل کیږي.

د دې آتشکدې او د کنیسه نصاري د ښار تر منځه د ادبیاتو او عالمانو قبرونه د شیخ عبدالله انصاري چې په مصري پیر مشهور دي، د خواجه مهر ابوالولید او امام فخري رازي قبرونه موجود دي.

د غوري ملکانو په وخت کې دلته ۱۲ زره دکانونه آباد وو. شپږ زره حمامونه او کاروانسرایو نه طاغونه (ژرندي) او ۳۵۹ مدرسې، خانقاوې، آتشکدې او ۴۴۴ زره کورونه میشته وو.

د اتمې پیړۍ په وروستیو کې ګوډ تیمور د هغې بارو وران کړ. ۲

دلته که چېرته ۱۲ زره دکانونه ۴۴۸ کورونه او ۳۵۰ مدرسې او خانقاوې چې په مخکینی روایت (د دې لیکنې په .... مخ کې) راغلي دي د پورتنیو عددونو او محلونو سره مقایسه شي نو بیخي نسبي توپیر لري او له دې څخه دا په ډاګه کېدای شي چې د هرات کهندز همدا (قلعه امان کوه) او امکلچه ده.

هرات په څلورمه هجري پیړۍ کې یو ودان ښار ؤ چې مستحکمې کلاوې، باري او څلور دروازې یې درلودلي د هرات هغه کلا چې کهندز. کهندژ (کهن دژ) په نوم یادیدله هم د څلورو دروازو درلودونکي وه چې هر یوه یې د ښار د دروازو په لور وه.

ابن حوقل لیکي: د کلا د باندې یو دیوال (ربض) دي چې کلا یې رابنده کړې ده او د دې دیوال لوړوالی د انسان له قد څخه لوړ دي.

... درې ګامه ده. د همدغه اثر د لیکنې له مخې دا کلا د د امیرالشعب محمد په امر ورانه شوه.

په یوه بل سند کې داسې راغلي دي:

د هرات پخواني ښار د یوه بل حصار درلودونکي ؤ چې په د ننه کې یې اوس هم د ودانیو د خرابو او د خندق آثار لیدل کیږي.

د ښار د دیوال متصل په یوه لوړ ځای کې شاهي ارګ ودان شوی ؤ چې د کلاسیکي سبك له مخې یې مربع شکل درلود. په کونجونو او د بازوګانو په اوږدو کې یې مدور لوی برجونه وو چې شمېر یې ۴ برجونو ته رسیده د یوال لوړوالی تقریباً ۱۵ متره ؤ.

---

۱ آریانا مجله، ۶ ګنه، ۱۳۲۳ کال، ۱۴ مخ

۲ جغرافیاي تاریخي سرزمین هاي خلاقت شرقي، ص۴۳۵

همدا شانې (تخت سفر) همدلته د يوې لوړې پشتې د پاسه ليدل کيږي د هرات د ودانی تاريخ (د تير قول په تاييد) سلطان غياث الدين ابو الفتح بن محمد سام ته سام منسوب دي ١

د دې کلا د ورانولو په باب که څه هم د مخه د خراسان د امير اشعب محمد په امر ښودل شوي خو په لاندني روايت کې ترې د يوې پيښې په ترڅ کې داسې يادونه شوې ده:

کله چې د کلي (کلا) اوسيدونکي د محمد بن جراح په خلاف د هغه چا چې د خراسان د امير (البته هماغه اشعب محمد ؤ) له خوا يې ولايت درلود او نيکي يې ور سره کړي وه راپورته شول او د کلا د دروازې په تړلو يې نوموړي د امير توب څخه منع کړ او تر يوه وخته يې خپل مخالفت ته دوام ورکړ تر څو چې اشعب بن محمد په هغوی غلبه وموندله او ښار يې په سوله سره پرانيست او دغه کلا يې په قار سره ونيوله، نو د خراسان امير امر وکړ چې د ښار ديوال ونړي او په دې ډول هغه ديوال وران کړی شو. آثار او نښې نښانې يې له منځه لاړې او داسې معلومه شوه چې ګويا هلته هيڅ حصار او کلا موجوده نه ده. ٢

د هرات د ارتاکانا کلا (شاهي ښار):

د هرات په باب په تېر بحث کې وويل شو، هغه ودانی چې د هرات د عمراناتو په جمله کې يې تر ټولو د مخه قدامت او لرغونتوب درلود هغه د ارتاکانا کلا ده چې په ارته کوانا ارکوافا، ارتاکان، ارتاکوان ارتاکونه باندې يې شهرت درلود او د هرات د لومړنيو لرغونو استحکامي کلا وو څخه ده چې تاريخي وياړلي ريښې لري.

دا کلا په هرات باندې د مقدوني سکندر تر سفر بری د مخه ٣٣٠ ق. ميلادي موجوده وه او يوه تاريخي پخه کلا ګڼل کيدله.

افغانستان در پرتو تاريخ مؤلف وايي چې که څه هم د اورتاکان د کلا مؤثق موقعيت معلوم نه دي خو دا خبره يقيني ده چې هغه د هرې په حوزه کې پرته ده، مګر د ځينو روايتونو په استناد د هغې مؤثق موقعيت تثبيت شوي دي.

د ارتاکا يا ارته کوانا او يا ارکوافا چې د هرات په موجوده ارګ او يا د هرات د اختيار الدين د کلا په سيمه کې پرته ده (٣) او بيا په يوه بل روايت د دې مستحکمې کلا ځای او محل هم ښودل شوي دي لکه چې ليکي:

ارتاکوانا او يا ارتاکانا چې د شاهي ښار معنا ورکوي د (اريه) د خلکو هغه ښار دي چې د هرات د اوسني ښار په خوا کې موقعيت لري. او هغه د وخت چې سکندر دلته راغی نو يې دا ډېر مستحم ښار

١ رهنماي افغانستان، ١٢ ګڼه، ١٣٢٨، ص٢٤٢

٢ جغرافياي تاريخي افغانستان، ص ٢٥٤

٣ افغانستان در پرتو تاريخ، ١٣٤٦، ص٥٧

وموند چې د هرات ارتاکوانا ورته ویل کېده، دې شاهي ښار د هرات د اوسني ارګ پر ځای موقعيت درلود چې بیا وروسته د اختيارالدين د قلعه په نوم يې شهرت پیدا کړ چې د ملك فخرالدين کرت په عصر کې (۷۰۵ هجري قمري) کې بنا شوي وه، د تيمور په وخت کې دا شاهي کلا د ده په امر ورانه ورانه شوه، ولي وروسته دوباره بیا ودانه شوه.[1]

(پښتانه د تاريخ په رڼا کې) ۸۰ مخ کې ليکل شوي دي.

ارتاکوانا د هريرود منطقې يو پخواني ښار ؤ چې د سکندر د حملې نه وړاندې د اريا (هرات) د صوبې مرکز ؤ.

ښاغلي احمد علي کهزاد د پورتني مطلب څخه تقريباً په عين مفهوم کې داسې يادونه کړېده.

د اريا ريښه (آر) په شکل کې په دې لفظ کې هم موجوده ده.

ارتاکانا د هرود د سمسوري او آبادي سيمې له پخوانيو زړو ښارونو څخه يو ښار دي چې د سکندر د پيدا کېدو او ظهور نه پخوا د اريا د ولايت مرکز او د دې خاورې د نجياوو او شهزاده ګانو د استوګنې ځای بلل کېده.

د اريا د کلمې ريښه د (آر) په ډول د دې نوم او اسم په اول کې ښکاره ده.

په يوه بل ماخذ کې د ارکوانا په باب داسې راغلي دي.

ارتاکوانا يا ارتاکانا داريه د خلکو شاهي ښار او د اوسني هرات په خوا کې پروت دي.

دا ښار د هرات د واکمنانو مرکز او هستوګنځي ؤ، اسکندر هم کله چې دلته راغی د ارتاکوانا ښار يې ډېر مستحکم ښار وموند. ده هرات ته ارته کوانا وويل.

دا شاهي ښار د هرات د اوسني ارګ په محل کې موقعيت درلود چې بيا وروسته يې د اختيارالدين د قلعه په نامه شهرت پيدا کړ او دا کلا د ملك فخرالدين کرت په زمانه کې بنا شوې ده.

د تيمور په زمانه کې د ده په حکم دا کلا ويجاړه شوه خو وروسته دوباره ودانه کړی شوه.

که څه هم د ارتاکانا د کلا څخه په مختلفو مدارکو او آثارو کې په تکراري ډول تقريباً عين مطلب ذکر شوي دي. نو دا ټول په دې خبره دلالت کوي چې د ارتاکوانا د کلا په باب ټول تقريباً متفقانه نظر او عقيده لري.

د هرات د ارتاکانا د کلا پر ځای د اختيارالدين کلا او د هغې تاريخي پيښې:

د مخه وويل شو چې د هرات د ارتاکانا د کلا پر ځای باندې د هرات د اختيارالدين کلا جوړه شوې ده د آريانا مجلې شپږمه ګڼه په دې باب په تفصيل سره ليکي:

[1] آريانا مجله، ۱۷ ګڼه، ۱۳۲۳، مخ ۲۳

د هرات اوسني ارګ چې د هرات شمالي خواته موقعيت لري پخوا د اختيارالدين په قلعه مشهور ؤ دا کلا د ملك فخرالدين کرت (۷۰۵ - ۷۰۶ هجري قمري) د زماني له بناوو څخه ده.

بار تولد وايي: د توشك په عقيده د (ارتاکوان) يعني ارتاکانا (پخواني بومي پايتخت) د هرات د اوسني ارګ پر ځای موقعت درلود چې وروسته د ملك فخرالدين کرت (۱۳ - ۱۴م) د پاچاهي د سلسلې په وخت کې د اختيارالدين په نوم مشهوره شوه.

د ملك فخرالدين په زمانه کې دوه تنه د اختيارالدين په نومونو يادېدل چې يو يې اختيارالدين بيشه يا پيشه او بل يې اختيارالدين محمد هارون ؤ چې د ده هم عصره مؤرخ سيف هروي ده ته (ليث وغا او غيث سخا) خطاب کاوه. او ملك فخرالدين د خپل مرګ په وخت کې وصيت وکړ او د امان کوه قلعه (چې په تېر بحث کې تري يادونه وشوه) ساتنه يې نوموړي ته وسپارله دا کلا شايد دې دواړو ته منسوبه وي او وروسته د اختيارالدين په کلا مشهوره شوې ده. [1]

په دې يادونه کې د (امان کوه قلعه) څخه ذکر راغی او د امان کوه کلا هماغه د هرات کهندز او يا امکلچه يا اشکلچه وه چې څېړنه پرې وشوه، پوښتنه داسې رامنځ ته کېږي چې د هرات کهندز يعنې دغه د امان کوه قلعه د اختيارالدين تر کلا د مخه موجوده وه او يا دا چې د اختيارالدين کلا ته يې د امان کوه قلعه هم ويله چې دا موضوع هم يو څه تامل غواړي.

د اختيارالدين کلا بالخاصه د ملك فخرالدين په زمانه کې د ډېرو آبادو حصارونو څخه شمېرل کېدله د ډېر متانت او ټينګښت له مخې چې يې درلود، عمومي خزانې، حربي آلات او ادوات او داسې دولتي ذخيرې په دې کلا کې خوندي ساتل کېدلې. ۲

روضات الجنات في اوصاف مدينه هرات د دې کلا په باب توصيفي معلومات لري چې د غلو او اغراق څخه ډك هم دي لکه چې وايي:

قلعه محروسه معموره اختيارالدين که در جانب شمال اين بلده جنت مثال سربه اوج قلال قلاع افلاك کشيده و دنلان هاي شرفات بروجش که با کوتوال قلعه هفتم زبان يکي دارد نور مايده در جنب ديوار استوارش معراج نه پايه. ګردون پست آمده و حارسان بروج او را ساکنان قعه قلعه نما زير دست ګشته، جاسوس خيال را انديشه راه بردن بوي محال ودهاق دوهم را تو هم رسيدن به کنګره فلك فرسايش عين خيال.

هيچ فکر دقيق غرقاب خندق عميقش را پا ياب نکرده و هيچ پادشاه شديد البطن عظيم القدر بر فتح باب او کامياب نګشته.

---

۱ آريانا مجله. ۶ ګڼه. ۱۳۲۳. ۱۴ مخ

۲ اريانا مجله. ګڼه ۱۳۲۳. مخ ۱۴

بلندي با روي او به مرتبه اي كه پاسبانش اگر به كنگره برايد از اسپ شير فلك در خطر بود و ژرفي خندقش به حيثيتي كه اگر در جنبش سبزه دمد از تعرض گاه و زمين امان نيابد. از پهناي خندقش عقاب نيك پرواز نتواند گذشت و مرغ بر كنگره اش تواند رسيد از شدت حرارت افتاب نتواند نشست قلعه افلاك را از رشك رفعت خ تريز خاك بر سر و دايره ديوار چون كوه قافش را با منطقه البروج دست تعصب در كمر و غيره ... [1]

د پورتنيو ستاينو له مخې جوتيږي چې دي له برمې ډکې کلا، لوړې کنگرې، جگ برجونه پاخه ديوالونه باري سورور او ژور خندقونه درلودل او د استحکامي تاسيساتو له مخې يوه ډېره مهم مستحکم کلا وه

په کال ۷۰۶ هجري د صفري په مياشت کې چې د هرات د فتنې او قساوت کال ؤ د دې کلا ساتنه او سرپرستي جمال الدين محمد سام چې يو رشيد، سربښندونکي او وطنپال افغان سردار ؤ په غاړه وه مغولي دانشمند بهادر د دې کال په صفره کې د محمد سام د اتباعو له خوا په همدې کلا کې ووژل شو دا وه چې دا کلا چا و نه نيولای شوه خو په يوه تير روايت يې يوازې حصار ورته وران کړ....

خو کله چې په ۹۳۲ هجري کې د مغولو امپراطور بابر هرات ته تللي و، دغه وخت د اختيارالدين کلا په باله قورغان يادېدله «باله قورغان کلمې ترکي کلمې دي او د بالاحصار معنا وې لري.

او بابر هم په خپل تذکره کې ليکلي ؤ د اختيارالدين کلا اوس په باله قورغان مشهوره ده. [2]

يعنې دې کلا ته د خپل استحکامي خصوصيت په وجه بالاحصار هم ويل شوي دي.

د هرات اسکندريه:

د اسکندريه چې سکندريه اريه باندې مشهوره ده د هريرود په حوزه کې يعنې په هرات کې جوړه شوې ده او ډېر امکان لري هغه وخت چې د هرات د وگړو مقاومتونه وځپل شول د اسکندريه د اورتاکانا د استحکامي کلا پر ځای او يا د هغې په نژدې ساحه کې به آباده شوې وې.

د اسکندريه زموږ په خاوره کې لومړنۍ سکندريه بلل کيږي چې د بنا تاريخ يې ۳۳۰ ق. ميلادي سره سمون خوري.

کله چې مقدوني سکندر د هرات اورتاکانا د خلکو د مقاومت سره مخامخ کيږي او تلفات ورکوي او بيا وروسته هغه تسخيروي په همدې شان مغولي لښکرې د اختيارالدين د کلا د اوسيدونکيو د سخت مقاومت سره مخامخ کيږي او تلفات ورکوي او بيا وروسته هغه کلا نيسي او د اوسيدونکو سره مغولي وحشتناك ريکارد ټينگوي، يعنې پوره (۱۵۵۱) کاله تر منځه موده کې د ارتاکانا د کلا پيښې او د

---

۱ معين الدين محمد زمچي اسفزاري، روضات الجنات في اوصاف مدينه الهرات، ۱۳۳۸، ص ۳۷

۲ آريانا مجله، ۶ گڼه، ۱۳۲۳، مخ ۱۴

اختيارالدين د کلا پيښې واقع شوي دي چې د تصادف له مخې د دواړه پيښې په متناوب او يو ډول منځ ته راغلي دي چې د دې په باب معلومات ورکول به بې مورده نه وي.

احمد علي کهزد د ارتاکانا د کلا په باب پيښې چې د سکندر د حملې په وخت کې واقع شوي دي داسې بيانوي:

هغه وخت چې د مقدوني سکندر سپاهيان (۳۳۰ ق. ميلادي) په پسرلي کې له لويديز هريرود د سيند اريوس سمسوري وادۍ ته راپورته شولې هغه ودان ښار چې په دې زمانه کې د هريرود د حوزې مرکز ؤ او په يوناني منابعو کې ورته اورتاکانه ويل کېده يوه کلا وه ډېره زياته پخه او مستحکمه چې هغه اريامترو پوليس ياد آريا د ولايت مرکز په صفت هم ياد شوې ده.

په دې کې هيڅ شك نشته دي چې په دې زمانه کې د افغانستان خاوره د هخامنشي د امپراطورۍ يوه برخه وه ځنګه چې "ساتي بزراني" له يوې خوا په هرات کې دا ټينګه کلا درلودله او د بلې خوا نه د هرې (اري) خلك پر ده راټول شوي وو نو د پوځي پلان له مخې په تکتيکي توګه يې وپتيله چې د سکندر سره په لومړي ټکر کې يوناني سپاهيانو ته په تسلمېدو حاضر شي. دا ؤ کله چې د سکندر سپاهيان له هرې خوا نه راورسيدل، د هغه ځاى اوسېدونکو ور سره هيڅ ډول نښته و نه کړه او سکندر په دې فکر چې خلك ورته بې جګړې تسليم شوي دي نو بې خپل پوځي سلاکار (اناکزيپوس) د هرات د کلا د ساتنې د پاره وګماره او پخپله يې له هغه ځايه حرکت وکړ، سکندر لا فراه ته رسيدلی نه ؤ چې برزان د خپلو خلکو سره قيام وکړ او د سکندر نوموړي مشاور يې ووژه سکندر چې له پېښې خبر شو ... واره هرات ته راستون شو.

برزان د خپلو خلکو سره که د کلا په د ننه کې وو او که د کلا د باندې وو مد ...ه ودربدل. خو څه رنګه چې د دوئ شمېر کم و نو چې په محاصره کې راغلل، د هرات د هغه ... سردار بل ډول مقاومت طرح کړ هغه دا ؤ چې د خپلو خلکو سره له کلا راووتل او هرات نه نژدې هغه غره ته يې پناه يوړله چې په ګڼو ځنګلونو باندې پټ ؤ. دې پيښې سکندر ډېر ناراحت کړ او له فاره يې ځنګل ته اور واچاوه او په دې توګه د هرات خلك جبري تسليمي ته غاړه کېښودله، دغه کلا يې سه يوازې ورانه نه کړه بلکې د يوناني منابعو په قول چې د هرې حوزې ته د دوئ د رسيدلو په وخت کې يې هلته د يوه ښار حيثيت درلود او د دې ورته (ارته ګوانا) چې همدغه د اورتاکانا کلا وه په افغانستان کې (د لومړني سکندر يې ښار) دغه ښار لا ودان کړ چې د هرې په سکندريه مشهوره ده.

د مقدوني سکندر د دغه غميزې څخه ۱۵۵۱ کلونه وروسته (۶۱۸ هجري ۱۲۲۱ ق. ميلادي کې کله چې مغولي وحشتناك طوفان د هرې حوزې ته راورسيدنو د چنګيز زوی تولی خان د خپل پلار د امر سره سم په دغه کلا بريد وکړ، دا وخت ملك شمس الدين محمد جوزجاني د خوارزم پاچا، سلطان جلال الدين

منکبرنی له خوا یې په هرات باندې حکومت کاوه.

د هرات د تاریخنامې او روضه الصفا د لیکنو په اساس د تولی خان په مقابل کې له (۹۰ – ۱۰۰) زرو جنګي میړنو د ښار د مدافعې او مقابلې د پاره جګړې ته چمتو شول، څه رنګه چې چنګیز او زامنو یې د افغانستان د کلاګانو په جګړو کې زیات تلفات لیدلي وو نو یې دې ته ترجیح ورکړه چې د جګړې د مخه د سولې د استازو په واسطهٔ په آرامې سره د هرات کلاګانې او ښارونه هم ونیسي مګر شمس الدین تسلیمې و نه منله او هغه دوه استازي چې ورته رالیږلي شوي وو هم ووژل دا وه چې د دواړو خواوو تر منځه د کلا شاوخوا ته سخته جګړه ونښتله. هراتیانو او ملك جوزجاني په پوره شجاعت او قدرت سره، یوره یوه اونۍ وجنګیدل تر څو چې اتمه ورځ په ملك شمس الدین باندې د دښمن غشي ولګید او په شهادت ورسید او د ښار مقاومت هم مات شو خو بیا هم کلا مقاومت کاوه. د تاتاري شهزاده د تولی خان د وعد او وعید په ساس د کلا د دروازه بېرته شوې او تاتاري سپاهیانو د زرو تنو په شاوخوا کې چې زیات شمېر یې د جګړې کار کوونکي وو او د حل و عقد ارباب وو ووژل شول.

په همدې شان د سکندر د هجوم په وخت کې هراتیان په جبري توګه تسلیم شول او بیا یې طغیان وکړ او د سکندر مشاور او د هرات حکمران اناکزیپوس یې وواژه.

په ۶۱۸ هجري کې یې هم لکه چې د مخه ترینه یادونه وشوه وروسته تر دې چې له مجبوریته تسلیم شول خو ډېر ژر یې د هرات د مقرر شوي حکمران او کوتوال یعنې ملك ابوبکر مکتاي پر ضد راپورته شول. هغه او د هغه ملګرې یې ووژل او د هغه پر ځای د فیروز کوه د ملکانو څخه یو تن چې په اصل کې سبزواری ؤ او په هرات کې اوسیده : شهید ملك جوزجاني پر ځای د خپل ملك په توګه ودراوه او بې له ځنډه یې د ښار د ټینګښت او د حنګیزي سپاهیانو سره د مقابلې تعبیه وکړه. په کوم ډول چې ۱۵۵۱ کاله د مخه سکندر د سبزوار او فراه له سیمو څخه بېرته هرات ته راستون شو او اورتاکانا یې محاصره کړه او وروسته د هراتیانو او یونانیانو تر منځه سخته جګړه ونښتله په همدې ترتیب کله چې چنګیز د هرات د خلکو د طغیان او سرکشي څخه خبر شو نو د سکندر غوندی په پوره قهر او غضب یې یو لوی لښکر چې شمېر یې ۸۰ زرو تنو ته رسیده د (ایلچیګدای نویان) خپل دوهم زوی په سرکردګي هرات ته وګمارل تر څو چې د هغوی مقاومت وځپي.

او لکه څنګه چې د سکندر په مقابل کې د هراتیانو مقاومت ډېر زیات سخت ؤ نو د دوئ دوهمه مقابله هم دا ایلچیګدای نویان په وړاندې څو څو ځله تر هغې سخته وه او ډېره وخت دوام یې وکړ. د اختیارالدین کلا د اوو میاشتو د پاره په محاصره کې پاتې شوه تر څو چې بیا هم په اجباري ډول د ۶۱۹ په جمادي الاول کې د هرات ښار تسلیم کړی شو او تاتاري خونخوارو سپاهیانو تر څو چې یې وکولای و یې وژل. ویې سوزول او لوټ یې کړل ډېرې سختې ضربې د پریکونې هلاکت حکم درلود. د یوه روایت له

مخې د هرات په ښار کې له ۴۰ تنو څخه زيات څوک ژوندي پاتې نه شول. پېښې بيا هم تکراري شوې، لکه څنګه چې سکندر هلته (سکندريه اري) ودانه کړه د چنګيز تر مړينې وروسته د ده د دريم زوی (اوګتای قاآن) د سلطنت په وخت کې د هرات ښار تر ۶۴ هجري نه وروسته بيا ودان شو. ۱

څه رنګه چې په يوه بل روايت کې د هرات پر ښار د چنګيزي لښکر په هجوم کې د ياد شوي جريان په مقايسه يو څه تفصيلي معلومات شته دي نو دا دی د حسن تکرار په توګه د دغې واقعې جريان په ځانګړې ډول وړاندې کيږي.

د هرات ښار په ۱۲۲۱ هجري د مغلو تر هجوم لاندې راغی او د ملك شمس الدين جوزجاني په مشرۍ چې د هغه ښار حاکم ؤ په پوره مېړانه يې د ښار څخه دفاع کوله. خو د مغولي تولی خان له لاسه په شهادت ورسيد او د ښار ۲۲ زره پوځي مدافعين هم شهيدان شول د هرات خلکو بيا خپل مشران وټاکل او سوګند يې وخوړ چې د ښار څخه به مدافعه کوي چنګيز چې د دې فيصلې څخه خبر شو نو د تولی خان پر ځای يې ايلچيګلدای د ۸۰ زرو عسکرو او ۵۰ زرو حشري کسانو (ايلجاريانو) سره په هرات ورمارش کړل د هرات خلکو پوره شپږ مياشتې او ۱۷ ورځې قهرمانانه دفاع وکړه تر څو چې په ۱۱۲۱ کې چنګيزي لښکر د (برج خاکستر) څخه د هرات ښار ته نفوذ وکړ او په يوه ورځ کې يې ټول ښاريان مړه کړل.

قاضي منهاج سراج جوزجاني وايي چې دا وخت دا هرات په ښار کې ۶۰۰ زره او سيدونکي وو او په اطراف کې يې دوه ميليونه تنه چې ۴۰۰ زره تنه ترې په دې جنګ کې مړه شوي نو موري ښار ته اوړ واچول شو.

وروسته معلومه شوه چې د هرات د ټول نفوس څخه يوازې ۱۶ تنه (په تير روايت کې ۴۰ تنه) چې ځانونه يې د جوماتونو په ګنبدو کې پټ کړي وو ژوندي پاتې شوي وو چې اشرف الدين جفرتان خطيب هم په دې ډله کې شامل ؤ.

تر دې فاجعې وروسته د هرات د ښار مخروبي دومره دوام و نه کړ او ګتای جنګيز زوی هغه سا له سره ودان کړ او د کرت اميرانو هم د هغه ښار په جوړولو لاس پورې کړ چې بدبختانه ګو : تيمور يو ځل بيا په ۱۳۸۱ د اختيارالدين د کلا د ننې او بهرني ديوالونه وران کړل مګر د ده د زوی شاهرخ مرزا په وخت کې ۱۴۱۵ ميلادي د هرات ښار بيا له سره جوړ او خپل رونق يې تر لاسه کړ. ۲

بيا وروسته دراني احمد شاه د هرات کلا په ټينګوالي او استحکام کې کوښښ وکړ ځکه چې د هرات کلا د مخکې پر مخ د ډېرو مستحکمو کلاګانو څخه ده چې لوړتيا او متانت يې دومره ؤ چې د يوه

---

۱ افغانستان در پرتو تاريخ. ۶۹ - ۷۱ مخونه

۲ افغانستان در مسير تاريخ. ص ۲۲۰

مؤرخ په قول د اختيارالدين کلا د شمال خواته د اسمان لورته سر هسك کړې ؤ. [1]

د حسن مقطع په توګه بايد وويل شي د هرات د ښار بنا د نړۍ له اوو ګونو عجايبو څخه ده او د دې روايت په ترڅ کې دا خبره هم تصريح شوې ده چې د هرات د بارو او ديوالونو په جوړولو کې درو تنو برخه اخستلې ده.

۱- د هرات ښار داخلي ديوال د سياوش کيکاوس له خوا.

۲- د هرات د ښار خارجي ديوال د مقدوني سکندر له خوا.

۳- د هرات د ښار مدور برجونه د البيروني او دار ابن دارا په واسطه [2]



۱ آريانا مجله، ۲ ګڼه، ۱۳۶۲، مخ ۱۲۰

۲ آريانا مجله، ۹ ګڼه، ۱۳۲۸، مخ ۱۲

- محمد اکبر شورماچ، جغرافيايي عمومي افغانستان، ۱۳۵۰، ص ۲۸۳



۵- غزني

(عروس البلاد)

زموږ د هېواد د تاريخي، پرتمينو، مدنيت پالونکو، د علم او فرهنګ او د شاعرانو د ستر کانون ځخه يو هم لرغوني غزني دي چې د مؤرخانو او محققانو له خوا ورته د زيات ښکليتوب، ودانيو او د بدبي له کبله عروس البلاد يا د آسيا د ناوې لقب ورکړ شوي دي.

د غزني لرغوني ښار د تاريخ په پړاوونو کې د پاچاهانو او امپراطورانو اداري، سياسي، فرهنګي او پوځي مهم مرکز ګرځيدلي او د ستراتيژيکي او تجارتي زيات اهميت لرونکي پاتې شوي او بالاحصار يې نه ماتيدونکي کلا بلل شوې ده.

د تاريخي غزني موقعيت:

غزني د افغانستان په ختيځ کې يو ښار دی (اصلاً په جنوب لويديز کې) چې د کابل د جنوب لويديز په ۹۰ ميلي /۱۴۵ کيلومرۍ د شرقي طول البلد په ۳۳ درجو او ۴۴ دقيقو او شمالي عرض البلد په ۶۸ درجو او ۲۸ (۱۸) دقيقو په منځ کې د سمندر له تل ځخه ۷۲۸۰ فټو/ ۲۲۲۰ مترو په اندازه لوړوالي لري.

په يوه سند کې د دې ځای موقعيت داسې ښودل شوي دي:

خالص افغانستان دوې برخې لري:

- د نورخاته (مشرق) برخې.
- د نور پریواته (مغرب) برخې.

د نورخاته ټوټه کې د کابل، غزني هغه کندي شاملي دي چې د هغوئ په منځ کې جلال آباد پروت دي.[1]

په تاریخي آثارو کې غزني او د هغه د تسمیه وجه:

غزني په تاریخي آثارو او مرحلو کې په غزني گزنیك، غزنه (جزنه)، غزنین، غزنو، گازاکه "هو-سي-نا"، کنژك، گنجك او داسې نورو باندې یاد شوي دي.

د غزني ښار چې د افغانستان په زړه کې نن ورځ د کابل-کندهار په منځ کې د یوې کندوالې او کوچني ښار غونډې پروت دي د خپل لرغوني عظمت او برم څخه پرته له یو څو خرابو نورو څه نه لري. مگر د عربو او فارس مؤرخانو پخوا تر دې چې د غوري سلطان علاوالدین جهانسوز په لاس، د دولسمې میلادي پیړۍ په نیمايي کې، لوټ او وسوزول شو، یو ډېر آباد او معمور ښار ؤ.

د دې ښار په باب لیکلي دي:

هیوان تسنگ چیني زایر له غزني څخه یې کتنه کړې او هغه ته یې (هو-سي-نا) ویلي دي نوموړي سیاح د ده د مربوطاتو (تسو، کوچا) یا (تساو-کیوتا) یعنې زابلستان څخه بحث کړی دی. د دې مملکت مساحت یې تقریباً ۷ زره لي او د هغه (زابلستان) پایتخت یې هو-سي-نا چې د تخمین له مخې ۳۰ لي پراختیا لري د خپل بحث لاندې نیولي دي.

دی لیکي چې دا ښار د یوې مستحکمې کلا په شکل په یوه سرسبزه او حاصلخیزه سیمه کې پروت دي او لومړني عالم چې د (هو،سي،نا) موقعیت یې په همدې غزني کې تثبیت کړي موسیو (سن مارتن) دي.

اصطخري غزني په لسمه میلادي کې د هغې سیمې د ډېرو شتمنو ښارونو څخه گڼلی او د هند د مال التجارې له مهمو مرکزونو څخه یې شمېرلی دی.

د دې ښار پخواني نوم (گانزاك- Gonzak) ؤ شاید چې دا نوم د لهجې او تلفظ د ډېر لږ اختلاف سره د (گنژك- Gonjac)، (گنجك) د ایران د سرحد په وروستی برخه (اترو پاتین- Atropatene) کې واقع دي د (گنژه - Gonza)، (گنژ-گنج) د کلمې خزانه مشتق کېدای شي او دا فرضیه تر مودو پورې څېړنې لاندې نه ده نیول شوې او د گزن (Gzn) Gaza کلمه هم د خزانې معنا ورکوي، له دې خبرې دا څرگندیږي چې گنز کلمه په پارتي کې په (گزن - Gazn) او په سندي کې په گزن – Gazn اوښتي ده.

[1] میجر بویلي ژباړه، منشي احمد خان، د افغانستان تاریخ، طبع ۱۹۳۰م، ص۷
- مجله آریانا، ۹ گڼه، ۱۳۲۳، ۲۴ – ۲۵ مخونه

او د (ګانزاك-Ganzak) کلمه لکه چې توقع کيدله د حلقي لومړيو تورو په نسبت د سندي د کلمې د شکل سره ښه ورته والي لري او دا شباهت هماغه شي دي چې د (ګاوا - Gava) د سندي په کلمه کې چې د هغې عربي تلفظ او تحريف (کي - Qay) يعني (ګي- Gay) دي ليدل کيږي.

د غزني زيات شهرت د دې سبب شوي چې د غزنه (جزنه) کله چې د عربو مؤرخينو په منځ کې يې عموميت پيدا کړ او هغه يې د ګزکه د ښار په باره کې چې په (اتروپاس) کې پروت دي او هغه هم مرکزيت درلود استعمال کړې دی.

غزنه د مؤرخانو په ليکنو کې د ډېر لږ اختلاف سره لکه مقدسي چې په عربي ژبه کې غزنين د تثنيې د جمع شکل دي -او همدا شان د غزني د کلمې شکل چې بايد د ګزينګ - Gyznik له کلمې څخه منځ ته راغلي دي. استعمال شوي دي

د پورتني ليکنې له مخې د کرزکه د ښار سره د غزنه د نوم بشپړ مشابهت او يو والي چې بطليموس هغه د اتروپاس په سيمه کې واقع بولي، کوم مشکل نه پريږدي او حتی نوم او محل يې هم ور سره پوره مطابقت کوي، نو ځکه د غزنه کلمه د لومړي ځل د پاره په دوهمه ميلادي پيړۍ کې او د دوهم ځل لپاره په پنځمه ميلادي پيړۍ کې ياده شوي او د ۷-۲ پيړيو په منځ کې د (ز) او (د) د تورو ترتيب (nz) ګډ وډ شوي او د (ز)، (ن) -(zn) په شکل اوښتي دي نو د هندي بې اهميته ښار ګزوس کلمه چې (نونوس-Nonnos) او (اتين دو بيزانس) پرته له دې چې د هغې موقعيت تثبيت کړي د غزنه د ښار په مورد کې يې له هغې يادونه کړې د غزنه د نوم سره سمه رابطه او ارزش نه لري ۱

بيا هم د غزني لرغوني تاريخ تاريك دي، ځينې ورته ګازاکه لکه چې بطليموس يې يادونه کوي او د يونانيانو د ګازموس سره مطابقت بولي خو په دې باب قطعي دليل نه لري او لکه چې د مخه وويل شو هيوان تسانګ هغه ته (هو، سي، نا) وايي چې غزنه د (تساوکن تو) پايتخت ؤ او ډېره پراختيا يې درلودله، او د بودا آئين هم په اومه ميلادي پيړۍ کې په غزني کې په تمامه معنا رونق او ځلا درلودله ۲

په وروستني تحليل کې د غزني د کلمې اصلي شکل بايد د ګنزك او ګنز (ګنج) په معنا وي په (ز) باندې د (ن) اړول د آريايي ژبو له بيلګو څخه دي. او دا اشتقاق چې غزني تر اسلام نه د مخه په تيرو زمانو کې د زابلستان د شاوخوا سيمو مرکز ؤ، د غزني سره د موازي نومونو د (ن) په (زير) چې نن ورځ استعماليږي او غزنيني د (ن) په زير د لرغوني غزنين او غزنيك په شکل سره يو ځاى کيږي. مقدسي او د حدود العالم نامعلوم مؤلف ۴ هجري يا ۱۰ ميلادي-قمري په وروستيو کې راوړي او ياقوت حموي هم وايي چې دا شکل سم دي.

---

۱ آريانا مجله، ۱۲ ګڼه، ۱۳۲۳، مخونه ۱۱ - ۱۳ - د علي احمد نعيمي د (نام غزني) مقالې ژباړه، ليکوال بن و نسيت.
۲ آريانا مجله، ۹ ګڼه، ۱۳۲۳، ۲۴ مخ

د غزني د نوم ډېره پخوانۍ یادونه په دوهمه میلادي پېړۍ کې هلته لیدل شوې چې بطلیموس (گنزکه) د پارو پامیزاد په خاوره کې ... د کابل په شمال کې ښیي.

هیون تسنگ د چین بودایي سیاح (په اومه میلادي پېړۍ کې) هغه په (هوك لیك،نه) کې گزینك یادوي او هغه د زابلستان د (تسو -کیو-تو) د مستقلې واکمنۍ لوی ښار بولي د وروستنیو پلټنو په نتیجه کې هلته د بودایي دیانت او مدنیت د موجودیت پته دلته ولگېدله د بودایي آئین ځو محلونه او د بودا ځو پیکرونه د مځکې له لاندې څخه را ایستل شوي دي.[1]

غزني په تاریخي آثارو کې

غزني د وندیدا د لومړي باب په ترتیب د اوستایي ۱۶ تږتو مځکو په فهرست کې او یا په بل عبارت د اوستا دیارلسمه تږتو مځکه د گخره (کخري) او یا که منطقه ده چې د غزني څخه عبارت ده.

د ارمستر دغه ځای یا په خراسان او یا په غزني کې بولي.[2]

ښاغلي غبار په خپل پورتني اثر کې لیکي:

زموږ د خاورې د لرغوني او پریمانو نعمتونو لرونکو ښارونو څخه یو هم غزني دی. چې په مکرر ډول د خراسان، عربو او د چین په کلاسیکو جغرافیایي او تاریخي کتابونو کې ترې یادونې شوې دي.

-اصطخري لیکي:

د بلخ په ټولو سیمو کې تر غزني بل هیڅ ولایت شتمن او تجارتي ښار نشته دی، د دې په حکم چې گوندي هندوستان دی (پورتني اثر ۲۱۹ مخ).

-ابن حوقل وایي:

غزني د ثروت او تجارت له پلوه ډېر زیات اهمیت لري او دا ځکه چې د هند په خوله کې پروت دی، اما دا ښار په ۳۵۵ هجري کې چې سبکتگین حاجب هغه ځای خپل لښکرگاه کړه نو رانسکور شو (هماغه اثر ۲۹۳ مخ).

- محمد ابن احمد طوسي د عجایب المخلوقات په کتاب کې د غزني د عظمت په هکله وایي:

د غزني متاع، جلغوزه، مریي او نور ته (شادو) او لالاس زیات شهرت لري په دې ښار کې ۱۲ زره حمامه شته او ډېر لرغوني ښار دی. چې دوې برخې لري:

د ښار په منځ کې یو لوی غر دی چې دا د سلطان محمود بن سبکتگین پلازمینه ده. او تر ده وروسته غزني ملك خسرو ته ورسید چې د ده خور یې کیده، له دې ځایه تر لهاور (لاهور) ۱۶۰ فرسنگ او تر دې ځایه پورې هم د اسلام حد دی.

---

[1] بیهقي، ص ۲۶۱

[2] غبار، جغرافیاي تاریخي افغانستان. ۱۳۶۸، ص۳۳۵

په غزني کې یو محل دي چې (شوله) ورته وايي او هلته په یوه میدان کې یوه نیزه ښخه ده (تفصیل یې وروسته راځي.)

- د تقویم البلدان په کتاب کې د غزني حدود او ثغور ښودل شوي دي.
- مهبلي وايي: غزني د بست څخه ۴۰ فرسخه مسافه لري.
- صاحب اللباب وايي:

بلق یوه ناحیه ده د غزني له ناحیې څخه.

- او همو وايي: چې غزني د هند پیل دي.
- ابو المجد موصلي په مزیل الایتاب کې لیکي:

غزني د خراسان په څنډه کې د هند لومړني ښار دي د خراسان او هند تر منځه لکه یو سرحد دی او ساړه یې سخت دي (۵۴۳ مخ.)

پروفیسور بو سورت په اسلامي دایرة المعارف کې د غزني تر نامـــــه لاندې لیکي: چې په حقیقت کې یې په خپله لیکنه کې د تیر بحث د هیوان تسنګ او بطلیمــــــوس د ځینو برخو په تایید لیکلي دي:

د غزني د کلمې معنا باید ګنزك د کنز او ګنج په معنا دي او دا اشتقاق ښیي چې غزني تر اسلام څخه په مخکنیو دورو کې د زابلستان د سیمو د مرکز او شاوخوا څخه ؤ. د دې ښار ډېر پخواني نوم په دوهمه میلادي پیړۍ کې چېرته لیدل شوي دي. چې بطلیموس ګنزګه د پارو پامیزاد ۱۱۰۰ استاد یا، د کابل په شمال کې ښیي....

په نورو زمانو کې چې غزني هر ډول نوم او نښان درلود، خو په خاصه توګه په (۴ هجري/ ۱۰ میلادي) چې د سامانیانو دوره وه او دلته د غزني تاریخ روښانه کیږي لکه چې په ۳۶۶ هجري/ ۹۷۷ ق. میلادي کې چې د سامانیانو دوره او دلته د غزني تاریخ روښانه کیږي لکه چې ۳۶۶ هـ/ ۹۷۷ میلادي یو شمېر پاچاهان د سبکتګین په نوم چې قدرت ته ورسیدل د دې سلسلې د پاچاهي سره د غزني بنسټ هم کېښودل شو.

د یادونې وړ ده چې (بومباجي- **A. Bombachi**) د شرق او غرب په ایطالوي نشراتو کې (۷ – ۱۹۷۵) رشکي دي چې د غزني ښار د بطلیموس او هیوان تسنګ د ښار یو دي جغرافیه لیکونکي (۴ هجري/ ۱۰ میلادي) تاکید کوي چې غزني یو ښار دي د هند او غزني د تګ و راتګ د لارو سوداګران هلته اطراق کوي یعنې تم کیږي دا ځکه چې هلته ورته هر ډول اسوده ګي او وسایل او استانتیاوې برابري وي (بیقهي ۲۶۱ مخ)

وايي چې په پخوانیو زمانو کې غزنین ډېر لوی ښار او زیات اوږد او سور ور مملکت ؤ لویې

دروازې، پراخې او زياتې اضافي سيمې يې درلودلې او د سلطان محمود سبکتگين تخت گاه (پلازمينه) وه.

د غزني بار د پخو خښتو څخه جوړ شوی ؤ.

د غزني د ميدان په سر کې (لکه چې د مخه ورته اشاره وشوه) يوه درې ښاخي نيزه پر مځکه باندې نصب شوې وه او داسې ويل کيږي چې دا د سلطان محمود سبکتگين نيزه ده او د سلطان سنجر تر زمانې پورې موجوده وه.

سلطان سنجر وغوښتل چې دا نيزه له غزني څخه له ځانه سره يوسي، خو هيڅ يوه چارپای هغه يونه وړلای شوه.١

غزني د غزنوي پاچاهانو تر دورې پورې شهرت او عموميت نه درلود. الپتگين غزني، (لاويك) نامي ته ورکړ، د ده تر مړينې وروسته (لاويك) خپل زوی اسحق له غزني څخه وويسته او بالاخره سبکتگين په ۲۶۶ هجري د غزني مالك شو غزني د سلطان محمود غزنوی په دوره کې مجلل قصرونه، مدرسې او جوماتونه او يو هسې مدنيت درلود چې هيڅ ځای ور سره سيالي کولای نه شوه.

د غزني منارونه چې وروسته ترې يوازې خرابې پاتې شوي د غزني د عمارت عظمت ښيي. دا ښکلې او قشنگ ښار چې گويا د آسيا ناوې وه د سلطان علاوالدين جهانسوز له لاسه وسوځول شوه او د خاورو سره خاورې شوه او پوره اوه ورځې او اوه شپې پرې د اور لمبې بلې وې.

همدا شان د ارسلان په وخت کې د يو سخت تندر اور، غزني وسوزاوه، د گوډ تيمور په وخت کې (۸۰۴ هجري) چې يې دا ښار ونيو، د سلطان محمود او سلطان مسعود د مقبرو او دوو مينارو نور څه وجود نه درلود.

کله چې انگريزانو غزني د خپل لاس لاندې راووست (الن بورد) د سلطان محمود د مقبرې دروازې په دې گومان چې گويا د سومنات دروازه ده په ۱۸۴۲ ميلادي له خپل ځايه راوايستله او له ځان سره يې هند ته يووړله، اما تر نن ورځې اثبات نه شوه چې دغه د سومنات دروازه وه.

خو په حقيقت کې د محمود غزنوي د مقبرې اصلي دروازه وه. او دا ځکه چې د دغې دروازې د هندي صنعت هيڅ ډول نښه و نه ليدل شوه.

د صندلو د دروازې مشهوره کيسه چې د خلکو په منځ کې زيات شهرت لري همدا موضوع ده.

غزني له ډېره پخوا څخه يو تجارتي ښار دی.

اصطخري د غزني په متعلق وايي چې په دې سيمه کې هيڅ يو ښار د سواگرو د زياتوالي او د مال التجاري د ډېروالي له حيثه د غزني ښار ته رسيدلای نه شي.

---

١ اسفزاري، روضات الجنات في اوصاف المدينه هرات، ۸۹۹، ۳۶۰ - ۳۱۶ مخونه

غزني خپله سابقه له لاسه ورکړي او اوس د افغانستان د دوهمې درجې ښارونو څخه دي.[1]
دافغانستان دايرة المعارف د غزني د معرفت په بحث کې ليکلي دي:
د هېواد په اداري جوړښت کې غزني د ولايت په مفهوم يو ولايت دي چې د کابل جنوب غربي خواته د شرقي طول البلد د ۶۷ او ۶۸ درجو. ۳۰. ۴۲ دقيقو او ۲۷. ۳۶ ثانيو او شمالي عرض البلد د ۳۳ درجې، ۱۹ او ۴۴ دقيقې او ۱۴ او ۴۵ ثانيې تر منځ پروت دي.
د غزني مشهور زوړ ښار د کابل په جنوب غربي خوا کې ۱۳۵ کيلو متره لېرې پروت دي غزني د سمندر له مخ نه ۲۲۲۰ متره جګوالي لري. د شرقي طول البلد ۶۸ درجې، ۱۸ دقيقې او د شمالي عرض البلد د ۳۴ درجې، ۴۴ دقيقې موقعيت لري[2]

د غزني کلا، ماڼۍ بالاحصارونه او منارونه:

د غزني ښار په کلا سيک سبک جوړ شوي دي چې په يوه اوچته غونډۍ باندې پروت دی او يوه مضبوطه کلا او ديوال ورنه راچاپير شوي دي، چې يوه پخه او مضبوطه جنګي کلا ده. د ښار نه چاپيره د کلا په غاړو کې پاخه او کلك برجونه موجود دي چې د ښار د بچاو په وخت کــــې ورنه کار اخيستل کېږي.
دغه شان د ښار نه چاپير د پخواني لوی خندك نښې نښانې هم شته چې په پخوانيو زمانو کې د ښار د محاصرې په وخت کې له اوبو نه ډکېده او د دښمن د چپاو او يرغل مخه يې بندوله د غزني پخواني ښار درو خواوو ته يعنې په شمالي غربي، او جنوب غربي اړخونو کې درې دروازې درلودلې چې د بهلول بازار او کنك په نومونو يادېږي[3]
په يوه بل روايت غزني د هېواد د نورو لرغونو ښارونو په شان مستحکمه کلا، بالاحصار او ماڼۍ درلودله د غزني د ښار په منځ کې يوه مستحکمه کلا (نوی بالاحصار) دي د پاچاهانو د ماڼۍ او بارو درلودونکي يو ښار (مدينه) دي. يو شمېر دروازې او بازارونه لري، د هغه په ځينو برخو کې کورونه او نور بازارونه هم شته دي.
کلا او مدينه د يعقوب او عمرو بن ليث صفاري په وخت کې بيا له سره جوړه شوه د ايطالوي لرغون پېژندونکيو ورستنيو پلټنو وښودله چې د رتبګانو (منصبدارانو) دېر لوړ منزلونه د ښار په ختيزو تپو کې چې د سلطان د روضې په لاره کې موقعيت لري. په همدې ځای کې د خښتو دوه منارونه دي چې د دريم مسعود او بهرامشاه د وروکي بنا شوي دي.

---

۱ آريانا مجله، ۹ ګڼه، ۱۳۲۳، ۲۵ مخ
۲ آريانا دايره المعارف، ۷ ټ، ۱۳۵۵، ص ۶۱۸
۳ پورتني اثر، ۶۱۹

د بیهقي تاریخ وایي:

چې محمود په "افغان شال" کې یوه ماڼۍ درلودله، باغ صد هزاره او د فیروزي ماڼۍ او هغه قصر درلود چې بیا همالته ښخ شو.

د ده زوی مسعود په ۴۲۷ هجري/۱۰۳۵ میلادي کې وپتېیله چې یوه نوی او له برمه ډکه ماڼۍ آباده کړي چې د ده د ذوق او سلیقې سره برابره طرح شوې وه.

د دې ماڼۍ ساختمان او تزئیناتي مواد له هنده راوړل شوي وو.

د دې ماڼۍ په تزئیناتو کې د هغو هندي ښکلو مجسمو څخه استفاده شوې وه چې د جنګ د یادګارونو څخه شمېرل کېدلي او سلطان محمود د خپلو جنګونو ۴۰۹ هجري/۱۰۱۸ میلادي کې له قنوج او مترا څخه راوړې وې.

همدا شان مسعود په غزني کې د عروس الفلك په نوم یو جامع جومات جوړ کړ چې د دې جومات سره مدرسه او یوه کتابخانه متصله پرته وه. په دې کتابتون کې هغه کتابونه موجود وو چې د خراسان او غرب څخه یې راوړي وو.

«د تاریخ عیني او تاریخ یمیني ۳ – ۲۹، ۳۰ مخونه په حواله.»

یو بل تعمیر چې د یادونې وړ دی هغه د سلطان محمود فیلخانه ده چې زر سره فیلان پکې ځاییدل او د هغه د ساتونکو د پاره کوټې هم ودانې شوې وې.

د ښار د شمال په څو میلۍ کې د سلطان د بند د اوبو لګولو تاسیسات تر اوسه پورې موجود دي ۱

د غزني د جنوب لویدیز په درې کیلومترۍ کې د روضې د کلي او د سلطان محمود د آرامګاه په باغ کې درست د یوه ارت او پراخ دښت په منځ کې چې هماغه دښت مشهور شاه بهار یعنې لوی معبد دی او د غزنویانو د زمانې پورې اړه لري. ۲

«غزنه در دو اخیر» په کتاب کې د غزني ښار او د هغه بالاحصار او د زیر زمینو په باب داسې معلومات وړاندې شوي دي.

د غزني ښار د کلا بندۍ په شرایطو کې د ډاډمنې دفاع په خاطر تر مځکې لاندې تاسیسات درلودل چې پرته د ښار له عمالو او اعتمادي کسانو او اعتباري وګړو بـــــسل چا ته د ورننوتلو اجازه نه وه. د غزني بالاحصار د تنګو او تاریکو بازارونو کوڅو او زیر زمینیــــــو درلودلونکی و او د محاصرې په حالاتو کې ترې ښه استفاده کېدله که څه هم څو پلا یې د توپونو ګولۍ خوړلي او د یرغلګرانو د هجومونو له امله یې زیات زیانـــــونه لیدلـــــسي وو، خو بیا هم تاریخي نښې نښانې او لوړنې

۱ آریانا مجله، ۲ ګڼه، ۱۳۵۶، ۶۶ – ۷۰ مخونه

۲ افغانستان در پرتو تاریخ، ۱۳۶۴، ص ۱۰۶

ساختمان يې خراب او ويجاړ شوي نه ؤ.۱

د غزني بالاحصار يو عمومي معبر درلود او په واقعيت کې د کابل -کندهار د شاهراه د څارنې او ترصد په غرض د يوې غونډۍ د پاسه جوړ شوي ؤ او دا ځای د غزنوي پاچاهانو تر عصره د مخه د معبر د ساتونکو د قرارګاه په توګه موجود و. چې د سلطنتي مقر د پاره دومره مناسب نه ؤ او د وروستنيو پېړيو څخه څرګنديږي چې يو وخت د افغاني پاچاهانو او آمرانو څخه کوم يو د غزني په بالاحصار کې هستوګنه غوره کړې ده.

(پورتنی اثر ۵۴ مخ).

نو دا ده چې د غزني بالاحصار د شاهي ارګ حيثيت درلود.

مقدسي د غزني د ښار نقشه لکه څنګه چې د سبکتګين په زمانه کې وه په لاس راکوي او ليکي:

يوه کلا د ښار په منځ کې (نوی بالاحصار) د پاچاهانو د ماڼيو سره، د بارو او څلورو دروازو سره او څو بازارونه پکې موجود وو (۲) مګر په يو تير روايت کې دا دروازې درې ښودل شوي چې د شمالي، غربي، او جنوب غربي دروازو څخه عبارت وي خو د شرق خواته کومه دروازه پکې نه ده ښودلې، او ممکن دا شرقي دروازه څلورمه دروازه وي چې مقدسي ورته اشاره کړې ده.

د پورتنيو څرګندونو څخه جوته ده چې د غزني ښار لکه کابل دوه بالاحصارونه درلودل چې يو يې لکه د مخه ورته اشاره وشوه نوي بالاحصار ؤ چې د ښار په منځ کې يې موقعيت درلود او د ۵۱۰ هجري /۱۱۱۷ ميلادي او ۵۲۹ هجري/ ۱۱۳۵ ميلادي کلونو د هغو مصيبتونو له امله چې په هېواد کې او بيا په غزني کې پيښ شول د غزني دغه ښکلي او تاريخي ښار د علاوالدين حسين غوري د دوو ورونو د کسات اخستلو په نامه وسوزول شو او وران شو. او دی هم د جهانسوز نوم ته پرې منسوب شو. خو بيا هم پوهيدای شو چې دغه ښار دوباره بهبود پيدا کړ نن ورځ د غزني ښار هغه ښار دي چې د کابل- کندهار د لوی واټ پر سر موقعيت لري. د ګرديز -ميدان، ارګون او نو چې لاري دلته سره يو ځای او چارراهي کې يې موقعيت پيدا کړي دي.۳

که د تير بحث تاريخي پيښو او واقعيتونو ته ور وګرزو د غزني ښار که څه هم زيات تاريخي قدامت لري څه د سوداګرانو د سوداګرۍ د مرکز په حيث او څه د بودايي آئين د مرکزيت په حيث، خو بيا هم د غزني د ښار د عظمت او ترقي عروج ډېره کمه موده رانيوله او هغه يوازې د غزنوي پاچاهانو او په تېره بيا د سلطان محمود او سلطان مسعود په زمانه کې وه.

---

۱ غزنه، در دو قرن اخير، ۱۳۵۶، ۱۵۳ مخ

۲ جغرافياي تاريخي افغانستان، ص ۲۹۶

۳ آريانا مجله، ۲ ګڼه، ۱۳۵۶، ۶۶ – ۷۰ مخونه. اسلامي دايرة المعارف، ۱۰۴۹م، ۱۰۵ مخ په حواله

په دا وروستیو وختونو یعنې په ۱۳۲۴ هجري قمري - ۱۳۲۵ هجري قمري کې کله چې امیر حبیب الله خان او ور سره ملګرو عکاسانو د هیات سره لکه رحمت الله خان، عبدالصمد خان، محمد صادق خان، او محمد رحیم خان په واسطه د غزني ښار ته لاړ او د هغه عکاسي وشوه او ځینې عکسونه یې په سراج الاخبار کې کلیشه شوي وو. د هغه د لومړني وضعیت او څرنګوالي ښه ښکارندوی دي.

په ۱۳۱۰ - ۱۳۱۱ هجري شمسي هلته یوه عسکري قشله هم په نووو نظامي اصولو او تعمیراتي سبک سره ودانه شوه او پخوا د سیاحانو او سیلانیانو د ډېرې پاملرنې وړ وه.۱



۱ غلام جیلاني، غزني در دو قرن اخیر، ص ۱۵۳

٦- ننګرهار

(د باغونو او ګلونو ښار)

ننګرهار يا ننګنهار د ګلوهار، د ميوو او ګلونو ښار ، د سمسورتيا او باغونو ښار د ورانګو او د تقدس د صفتونو ښار، د رودونو او غرونو ښار، زموږ د هېواد په لرغوني تاريخ کې له خاص تاريخي، فرهنګي، سياسي، پوځي او ستراتيژيکي اهميت څخه برخوردار ښار، چې د تاريخ په بيلابيلو مرحلو کې د هميشه د پاره له بلخه تر هنده د تجارتي کاروانونو لار، د بهرنيو سياحانو د زيارتونو محل، د پاچاهانو او امپراطورانو د پوره پاملرنې وړ سيمه پاتې شوې ده.

که د بودايي مدنيت د ستر مرکزيت له مخې (او که د کو شانشاهانو د ژمنې لاژمينې د مقام له پلوه پوره مهمه تاريخي سيمه ده د دې تر څنګه د مغولي پاچاهانو او نورو راوروسته پاچاهانو په نزد هم د پوره اهميت وړ ګرزيدلې ده چې نه يوازې د دوئ اداري مرکز بلکې په زړه پورې تفريح ځايونه او هستوګنځي هم ګرزيدلې ده.

تاريخي مدارک په محقق ډول ښيي چې د افغانستان خاوره د جغرافيايي موقعيت له مخې د نړۍ د لويې وچې (آسيا) او نورو وچو په يوه څلور لاري کې پرته ده چې د ډېرو پخوانيو زمانو راهيسې يې همدا حساس خصوصيت ساتلي دي.

تاريخي جغرافيايي نومونه او اعلامونو چې د غرونو، رودونو، ښارونو او علاقو پورې ارتباط لري

وخت په وخت د يوه هېواد جغرافيايي څرنګوالي معرفي کوي.

د «ويد» او «اوستا» له دورو څخه نيولي بيا تر يوناني، بودايي، کوشاني او اسلامي بيلابيلو دورو پورې په دغو اعلامو او نومونو کې د دې دورو خاطرې او يادګارونه باقي پاتې دي.

د افغانستان په شرقي سمت کې د کابل د سيند له چينو څخه نيولي د هغه مصب «د رودونو د تويېدنې محل» يعنې اباسين پورې يوه پراخه سيمه پرته ده چې د ويدي دورو څخه راوروسته د تاريخ په مختلفو دورو کې د ګنداهار په نوم يادېدله (۱) چې دلته په ګندهارا بحث کول او د ورده څېړنه غواړي او مونږ د اصلي موضوع له ساحې څخه لېرې باسي، د دغه ګندهارا په زړه کې يوه سيمه ده چې هغه ته ننګهار ويل کېده او اوسني ننګرهار تقريباً د جغرافيايي کم و کيف سره د افغانستان د شرقي سمت سيمې احتوا کوي.

يا په بل قول د ننګرهار حوزه چې تر اسلام نه د مخه «د نګاراهارا» يا «ناګاراهارا» په نامه ياده شوې او نن د ننګرهار په نوم يادېږي د هډې «هيليو» په شمول د لرغوني ګنداهارا زړه تشکيلوي د تاريخي اسنادو له مخې نګاراهارا د «راجه اشوك» له وخته د دوهمې قمري ميلادي نه راوروسته شهرت پيدا کړي دي.۲

بايد په صراحت سره وويل شي کومې موضوع چې په مکرره او مکرره توګه يې «نګاراهارا» د مؤرخانو د پاملرنې وړ وګرزوله او په زياته اندازه ترې په تاريخي واقعاتو او آثارو کې يادونې وشوې هغه په «نګاراهارا» کې د بودا د آئين او ګريکوبودا د صنعت ستر مرکزيت ؤ.

د نګاراهارا موقعيت:

د پورتنيو څرګندونو په تاييد او استناد د نګاراهارا يو څه مشخص موقعيت د افغانستان ختيزه سيمه د کابل د سيند له منابعو څخه بيا تر هغه ځايه چې اباسين ته په اټك کې ور توييږي، له ويدي زمانې څخه تر ډېرو پېړيو پورې په ګندهارا يادېدله او د ګندهارا په منځ کې يوه علاقه ده چې ننګرهار يې باله، دغه علاقه اوس هم په هماغه نامه مسمی ده، په يوه بل روايت د ګندهارا په مشهوره دره کې چې د کابل د ناوې د مسير سراسري برخه يې رانيولې ده نګاراهارا چې نن يې ننګرهار تلفظ کوي د هغې منځنۍ برخه يا په بل عبارت د هغه زړه تشکيلوي لکه چې د ګريکو بوديك ارت او صنعت د مدرسې پورې په ارتباط کې د ګنداهارا پېژندنه ضروري ده، همدغه شان د نګاراهارا هم يوه مهمه خبره ده.۳

هيرودت يوناني معروف ګرځندوی په خپلو ياداشتونو کې د يوه مملکت څخه د پکتيا په نامه خبرې کوي او وايي چې د دې مملکت او سيدونکي په څلورو کورنيو ويشل شوي چې يوه کورنۍ يې د

---

۱ افغانستان در پرتو تاريخ، کهزاد، ۱۳۴۶

۲ کابل مجله، ګڼه ۲، ۱۳۵۲ کال مخ ۴۳

۳ تاريخ افغانستان ج۲، ميجر بريلي، منشي احمدجان ژباړه، ۳۶۷ مخ

گندهاري په نامه مشهوره ده (چې هستوگنځي يې گندهارا دي) دغه کورنۍ تر ميلاده څلور پيړۍ د مخه په کوم محل کې چې د کونړ او کابل سيندونه سره يو ځای شوي، ميشته شولو (د جلال آباد په اوسني خوش گنبد کې)، او له جنوب څخه يې شمال خواته اقتدار او نفوذ وموند.

ښاغلي غبار د مرحوم کهزاد له قوله ليکي: چې د دوئ لومړنی هستوگنځي کونړ او اوسنی يې کامه، گوشته، باجوړ، بونير، مهابن او نورې سيمې دي چې له جنوب څخه د شمال پورې د (دوما) غرونو تر لمنو پورې رسېده.

د دوماه غر ختيز او لويديز پلو د سوات د سيندونو د سرچينو او پنجکوړې سره پروت دي داديکان (د کونړ په تاجيکو باندې چې بې استناده معرفي شوي دي) د دغه پکتيا، د پکتيانو يوه څانگه ده (۱) بابر په خپل تزک کې د لينکاو (ننگرهار) يا (نيکار) تومان ته په اشارې سره وايي چې د لغمانونو حدود پنځه تومان دي او له دې جملې څخه يې دوه بلوکه دي. چې يو يې د دره نور بلوك او بل يې د کونړ بلوك دي.

او طبيعي ده چې دا نور پنځه تومانونه يې د ننگرهار نورې سيمې رانيسي عين مطلب په يو څه صراحت سره په همدې اثر کې داسې راغلي دي:

بابر په خپل تزك کې وايي: چې د لمکاناتو د قلمرو په حدودو کې پنځه تومانونه او دوه بلوکونه شامل دي چې له دې پنځه تومانونو څخه يې يو تومان د (نيکاو) يا (نيکار) يعنې د ننگرهار تومان دي. او د دوه بلاکونه يې يو د نور درې بلوك او دوهم د کونړ د درې بلوك. ۲

بلوك د يوې سيمې چې څو کلي لري او تومان بيا تر دې لويو هستوگنځيو او کليو ته ويل کېږي.

د نگاراهارا سيمه، وسعت او څلور خواوې

په يو شمېر تاريخي مدارکو او ماخذو کې په تکرار سره د نگاراهارا موقعيت. د سيمې پراختيا او څلور خواوې ښودل شوي دي (تاريخ افغانستان ۲ ج) او (افغانستان در پرتو تاريخ) دواړه په دې باب متفقاً داسې څرگندونې لري لکه چې چيني زاير هيوان تسنگ نگاراهارا څخه ليدنه وکړه نو د دې سيمې په باره کې ليکي:

د دې اوږدوالي ۲۵۰ – ۲۶۰ لي چې تقريباً پنځوس ميله قيد شوي دي، نومورې زياتوي چې د دې علاقې څلور خواوې د لوړو او صعب العبور غرونو سلسلو احاطه کړي او پايتخت يې ۲۰ لي يعنې ۵ – ۶ ميلو په اندازه پراختيا لري، دلته پاچا موجود نه ؤ، ځکه چې دا د کاپيسا مربوط يو ولايت ؤ (۳) په يوه

---

۱ کابل مجله، ۵ گڼه، ۱۳۳۹، ۱۸ مخ د محمد گلاب ننگرهاري مقاله
۲ آريانا مجله، ۲ گڼه، ۱۳۶۲، ۲۵ مخ
۳ افغانستان در پرتو تاريخ، ج۲، ۳۶۱

بل سند کې د نګاراهارا دغه پراختيا او حدود تاييد او ليکل شوي دي:

چيني زاير هيوان تسنګ نګاراهارا (نه، ګه، لو،هو) ليکي: چې يوه سيمه ده، د لغمان جنوب ختيز کې او د ننني جلال آباد له ناحيې څخه عبارت ده، د نګاراهارا پراختيا له لويديزه تر ختيزه ۱۰۰ ميله (۶۰۰ لي) او د شمال نه جنوب ته ۲۴ ميله (۲۵۰ لي) چې (تفاوت يې يوازې په پيل کې موجود دي.)

په لويديز کې يې جګدلك، په ختيز کې يې د خيبر دره، په شمال کې يې د کابل سيند او په جنوب کې يې سپين غر پروت دي.[1]

د کابل مجلې د محمد ګلاب ننګرهاري د (ننګرهار) تر سرليك لاندې په ليکنه کې داسې راغلي دي:

هيوان تسنګ له ختيز نه لويديز ته د ننګرهار د سمې اوږدوالي ۱۲۰ ميله (۶۰۰ لي) پسور يې له شمال نه د سهيل په لور ۵۰ (۲۶۰ لي) ښودلي دي.

کونړ، لغمان په ننګرهار کې نه شمېرې او په کامه کې يې هم شك ګني.[2]

دا قول بيا هم د تيرو ارقامو سره تفاوت لري، چې دا تفاوت يې بيا هم په ميل کې څرګند دي چيني زايرين فاهيين او هيوان تسنګ د خپل مسافرت په ترڅ کې د (ناکي -لو،هو) له سيمې څخه تير شوي دي. چې د دې قلمرو له ډېرو مهمو ښارونو څخه يو هم (ناګاراهارا) دي چې د اوسني ننګرهار په شکل د هډې او جلال آباد سيمې رانيسي.[3]

سميع الله تازه به خپل اثر (ريشه هاي تاريخي و فرهنګي نورستان) کې د ننګرهار په اړوند ليکي د ننګرهار حوزه چې د اسلام نه د مخه د نګاراهارا په نوم ياده شوي او نن د ننګرهار په نوم يادېږي، د هډې (هيلو) په شمول د لرعونې ګندهارا زړه تشکيلوي، ننګرهار او هډه چې د ډيرې نژدې لارې څخه د لغمان يا لرغوني لمپاکا څخه پنځلس کيلو متره فاصله لري.

د کوشانيانو د امپراطورې په تاريخ کې د ده څلور خواوې داسې ښودل شوي دي:

- دا ښار د جنوب له خوا د سپين غره، د غرونو په سلسله د شمال له خوا د کاشموند د غرونو (د دره نور شمال ختيز ته) په سلسله چې د ننګرهار د رود (کابل سيند) هغې خواته ليرې سلسلې وجود لري چې نورستان د ننګرهار شمالي ګوښو څخه بيلوي.

- شرقاً سپين غر، د غرونو (کامديش- **Kamdesh**) د غرونو په لړۍ او آزاد سرحد.

- د لويديز له خوا د سروبي له ناوې سره متصل دي.

او د اتنو ګرافي له مخې ويلای شو چې هډه د ننګرهار سره د ګندهارا د ډېـــرو لويو مرکـــزونو

---

۱ محمد عثمان صدقي، نګاهي بر کابلشاهان، ۱۳۵۷، ص ۲۳

۲ کابل مجله، ۴۸۹ ګڼه، ۱۳۳۹، ۶ مخ

۳ تاريخ افغانستان، ج۲، ص ۳۶۱

څخه شمېرل کېږي ۱

د پورتينو څرګندونو له مخې دا موضوع پوره صراحت لري، چې د کوشانيانو په وخت کې چې کوم پورتني حدود نګاراهارا درلودل او بيا په را وروستو وختونو کې هم کونړ لغمان او شينواري د ننګرهار په تشکيل کې د لوی ننګرهار په نامه يو ولايت شو. پورتنی تاريخي سوابق لري

د ننګرهار د تسميې وجه او نګاراهارا په تاريخي اسنادو کې:

د ننګرهار کلمه تر اسلام نه د مخه ماخذ کې د لومړي ځل د پاره (ناکاراهارا - **Nakarahara**) يا (ناګاراهارا - **Nagarahara**) ليدل شوي ده.

دوه تنه چينايي سياحان (شي فاهين) او (هيوان څانګ- هيوان تسانګ) هډې او اوسني جلال آباد ته راورسيدل نو له دې سيمې څخه بحث کوي او د (ناګار) يا (نګر) په نوم يې يادوي. د ده له خبرو دا جوتيږي چې ناګار يا نګرد (نګاراهارا) يا (نګره هاره) مرکز او له مهمو ښارونو او مرکزونو څخه ؤ.

نوموړي د نګر د پراختيا له يادونې وروسته زياتوي:

دا سيمه پاچا نه لري، د کاپيسا مربوط يو ولايت ؤ، د دې سيمې دانې، حبوبات ډېر زيات حاصل ورکوي هوا يې توده، خلك يې زړه ور، خوش خويه، خوش مشربه نسبتاً بډای او په بودايي مذهب دي. د نورو اديانو منونکي پکې کم دي، بودايي معبدونه او آبدات پکې ډېر او لمانځونکي يې ګڼ دي. خو سره د دې هم له بودايي معبدونه پرته، نور لمانځونکي پکې هم تر سلو رسيږي. ۲

په دې کې شك نشته چې د (ناګار) يا (نګر) سيمه د هيوان تسنګ د يادونې له مخې هماغه د (ننګر) سيمه ده چې د (هار) د کلمې په زيادښت (لاحقې) چې د ښار معنا ورکوي. او مرکز ته يې نګاراهارا او ننګرهار وايه چې وروسته د خلکو په ذهنونو کې د ننګرهار په شکل ثبت شو ۳

د نګراهارا نوم د لومړي ځل د پاره د (راجه اوك) له وخته يعنې د دوهمې ميلادی پيړۍ . سحه. رمانې راهيسې مشهور شوي دي (د رشتين صاحب له قوله- کابل مجله. ۲ګڼه. ۱۳۵- ۴۳ مخ)

بايد وويل شي چې دا نقل قول په تکراري ډول بيا هم راوړل شوي دي

د نګارا را نوم په (پورساها) کې په تکرار سره ياد شوي دي او په هغه کتيبه کې چې د بهار څخه تر لاسه شوي يوه سيمه يې د نګاراهارا په نوم ياده کړې چې نن ورته ننګهار يا ننګرهار وايي او په سراج الاخبار کې هم په دې نوم ترې يادونه شوې ده. ۴

۱ سميع الله، تازه، ريشه هاي تاريخي و فرهنګي نورستان، ۱۳۴۷، ص ۴۳

۲ پښتو آريانا دايره المعارف، ټ ۷، ۱۳۵۵، ۱۰۹ مخ

۳ افغانستان در پرتو تاريخ، ۲۸۲ مخ

۴ نګاهي بر کابلشاهان. ص ۲۳

ننګهار «د جلال آباد وادي پخواني نوم» د بیلیو په قول د سانسکریت له ژبې یوه سوچه کلمه او د «نوبهار» یعنې» نه معبده» له لفظ څخه اخیستل شوې ده. او خلاصه دا ده چې «بروتوا» او د ده نه مخکې همقطار «مسیو ګودار» په ۱۹۲۳ میلادي له دې وادي څخه په زرګونو مجسمې کشفې کړې چې د ګریکو بودا د صنعت د عروج بیلګې ښیي او بیا هغه کیندنې چې د کوهدامن او بګرام په ناوو کې تر سره شوي دا مطلب په اثبات رسوي چې دغه آثار په ټوله معنا د ګندارا د ګریکو بودا د صنعت نماینده ګي کوي لکه چې د مخه وویل شو په ګندارا کې د مجسمې د جوړولو مکتب د دې بې شمېرو آثارو مخزن شمېرل کیږي. ۱

د حیات افغاني په قول د ننګهار یا ننګرهار د تسمیې وجه د «نوبهار» یعنې «نهو نهرونو» یا «نهه درو» څخه اخیستل شوي دي او د«نونهار» کلمه د زیات استعمال په وجه او د پښتو ژبې د غلط استعمال په سبب په ننګهار مشهور شو. ۲ په لسمه پیړۍ کې دې ښار ته «ننګهار» ویل کېده چې پخواني نوم ې نګارارا یا نګاراهارا دي «واترز» ګومان کوي چې «نګارا» یا «نګرکوت» چې البیروني ترې یادونه کړې ده او د کابلشاهانو شجره پکې ده. خو البیروني و نه شو کولای چې هغه وګوري نو دا ده چې د «نګارا» د نګرکوت سره یو و نه ګڼل شي. حال دا چې «ننګرکوت یا لنګر کنډ» په نګاراهارا کې نه، بلکې په چغسرای کې د ننګر ښار په نوم موجود ؤ او پورتنۍ ادعا سمه ده.

که محلي افسانو ته وکتل شي نو خلك وايي چې «ننګر» په کونړ کې د یو باچا نوم و، په پخوا زمانو کې دوه ورونه وو، یو پکل «پګهل» نومیده او بل «ننګر» نومیده، اغلباً دا دواړه شهزاده ګان «شادري» چې د معلوماتو له قراره په چغسرای کې یې د چغان غونډۍ په لمنه کې چې اوس یې د پېچ د درې په خوله کې آثار لیدل کیږي. د پلار، واکوالۍ «حکومت» مرکز ؤ او د «ننګر کنډ» په نوم یادیده کوم وخت چې د واکوالۍ وار دوئ ته راورسید، ننګر له پګهل څخه خپه شو او «ناکي» ته راغی او هلته یې د ځان پاره د حکومت مرکز جوړ کړ، وروسته بیا دغه مرکز چې ښار به ؤ او د ننګرهار په نامه «د ده پخواني ښار ننګرښار» ننګرهار وباله شو.

د هار کلمه د ودانۍ او ښار په معنا د نورو پخوانیو کلمو سره یو ځای شوی لیدل کیږي لکه کندهار، چیلهار او نور. ننګرهار چې اغلباً په لومړي سر کې د ښار نوم به ؤ وروسته د علاقې او ورپسې د یوې سیمې نوم وګرزید. د سلطان پګهل او ننګر «په نامه په خلکو کې» تر اوسه حکایات او روایات شته دي، چې زموږ لیکوالو په دې باب په کالنیو او مجلو کې لیکنې کړې دي.

په یوه بل تاریخي سند کې پورتنۍ افسانه په تاییدي شکل داسې راغلې ده:

---

۱ غبار، جغرافیای تاریخي افغانستان، ۱۳۶۸، ص۵۲

۲ محمد حیات خان، حیات افغاني، ۳۸ مخ

که چېرته هغه فولکلوري کيسې ته چې د کونړ په دره کې او د چغسراى په سيمه کې د خلکو له خاطراتو څخه هيره شوې نه ده غوږ ونيسو داسې وايي:

يو پاچا د ننگرشاه په نوم يعنې د ننگر د سيمې شاه اوس هم د عامو خلکو د ژبو پر سر دي نو له همدې کبله د ننگرهار د تسميې د تاريخي مؤخذ څخه عامه فرهنگ ته ور دخيل شوي او عامه فرهنگ ته د يوې کلمې ور داخليدل د هغې کلمې د معنا د پوخوالي او ژورتيا منتهي ښيي.

د ننگر مرکز يو ښار ؤ چې هغه ته يې (ننگرښار) يا (ننگرشار) وايه چې ننگرهار بيا د ننگرشار معادل دي او د دغه ننگرهار مرکز يو لوى ښار ؤ چې پراخه ساحه يې درلوده.[1]

ښاغلي سميع الله تازه هم پورتنۍ محلي کيسه په يوه بل شکل داسې وړاندې کوي:

که چېرته پورتنيو قولونو ته مراجعه وشي نو دا نتيجه ترې اخيستل کيږي چې د ننگرهار تسميه د هډې يا نگاراهارا، د نپور او يا د نورو ښارونو په نسبت دومره تاريخي قدامت نه لري او د دې سيمې تاريخي سابقه هغه وخت را شروع کيږي چې د کونړ د چغسراى څخه ننگرشاه لکه چې د مخه په محلي کيسو کې يې نقل وشو د دې سيمې د (ناکي) ښار ته راغى او د خپل حکومت مرکز په توگه يې وټاکه او کله چې يې ورور پگهل په کونړ کې مړ شو نو ده لغمان او پيښور ونيو، خپل حکومت ته يې پراختيا ورکړه. دلته کوم اداري مرکز نه ؤ او نه کوم پاچا ځکه چې دا سيمه د بگرام، کاپيسا پورې تړلې وه، مگر په همدې وخت کې ننگرشار (چغسراى) مستقله واکمنى درلوده او پاچا موجود و، او د ننگرهار په نسبت يې شهرت او مرکزيت زيات اهميت درلود.[2]

زه دلته د پورتنى نقل د څو شکلونو د سم او واقعي شکل وړاندې کول نه غواړم ځکه چې د چغسراى د معرفي په لړ کې به په دې باب زما نظريه وړاندې شي، خو دلته دا تصحيح ضروري بريښي چې وويل شي او هغه د سلطان پگهل او ننگرشاه تر منځه اړيکي دي او محترم عبد الخالق اخلاص په دې هکله ليکي:

اصلاً د ننگر د سيمې پاچا ننگرشاه ؤ چې بودايي مذهبي ؤ. وروسته مغولي دوو شهزاده گانو سلطان پگهل او بهرامشاه د ده په ښار حمله وکړه او د ده د لور چې (بې نظير) نوميده، د نوموړو شهزاده گانو سره د مراودې له لارې او تعهد له مخې د پلار سره خيانت وکړ او د ښار د نيولو حکمت يعنې د زير زميني د (غار) هغه خوله يې ورته وښودله چې د اسمار سيند ته ور وتلې او ټول اکمالات يې ترې کيدل. تر څو چې پر ننگرشاه غالب شول او ښار يې ورځنى ونيو، ډېر قتل و قتال يې وکړ حتى نوموړې شهزاده

[1] افغانستان در پرتو تاريخ، ص ۲۸۲
[2] ريشه هاي تاريخي و فرهنگي نورستان، ص ۶۳

ګي يې په پوره رسوايي او قبيحانه ډول ووژله.۱

خو په دې روايت کې دا موضوع نه ده تصريح شوي چې د مغولي فاتحو شهزاده ګانو له خوا په دغه عام قتل کې د ننګرشاه سرنوشت څنګه شو؟ په دې باب د پورتينو نقلونو د متونو څخه په حدس وهلو ممکن ننګرشاه له هغې پيښې نجات موندلي او ناکي ته يې پناه راوړي وي او بيا کله چې چغتايي شهزاده ګانو په کونړ کې د وچکالي په وجه ننګرشار چې دوئ په چغان سراى مسمى کړ چترال ته لاړل او هلته د چترال د مهترانو د سلسلې سره شول، نو دا وخت ننګرشاه د دې فرصت تر لاسه کړ چې په ناکي کې خپله واکمنى ټينګه او پراختيا ورته ورکړي.

د دې اوږده بحث چې په محلي کيسو ولاړ ؤ مطلب دا دي چې د ننګرهار د نوم د تسميې وجه د نورو ژبپوهنې او تاريخي ريښو تر څنګه د دغسې رواياتو څخه هم راپيدا شوي او منطقي مدلل توب هم لري.

ښاغلي صديق الله رښتين د ننګرهار د تسميې د وجه په باب د ژبپوهنې له مخې ليکي:

«هار» په پښتو کې چې يوه اريايي ژبه ده او د سانسکريت سره ډېر نژديوالى لري دا «هار» د ډېروالي او زياتوالي په معنا زيات رواج لري لکه چغهار، غرهار، شرهار او داسې نورو کلمو کې له دې امله ننګرهار ته د لفظ د ترجمې په اساس د ښارونو مجتمع ويلاى شو. برسېره پر دې د هار کلمه له «زار او سار» سره د ترادف په لحاظ هم د زياتوالي معنا ورکوي، په هند او سند کې د «هـ» بدلون په «س» او همدارنګه «سار» په زار د «س» په بدلون په «ز» سره واضح او د تردد نه ليرې دي نوموړي په بله برخه کې داسې توجيه وړاندې کوي.

د «هارا» کلمه د «وارا» سره مترادفه ده، په پښتو کې د «هـ» بدلون په «واو» سره معمول دي لکه «لاهو» «لاوو» او «وارا» چې د ټينګ او محکم ځاى نوم دي چې «ياما» پاچا په بلخ کې ودان کړي ؤ.

له دې ځيرنې څخه «واړا» هم په وزيرستان کې د دقت وړ خبره ده.

په نګاراهارا کې د «نګار» سابقه د فارسي د «نګار» سره ارتباط لري، له دې کبله د دې کلمې ريښې په پښتو او فارسي کې شته ځکه چې دواړه اريايي ژبې دي او په ډېرو ځايونو کې سره ګډون لري. د نګار چې معنا يې سينګار، نقش، تصوير، بت او معشوقه ده هم د «نږور» انځور کلمې چې لومړي يې د بت په څير ښکل کيږي او وروستي د نقش په معنا دي د نګار کلمې ته نژدې او ورته دي.

څه رنګه چې ننګرهار د بوديزم له خپريدونه راوروسته د ارت اوښکلو هنرونو مرکز شو او پردې بر علاوه د هډې ښار د هغه مدنيت د ښکلو هنرونو په موزيم بدل شو، ليرې نه ده چې د نګاراهارا نوم په دې دلالت کوي چې د ښکلو صنعتونو او مجسمو د ساتونکي په حيث اينبودل شوي دي چې په دې ډول يې معنا داسې نګارستان سره مترادفه ده.

---

۱ کابل مجله، ۱۳۱۸، ۹۱ - ۹۴ مخونه

د «نګین» کلمه هم د ښکلیتوب افاده کوي او اصلي ماده یې په سانسکریت کې «نګ» په خاص ډول تر نظر ونیول شي.

ځینې مؤرخین او لرغون پیژندونکي ننګرهار «انه معبدونه» ښیي.

او که دا کلمه له «نوګار» څخه راوتلي دي هغه هم د «نهو غرونو» معنا ورکوي ځکه چې نهه رودونه د ځان سره نهه غرونه هم لري.[1]

ښاغلي پوهاند رښتین په دې څېړنه کې د کونړ د ننګر پاچا کیسه هم په تاییدي او عین محتوا را نقل کړې ده.

باید وویل شي چې د بودایي مدنیت او فرهنګ نه د مخه د ننګرهار د ښار نوم معلوم نه دي او یوازې په حدود العالم کې د ګنداهارا په نوم د افغانستان په یو لوی ولایت کې ننګرهار شامل کیږي حدود العالم دي سیمې ته «بینهار» وایي او د ښارونو په ۵۰ فقره کې لیکي:

"نینهار جائیست، بادشاه او مسلماني نمایدو زن بسیار دارد. از مسلمانان و از هندوستان بیش از سي و دیگر مردم بت پرستند و اندروی سه بت است بزرگ. ص۳۹۹"

مګر په حدود العالم باندې د مینورسکي د حواشي په ۹۴ مخ کې د نینهار ښار ته داسې توضیح ورکړ شوې ده:

په «نینهار» ښه تلفظ شوي دي او هغه ځای دي چې «ننهار» د لغمان د رود وروستنۍ برخې په شمالي څنډه کې پروت دي. دا نوم بې له شکه د جلال اباد پورې تعلق لري نوموړي د «ماك کریګور» د یادونې په حواله وایي هغه سیمه چې د جلال آباد د نایب الحکومه تر قیادت لاندې ده دا د کابل د سیند ناوه ده، ننګهار په پښتو ژبه «نه روده» او یا نهه رودګي دي. او په هغه ناوه دا نوم اطلاقیږي چې دا رودګي ترې تیریږي.

په بابرنامه کې «المنسکي» «۱۶۱» مخ ننګنهار او ډېر سم یې ننګرهار راغلي دي.

او د یوه اثر له قوله په نینهار کې درې بته د لیکونکي نظر تاییدوي.

د نګاراهارا ښارونه او رودونه

۱- اویا ناپور «د باغستان ښار»: او یا ناپور چې د باغستان ښار ورته وایي د نګاراهارا د سیمې یو ښار دي او د باغستان ښار یې توصیفي نوم دي او د باغونو په ښار باندې هم یاد شوي دي او پوره یقیني ده چې دا ښار د ګلونو سیمه ده.

۲- ناکي «ناقي» ښار: د نګاراهارا یو بل ښار په پخواني ماخذ کې د «ناکي» په نوم یاد شوي دي چې موقعیت یې ځینې مدققین د ناقي په شیئه کې لږ څه د اوسني جلال آباد لویدیز ته ښیي او ویل کیږي

[1] کابل مجله، لومړی ګڼه ۱۳۳۹، مخونه ۷ - ۹

چې د ناکي په نامه د دغه ښار نوم (شيله ناکي) تر اوسه پورې ساتلي دي.

ناکي هغه خوړ دي چې د جلال آباد د احاطې په لويديز کې د سپين غره څخه د کابل سيند ته راوتلي دي او د بابرو علاقه له ژيړانو او بختان (پښتان) له کليو څخه جلا کوي.

۳- د (پاوماپور) ښار (د نيلوفر د ګلانو ښار): که څه هم دا ښار په مؤخذ کې د ناکي د معرفي په ترڅ کې او پادماپور ښودل شوي دي او تقريباً همدا د ناکي ښار به وي خو په تشريحي ډول د دې ښار معرفي يو څه جلا بيلګې لري نو ممکن همدا د ناکي ښار دي او يا ممکن بل ښار وي. خو که د ننګاراهارا جلا ښار يې وبولو نو د ده په باب داسې معلومات وړاندې شوي دي:

(پاوماپور) ښار ته د (نيلوفر د ګلانو ښار) نوم ورکول شوي دي.

نيلوفر په بودايي کلتور کې د تقدس جنبه لري، نو دغه ښار ته د تبرک د ښار په سترګه کتل کيږي ځينو چيناي مؤخذونو دغه ښار د ګلانو د ښار په نامه ستايلي دي. چې تلفظ يې (هو، شي،شنګ) دي، داسې معلوميږي چې د ګلانو ښار يا د نيلوفر د ګلونو ښار د دغه ښار توصيفي نومونه دي چې دې ښار ورباندې شهرت موندلي دي.[1]

ناکي يا پاوماپور هغه ښار دي چې ننګرشاه ورته له کونړه مهاجرت وکړ او دلته يې د جلا واکمنۍ بنسټ کيښود.

۴- د وي پانکارا پور ښار: دا ښار په بودايي مؤخذونو کې چې موقعيت يې په ننګاراهارا کې ښودل شوي دي، د (ويپانکارابودا) په نوم هم يادې شوي چې هغه ته (دي پاواتي) هم وايي او معنا يې شعله، وړانګه او نور دي.[2]

په يو بل روايت د (وي پانکارا بودا) ښار چې پورتنۍ معنا افاده کوي د (ژند) يا (زند) او (ماتمازرتشت) تقدس لري[3] او دا په دې دلالت کوي چې دې ښار مذهبي بڼه درلوده د پورتنيو ښارونو تر څنګه د يو شمېر نورو ښارونو لکه (درون ته) (درونته)، سلطان پور، هډه (هيلو) سرخرود (دنپور)، چيلپار (چپلهار) څخه هم يادونه شوې ده.

لکه چې د دې ښارونو او بودايي مرکزونو په متعلق داسې اشارات وړاندې شوي دي.

د ننګرهار سيمه چې د خپل مرکز (ننګرهار) د (ايراشهر) يعنې خدايي ښار په شکل يې زيات شهرت درلود او د افغانستان شرقي ولايت يې رانيوه او هغه سيمه ده چې په دغه ښار کې متعدد ښارونه موجود وو. او د هر ښار وداني يو بودايي مرکز ؤ.

داستوپو او معبدونو له نقطه نظره يې زيات شهرت درلود. او هر يوې په ښکلو او مجللو صفتونو

---

[1] افغانستان در پرتو تاريخ، ۲۸۲ مخ

[2] همدغه اثر، ۲۸۲ مخ

يادېده چې په (درون ته)، سلطان پور، هډه، د سرخرود او چپلهار او په نورو علاقو کې د معبدونو د خرابو زيات موجوديت، پورتنۍ ادعا ثبوت دي.[1]

۵- هډه (هيليو): کومه موضوع چې د ننګرهار تاريخي سابقې ته خاص اهميت ورکړي دي هغه هم په هده کې د بودايي مذهب د مرکزيت تشکيليدل او د ګريکو بودا د صنعت پراخيدل دي.

که د هډې لغوي معنا وڅيړل شي نو هډه د هډ څخه جوړه شوي کلمه ده چې اوس هم په پښتو کې هډ - هډوکي يعنې استخوان په معنا دي. دغه ځای په هډه ځکه شهرت لري چې وايي دلته د بودا د کوپړۍ هډوکي ساتل شوي ؤ.

چينايي زايرينو د هډې څخه ليدنې او کتنې کړي او هغه يې (هيليو) او (نارهيلو) بللې ده لکه چې وايي:

د ننګهار د لويو او مشهورو ښارونو څخه يو هم هډه ده. چې چيني زاير هېوان تسنګ د اومې پيړۍ په لومړي نيمايي کې هغه په نارهيلو ياده کړې ده.

کنګهم انګليسي عالم په دې خيال ؤ چې د هډې اوسني نوم د سانسکريت له کلمې څخه اخيستل شوي دي چې هډې ته هډونکي وايي، دا ځکه چې د بودا د کوپړۍ (جمجمه) هډوکي د هغه ښار په يوه استوپه کې په امانتي ډول اېښودل شوي دي.[2]

د همدې اثر په يوه برخه کې لکه چې د مخه ترې د نګاراهارا د ښارونو په بحث کې يادونه وشوه د بودايي مرکزونو څخه يو هم هډه ده.

ښاغلي محمد اسحق ابراهيمي د خپل اثر (مراکز مهم آئين بودايي در افغانستان) کې د هډې په باب مفصلاً بحث کړي دي چې لنډيز يې دلته وړاندې کيږي.

هډه په افغانستان کې د بودايي آئين د ډېرو مهمو مرکزونو څخه يو لوی مرکز دي چې په خپل نوع کې د افغانستان ډېر ستر او ډېر مهم معبدونه دلته وجود لري. چې د تاريخي سختو چپاولګريو او تندو بادونو او د آفتناکو حوادثو با وجود چې تر اومې پيړۍ پورې پر نګارهارا باندې تير شول بيا هم د هډې بودايي معبدونو دومره زيان و نه ليده لکه چې فاهيان په پنځمه ميلادي پيړۍ کې او هيوان تسنګ په اومه ميلادي پيړۍ کې افغانستان ته سفر کړي ؤ. او د نورو بودايي مرکزونو څخه يې د کتنې په ترځ کې د نګاراهارا په سيمه کې د هډې څخه هم ليدنه کړې او په دې باب يې خپل مشاهدات ليکلي دي.

د ده له کتنو او يادداشتونو څخه جوتيږي چې يو وخت هډه چې نوموړي ليدلې وه د افغانستان د بودايي آئين د بهترينو مرکزونو څخه شمېرل کيدله لکه چې ليکي:

---

[1] افغانستان در پرتو تاريخ، ص ۲۸۱

[2] همدغه اثر

د دې ځای زيات شمېر روحانيون او زايرين له منځه تللي، ستوپې او کنډري يې په متروك شکل باقي پاتې دي. خو د دې سره بيا هم د هډې ځينې معبدونه له آفتونو څخه په امان پاتې دي (هنر قديم افغانستان ۷۴ مخ په حوال) که څه هم د تاريخ پوهانو مطالعات او ليکنې په تيره بيا د اسلام د مبين دين راهيسې د هډې بودايي تاسسات تر ډېرو کلونو پورې د خاورينو ډېر يو لاندې پراته وو، خو په دې راوروسته کلونو کې د کورنيو او بهرنيو پوهانو د علمي او لرغون پيژندنې پلټنو او څېړنو په ترڅ کې چې په هډې کې تر سره شول، هډه د يوه تاريخي موزيم او د ګريکو بوديزم د هنري آثارو د مهم مرکز په توګه راڅرګند شو او د لرغوني جهان هنري شهکارونه په دې ښکلي او تاريخي هنري موزيم کې د پوهانو او څېړونکو د استفادې د پاره کېښودل شول. ۱

د هډې په نوو کيندنو کې يو زيات شمېر بيلابيل مسکوکات او کتيبې شاملې دي چې د باختر د مسکوکاتو په نوم هم نومول شوي دي.

يو سياح (مارتن برګر) د هډې څخه د کتنې پر مهال ديرش دانې سکې له دې حوزې څخه راټولې کړې وې، ځينې يې يوناني او طلايي ډوله وې.

د هډې له ۱۰ نمبر ستوپې څخه يو شمېر نورې مختلفې سکې کشفې شوې چې څلور سکې يې د (بيزانس) د دورې پورې او نورې يې (تيودوسو) (۴۰۵ – ۴۵۰)، ريالو (۴۵۰ – ۷۵۷، اوليو (۴۵۷ – ۴۷۴) پورې تعلق درلود.

نژدې ۱۹۰ دانې سکې يې چې د کوم ساساني پاچا پورې مربوط وې، د يوې بلې ستوپې څخه په ۱۸۷۹ ميلادي کشف شوې سيمو سيون يو شمېر مسکوکات د تبرکاتو له قطي نه تر لاسه کړل، ۱۰ دانې کدفيزيوس او ۶ دانې د کنيشکا پورې مربوطې دي. د يوې سکې پر مخ باندې د بودا شکل د يوناني ليکنې سره سم مجسم کيږي.

د سيمو سيون (۱۸۷۹) ميلادي د څرګندونې له مخې يوه دانه شايد (هولشکا) پورې مربوط وي او درې دانې رومي سکې هم تر لاسه شوې.

د ..شه) د ليکنې له مخې په هډه کې يو لوښې کشف شوي دي چې اطراف يې خروشتي رسم الخط درلود

د هډې د نوي مرحلې په کيندنو کې د بودا لوړنۍ مجسمه (د ګريکو بوديك د هنر مربوط) هم لاس ته راغلې ده.

..يا په را وروسته کيندنو کې چې د بهرنيو او کورنيو پوهانو له خوا (۱۹۶۶ ميلادي - ۱۹۶۷ ميلادي) په شتر تپه کې تر سره شوې په هډه کې يو نوي عمراني ستوکي او د اومو خښتو تر نيمايي طرز

..د اسحق. ابراهيمي، مراکز مهم آئين بودايي در افغانستان، ص۴

او د مسکوکاتو يوه خزانه کشف شوه. ۱

د لرغون پيژندونکو او پوهانو له خوا په هډه کې د بيلابيلو مرحلو د کيندنو نتيجې ډيرې ګټورې او ډيرزيات تاريخي آثار چې د ګريکو بوديك د ارت پورې يې اړه درلوده ترلاسه شوه چې په دې ګرد و بحث کول د دې ليکنې اصلي موضوع نه ده او صرف نظر ترې کيږي.

لنډه دا چې هډه بودايي مدنيت (ګريکو بوديك هنر) له مهم او لوی مرکزيت سربېره د کوشانيانو په دوره کې د اداري مرکز ګرزيدلی ؤ لکه چې د کوشانشاهانو د ژمنيو پلازمينو په جمله کې، د پيښور او د هغه د متعلق بګرام او د تاکسيلا غوندې دا هم د هغوئ يو مهم ژمني پايتخت ؤ.

۶- د نيپور (د نيبور). د نيپور د ننګرهار يوه سمسوره سيمه ده چې د محمد ظهير الدين بابر په زمانه کې يې زيات شهرت درلود.

په ځينو روايتونو کې راغلي دي چې لغمان يو بل مرکز درلود، چې بابري تزك او يا مغولي دورې شاهي مؤخذ هغه په ادينه پور ياد کړي دي. او دا چې ځينې دينپور په لغمان کې واقع بولي سمه نه ده. دا ځکه چې پخپله بابر په خپل تزك کې دغه اشتباه داسې رفع کوي او وايي:

په جنوب کې مې په يوه لوړ ځای کې د يوې کلا تاداو کيښود (۹۱۴ هجري قمري) او دا ځای چارباغ ؤ او هغه مې د باغ وفا په نوم ياد کړ. څرنګه په لغمان کې هم چارباغ شته دي نو خلکو ګومان کاوه چې باغ وفا دلته جوړ شوي دي. او د دې باغ په انتساب ادينه پور هم په لغمان کې پروت دي حال دا چې د لغمان چارباغ څخه پرته يو بل چارباغ په سرخرود کې هم شته دي.

د نيپور حتی د بابر د عصر نه د مخه يوازې دا روغه شان (هر صنف او ډله د کلي د دلباشي څخه لويه، پخوا د ښار سردسته او د ساتونکو مشر، فرهنګ عميد ص۴۸۰) نه بلکې د ټول ننګرهار د ښار د ساتونکي او د محل رييس ؤ، چې لغمان او جلال آباد دواړه يې احتوا کول. لکه څنګه چې جلال آباد د مشرقي ولايت مرکز او لغمان د هغه د مربوطاتو څخه دي له ۴۰۰ کلونو څخه زيات وړاندې دينبور د ننګرهار په زړه کې د يوه مرکز حيثيت درلود.

د دينبور موقعيت موسيو فوشه په خپله جغرافيايي نقشه (ج۱ – ص۳۱) کې له بلخه تر تکسيلا پورې په اثر کې د (نملې) شمالي ته او يا د نملی او سلطان پور تر منځه د سرخرود، د رود خانې په غاړه ښودلي دي او د بابري تزك نص هم دا نظريه تاييدوي. ځکه هلته دا خبره تصريح شوې ده، که چارباغ يا باغ وفا د رود خانې په غاړه پراته وو. او رود خانه د ادينه د کلا او مانۍ تر منځه چې خامخا په نوموړي باغ کې ودان شوي ؤ بهيده او دا رود خانه سرخرود دي (يعنې سرخرود د ادينه د کلا او باغ په منځ کې تير شوي ؤ) ادينه پور په شمالي غاړو او باغ (وفا چارباغ) د هغه په جنوبي غاړه کې پروت ؤ.

---

۱ مراکز مهم بودايي در افغانستان، له ۴۹ مخ نه د مخه

د باغ وفا موقعيت اوس باغباني يا باغواني تاکلای شو. ځينې نورو تصور کړي دي که باغ وفا د سرخرود په چارباغ کې واقع دي نو باغ صفا چې هغه هم د بابر د لاس طرح ده په لغمان کې به وي او دا محضې اشتباه ده ځکه چې د آئين اکبري په ۱۹۲ مخ کې بيخي څرګنده ده چې وايي د جلال آباد په نزد کې باغ صفا يو فردوس مکان يادګار دي ادينه پور ته نژدې باغ صفا هم د هغه آګاه باچا له اثارو څخه دي.

د سرخرود په چارباغ کې د باغ وفا موقعيت چې د بابر د مسافرتونو د يوه منزل له مخې د کابل څخه د هند په لور هم ثابتيدلای شي.[1]

خو د حدود العالم د تعليقاتو او حواشي ۵۵ فقره چې د نبور ته وقف شوې ده داسې څرګندونې لري دينور د (بيروزه) په مقابل کې د رود په غاړه پروت دي او په دې کې د ټول خراسان د سوداګرانو ځای دي او پکې بتخانې دي او په دې دواړه ښارونو کې مسلمانان سوداګر اوسيږي او دا دواړه ښارونه ودان او له نعمتونو څخه ډک دي.[2]

د نيوريا دنپور د لغمان په مقابل کې پروت دي. په دې توګه د هغه د موقعيت محل د کابل د رود ښي خواته دي، په شاهنامه کې دا نوم د (دنير) په شکل راغلي دي.

دنبور د شرقي طول البلد ۲۵ دقيقو او ۹۶ درجو او شمالي عرض البلد ۴۵ دقيقو او ۳۳ درجو په منځ کې واقع دي.

په هر حال دنبور بايد دينپوروي چې په بابرنامه کې د (لمنسکی چاپ ۱۶۱ مخ کې د ياد شوي شکل سره مطابقت لري.

د دې د پاره چې موضوع ښه څرګنده شوي وي. دلته د ميرمن بيورج د ژباړنې هغه برخه چې دا ادينپور په متعلق ده را نقل کيږي.

د کابل هېواد ختيز ته لمغانات پراته دي، تر ده لوی (يا په عامه اصطلاح) ننګنهار دي د ده دا روغه په ادينه پور کې هستوګنه لري، ادينپور ۱۳ فرسخه له کابل نه ختيز ته په فاصل کې پروت دي. دا فاصله د البيروني (راهنامه هند ص۱۰۱) هم تاييدوي له ويهنده تر پيبنوره ۱۴ فرسخه له هغه ځايه تر دنپور ۱۵ فرسخه او له هغه ځايه تر کابله ۱۲ فرسخه او له هغه ځايه تر غزني ۱۷ فرسخه فاصله ده.

د ادينه پور (دنيپور) لاره ډېره خرابهٔ ده. سرخرود (د سور رود چې او به يې سرې دي) د ادينه پور له جنوب څخه تيريږي په يوه لوړ ځای کې يې کلا بنا شوې ده او د (۴۰ – ۵۰) قاري مسافې ۱۳۰۰ فټو په اندازه مخامخ مخ ځوړې لري، دا کلا له هغه غره نه چې شمال ته پروت دي ليرې ده. دا غر د ننګنهار او لغمان تر منځه غر دی.

---

۱ از سروبي تا اسمار، کهزاد

۲ حدود العالم، حواشي و تعليقات، ۳۷۹ او افغانستان در پرتو تاريخ، ص۲۸۱

په نتیجه کې د نیپور لکه چې ورته اشاره وشوه د سره رود شمال ته واقع دي.

سرخرود د کابل د سیند د ښي خوا څانګه ده او د دې رودخانې په ښکتنۍ برخه کې د باران له دهانې څخه ۵۴ د پاسه او ښه د پاسه له جلال آباد سره یو ځای کیږي د نیپور او نیمور هماغه د سانسکریت ادینه پور دی او دا کلمه زیاتره په (دنپور) تلفظ کیږي. (۱) زموږ خبره تاییدوي او د دنپور ضبط ښیخي سم دي او ادینه پور ناسم دي.

محترم استاد پوهاند رشاد هم پورتنۍ نظریه تاییدوي.

۷- جلال آباد: د ننګرهار په متعلق په تاریخي اسنادو کې همیشه د نګاراهارا د یوې سیمې د دنپور په نوم یادونه شوې ده چې دا لوستونکو ته فکر پیدا کوي چې ګوندي د دینه به مراد د جلال آباد ښار وي حال دا چې د دنپور په باب تیر بحث ښیخي څرګنده کړه چې دنپور د جلال اباد ښار نه، بلکې یو جلا ښار دي چې د مخه پرې بحث وشو.

د موضوع په تیر بحث کې دا هم وښودل شوه چې نګاراهارا د یو شمیر ښارګوټو مجتمع ده او که د جلال آباد اوسني موقعیت وکتل شي نو څرګندیږي که چېرته هډه نه وای نو بې له شکه به له همدې ښاره تاریخي یادونې شوي وای او یا د هغو ښارونو څخه چې نګاراهارا ته منسوب وو. خو خبره دا ده چې په هغه وخت کې د جلال اباد ښار هیڅ موجود نه ؤ او ډیر وروسته تاسیس شو او چې کله دا ښار رامنځ ته شو او عمومیت یې پیدا کړ نو په تاریخي اسنادو کې یې هم یادونې راغلي لکه چې وایي:

د ننګرهار د مهمو ښارونو څخه یو هم جلال آباد دي. دا ښار د هغې لارې پر سر واقع دي چې له کابل څخه هند ته ځي. د ګندهار د (مشرقي سمت) د ولایت مرکز دي.

د بحر له سطحې څخه ۱۹۵۰ متره ارتفاع لري، د کابل د سیند د جنوب غرب په یوه جلګه کې پروت دي د کابل له ښاره ۹۶/ ۱۴۰ کیلو متره میله مسافه لري.

د جلال آباد ښار یو هغسې ښار دي چې د باغونو او عمارتونو له پلوه شهرت لري او د دې باغونو او عمارتونو د جوړولو کار له پخوا زمانې څخه یوه عنعنه ګرزیدلې ده. وایي چې د لومړي ځل د پاره په دې محل کې د ښار جوړولو مفکوره د بابر سره پیدا شوه (۸۵۴ هجري قمري) دا ده چې د یوه ښار د جوړولو د پاره یې دا ځای انتخاب کړ، مګر ویې نه کړای شو چې ودانۍ پکې تاسیس کړي او یوازې ځینې باغونه یې پکې جوړ کړل.

مګر تر دې وروسته جلال الدین اکبر (۹۶۳ هجري قمري/ ۱۵۶۰ میلادي) د دې ښار بنسټ کیښود.

د جلال آباد جلګه تقریباً د ۸۰ میلو په اوږدوالي او ۳۵ میلو په پسور پراختیا درلودله او په دې وخت کې د کابل سیند شمال ته د لغمان او د کابل رود په جنوب کې د ننګنهار په شمول ساحه پرته ده.

۱ حدود العالم، ص ۹۳

دا ښار د لغمان او کونړ د ناوو په مدخل کې پروت دي.

د امیر حبیب الله خان د سلطنت په دوره کې د دې ښار سمسورتیا او ودانۍ ډېرې زیاتې شوې او د باغونو او عمارتونو یو ښار شو. خو بدبختانه د ۱۳۰۸ هجري شمسي د کورنۍ اړو دوړ په نتیجه کې چې د شاه امان الله په خلاف رامنځ ته شو دا ښکلي ښار پخپله د افغاني باغیانو او باغیانو له خوا سوزول شوي او وران شو.۱

په یوه بل اثر کې تقریباً په مشابهت سره د دې ښار په باب داسې یادونې شوي دي:

جلال آباد د بابر پاچا له خوا تاسیس شوي دي خو د جلال آباد د نوم د انتساب له مخې دا خبره سمه نه ده، مګر اوسني جلال آباد د هند د مغولي پاچا جلال الدین اکبر په زمانه کې ودان او د جلال الدین د نوم په ارتباط وربانديې د جلال آباد یعنې د جلال کوټ نوم وربانديې کېښود. خو دې وروستنۍ نومونې دومره رواج پیدا نه کړ.

نګاراهارا ښار د یوې پخې کلا په حیث:

د ځینو مؤرخانو په عقیده چې وایي (نګار) یوه مستحکمه کلا وه، کومه چې د حکمران قرارګاه شمېرل کېږي چې د کاپیسا د پاچا له خوا ټاکل کېده (تاریخ افغانستان، ټ۲، ۳۶۲ مخ). خو پورتني موضوع په یوه بل روایت کې بیا داسې تصریح شوې ده.

د (نا-کا-لوهو) کلیمه نوم کېښودل شو (۱۵۰۷ میلادي)

دې ښار په ۱۸۳۴ میلادي د افغان-انګلیس په لومړنۍ جګړه کې صدمه ولیدله او ورپسې په ۱۸۴۲ میلادي د یوې کلکې زلزلې له امله ورته سخت زیان ورسید او تر نیمایي زیاتره برخه یې ویجاړه شوه او بیا په ۱۳۰۷ هجري شمسي د کورني اړو دوړ (په تیر روایت ۱۳۰۸) له کبله د هغې ځینې عصري ودانۍ او باغونه وسوزول شول.۲

او بیا وروسته کله چې محمد ګل مومند د مشرقي د سمت تنظیمه رییس ؤ د جلال آباد د نوم پر ځای یې د جلال کوټ نوم کېښود چیني زایرین دا نوم داسې تجزیه کوي:

(ناکار) یعنې (ناګار) (نچه) (لوهو) یعنې کوټ او قلعه چې جمله معنا یې مستحکمه کلا کېږي او له دې څخه (ناګ کوټ یا نګر کوټ جوړېږي.

او البیروني هم د کابلشاهي په سلسله کې د نګر کوټي یادونه کړې ده. خو د ځینو په قول دا یادونه وارد نه ده (پورتنی اثر، ۳۶۳ مخ). او که تیرو محلي کیسو ته ور وګرزو نو نګر کوټ هم سم دي چې هماغه ننګرکوټ افاده کولای شي.

---

۱ آریانا مجله، ۶ ګڼه، ۱۳۲۳، ۴۳ مخ

۲ پښتو آریانا دایره المعارف، ۵ ټ، ۱۳۵۴، ۳۹۰ - ۳۹۱ مخونه

د نگريا نگار د کلمو په متعلق هم يو لړ نظر يې وړاندې شوي دي، ځينو هغه محضي ښار ترجمه کړي او ځينو په هغې کې د (نگ) يا (نگ) کلمې تر کتنې لاندې نيولي دي چې د سانسکريت له (ناگا) څخه راوتلي ده او د لمر، مار، غر او فيل معناوې لري.[1]

او که دغه اصطلاح دلته مهمه وبلل شي نو نگاراهارا هم د لوړو غرونو په منځ کې موقعيت لري ځکه رودونه هلته موجود لاى شي چې دغسې غرونه موجود وي.

د ښاغلي محمد گلاب ننگرهاري له قوله په يوه روايت کې (ناگار) تېنگه کلا او همدا راز (نا، کا، لو، هو) هم دغه معنا ورکوي.

ناکا د ناگار يعنې د کلا او لوهو د تېنگې معنا ورکوي.

(نگر کوت) او (ناگ کوت) دوه کلمې دي چې اوس هم شته دي. د (ناکالو هو) او (ناگار) غوندې دي. د (نگر) او (نگار) تر منځه هم اختلاف شته ځيني نگر د ښار په معنا راوړي او بعضو د (نگ)، (نك) ته توجيه کوي چې د سانسکريت له (ناگاى) نه اخيستل شوي او د مار، غر، لمر او دښتې معنا ورکوي او که (نگر) د غره په معنا شي هم د غرجستان معنا ورکوي.[2]

د نگاراهارا نهه رودونه:

لکه چې د مخه پر حدود العالم د مينورسکي د حواشي او تعليقاتو په بحث کې وويل شو هغه سيمه چې د جلال آباد د نايب الحکومه تر قيادت لاندې وه. دا د کابل د سيند ناوه وه او غالباً يې په ننگرهار يا ننگنهار يادوي چې لومړى کلمه د د وهمې بدلې ده.

ننگنهار په پښتو ژبه (نهه روده) يا (نهه رودگي) دي او په هغه ناوه دا نوم اطلاق کيږي چې دا رودگي ترې تيريږي.[3]

دا نهه رودونه چې د (نهو رودونو ننگرهار) اصطلاح پرې تر اوسه پورې لا هېره شوې نه ده د ننگرهار د غلجايي حصارك څخه د شينوارو د نازيانو د خورا شرقي برخې، تورخم او ډکې پورې اته رودونه کيدل او د کابل سيند ور پورې غاړې د کامې سره نهه ردوه ننگرهار بشپړيده.

---

۱ تاريخ افغانستان، ج ۲، ص ۳۶۴

۲ کابل مجله. لومړى گڼه، ۱۳۳۹، ۷ مخ

۳ حدود العالم، ۹۴ مخ

۷- زرنج

(مدينة العذرا)

زموږ د لرغوني هېواد د لرغوني سيستان لرغونې مرکز زرنج د هغې زرخيزي، حاصلخيزۍ او مردخيزۍ سيمې يو لرغوني ښار دی چېرته چې ريګونه پښې کوي په لاره درومي، چېرته چې پراخو او اوږدو دښتو لمنې غوړولي دي، چېرته چې د تپو او پشتيو څخه پرته هيڅ غر نه ښکاري چېرته چې بادونه توپان کوي او په ډېر شدت سره بې وزر والوزي، چېرته چې مځکه خپله مځکه په نس ور ننباسي، چېرته چې کال و سر يو ازې دوه موسمه وي، چېرته چې ځپانده سيندونه بهيږي او چېرته چې د دغسې عجايبو او غرايبو څخه د ډکې سيمې مرکز، کوم چې د هرې ډېرې لاندې يې زښته زياتې تاريخي، مجلل او له دبدبې ډك قصرونه او ښکلي ودانۍ رنګې بنګې پرتې دي، هلته چې هره ماسه او شګه حماسه زيږونکې کاين بلل شوي دي نو د دغسې بډای او په خزانو معموري خاورې يو ښار زرنج دی. هغه زرنج چې د هيڅ تيرې کوونکې ځواك او حاکمانو لاس پرې نه بريده او د دې ګردو صفاتو او مشخصاتو له امله ورته په مجموع کې د پيغلې ښار يا مدينه العذرا لقب ورکړ شوی ؤ.

د زرنج د ښار موقعيت او (رام شارستان):

پخوا تر دې چې د زرنج د ښار د موقعيت په تثبيتولو خبرې وشي په مقدماتي ډول ضروري ده چې د

«رام شارستان» په باب معلومات ولرو. دا د شارستان رام هغه محل دي چې د زرنج ښار نه د مخه د سيستان مرکز ؤ، او د دې ښار د منځه تللو په نتيجه کې ترې د هغه اوسيدونکي يوې بلې سيمې ته وکوچيدل او هلته يې د زرنج د ښار بنسټ کيښود او د زرنج ښار يې جوړ کړ.

رام شارستان:

دا ښار چې په رام شارستان مشهور دي د عربو د پخوانيو جغرافيه ليکونکو له قوله نني زرنج د زرنجيانا «درنگيانا» د ولايت پايتخت ؤ او د هغه د بناکيدو د مخه په لرغونو زمانو کې د دې ولايت مرکز رام شارستان ؤ. چې د ابره شهريار په نوم هم يادېده. بالاخره دا لرغوني ښار په څلورمه هجري/ لسمه ميلادي پيړۍ کې د طبيعي آفاتو يعنې د ريګونو د کوچونو له کبله د خاورو لاندې او په کنډوالو بدل شو لکه په پورتني پيړۍ کې د دې ښار د کورونو او ودانيو د خرابو ښنې ښناپې ليدل کيدلې.

په يوه بل روايت د دې لرغونې پايتخت موقعيت په ناڅرګند او مبهم ډول د زرنج د ښار په درې منزلې کې ښودل شوي دي چې په پخوانيو زمانو کې هغه يو لوی رود چې د هيرمند له سيند څخه رابيل شوي دي اوبه يې دلته راتللې او بيا يې د خپل چاپيريال مځکې خړوبولې، تر څو چې د دې سيند د تړلو په واسطه اوبه پورته لاړې او يو لوی بند جوړ شو او ناڅاپه دا ښار بې اوبو شو مځکې يې لا مزروع او اوسيدونکي ترې په يوواري وکوچيدل او اوسني زرنج يې جوړ کړ. ۱

اصطخري د سيستان په بحث کې وايي: د کرمان او سيستان تر منځه لويې بناګانې دي پخوا دلته يو ښار ؤ چې هغه ته يې رام شارستان وايه او وايي چې د سيستان اوبه په دې شارستان کې تيريدې د رام شهرستان خلك راپورته شول او هلته يې د زرنج ښار بنا کړ. ۲

د زرنج د ښار موقعيت:

که د تاريخي واقعيتونو په رڼا کې وويل شي د زرنج د ښار د موقعيت تثبيتول او ټاکل ډېر ګران دي چې په يوه وخت کې «د آسيا د غلې انبار» او «د خراسان بصره» ياديدله او اوس هغه نوم بيخي د فراموشۍ کندې ته لويدلې دي.

مګر بيا هم د زرنج د ښار د موقعيت په ټاکلو کې د پخوانيو مؤرخانو آثار پوره مرسته کوي لکه چې د عربو د جغرافيه ليکونکو په قول دا ښار د هلمند د رودخانې ښي خواته موقعيت درلود، يعنې د زرنج د جنوب په يوه منزلۍ کې، د هلمند سيند ته يو بند جوړ شوي چې لوی او کوچني نهرونه لکه سنارود، باش رود، نهر ميله، نهر شعبه، نهر طعام «د زرنج د ښار د طعام دروازې ته منسوب دي» دې ښار ته تلل.

---

۱ آريانا مجله ۸ ګڼه، ۱۳۲۳، ۴۲ – ۴۷ مخونه

۲ جغرافياي تاريخي افغانستان، مير غلام محمد غبار، ص۲۷۹

په همدې ډول په شمال کې یې یو بل رود چې د نیشك (اوسنی خاشرود) په نوم یادیږي تیریده. او په دې ترتیب زرنج د دې دوو رودونو په منځ کې پروت ؤ، یعنې د هلمند رود یې په جنوب کې او خاشرود یې په شمال کې بهیده د دې دواړو رود خانو په منځ کې هغه ځای چې (نادعلي) ورته وایي یو لوی تلي دی چې په اطراف کې یې زیاتې خرابې لیدلی کیږي او سړي حتی د پخوانیو لویو برجونو په کتلو د ډېر لیرې تیر مهال د شان او شوکت په یاد کې اچوي.

که چېرته دا کنډوالې د یوه ښار بقایاوې وي او د منځنیو پیړیو ښار او د زرنج اصلي مرکز او یا پخواني زرنګ یا زرنګا، یې وبولو نو په یقین سره ویل کیدای شي چې په دې ځای کې د زرنج ښار پروت ؤ او تاریخي متون هم په دې خبره شهادت ورکوي. ۱

یوه بله پته چې په یوه تاریخي روایت کې د زرنج د ښار د موقعیت په باب ورکړ شوې ده.

هغه تر اسلام راوروسته د ربیع بن زیاد د سیستان فتح کولو واقعه ده. وایي چې د هجرت په دیرشمه ربیع بن زیاد د سیستان د نیولو په نیت د یو لوی لښکر سره د کرمان د مرکز (سبیرجان) نه راوخوځید د پهره ښارونه (اوسني ایرانشهر) او جالق چې د لاري پر سر یې پراته وو، فتح شول خالق کې ربیع بن زیاد د هغه ځای د مهتر څخه پوښتنه وکړه چې د سیستان لار ور وښیي، هغه ورته وویل:

کله چې د هیرمند له روده پورې وځې نو مخې ته به دې ریګ او شګې راشي او چې له ریګ څخه تېر شې، سنګریزه به وګورې او هلته به یوه کلا او کلي ښکاره شي. ۲

پورتنی آدرس په څرګنده توګه ښيي چې زرنج د هلمند د رود ښي خواته پروت دي او هغه ریګونه او کاړونه (سنګریزې) چې تر اوسه پورې د هیرمند رود خواته له چاربرجك څخه تر ناد علي پورې تر سترګو کیږي د زرنج د ښاریو بل دلیل دي.

نوموړي زرنج د تیمروز او ناد علي په محل کې پروت دي او دا به محضي اشتباه وي که چېرته د سیستان د دې تاریخي او با عظمته ښار موقعیت د مستر (تیت) د قول په پیروي په زاهدان کې وګڼل شي.

لسترنج هم د نقشې له مخې د دې ښار موقعیت د ناد علي په همدې محل کې تثبیت کړي او ښاکلي دي. چې د لاش او جوین څخه د ناد علي په شمال کې دي. او د فتح کلا یې په جنوب کې پرته ده او له هغه ځایه تر حصار طاق (اوسني سارتار) یو لړ خرابې سره نښتې پرتې دي چې د هغوئ یوه برخه او حتی ټولې خرابې همدا د زرنج ښار دي.

هنري ماکماهون چې په ۱۹۰۳ – ۱۹۰۵ میلادي کې یې په سیستان کې پلټنې تر سره کړي نو یې په

---

۱ محمد اعظم سیستاني، سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه ها، ټ۲، ۱۳۶۶، ۱۶۷ – ۱۶۸ مخونه

۲ مؤلف نامعلوم، تاریخ سیستان، (۴۴۵ – ۷۲۵ حدودو کې) ملك الشعرا بهار په تصحیح ص ۸۰ مخ

خپل ډېر علمي او ګټور رپوټ کې چې د سیستان په باب یې لیکلي دي داسې وايي:

په هیڅ یوه مملکت کې داسې خرابي او کنډوالې نه دي لیدلې شوي تر څو چې د سړي د سترګو دید لګیږي دا خرابي تر نظره کیږي او دا ټولې خرابي د زرنج ښار دي.

(هنري ساوچ لندر) چې په ۱۹۰۱ میلادي کې یې سیستان په ټوله معنا لیدلی دی او د ده نظر د لرغون پیژندنې په برخه کې زیات اعتبار لري، عقیده لري چې دا خرابي د یوه ښار خرابي دي او هغه هم د زرنګ مهم ښار دی. ۱

نوموړي د دې خرابو اوړدوالي له ۸۰ - ۹۰ میلو حساب کړي چې په لوموړي سر کې له مبالغې ډك انکار منونکي دي، مګر نوموړي تیروتلي نه دي او دا ځکه چې د فتح د کلا څخه تر جوینه او له نیشك څخه تر پخواني زاهدان او تراکو پورې یوه آباده سیمه او یو زیات شمېر ښارګوټي شته چې د زرنج پورې مربوط دي نو ویل کیدای شي چې زرنج د فتح د کلا نه ترجوینه او له نیشك څخه تر پخواني زاهدان او تراکو تر منځه سیمه کې پروت دی. ۲

د زرنج د تسمیې وجه، بنا او تاریخي موقف:

لکه څرنګه چې تاریخي معلومات ښيي او لکه چې د سیستان د تاریخ له متن څخه جوتیږي د اتمې هجري پیړۍ په وروستیو کې او ممکن د غزنویانو د دورې په اواخرو کې (هجري لسمه پیړۍ) کې د زرنج نوم په تاریخي آثارو کې له استعمال څخه لویدلی ؤ یعنې تر دې وروسته د زرنج نوم په تاریخي واقعاتو کې نه دی ذکر شوی او دا ځکه چې اسلامي جغرافیه لیکونکو د غزنویانو څخه په راوروستو پیړیو کې د زرنج تلفظ فقط د سیستان ښار یا (مدینه سجستان) په نوم پیژانده او کله چې دا ښار (په ۷۸۵هـ/۱۳۸۳م) د ګوډ تیمور په لاس د خاورو سره خاورې شو، نو زرنج دا وخت د سیستان نوم درلود.

د سیستان په تاریخ کې په یو شمېر مواردو کې د سیستان د کلمې د استفادې د پاره (د زرنج د ښار مفهوم) کارول شوي دي. ۳

هغه وخت چې د سیستان د کرسۍ یعنې زرنج پر ځای د (قصبې) کلمه استعمال شوې ده له دې ډول یادونو څخه په ۴۲۱ هجري کې د سیستان د عامل په حیث د (فوشنجي عزیز) د ټاکلو په مناسبت چې د سلطان مسعود له خوا د سیستان د عیارانو سره یې له خشونت او سختګیرۍ څخه کار اخیست تاریخ سیستان د زرنج د قصبې مفهوم داسې استعمالوي:

... سر هنګان را باز ګرفت و بتازیانه بزد و نقیبان را ګردن بزد و دونیم کرد و کاري به سیاست فرو

۱ سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه، ج۲، ص ۱۶۸ - ۱۶۹

۲ پورتنی اثر، ص ۱۷

۳ جغرافیاي تاریخي سرزمین خلافت شرقي، لسترنج، ۳۸۵ مخ

گرفت و مصادره بستند و بسیار از سرهنگان قصبه (زرنج) و مهتران روستاها را باز داشتند.[1]

د زرنج ښار چې د سیستان د ډېرو لرغونو او مهمو ښارونو څخه او په موقعیت یې د مخه بحث وشو د مؤرخانو په قول لومړي پړی د (اسکایې ها) نوم ایښودل شوي دي.

کلاسیکو لیکوالانو دا د (زرنګ) په نامه پیژانده او بنسټ ایښودونکي یې د سیستان د ملي افساني پهلوان رستم بولي.

یونانیانو دا ښار د (درنګ) په نوم یاد کړی دی. او عربو هغه په (زرنج) معرب کړي دي.

د زرنج ښار نه یوازې تر اسلام نه د مخه دوره کې د دبدبې او لوړ مقام درلودونکي ؤ بلکې په منځنی پیړۍ کې هم د سیستان د ډېرو مهمو ښارونو څخه شمېرل کېده.

د سیستان صفاري پاچاهانو د زرنج د مخ په زیاتښت ترقي او آبادۍ ته خاصه توجه کوله او د پخوا په شان یې د سیستان پلازمینه انتخاب کړې وه.

د زرنج د ښار خرابي اوس د ناد علي د جهان آباد د کلي او زاهدان تر منځه لیدل کیدای شي.[2]

په یوه بل روایت د زرنج د بنا کوونکي په باب ویل شوي دي:

د اسلام مؤرخین او جغرافیه لیکونکي د زرنج د ښار په هکله بیلا بیل روایتونه لري، اسلامي طوسي په (گرشا سب نامه) کې د دې ښار بنا گرشا تسب د آریانا د ملي پهلوانانو د سلسلې سره او د رستم لوی نیکه ته نسبت ورکوي.[3]

د اسدي طوسي هم عصري د سیستان د تاریخ مؤلف د گرشا سپ نامې تر تصنیف لس کاله د مخه د اسدي غوندی داسې نقل کوي او داسې ښکاري چې د دواړو مؤخذ عجایب البلدان د ابو المزید بلخي تصنیف دي.

د سیستان تاریخ عین متن په دې عبارت دي:

"اما بنا کردن سیستان (شارستان) بر دست گرشا سپ بن اثرت، بن شهر، سم، بن کورنګ، بن بیلاسپ (شیداسپ) بن تور، بن جمشید الملك. آن روز بود که گرشاسپ دانایان جهان را گرد کرده بود که من شهری بنا خواهم کرد. بدین روزگار که ضحاك، همه جهان همی ویران کند و آزاده گان جهان را همی کشد و از جهان به جادوی همی بر کند تا مردمان عالم را سامه (جای امن) باشد که او را بر شهری که من کرده باشم فرمان نباشد. اما چنان خواهم که نیکو نگاه کنید و از هفت و چهار و دوازده (ده) بنگرید و

[1] پورتني اثر، ۱۷۷ مخ
[2] البلدان، ۲۲ مخ
[3] سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه، ج۲، ۱۶۱ مخ

حساب کنيد (عدد ده به جاي دوازده از خاطري درست خواهد بود که عدد طالع است.» ۱

حمدالله مستوفي په نزهت القلوب کې چې په ۷۴۰ هجري کې يې تاليف کړي دي د پورتني موضوع په تاييد ليکي: ګرشاسپ د سيستان ښار جوړ کړ او نوم يې پرې زرنج کېښود او د (ريګ روان) په لاره د زره بحيرې ته نژدې يې يو لوی بند جوړ کړ چې ښار د ريګ روان له ضرره په امان وساتلای شي.

مدينة العذرا (پيغله ښار):

زرنج ته د هغه ډېر محکموالي او نه تسخيريدونکي ښار په وجه (مدينة العذرا) يا (پيغله ښار) لقب ورکړ شوي چې دليل يې داسې ارائه شوي دي.

د خراسان سيستان او منځنۍ آسيا پخواني ښارونه په نه تسليميدونکو پخو کلاګانو، خندقونو او بارو مجهز وو او خلکو کولای شول چې تر ډيرې مودې پورې د مهاجمانو او فاتحانو په مقابل کې مقاومت او دفاع وکړي. او دښمن و نه شي کولای چې هغه فتح کړي، دروازې يې ورته بېرته کړي، اوسيدونکو يې وځپي. نو ځکه په عربي ژبه کې چې د (عذرا) معنا په دري دوشيزه او په پښتو پيغله چې باکره وي، دا ډول صفت مستحکمو او پخو ښارونو او کلاګانو ته ورکول کيږي.

د سيستان تاريخ (۴۴۵ – ۷۲۵) شاوخوا چې د سيستان او د هغه د سترو عظمتونو، ډېر قوي شاهد دی او د زرنج د شارستان څخه د هغه د نعمتونو او پريمانيو څخه چې يو وخت ورته د نيمروز د هېواد (مدينه العذرا) قايم ښار ويل کېده. ۲

که د زرنج د ښار د دې توصيفي ترکيب مفهوم ته يو څه وضاحت ورکړ شي. نو دې ښار ته له دې امله (پيغله ښار) ويل کېده چې د هغه په نيولو او خپلولو هيڅوک قادر نه ؤ او د هغه حريم د پيغلې د بکارت حيثيت درلود چې په عربي ورته افتضاض ويل کيږي د دې د پاره چې د زرنج د تسميې د وجې په متعلق يو هر اړخيز او تقريباً بشپړ او مدلل مجموعي انځور وړاندې شوي وي. نو د ښاغلي محمد اعظم سيستاني په هغه ليکنه او څيړنه استناد کيږي چې په خپل کتاب سيستان سرزمين ماسه ها و حماسيه کې يې وړاندې کړي دي.

سيستان چې د عربو په پخوانيو منابعو کې سجستان نومول شوي دي د (ساکا) د قبيلې په انتساب د سکستان له کلمې څخه مشتق شوي دي.

سيستان په منځنۍ پېړۍ کې د (نيمروز) په نوم ونومول شو.

ځينې محققان نيمروز د (ناف زمين) په معنی ضبط کړي او وايي کله چې لمر نيمروز ته راورسيږي نو د ځمکې ټوله نيمه کره روښانه کيږي، نو ځکه نيمروز د پراخه او ځليدونکي افق په خاطر د ځمکې

۱ همدغه اثر ص ۱۶۱ - ۱۶۲

۲ همدغه اثر، ۱۷۱ مخ

«نصف النهار» د نقطې په حيث په هغه زمانه کې چې بطليموس د خالدات ټاپو د زمکې نصف النهار پيشنهاد کړي نهٔ د اوستا د عصر د اريانانو له خوا ومنل شو.[1]

په اوستا کې معمولاً د آريانا مشهوري او مهمې سيمې د سيندونو او رودخانو په نومو چې د دې له منځه تيريدلي نومول شوي دي لکه هيتومند - هلمند، فرادانا - فراه، هراواتي - ارغنداب، الرخد، کندهار او نور...

تر ميلاده شپږ پيړۍ د مخه د هخامنشيانو په وخت کې لومړي داريوش د جمشيد د تخت په ډبرينو کتيبو کې دا سيمه د هغې په بومي نوم چې هلته د «ساکيانو» د مهاجرت څخه د مخه يې درلود «زرنما» ورته ويل کېده لکه چې د بهستون او د جمشيد د تخت په کتيبو کې د هخامنشي د قلمرو د دريو شرقي ايالتونو څخه د «پارثو» يعني خراسان، «زرنگا» يعني سيستان، هريوه د هرات» يو ځای نومونه اخيستل شوي دي. د نقش رستم په کتيبه کې د هخامنشي د نورو شرقي ايالتونو سره يو ځای لکه بلخ، سغد او خوارزم او رخج «قندهار» سره نومونه ياد شوي دي.

ايراني دانشمند مرحوم بهار معتقد دي چې د «زرنگ» لفظ د سيستان او زاولستان د پر پخواني نوم دي او د داريوش په کتيبه کې «زرنگا» راغلي دي او د زرنگ د ښار نوم هم له دې نه اخيستل شوي دي.

بايد وويل شي چې مؤرخانو په ځينو برخو کې زرنج د سيستان په مفهوم او سيستان د زرنج په مفهوم کارولي دي او دا ځکه چې تر دې وخته پورې د دې دواړو تفکيك دومره موجود نهٔ.

يوناني کلاسيك مؤرخين او جغرافيه ليکونکي هر يوه په خپلو اثارو کې له دې ايالت څخه يادونې کړي دي لکه چې ۲۵ پيړۍ د مخه يوناني کلاسيك مؤرخ هيرودت له دې سيمې او د هغې د خلکو څخه د «سارنگا» او «زرنگا» په نوم يادونه کړې ده.

له ميلاده ۱۵۰ کاله د مخه يوناني مشهور جغرافيه پوه بطليموس د دې ايالت له اوسيدونکو څخه د درانجي په نوم او د ده هم عصره «اريان» د زرنگ خلك د «زرنجي» او «درانجي» په نومونو ياد کړي دي.[2]

د کوچنۍ آسيا مؤرخ او جغرافيه دان «ايسيدورخاراکسي» دا سيمه د «رانگيانا يا درانجيانا» په نوم ياده کړې او له نن څخه دوه زره کاله د مخه يو بل يوناني جغرافيه ليکونکي «ستر ابون» دې سيمې ته «درانجيانا» او خلك يې ورته «درانج» ويلي دي.

«پليني» هم د دې ځای اوسيدونکي د زرنجي په نوم نومولي او د «زرنگا» کلمه د دې ليکوالو له خوا زرنجي قوم او مليت ته نسبت ورکړي شوي دي.[3]

---

۱ پورتني اثر، ۱۲۵ مخ

۲ تاريخ افغانستان، ټ۱، ۱۶ مخ

۳ سيستان سرزمين ماسه ها و حماسه ها، ټ۲، ۱۲۷ مخ

(اومستد) د شيکاګو د پوهنتون د شرق د تاريخ استاد د هخامنشي د شهنشاهي په تاريخ کې ليکي چې د (هريوه) هرات په جنوب کې د (اتيمندروس) هيرمند د رود په غاړه د زرنګ يا د رنګيانا او يا (زرانګه په بابلي متن کې) شته دي (دا و مستد د پورتني تاريخ، ۶۳ مخ.)

دا يادوني هر يوه په خپل خپل ځای څرګندوي چې زرنګ يا زرنګا د سيستان د پر پخواني نوم ؤ او د هغه د مدنيت زانګو (زرنګ په اسلامي عصر کې په زرنج معرب شو.

د لغت د علم پوهان او محققان د دې کلمې د ريښې په ارتباط داسې عقيده لري چې د دې ښار نوم چې د سيستان د ايالت نوم هم ؤ اصل يې په اوستا کې د زريا او زريه چې معنايې سيند او هامون دي او د درياب تر څنګه راغلي ده چې لومړۍ برخه يې دريا له دريه پخواني پارسي څخه اخيستل شوي دي.

(بورنوف) وايي چې د (زرنګا) کلمه چې د زرنګې قوم ته اطلاقيږي هم د زرانګه له همدې کلمې څخه اخيستل شوي ده.

نو (زريا، زرايو او زرانګه) چې په اوستا کې د دريا په معنی ده او دريه هم په پخواني فرس (هخامنشي د دورې ژبه) کې په همدې معنا او درياب په پهلوي کې او دريا په ننی دري کې يو دي او مراد ترې د زره درياب (سم يې رود دي) او د زرنګ نوم له دې سينده اخيستل شوي دي. او ورو ورو د زره د سيند (سيستان هامون) د اوسيدونکو په مورد کې هم وکارول شو.[1]

استاد داود پور د زرنګ د کلمې په تفسير کې ليکي: (زرنګ يعنې ابي او دريايي مملکت) څکه چې دا نوم د زره د سيند په مناسبت دې سيمې ته ورکړ شوي دي. هغه کلمه چې زرنګ ترې مشتق شوي ده په اوستا کې د (زريه) راغلي چې د رود معنی لري او په همدې معنی د هخامنشي په فرس کې (دريه) ضبط شوي او د فارسي دريا لغت هم له دې ريښې څخه دي چې د اريايي د پخوانيو لهجو د اختلاف له کبله دال او ذال په يو بل اوښتي او حتی د ذال توري په زې معجمه او د اواز د شباهت له مخې يې بدلون موندلي دي او کلاسيک ليکوالان دا نوم د سارنګي او زرنګي او (درنګي او درنګيانا) او زرنګ په شکلونو ضبط کړي دي، چې سم صورت يې زرنګ دي. او دا ذال په ټولو ضبط ارجحيت لري.

د زرنج په باب که د پورتينو څرګندونو څخه تير شو هغه کلمه چې نن د دې سيمې پخواني نوم ياديږي هماغه د زره کلمه ده د زره د درياچې (هامون) نوم دي. چې همدا اوس د مشهور سربند د نوم دوهم جزء (ګود زره) يې تشکيل کړي دي.

د سيستان د تاريخ نامعلوم مؤلف د زرنګ د تسميې د وجې په مورد کې روايتونه لري چې زياتره افسانو او فولکلور ته ورته دي. لکه چې ليکي: زرنګ يې هغه ځای ته وايه چې زال زر د هغې زياتې وداني، رودونه او کشتزارونه جوړ کړي لکه چې ذالق العتيق وايي:

[1] د افغانستان تاريخ، ټ ۱، کهزاد، ۱۶ مخ

«اندر پیش زره وزالق الحدیث که معرب کرده اند ، آن زال کهن است و زال نو او را مردمان سیستان «ازورنگ» خواندندی زیرا که موی راست بزر کشیده ماستی بسکو «بسکر، لشکر، عسکر، لشکرگاه هم مي توان خواند» را که او ساخته بود زرنگ گفتند و بزرگان همه از بسکو ساختند ، همه سیستان را بدون نام کردند و زرنگ خواندند .» (تاریخ سیستان ص۲۳) لکه چې پرې بحث وشو د زرنګ کلمه د اوستايي «ذريا» له مادې څخه د دریا او اوبو په معنا ده او څه رنګه چې اته مهمې او لويې رودخانې لکه هیرمند ، ارغنداب، ارغستان، ترنك، فراه رود ، خاشرود ، هاروت رود ، خوسپاس او د نورو اوبه په سیستان کې خالي کیږي او د ساحې له مخې د سیستان زیاتره برخه لویې او وړې رودخانې تشکیلوي نو «زرنګا یا زرنګ د دې سیمې مسمی کول د عیني منطق سره برابر خبره ده.

او د زرنګ د پاره به بله هر د تسمیې وجه او معنا غیر موجه و نا مقبول وي. ۱

زرنګ د مؤرخانو له نظره او د دې ښار ساختماني او استحکامي بیلګې او په دې ارتباط یوه تاریخي واقعه:

څرنګه چې د زرنج پراختیا او ارتوالی زیات ؤ او هم یو زیات شمېر عمارتونه یې درلودل او د دې تر ځنګه لرغوني سابقه یې هم ډېرو پخوانیو زمانو ته رسیږي نو په هر اړخیز او مفصل ډول د دې ښار ساختماني مشخصات لکه څنګه چې یې درلودل ښودل کیدای نه شي او دا ځکه چې د سیستان په باب چې دا ښار یې یو وخت مرکز ؤ د مؤرخینو او لیکوالانو له خوا ډېر څه لیکل شوي دي چې د هر یو د معلوماتو له مخې په دې باب بحث کول ډېره اوږده خبره او لیکنه ایجابوي نو دا ده چې په لنډه توګه په دې هکله معلومات وړاندې کیږي.

تاریخ سیستان د زرنج د ښار د مشخصاتو په ارتباط داسې څرګندوني لري:

هغه څه چې د سیستان «زرنج» په ذات کې موجود دي په نورو ښارونو کې هغه نشته دي چې خلاصه یې په لاندني ډول ده:

۱- زرنج یو لوی او مستحکم شارستان لري، چې هغه هم د څو ښارونو څخه متشکل دي یعنې له نورو ښارونو څخه او «مدینه العذرا» ورته ویل کیدله دا ځکه چې هیڅوك هیڅکله هغه نیولای نه شي که هر څومره جنګي سړي وي او د وسلې په استعمال ښه پوهیږي او آن له وړوکتوب څخه یې د وسلې په استعمالولو کې مهارت پیدا کړي وي او د جګړې په فن کې یې ښه تعلیم و تربیه لیدلي وي.

۲- او بل زرنج یو داسې ښار دي چې بادونه یې ژرندي ګرزوي او اوړه کوي، مګر په نورو ځایونو کې ژرندي د حیواناتو په واسطه ګرزي، یا په اوبو ګرزي او یا په لاسونو ګرزول کیږي او هم یې خلکو داسې

---

۱ سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه ها ج۲، ص ۱۲۹

بادي ارهټونه جوړ کړي دي چې له کوهيو پرې اوبه راپورته کوي خپل باغونه او مځکې پرې خړوبوي او د باد څخه ډېره ګټه اخلي.

۳- د دې ښار بل خصوصيت دا دي چې دا ښار په خپل ځان باندې ولاړ او خودکفا ښار دي او بل هيڅ يوه ښارته احتياج نه لري، که چېرته په دې ښار کې کاروان تم شي دلته هر څه لکه ډول ډول نعمتونه، د لويانو د پاره جامونه؟ هغه چې د پاچاهانو او اهل مروت د پاره مناسب دي په دې ښار کې موندل کيداى شي.

په دې ښار کې د ژمي په موسم کې ميوې پيدا کيږي.

۴- او بل دې ښار ته په کښتيو کې له ليريو ځايونو څخه بارونه راوړي او له دې ځايه څخه يې کليو او نورو سيمو ته په حيواناتو نقلوي.

۵- د دې ښار د خصوصياتو څخه يو دا دی چې د سيستان ټول خلك علم دوست دي، او له دې ځايه يو زيات شمېر عالمان، فقيان او محدثين راپورته شوي دي چې د دوی کتابونه په شام او حرمين کې لوستل کيږي چې شمېر يې ډېر زيات دي.

۶- او بل زرنج يو داسې ښار دي چې هيڅ دښمن پرې تيری نه شي کولای او که چېرته پرې د تيری په موقع کې ترې بيرته راستون نه شي نو هلاکيږي.

۷- او بله خبره دا ده چې په سيستان کې داسې لويې لويې ودانۍ آبادې دي چې په نور عالم کې نشته دي.

۸- بله دا ده چې په عالم کې د سيستان له ځمکې څخه ښه ځمکه نشته او همدا شان هيڅ چېرته د سيستان د غوښې په شان خوږه غوښه نشته دي.

۹- هيڅ چېرته د سيستان د خلکو غوندې ډوډۍ مار او ميلمه نواز خلك نشته دي لکه دوی چې پراخه مالګه او ډوډۍ لري.

۱۰- په سيستان کې چې يو پراخ ملك دي د هر ډول څخه د نعمتونو پريماني ده دومره تر څو پورې چې وو، ويې ليدل ويې خوړل او ور يې کړل. ۱

اصطخري د زرنج په باب وايي: تر زرنج بل لوی ښار نشته، دا ښار شارستان او ربض لري، د شارستان ګرد چاپير ديوال دي او د ربض خندق هم ديوال لري، او د خندق اوبه له خندق څخه راخوټيږي او نورې اوبه ور سره يو ځای کيږي. ۲

د زرنج د ښار د ډېر محکموالي په باب يوه اندازه روايتونه شته دي چې په بيلابيلو تاريخي پيښو

۱ تاريخ سيستان، ص ۱۲ - ۱۳

۲ جغرافياي تاريخي افغانستان، ص ۳۵۷

کې يې پوره انعکاس موندلی دی، لکه چې وايي:

د «آل ليث» د واکمنۍ په وخت کې چې زرنج په زيات شهرت او ډېر زيات ناز او تنعم سره ژوند کاوه او داسې ويل کېږي چې د دې وطن د نامتو پاچا امير خلف په وخت کې، حسين بن طاهر چې د گرديزي په قول د امير خلف خور يې او د يميني تاريخ د مؤلف په قول د ده له خپلوانو څخه ؤ د خراسان د امير ساماني نوح بن منصور (۳۶۹ هجري) د لوی لښکر سره د امير خلف په مقابل کې د جنگ د پاره او د زرنج ښار د نيولو په مقصد راغی.

د يميني تاريخ د ۵۴ مخ په حواله د خراسان امير پوره اوه کاله هلته پاتې شو او زرنج د هغه په مقابل کې په مېړانه کلکه دفاع وکړه، څه رنگه چې د خراسان لښکر د زرنج په محاصره کې پاتې راغی د امير خلف د پخواني دوست (ابوالحسن سيمجور) د سيستان د کار د پاره وگمارل شو او امير خلف ته يې د ننه پيغام واستاوه چې د خراسان امير ستا په خبره کې عاجز پاتې شو.

او دلته د خراسان اميران او لويان ستا په لاس ووژل شو، اوس يې زه راليږلی يم، نو زما او ستا د دوستۍ له مخې هغه څه مه کوه چې زه بېرته ستون شم.

امير خلف د سيمجور د دوستۍ په پاس او د خراسان د امير د زارۍ له مخې له جنگه لاس واخيست او د سولې له لارې د زرنج د ارگ له کلا څخه راښکته شو او طاق حصار ته لاړ. ۱

د پورتنۍ واقعوي مثال او نورو تاريخي مثالونو څخه جوتېږي چې يو وخت زرنج يو له برمه ډک او پخپل ذات قايم ښار ؤ او په جهان کې د يعقوب ليث او عمرو ليث له وخت راهيسې تر ده زښته زيات ودان ښار نه ؤ او پايتخت يې ورته وايه تر هغه وخته پورې چې امير خلف يې له سيستان څخه يووړ......

کله چې د سيستان با فضله پاچا امير خلف له منځه لاړ نو د زرنج او سيستان ورځ هم وگرزيد له چې حکيم فرخي سيستاني په خپله يوه قصيده کې دا واقعه ډېره ښه بيان کړې ده.

وايي په ۳۹۳ هجري کې د سيستان خلك د امير خلف څخه د هغه ظلم له کبله چې د خپل زوی په حق کې يې کړې ؤ له ده ناراضي شول او د سلطان محمود د ملاتړ هوايي په سر کې وگرزيد له د همدغه کال د صفري په مياشت کې سلطان محمود د زرنج د خلکو په ملاتړ د طاق حصار او د زرنج په نيولو بريالي شو او د سيستان څخه د ستنيدلو په وخت کې يې امر کړې ؤ چې د سيستان د ښار باري سورې کړې چې فساد رامنځ ته نه کړي. يو کال لا تېر نه ؤ چې د سيستان عياران بوبکر عبد الله (ابوبکر بن عبد الله د امير خلف د لور له خوا لسمی) ۳۹۳ په جمادي الاخر کې د سيستان په پاچاهي وټاکل شو. او نوموړي دواره امر وکړ چې د بارو سورې دې بند کړی شي. د بارو د سوريو د بندولو کار لا پای ته نه ؤ رسيدلی چې سلطان محمود د ډېر قوي لښکر سره له هنده راستون شو او د هغه لښکر په اتفاق سره چې له غزني فراه

۱ تاريخ سيستان، ص ۳۳۷

او اوق (قلعه کاه) او د زره په مخکې (نني بيش آب) د ده مرستې ته سيستان ته ورغلل او په زرنج يې جګړه پيل کړه، زرنج ډېر سخت مقاومت او دفاع کوله چې ناڅاپه له عيارانو څخه يو تن (ابوالحسن کهتر) د ماسخوتن لمانځه په وخت کې د طعام دروازه بېرته کړه او د محمود، محمود! چغې يې ووهلې دا وه چې د محمود مريان ښار ته راننوتل او په دې ډول سره يې د ښار په سوزولو، لوټولو، ورانولو او عامو وژلو پيل وکړ ۱

لکه چې د مخه وويل شو مؤرخان او اسلامي جغرافيه ليکونکو د زرنج په باب زيات معلومات ورکړي دي.

حدود العالم د سيستان په بحث کې ليکي: زرنج يوه ناحيه ده چې د هغې قصبې ته زرنج وايي، د حصار درلودونکي يو ښار دي او ګرد چاپېر ترې د اوبو خندق دی. ۲

آريانا دايره المعارف د زرنج په متعلق داسې څرګندونې لري:

زرنج د سيستان پخواني ښار او مرکز ؤ دا ښار په منځنۍ پيړۍ کې ډېر مهم او غوره موقف درلود په ديرشمه هجري کې ربيع بن زياد پرې حمله وکړه دا وخت زرنج ډېر مستحکم ؤ. ګرد چاپېر يې خندق درلود او پنځه او سپنيزې دروازې يې لرلې.

زرنج د افغانستان د ستر شهنشاه يعقوب ليث صفاري او د هغه د ورور عمرو ليث ماڼۍ وه عمرو ليث د ښار په درون (شارستان) کې د خپلې خزانې د پاره يو تعمير جوړ کړی ؤ چې هغه ته يې ارګ وايه. د زرنج بازارونو، عمارتونو او ښار پوره شهرت درلود، هغه ودانۍ چې دې دوارو افغاني پاچاهانو جوړې کړې دي د لسمې پيړۍ جغرافيه ليکونکي د هغه زياته ستاينه کوي په ۷۸۵ هجري / ۱۳۸۳ ميلادي ګوډ تيمور چې زرنج ونيوه، اهالي يې ورته عام قتل کړل او د ښار د ورانولو حکم يې وکړ د زرنج د ښار خرابې د ناد علي د شهرستان د زاهدان د کلي د هغه پل په اوږدو کې پرتې دي د هلمند د سيند څخه د پخوانيو ويالو سربندونه را اخيستل شوي وو، او د منځنيو پيړيو څخه را په دې خوا دا ښار بيخي وچ شوی ؤ. ۳

يعقوبي د سيستان د بارو په مبحث کې ليکلي دي چې د سيستان له ناحيو څخه د بست ناحيه، د جوين ناحيه، د خشك ناحيه، د خواش ناحيه او د زرنج لويه ناحيه ده چې د رتبيل پاچا پايتخت دي او څلور فرسخه مساحت لري ګرد چاپېر ترې يو خندق دي او پنځه دروازې لري، رودخانه لري چې د ښار له منځه تيرېږي او هندمند (هيرمند) ورته وايي: ۴

---

۱ همدغه اثر، ص ۳۵۷

۲ غبار، جغرافياي تاريخي افغانستان، ص ۲۷۹

۳ آريانا مجله، ګڼه ۸، ۱۳۲۳، ص ۴۷ - ۴۸

۴ جغرافياي تاريخي افغانستان، ص ۲۷۹

بلاذري د سجستان او کابل د ابادیو په مبحث کې چې زرنج هم د دې ودانیو څخه شمېري او دا هغه وخت دي چې د عربو د لښکر دوهم ستون چې د افغانستان جنوب لویدیز ولایتونو باندې راتویې شول (د فتوح البلدان، قاهره، ۱۹۰ میلادي ۴۱ مخ په حواله.)

ابن هوقل د یعقوبي څخه یوه پیړۍ وروسته د زرنج د ښار د جغرافیوي وضعیت په باب مفصل معلومات ورکړي او وایي.

د سیستان د پر لوی ښار زرنج دي، چې یو ښار (شارستان) د حصن (قلعه ارګ، کهندژ) درلودونکي دي او د پر پراخه ربض لري چې هغه هم له نفوسو څخه ډکې لویې ودانۍ. دصفویانو د دورې دارالاماري او داسې نور ځایونه او قهوه خانې لري.

د ښار ربض هم د قلعه او بارو (حصار) درلودونکي دي چې ګرد چاپېر ترې خندق ایستل شوي دي او د ویالو د اوبو زیاتښت هم په خندق کې تویېږي. ۱

په ګرشاسب نامه کې راغلي دي:

چې ګرشاسب د زرنج د ښار بنسټ کیښود، له خاورو یې ورته باره جوړه کړه او د دې په منځ کې یې یو لوړ دژ (کلا) ورته آباده کړه، د دژ ګرد چاپیر یې یو خندق و ایسته چې اوبه پکې روانې دي او پنځه دروازې یې درلودلې.

د یمیني تاریخ لیکوال لکه چې مخکیني تاریخي پیښنه کې یې لیکلي دي وایي: چې د امیر خلف په وخت کې زرنج د اوو کالو د پاره د ساماني نوح بن منصور د لښکرو په مقابل کې قهرمانانه دفاع وکړه او د زرنج د کلا په هکله داسې توصیفي څرګندونې لري.

آن قلعه با فلك همراز، با فلك هم آواز بود، سطح او سمك سماك مي بود و دیده بان او زمزمه ملك مي شنود، و شهاب ازاوج شرف او سر می تاخت، و سحاب در حفیض او جامه ململ می بافت، ... پیراوان و خندقی عمیق بود، که اندیشه در مجاري آن به پایاب نمي رسید. و و هم را در مخالص آن پای به گل فرو مي شد، چون نهنگ سواره و پیاده را فرود می برد، و چون اجل بر خورد داشت ابقا نمی کرد.

د زرنج عمومي ساختماني پلان:

یو کم شمېر هغه مدارك چې د اسلامي جغرافیه لیکونکو په اختیار کې یې قرار درلود د هغو له مخې ویل کیږي چې د زرنج ښار د هېواد دزیاترو پخوانیو ښارونو په شان لکه چې د منځنۍ آسیا په زیاترو سیمو کې هم معمول ؤ درې ډوله ودانۍ درلودلې:

۱- ارګ:

د ارګ مفهوم په زیاترو مواردو کې ورته کهندژ (زړه کلا) هم ویل شوي دي، دا د ښار په ډېره ودانه او

---

۱ سیستان سرزمین ماسه و حماسه ها، ج۲، ص ۱۷۹

مامونه برخه کې واقع ؤ او ګرد چاپېر ترې يو مستحکم حصار ؤ، امارتګاه، زندان او بيت المال (خزانه) په ارګ کې وو.

۲- شارستان:

چې په شهرستان هم افاده شوي يعنې پخپله ښار، چې په ماورالنهر کې ورته (اندرون) ويل کېده او د ارګ ګرد چاپېره پروت ؤ او د ښار مجلل او پرتمينه عمارتونه پکې پراته وو.

شارستان هم په حصار، يو شمېر دروازو او په خندق احاطه کېده.

امير ابوالفضل سيستاني د نيمروز د پاچاهانو د سلسلې سره په ۴۳۰ هجري د زرنج شارستان او د هغه باره نوې بنا کړه او په ۴۳۴ هجري کې يې د هغه د جوړولو کار بشپړ کړ.[1]

۳- ربض:

ربض په دوو فتحو چې په ماورالنهر کې ورته (بيرون) ويل کېده د هغو کليو او آباديو څخه عبارت دي چې د شارستان په اطراف او خارج کې موجود وو.

ربض هم مستحکمه کلا او لوی خندق درلود.

د عيني تاريخ ليکوال، د زرنج د دې خندق څخه چې په سيستان کې يې ورته پارګين وايه زياته ستاينه کړې ده.

روسي عالم او مستشرق بارتولد په عمومي صورت د شارستان تاريخ ته اشاره کړې او ليکي د لسمې هجري پيړۍ ليکوال (شخصي) نسبتاً زياتره اطلاعات د بخارا د نقشې په متعلق ښيي چې شارستان د ښار ډېره پخوانۍ ودانۍ وه چې د اشراف املاک د انحصاري سيادت په دوره کې بنا شوی ؤ او ربض د سوداګرو او صنعتګرانو محل او بازار ؤ، په هره اندازه چې د اشرافو او ملاکانو طبقه مخ په ښکته تلله او د سوداګرانو او کسبګرو طبقې ترقي کوله په هماغه اندازه له شارستانه ژوند ربض ته منتقل کېده.[2]

د زرنج ماڼۍ او نور عمارتونه:

- جامع جومات:

د زرنج د ډېرو لويو او له عجايبو څخه د ډکو ودانيو په جمله کې يو هم جامع جومات دي چې د ادينه په جومات مشهور دي.

(څرنګه چې ادينه د جمعې ورځ ته وايي نو ممکن په دغه جومات کې د جمعې عمومي لمونځ کېده او مطلب ترې هماغه جامع جومات دي.)

۱ تاريخ سيستان، ص ۳۶۵

۲ جغرافياي تاريخي افغانستان، ص ۵۶ - ۵۷

ارګ:

د سیستان تاریخ کې په تفصیل سره د سیستان د ښکینو او اوصاف په باب معلومات ورکړ شوي د (عبدالله بن مقفع) او قدامه بن جعفر بغدادي په حواله، یوناني سکندر د زرنج د ارګ باني بولي او لیکي:

کله چې (دارا) بن (داراب) ووژل شو او د ده لور (روشنك) رومي سکندر په نکاح کړه او د هند امنیت یې تامین کړ او سیستان ته لاړ هغې کلاته راورسید چې کیخسرو جوړه کړي وه، د سیستان د قلعه (ممکن زرنج) شمال ته یوه بله کلا وه چې هغه ارد شیر بابکان بنا کړی وه (په ظاهره سره د طاق کلا به وي) سکندر هلته اوه ورځې پاتې شو او د سیستان (سپهبد) یې ونازوه. هغه ته یې امر وکړ، چېرته چې د کلا ځارونکي (ساتونکي) وو د یوه ځانګړي کلا کار یې شروع کړ او روشنك یې هلته پرېښودله، او کله چې د هند د چارو څخه فارغ شو او هلته راغی هغه کلا نژدې جوړه وه، یوه میاشت یې هلته تېره کړه تر څو چې کلا بشپړه شوه دا وخت یې وویل: په کلا کې دي (اراك) داسې وي چې نه هغسې چې د مخه وه.

راك په رومي ژبه (پهره دار) ځای ته وایي او هغه د سیستان کلا ده چې ارګ ورته وایي او ذوالقرنین بنا کړي وه. دا نقل په څو کتابونو کې هم راغلي دي لکه چې اخبار سستان، سرملوك عجم د عبدالله بن المنقفع ابو الفرج قدامه بن جعفر بن القدامه البغدادي تالیف، (کتاب خراج) د مسالك او ممالك په باره کې چې د سیستان په هکله یې بحث کړي دي.

که څه هم دا روایات په افساني بنا دي خو د لرغون پژندنې نتیجې ښیي چې دا ټول یوازې افسانه او اسطوره نه ده، بلکې ځینې یې تاریخي واقعیتونه هم دي. ۱

د ارګ دار الاماره:

تقریباً ټول مؤرخان او اسلامي جغرافیه لیکونکي چې د سیستان په متعلق یې څه لیکلي دي په دې خبره اتفاق لري چې دا محل یې د پاچاهانو پلازمینه ګڼلي وه.

ابن هوقل وایي: د نیشك او کرکویه د دروازو تر منځه د ښار په شمال ختیز کې یو لوی عمارت دي چې د عمرو لیث صفاري له هستوګنځیو څخه دي او ارګ یې ورته وایه او هلته د نوموړي خزانه ساتل کېدله. ۲

یاقوت حموي، اصطخري د ابن هوقل پورتني قول تایید وي.

د یعقوبي کوشك (ماڼۍ):

د جیهاني، اصطخري او ابن هوقل د څرګندونو له مخې دا ماڼۍ یعقوب لیث صفاري د صفاري

---

۱ سیستان سرزمین ماسه و حماسه ها، ج۲، ص ۱۴۳- ۱۴۴

۲ پورتني اثر، ص ۱۸۸

سلسلې مؤسس جوړه کړې ده.

ابن هوقل په دې مورد کې وايي: يعقوب ليث د جنوب لويديځ دوو دروازو په منځ کې چې د فارس دروازې او د طعام دروازې په نومونو ياديدلي، په جنوب کې يوه ماڼۍ ودانه کړه چې د ښار د حاکم نوي مقر وګرزيد او د عمرو ليث له ماڼۍ څخه دومره لېرې نه وه. دا ماڼۍ هم لکه د ښار د نورو ودانيو په شان تولـه لـه خښتو څخه جوړه شوې ده او طاقونه يې درلودل ځکه چې بشونه (تيران) او لرګي د لمده بل (رطوبت) له امله ورستيدل او موريانو يعنې چينجو پکې سوري کول (۱) اصطخري هم د ابـن هوقـل د پورتنۍ څرګندونې په تاييد وايي:

دې ماڼۍ د سيستان د تاريخ په وينا خضره يا ستيزه (د حضور ځای) درلودله او دلته يې د خلکو عرضو داد ته غوږ نيوه.

کوشك خلفي:

دا ماڼۍ هم په ظاهره کې د زرنج د ماڼيو او ودانيو څخه ده، د سيستان په تاريخ کې دا ماڼۍ د (ګوشه لفي) په نوم ياده شوې او په دې کتاب کې (ګوشه) د قصر په معنا ده او بايد چې دا حلفي، خلفي وي يعنې هماغه امير خلف د سيستان نامتو پاچا ته منسوبهٔ وي چې په ۳۵۲ هجري د ابو جعفر ممدوح رود کې پلار په دې ماڼۍ کې ووژل شو. ۲

جوربندان:

زرنج ته نژدې په دې نوم يو ځای ؤ پخپله ربض کې چې ابراهيم بن حصين قوسي د سيستان امير هلته اوسيده او دارالاماره يې د خپل زوی هستوګنځي ته ورکړې وه.

د ابراهيم خزانې هم دلته ساتل کېدلې او همدلته ابراهيم د ځان د پاره يو مجلل تعمير جوړ کړ.

داشن:

د زرنج په ربض کې شارستان نه بهر يو محل ؤ په ۳۶۰ هجري کې امير خلف د ښار د تصرف په وخت کې هلته هستوګنه درلودله او داسې معلومېږي چې دې محل پوره شهرت درلود ځکه چې د زرنج په زياترو پيښنو کې د داشن يادونه شوې ده. ۳

ګاشن:

په زرنج کې په دې نوم يو ځای ؤ چې په ۴۳۴ هجري ۵ سلجوقيانو لښکر وروسته له هغې چې د کر

[1] جغرافياي تاريخي سرزمين هاي خلافت شرقي، ترجمه عرفان، تهران ۱۳۳۸، ص ۱۰۳

[2] تاريخ سيستان ص ۳۲۶

[3] همدغه اثر، ۳۲۰ مخ

کويه دروازه يې ونيوله او د هغه ځای خلك چې ګبر او مسلمانان وو، لوټ کړل ګاشن ته راغی او په دې ځای کې هم تر کشتار وروسته خلك لوټ کړل، جاشن د همدې نوم معرف دي او ابو اسحق جاشني د زرنج د دې محل ډېر زبردست عالم ؤ.

حلف آباد (حلقا باد):

دا ځای زرنج ته نژدې يو محل ؤ چې د کوشك حلفي سره د مفهوم له مخې نژديوالي درلود دې محل د پوځي ځواکونو مرکز تشکيلاوه، په جنګي پيښو کې د دې ښار ډېره يادونه شوې ده. او ممکن درست شکل يې خلف اباد وي. چې هماغه امير خلف ته يې نسبت کيږي. په دې سربېره د سيستان په تاريخ کې يو بل ځای د مينو حلف (ظاهر امينو خلف) هم راغلي دي او ممکن دا اوسني مينو وي چې د ناد علي ختيز ته نژدې موقعيت لري او يو بل محل هم د خوخ يا خوج په نوم د زرنج په ښار کې يا ور سره نښتي د سيستان په تاريخ کې ياد شوي دي. ١

کرنګ او سر لشکر:

د سيار کوڅې ته نژدې د کرنګ په نوم په يو ښار کې او يا د شار سره نښتلي يو محل ؤ چې سلطان محمود د طاق د حصار تر نيولو وروسته هلته رانښکته شو، ښار او ولايت يې قبچې حاجب ته تحويل کړ. ٢

د زرنج د ښار د ځايونو څخه يو هم سرلشکر ؤ چې تر هغه شاته پاراګين (خندق) ؤ او سيستاني خرڅي دا کليمه زر کاله د مخه ياده کړې ده.

د زرنج د ښار کوڅې او سرايونه:

د زرنج ښار د پورتنيو مشهورو يادو شوو آبنيو او ساختمانونو سربېره يو شمېر کوڅې او سرايونه هم درلودل چې د هغو په متعلق تفصيلات په واك کې نشته او يوازې په نومونو اخيستلو يې بسنه کيږي.

د زرج کوڅې

- کوی زنان
- کوی رخ
- کوي فراه
- کوي ميار

١ سيستان سرزمين ماسه و حماسه ها، ټ ٢، ١٩٢ مخ

٢ پورتنی اثر. ١٩٢ مخ

- کوی کوشه
- کوی سینګ

د زرنج سرایونه:

سرای بوالحسيني، سرای بايوسفي، سرای ارتاشي، سرای ابو جعفر قوسي، سرای امام فاخر بن معاذ چې دا وروستنی سرای د ۴۲۱ کال د روژې په مياشت کې د عيارانو له خوا چور شو او وسوزېده.

- سرای بهلول ابن معنګ، سرای ابراهيم قوسي او د ده زوی محمد بن ابراهيم قوسي سرای، سرای حمدان يحيی دا سرای په ۱۳۹ هجري د صالح بن نصر او ابراهيم قوسي چې د سيستان حکمرانۀ مصالح د سپاهيانو په واسطه چور شو او خلك د حيك بن مالك د سرای له بامه شارستان ته ور پورته شول او دروازې يې د صالح د طرفدارانو پر مخ بېرته کړې.[1]

د زرنج باغونه:

د زرنج ښار يو شمېر ښکلي او سمسور باغونه هم درلودل. لکه جيهاني چې وايي: د دې باغونو ساحه د فارس له دروازې څخه د مينا تر دروازې پورې نښتي پرته ده.

او د دې باغونو څخه يې مشهور باغ د (ميمون باغ) ۋ چې د زرنګ په شارستان کې پروت ۋ.

د زرنج د ښار بازارونه:

زرنج يو شمېر بازارونه درلودل، اصطخري د ادينه د جومات ګرد چاپېر د زرنج د ښار په ربض کې پنځه بازارونه ښيي چې ډېر معمور او د خلکو ګڼه ګونه پکې زياته وه چې يو بازار يې يعقوب ليث صفاري ته منسوب ۋ.

مګر ابن هوقل او يو شمېر نورو مؤرخانو دا بازار عمرو ليث، د صفاري پاچاهي د سلسلې دوهم پاچاته منسوبوي او وايي چې دا بازار په شارستان کې د فارس له دروازې څخه د ښار د ربض د فارس تر دروازې پورې د نيم فرسخ ۳ - ۴ کيلو متر اوږدوالي لري چې د دې بازار ورځنۍ اجاره يو زر درهم چې د انګليسي (۴۰) پونډو سره معادل ده ښيي.[2]

د سيستان تاريخ له دې بازارونو بر علاوه درو نورو بازارونو نومونه اخلي چې يو يې بازار سراجان، بل يې نوي بازار دي چې د زرنج د نو شهر پورې مربوط ۋ او دريم يې د طعام د دروازې بازار ۋ.

همدا شان يو بل بازار هم ۋ چې سراسته يا پيراسته نوميده.

---

۱ د سيستان تاريخ. ۱۹۶ مخ

۲ جغرافياي تاريخي خلافت شرقي، ۳۶۱ مخ

باید وویل شي چې دا ټول بازارونه د جلا جلا تاریخي حوادثو په جریان کې لوټ شوي او سوزول شوي دي. [1]

د زرنج دروازې:

د زرنج د دروازو په هکله په زیاتو تاریخي آثارو کې کوم چې د سیستان په باب لیکل شوي دي څرګندونې شوي دي.

لکه حدود العالم چې د مخه ورته هم اشاره شوي وايي: چې د زرنج ښار پنځه دروازې لري او ربض یې باره لري او باره یې هم ۱۳ دروازې لري چې پنځه یې د ښار د دروازو په نوم یادیږي خو دلته په یو څه تفصیل سره د دې دروازو په متعلق معلومات وړاندې کېږي.

ابن هوقل وايي:

د څلورمې هجري پیړۍ نامتو سیاح او جغرافیه لیکونکي چې د اصطخري سره یې دوستانه مناسبات او مکاتبات درلودل د زرنج په هکله مفصلاً داسې یادونه کوي: د شارستان او د هغه د ربض دروازې معرفي کوي چې دا دي دلته معرفي کیږي.

د شارستان دروازې:

د زرنج شارستان پنځه دروازې لري چې پنځه واړه له اوسپنې څخه جوړې شوي دي دوه دروازې یې یوه د بلې په خوا کې ده چې دا دواړه د جنوب لوېدیز په لوري بېرته کیږي او څه رنګه چې د فارس لاره له دې دروازو مبدا اخلي نو د فارس په دوو دروازو باندې شهرت لري. یوې ته یې نوې دروازه او بلې ته یې زړه دروازه وايي.

- دریمه د کرکویه دروازه ده چې د شمال په استقامت ده او د خراسان لار ترې تیریږي او د کرکویه له کبله چې ورته نژدې ده د کرکویه په دروازه مشهوره ده.
- څلورمه دروازه د نیشك دروازه ده چې د ختیز پر مخ بېرته کیږي او د بست د لارې په استقامت ده.
- پنځمه دروازه د شارستان د تګ راتګ خاصه دروازه ده چې د جنوب خواته یې مخ دي او د طعام د دروازې په نوم مشهوره ده او د کلیو لاره ورځنی پر انیستل کیږي. [2]

د زرنج د ربض دروازې:

د زرنج د ښار ربض ۱۳ دروازې لري چې هغه اصطخري داسې ضبط او معرفي کړي دي:

- باب مینا (باب مینا د فارس په استقامت.

---

[1] تاریخ سیستان، ۱۹۶ مخ

[2] صورت الارض، ابن هوقل، ۱۵۲ مخ

- باب جرجان (باب گرگان) دا دروازه د فارس تر دروازې وروسته ده.
- باب شیرك.
- ورپسې باب (شتار اوق) (شتار او).
- تر دې وروسته باب شعیب.
- او ورپسې باب نوخیك (نوخیزك).
- بیا باب الکان (ظاهراً په (دراکار) وي دا ځکه چې د سیستان په تاریخ کې (دراکار) راغلي دي.
- ورپسې بیا باب استریس (ظاهراً باید اسپریس وي چې د آس ځغلولو د میدان په معنا دي).
- بیا وروسته باب غنتجره.
- او ورپسې باب بارستان.

د ابن هوقل له قوله د شهرستان دروازې او د اصطخري له قوله د ربض دروازې معرفي کیږي.

- ورپسې بیا باب روزگاران (رویگران)
- د سیستان په تاریخ کې یوه دروازه د نگران په نوم یاده شوي چې ښایي هماغه د رود گرام دروازه وي.
- د ربتان دا یوه نوې دروازه ده چې د سیستان تاریخ په حواله ښودل شوې ده.
- در حلواگران چې په ۳۹۶ هجري د سلطان محمود د مریانو له خوا وسوزول شوه.

او په یو بل روایت د ۶۶۲ هجري په شا و خوا کې ملك نصیر الحق والدین چې د سیستان حکمران دي د (طبق گران) په نوم هم له یوې دروازې څخه یادونه کوي.

لنډه دا چې بې له ابن هوقل او اصطخري څخه بل هیڅ یوه اسلامي جغرافیه لیکونکي پرته د زرنج د شارستان د پنځو او سپنیزو دروازو څخه نورې دروازې نه دي توضیح کړي او یوازې همدومره یې ویلي دي که د زرنج ربض دیارلس دروازې درلودلې، مگر دی دواړو مؤرخانو د دغو دیارلسو دروازو نومونه هم اخستلي دي. ۱

د زرنج د جنوب تاریخي ښارگوټي او ابنیې:

د دې د پاره چې د موضوع د اوږدوالي څخه صرف نظر شوي وي دا به کافي وي چې یوازې د دې ښارگوټو او ودانیو نومونه واخیستل شي.

- زامق (زالقان، زاهدان یا جالق): دا ښار د کرکویه د ښار د جنوب په پنځه میلې کې یو لوی کلي دي.
- هستیون: یو لوی کلي دي د زرنج په اطراف کې ظاهراً د هغه ښار په لویدیز او یا جنوب غرب کې.

۱ سیستان سرزمین ماسه و حماسه ها، ص ۱۸۵

- قلعه فتح: د زرنج د جنوب په ۶۵ کيلو مترۍ کې پروت دی.
- قلعه ترکو (قلعه تراکو يا تراخون) د سيستان د سرايان د بلوك څخه ده.
- سارتار (حصار طاق) يا شهر غلغله: په نيمروز کې د قلعه فتح د جنوب شرق په ۲۰ - ۲۵ کيلو مترۍ کې.
- قلعه مادر پادشاه او قصر سنګر: د بارو د رود په لوېديز او د نيمروز د چار برجك په ختيز کې[۱].

د زرنج د سيمې ښارګوټي او ابنيې:

- قلعه هزار برج (په چهل برج مشهوره ده) د نيمروز د مرکز زرنج د ختيز په ۲۰ - ۲۵ کيلو مترۍ کې.
- قلعه نيشك (کده بلبلې) د زرنج په شرق کې.
- بتو: يو لوی کلی دی او د نيشك له مربوطاتو څخه دی.
- جوين (ګوين)، د زرنج په شمال کې يو ښارګوټی دی.
- منبه: پخوا د سيستان يو لوی ښار ؤ.
- قلعه لاش، کوه سفيد يا کوه خواجه
- فرا (فراه) ۲

د زرنج تخريب:

که چېرته د افغانستان د لرغوني تاريخ په اوږدو کې د آسيا د دې سيمې پس منظر ته وکتل شي، نو په يقين سره ليدل کيږي چې د دې هېواد په ګام ګام کې د نړۍ له عجايبو ډك عظمتونه او بې سارې شهکارونو ارزښتونه د خونخوارو فاتحانو او وحشي يرغلګرانو له خوا د دې خاورې کم اصلو خپل هېواد او خلکو ته خاينو عناصرو په بې شرمانه کومك هغه ټول د خاورو سره خاورې شوي دي او اوس د هغوی له منځه يوازې حيرانونکي خرابې او تاريخي روايات او توصيفي عبارات پاتې دي. چې يو د دې جملې ځايونو څخه د زرنج ښار دی.

د زرنج ښار څو پيړۍ په زښته زيات رونق، برم، آبادۍ، سنره و اوسيده او په ظاهره سره د ۶۱۹ هجري (۱۲۲۲) ميلادي کال د مغولو د فتنواو قساوتونو او د چنګيزي لښکرو له خوا د زيانونو سره مخامخ شو او بيا څه چې ترې سالم پاتې وو په ۷۶۴ هجري/۱۳۶۳ ميلادي د ګوډ تيمور له خوا د هغه د پښې د ماتيدلو د کسات اخيستلو په قهر او غضب سره د آسيا د غلې انبار د هغه آبادۍ او حاصلخيزې مځکې

---

۱ سيستان سرزمين ماسه ها و حماسه ها، ج۲، ص ۲۶۱

۲ پورتنی اثر، ص ۲۶۲.

او بندونه له يو سره د خاورو په کنډوالو بدل کړل. يعنې ګوډ تيمور چې په همدې سيستان کې د سيستان دهقانانو ته ورته لښکر د مشر ملك (ممقتو) د غشي په واسطه ګوډ شو. د سيستان د بې سارې هستيو سره يې داسې معامله وکړه چې بيا يې د آبادۍ مخ و نه ليده او په نتيجه کې د افغانستان دا ډېره زياته آباده او له برمه ډکه سيمه په ريګزارو او کنډوالو بدله شوه.[1]

شاهرخ د تيمور زوی او د هغه جانشين سره د دې چې د هېواد لوړتيا او سمسورتيا سره يې مينه درلوده او غوښتل يې چې د پلار هر اړخيز مظالم او خرابکارۍ جبران کي بيا يې هم د پلار غوندی د سيستان لا محوه کولو ته بډې ووهلې او د سيستان شاهرګ (د رستم بند) يې وران کړ.

هوکې! زرنج هماغه ښار چې يو وخت د سيستان د پاچاهانو پلازمينه او د حکمرانانو کرسي وه. هغه زرنج چې يوه ورځ د خلافت د مقر د بغداد سره يې سيالي کوله او په شرق کې د آسيا د ډېرو ګڼ نفوسو ښارونو څخه و او د (البشاري) په قول د (عجايب البلاد عجم) څخه شمېرل کېده د دوو تنو آسيايي خونخوارو فاتحانو (چنګيز او تيمور) او دروانو ريګونو د هجوم له کبله چې د رستم د بند د ورانولو په نتيجه کې يوه هسې منظره ځانته نيولې وه چې د هغو په ليدلو ورته د انسان زړه راتله.

ګوډ تيمور او د ده جانشين شاهرخ د هيرمند د بندونو په ورانولو سره د سيستان شريانونه پرې کړل او د نيمروز (مدينة العذرا) يې د خپلې مور (هيرمند) په سپينو وينو کې ډوبه کړه او ويې وژله...

او د زرنج د مړينې په نتيجه کې نيمروز هم مړ شو او د ژوندانه د ارګ د کلا د غول پيکرو کنګرو شاوخوا کې ژوند هم چوپ شو.[2]

د نيمروز يو معاصر شاعر د زرنج د کنډوالو په ليدلو سره زيات متحسس شوي او د خپل تراژيدي احساس انځور يې په يوه مخمس کې ايستلی دی چې يوازې د هغه په لومړۍ برخه بسنه کيږي:

الهی عظمت دوران من کو؟
شکوه ارګ عاليشان من کو؟
جلال و عظمت شاهان من کو؟
بدل پروردم آن مردان من کو؟
ګرفتي يارب از من، جان من کو؟

د زرنج نوی ښار:

د زرنج د نوي ښار نقشه د لرغوني زرنج د کنډوالو د جنوب په لس کيلو مترۍ کې د نيمروز د ولايت د

---

۱ پورتنی اثر، ص ۲۱۷

۲ پورتنی اثر، ۲۱۹ مخ

مرکز په توګه په ۱۳۴۴ شمسي د (جبرو کې په نوم بلوچي اصطلاح ده) سیمه کې طرح شوه او هلته دولتي عمارتونه، هوتل، کاروانسرایونه، بازارونه، حمام، جوماتْ، د ښوونځیو ځایونه، پارك، او په شمال کې یې هوایي ډګر په نظر کې ونیول شو او د ۱۳۵۸ کال د احصایې له مخې یې تقریباً اوه میلیونه نفوس درلود.۱

۲ پورتنی اثر، ۲۲۰ مخ

۸- کاپیسا- بگرام

(د هندوکش د لارو ور)

کاپیسا-بگرام دوه داسې مفاهیم دي چې یو محل معرفي کوي، هر کله چې د کاپیسا څخه یادونه کیږي دواړه د سړي سترگو ته بگرام ودریږي او کله چې د بگرام څخه یادونه وشي، د کاپیسا د ساحې ماحول را د مخه کیږي. د دې دواړو نومونو تر منځه ډېر کم توپیر شته دی، یو یې دا دی چې بگرام دوه محله معرفي کوي یعنې یو بگرام په پېښور کې هم شته دي، خو کاپسا کاپیسي بل محل ته انتساب نه لري.

بله موضوع چې کاپیسا او بگرام یو د بله مشخص کوي هغه دا ده چې د بگرام شاهي ښار د کاپیسې مرکز ښودلي شوي دي او دا ځکه چې په تاریخي اسنادو کې د کاپیسا د مملکت څخه یادونه شوی او بگرام د مملکت په نوم نه دي یاد شوي.

بل ټکی چې د کاپیسا او بگرام تر منځه تفاوت برجسته کوي هغه دا دي چې ننني بگرام د لرغوني کپیسا (کاپیسا) پر ځای موقعیت لري، په هر صورت د بگرام او کاپیسا ښه پېژندنه به په راتلونکو بحثونو کې وشي او دلته همدا لنډه یادونه کافي گڼل کیږي.

د کاپیسا، بګرام حدود او موقعیت

د کابل په شمال کې یوه پراخه او سمسوره جلګه چې پر زراعتي او باغي ځمکو څخه مشتمله ده او دوه ضلعې یې د لویدیز له خوانه د پغمان غرونو او د شمال له خوا نه د پنجشیر غرونو احاطه کړې ده او دوه نورې ضلعې یې یو شمېر ګډوډ غرګوتو او غرونو چې مهم یې د صافي د غرونو څانګې دي او تور رنګ لري رانیولې ده.

دا پراخه او سمسوره جلګه معمولاً په دوو نومونو یادیږي:

- کوهدامن او کوهستان:

د دې دواړو سیمو تر منځه بیلونکي حد په مشترك ډول څلور خروشانه سیندونه لکه غوربند سالنګ، شتل او پنجشیر دي، چې دا څلور واړه سیندونه د دې سیمې له منځه تیریږي. هغه سیمې چې د دې رود خانو شمال یعنې په کینې غاړو کې موقعیت لري کوهستان او هغه چې په ښې خوا کې یا جنوبي غاړو کې پراخه پرته ده د کوهدامن، علاقه تشکیلوي دا ارت ډنډ لکه چې نن سرسبز، حاصلخیز او له نفوسه ډك دی په پخوانیو زمانو کې هم آباد، حاصلخیرز او له نفوس څخه ډك ؤ، خرابې، معبدونه او استوپې د تاریخي منابعو د شهادت سره په ګډه مدلل کوي چې د کوهدامن، کوهستان سیمه یوه ودانه او له نفوسو ډکه سیمه او هلته یو شمېر له برمه ډك ښارونه، کلي کلاګانې او معبدونه موجود وو.

د کوهدامن، کوهستان په ټولې پراخې جلګې کې چې کومې خرابې د ښار په خرابو شهادت ورکوي یو یې بګرام دي. ۱

د کاپیسا د ښار اوږدوالي سل کیلو متره او سور یې ۵۰ کیلو متره ؤ.

د دې پراخې او سمسورې سیمې په منځ کې چې ګرد چاپیر ترې غرونه راتاو دي پخوا یو ښار موجود ؤ چې کاپسې (کاپیسا) یې ورته وایه.

په ترتیب سره د غوربند، شتل او بیا سالنګ او پنجشیر رودونه یو ځای کیږي او جریان پیدا کوي تر څو چې په یوه نقطه کې دا دواړه لوی ښاخونه سره ګډیږي او د همدې نقطې په مقابل کې یو شمېر خرابې پرتې دي چې نن ورته بګرام وایي او په پخوانیو زمانو کې یې په (کاپیسې) شهرت درلود. د تاریخي منابعو په استناد په ډېرو لیرو پخوانیو زمانو کې لکه د هخامنشیانو د دورې په لومړنیو کې او د سیروس په زمانه کې (۵ ق. میلادي) کې او حتی تر دې څخه ډېر پخوا دلته یوه پخه کلا او یا مستحکم حصار موجود ؤ چې اوسیدونکو یې د هخامنشي سیروس په مقابل کې مقاومت کړې ؤ فرانسوي پوهان له موسیو فوشه څخه نیولې تر موسیو هاکن پورې داسې ګومان کوي چې د بګرام د ودانیو پخوانی

۱ کهزاد، افغانستان در پرتو تاریخ، ۱۳۴۶، ص ۱۶۰

نقطه او د اوسنی آبادي هسته د عبدالله برج څخه عبارت ده چې د هغې کنډوالې د یوې لویې دایرې په شکل د پنجشیر له سیند څخه د ۲۰ مترو په لوړوالي چې د دې سیند سره متصلې پرتې دي او بیا د ژوندانه د غوښتنو له مخې یې ارتفاع تقریباً ۵۰۰ مترو ته ور پورته شوه د بګرام د دښت په جنوبي څنډه کې د کاپیسې د ښار بنسټ کیښودل شو.

هغه خرابې چې نن ورځ د بګرام د ښار په نوم لیدل کیږي دوه نیم کیلو متره ساحه رانیسي او درو خواوو غرب، شرق او جنوب ته یې د یوه لوی دیوال آثار او شواهد لیدل کیږي چې د وخت په تیریدلو سره او د جوي حالاتو له امله اوس د یوې نرۍ او اوږدې تپې په شکل اوښتي دي او د کرنې ځمکې د آبادولو له امله یې آثار نه دي پاتې شوي موسیو هاکن د فرانسوي کیندنو د هیئت متوفی رئیس دا خرابې «د بګرام نوي شاهي ښار» بللي دي او دا هماغه ښار دي چې چینایي زایر هیوان تسنګ په ۶۳۲ میلادي هغه د کاپیسې په نوم یاد کړي دي. ۱

آریانا دایرة المعارف د کاپیسا یعنې ننني بګرام حدود او موقعیت داسې تثبیت کړي دي، ننني بګرام د پخواني ښار په موقعیت کې دي.

د دې ښار د جوړېدو او پراختیا علت دا ؤ چې د یونانو باختري پاچاهانو د واکمنۍ ساحه جنوب او ختیز ته وغزیدله، بګرام د کاپیسا ښار د کابل په ۶۰ کیلو مترۍ کې پروت دي چې حدود یې په لاندني ډول دي:

- شمال خواته یې: د پنجشیر رودخانه، کوه بچه، کوه پهلوان او کوهستان دي
- لمر خاته یې: د باریکاب خاورینې غونډۍ چې په هغو کې د بودایانو ډیری سمڅې کیندلي شوي دي.
- جنوب ته یې: د شیسي د غرونو لیکه ده چې د کابل د ناوې او کوهدامن تر منځه پرته ده.
- لمر لویدو ته یې: متفرقې کلاوې پرتې دي.

د کوه پهلوان په اوږدو کې د پنجشیر د رودخانې د جنوب په دوو کیلو مترۍ کې د بګرام شاهي ښار موقعیت لري. ۲

په تاریخي منابعو کې د کاپیسا-بګرام تسمیه او نومونه:

۱- کاپیسا:

چینایي زایرینو کاپیسا د «کي پیس»، کي-پیش»، «کي پن» په نامه او د یونان او روم جغرافیه لیکونکو د «کیپسا» په نامه یاد کړي دي.

۱ افغانستان در پرتو تاریخ، ص۱۷۱

۲ آریانا دایره المعارف، ټ ۷، ۷۸۰ مخ

همدا شان په ځینو تاریخي آثارو کې کاپیسا د (کاپیسې) په نوم هم یاد شوي دي. لکه چې هیوان تسنګ (۶۳۲) دا ښار د کاپیسې په نوم یاد کړي دي.

۲- بګرام:

د بګرام ښار ځینو پوهانو (ویګرام) بللي چې (ګرام) په سانسکریت کې ښار ته وایي او د (وي) توری د تعریف او تفصیلي توصیفي توری دی او هغه ته افضلیت ورکوي یعنې ویګرام (د بګرام) مهم ښار او مهم پایتخت کیږي.

ځینو مؤرخانو د بګرام ښار د خانانو او نجیبانو ښار، د خدای بڼ او د راهبانو کلي او نجیب کلي بللي دي. ۱

د کاپیسا د ښار تاسیس او علت یې:

لکه چې د مخه یادونه وشوه (افغانستان در پرتو تاریخ) کې ویل شوي دي چې د هخامنشي سیروس په زمانه یعنې د هخامنشیانو د دورې په لومړیو کې (۵ ق. میلادي) او حتی تر دې د مخه پخوا د بګرام په سیمه کې یوه پخه کلا او یا مستحکم ښار موجود ؤ چې اوسیدونکو یې د نوموړي سیرویس په مقابل کې مقاومت کړی ؤ.

مګر د موسیو ګرشمن د عملي څیړنو له مخې څرګنده شوې ده چې د کاپیسې د ښار بنسټ د یونان باختري د سلطنت د عروج په دوره کې تر میلاده دوه پیړۍ د مخه لومړۍ نیمایي کې ایښودل شوي دي او چې د هغوی له خوا د بکترا (بلخ) چې د هندوکش په شمال کې د سلطنت مرکز ؤ د سند د رود د ماورا برخو کې فتوحات وشول، نو یې د هندوکش د غرونو د سلسلو په جنوبي لمنو کې د یوه لوی ښار جوړولو ته یې ضرورت درلود، او دا کاپیسې د دې منځنی نقطې څخه د اجتماعي او سوق الجیشي له پلوه زښته زیاته مناسبهٔ نقطه وه په نتیجه کې د دې سمسوري حوزې د رودخانې د مجرا په غاړه کې تر میلاده دوه پیړۍ د مخه نیمایي کې د دې ښار تاداؤ کیښودل شو او نوی شاهي ښار رامنځ ته شو.

ښایي وویل شي چې لرغوني ښارونه زیاتره د مستحکمو کلاګانو په شکل جوړیدل او د کاپیسې د ښار خرابې چې دوه نیمه کیلو متره احاطه لري او داسې ښیي چې د هغه وخت په مقتضی دایوارت ښار ؤ او د دې سره یې په اطراف کې، حصار، خندق او یو شمیر برجونو درلودل. د کاپیسا د حصار دیوال په خپله ښکتنۍ برخه کې د ۸ پلن ؤ او پسور یې له ۲۰ مترو څخه تیری کاوه.

د ښار په څلورو کونجونو کې او د هغه د دروازو تر څنګه پنډ برجونه موجود وو. او نورو دیوالونو یې حد په حد برامده ګۍ درلودلې، په داسې ترکیب سره چې د ښار د خندق غاړو ته د دښمن ور نژدې

---

۱ آریانا مجله، لومړۍ ګڼه، ۱۳۲۳، ۲۶ مخ

کېدل آسان کار نه ؤ. ۱

په يوه بل روايت سره د کاپيسا - بګرام د مستحکمې کلا بنسټ اينبودونکي مقدوني سکندر ښودل شوي دي.

د کاپيسې - بګرام د ښار په ساختماني پلان کې د محلي او يوناني ښارونو جوړولو اساسات:

د تاريخ د متونونو په شهادت کاپيسا - بګرام په (۵ ق. ميلادي او ۶ ق. ميلادي) پېړيو کې د سيرويس او داريوش هخامنشي د فتوحاتو په اثر وران شوي او ودان شوي دي.

د دې مستحکمې کلا بنسټ په عبدالله برج کې مقدوني سکندر اينبودلي او که داسې نه وي يونانو باختريان د دې ښار تاداو اينبودونکي به وي، مګر د لرغوني پېژندنې د مشاهداتو هغه حقايقو چې د بګرام په باب دي څرګنده کړه چې د دې ښار تاداؤ د دوهمې ميلادي پېړۍ د مخه زمانو کې د يونانيانو له خوا اينبودل شوي دي.

د بګرام د ښار د خرابو کتنې د ښار جوړولو له نظره يوه ډېره په زړه پورې موضوع ده او دا کار پرته له کيندنو ممکن نه دي، مګر خوشبختانه دا کار په هغو کيندنو کې چې د دوهم نړيوال جنګ په کلونو کې فرانسوي لرغون پېژندونکي موسيو ګير شيرمن له خوا تر سره شوي داسې نتيجې يې رامنځ ته کړي چې د هغو په رڼا کې د بګرام د ښار جوړولو پلان او تدافعي سيستم راڅرګند شو او داسې ښکاري چې د دې ښار ساختماني پلان د يوناني ښارونو په کلاسيك اساس ولاړ دی او د هغه په دفاعي سيستم کې د محلي اساساتو څخه کار اخيستل شوی دی. د نوموړي عالم د مطالعاتو په اساس د کاپيسې ښار په خپلو عمومي خطوطو کې د يوناني ښارونو په اصولو د (هيپودام) يعنې په مربع شکل جوړ شوي وو چې له يو بازو څخه بل بازو ته يوه جاده پرته وه او د ښار لويې برخې د جادې دواړو خواوو ته اچول شوي وي، نو په دې ترتيب (د کاپيسې - بګرام) ښار د پلان له مخې د (ديورا - او روپس) د ښار سره بشپړه ورته والي درلود او دا يو يوناني ښار ؤ او د هغه کنډوالي د امريکا د (يال) پوهنتون پوهانو په عربي آسيا کې کشف کړي ؤ. د بګرام او (ديورا) د ښارونو تر منځه د ښار جوړونې له نظره د يوناني سبك په اساس زيات ورته والي موجود دي.

موسيو ګير شيمن د دې شباهت ځينې خواوې داسې څرګندوي:

- په دواړو ښارونو کې پوځي مرکز د رودخانې پر مجرا حاکميت لري.
- په دواړو ښارونو کې د ښار اساسي دروازه او يا لوی مدخل په جنوبي بازو او مخ يې د جلګې

۱ افغانستان در پرتو تاريخ، ۱۷۳ مخ

خواته دي.

- د ښار اساسي جاده له دې یوې دروازې څخه پیل او په رودخانې پای ته رسیږي.

په دې کې شك نشته دي چې زیاتره دا ورته والي د دې دواړو ښارونو د مشابه اراضي وضعې رامنځ ته کړي، خو د موسیو ګیرشمن په نظر د دې دواړو ښارونو جوړونکي د یوناني ښار جوړولو له اصولو خبرتیا درلودله او د دواړو ښارونو بنایي د یوناني ښار جوړولو په موازینو ایښودلې ده څه رنګه چې دا موضوع د (دیورا) د ښار په مورد کې ثابته ده نو کوم دلیل نشته چې د کاپیسا -بګرام په مورد کې هم اصالت و نه لرلای شي.

باید وویل شي چې د بګرام د ښار په تدافعي اصولو کې له ایراني نظریاتو څخه چې محلي رنګ یې ځانته نیولي دي هم استفاده شوې ده. مګر په یوناني ښار کې بیا داسې نه دي شوي.

د کاپیسا- ګرام د ښار د جنوبي بازو لوی دیوال د هغه سره نژدې برجونه په تېره بیا پنډ برجونه چې د ښار په کونجونو کې موجود دي د محلي تدافعي مفکورو څخه نماینده ګي کوي چې لرغوني سوابق لري. او په مغرب زمین جهان کې له هغې، چا آګاهي نه درلودله.

نوموړي فرانسوي عالم د خپل نظریاتو د ثبوت د پاره د لوستونکو پام د خوارزم سیموته راګرزوي چې د آمو دریا د ښکتنی مجرا په ښي غاړه کې پراخې شوي دي. او د یو وخت د پاره د یونانیانو باختري پاچاهانو تر تسلط لاندې وي، بې له شکه اوسني لرغون پیژندونکي تولستف چې په خوارزم کې یې پراخې کیندنې او څېړنې تر سره کړي دي او څه رنګه چې ریګونه د شمال د الوتلو په وجه د وخت په تیریدلو سره رامخې ته شوي او زیاتره پخوانی ښارونه یې د خپلې خیټې لاندې کړي دي نو چې هر څومره د ښارونو کنډوالي د آمو دریا د مجرا څخه لیرې پرتې دي هغومره زیات لرغونتوب لري او هر څومره چې ورته نژدې وي زیات نوي والي لري او دا مفکوره د لرغون پیژندنې تحقیقاتو ثابته کړې ده.

د پروفیسور تولستف له کتنو څخه څرګنده ده په ښارونو کې چې کومې کلاګانې تر میلاده یوه پیړۍ د مخه جوړې شوي دي د هغو د دیوالونو په اوږدو کې برجونه نشته دي او په دیوالونو کې یې تیر کشونه یو بل ته ډېر نژدې ایستل کشوي دي. چې د جانباز کلا یې ډېره ښه نمونه ده.

د جانباز کلا د سرایخواجه د شمال په پنځه کیلو مترۍ کې پرته ده.

وروسته خو په همدې دوره کې په داسې حال کې چې دیوالونه تیر کشونه لري مربع شکل برجونه د ۱۸ – ۲۶ مترو په مسافه ښکاري او د مربع او مستطیل شکلو کلاګانو پرته مدوري کلاګانې هم څرګندې شوي دي.

د دیوالونو په اوږدو کې د برجونو فاصله د خوارزم او د بګرام د کلاګانو تر منځه ورته والي رامنځ ته کړي دي د بګرام د ښار د دیوالونو او حصار د برجونو آثار د موسیو ګیر شمین د کیندنو په نتیجه کې

راښکاره شول، د ښار د حصار اوږدوالي ۶۰۰ متره او پسور يې د ۴۵۰ مترو په شاوخوا کې دي د ښار د پنډ حصار بقاياوې د شرق، غرب او جنوب په ضلعو کې معلومې او د برجونو شمېر يې هم د څېړنو په نتيجه کې راښکاره شو. په شمالي جناح کې ښار د ملايم مخ ځوړي سره د پنجشير د رودخانې د مجرا په طرف متمايل کېده او طبعاً په دغه برخه کې يې هم ديوال درلود چې هغه د کرنې او ځمکو د جوړولو په وجه هوار شوی وو.

د ښار ديوال په خپل اوږدوالي او پسور کې پيش بر آمده ګي درلودلې چې دا کار د تعبيې له پلوه ښار ته استحکام ورکوي، د ښار جنوب غربي زاويه سخته محکمه وه ځکه چې هلته د يو لوی برج (شاه برج) بقاياوې پيدا شوي دي، چې يوازې په لويديزه ضلعه کې ۵۰ متره اوږدوالي لري. حال دا چې د شمال غربي کونج برج په څو ځلې له هغه کوچنی دي او يوازې ۶۰ر۱۶ متره اوږدوالي او ۹۰۰ر۸ متره پسور لري.

د ښار عمومي لويه دروازه د جنوبي بازو د ديوال په منځ کې مخ په جنوب د کوهدامن د جلګې خواته ايستل شوې ده، له دې دروازې څخه يوه کوڅه د ښار له منځه تيريده او شمالي ضلعې ته عبدالله برج ته نژدې د رودخانې په غاړه ختميږي. او له همدې نقطې د ښار او سيدونکو اوبه اخيستلې نو ځکه هغه څرګندونې چې په تاريخي نظرياتو او د لرغون پيژندنو په څېړنو او د لويديزې آسيا او خوارزم د پخوانيو کلاګانو او ښارونو په مقايسه مستندې بيان شوي، «د کاپيسا . بګرام» ښار د پلان له مخې د يوناني ښارونو سره زيات توافق لري، خو استحکام يې په محلي مفکورو بنا ؤ، دا نظريه چې د يوناني ښار جوړولو اصول د بګرام د ښار په ساختماني پلان کې وکتل شي، په دې کې دا ټکي د زيات اهميت وړ دي، چې سترو کوشانيانو د يونانيانو ځای نيولي و او د ښار د پلان په اساسي برخو کې يې کوم څرګند تغييرات رامنځ ته نه کړل او پخوانی بيلګې يې په کې وساتلي او دا مفکوره لرغون پيژندنه هم تاييدوي. ۱

هغه کيندنې چې د ښار د برجونو او حصار د ساختمان په ارتباط تر سره شوې. د حصار د ديوال اوږدوالي ۲۷۶ متره او پسور يې په ځينو برخو کې ۱۱ متره ؤ. دا پنډ ديوال په داسې حال کې چې مستقيم دي، وروسته له هغې فاصلې لس متره مخکې د څو مترو په اوږدوالي او سور، برامده ګی لري، په دې توګه د ښار ساتونکي د هغو تيرکشونو څخه چې د ديوال په اوږدو کې تعبيه شوي د ديوال ټولې زاويې ليدلای شي او دښمن د ديوال بيخ ته په هيڅ ډول د ښار د ساتونکو د غشو ويشتلو څخه ځان پټولای نه شي.

د ديوال په څلورو کونجو کې د حصار د اضلاعو د تقاطع له مخې او د ښار هغه حصار د دوو ضلعو

۱ افغانستان در پرتو تاريخ، ۸۰ - ۸۲ مخونه

برآمده ګۍ یو داسې شکل پیدا کړو چې د خرابو او د خاورو د تراکم له مخې هلته د برجونو په موجودیت حکم کوي خو معلومه شوه چې نوموړي ښار په خپلو څلورو کونجونو کې برجونه درلودل د کاپیسې د ښار حصار چې د وخت په تیریدلو سره سولیدلي او خوړل شوی ؤ د ۷ - ۸ مترو په شاوخوا کې تخمینوي. د دې دیوالونو یوه برخه لا تیره ده او نورې یې د اومو خښتو څخه جوړ شوي دي. لکه څنګه چې د ښار د جنوبي بازو د باندنۍ څمکې د شکل له مخې څرګندیږي احتمال لري چې ښار دوهم حصار هم درلود.

تر اوسه پورې په مجموعي ډول تقریباً ۵/۱ برخه د کاپیسې د ښار د حصار د داخلي محوطې سطح کیندل شوې ده. د راهبانو د اوسیدلو له مخې بودایي معبدونه او مذهبي تاسیسات ټول د ښار د حصار د باندې پراته وو او له دې جملې نه ډېرې مشهورې یې د پهلوان د غره په لمنو کې چې ډېره نژدې ګوښه یې د ښار له حصاره دوه کیلو متره مسافه لري ودان شوي دي. دا معلومه نه ده چې په کوشاني عصر کې بالخاصه د ستر کنیشکا د سلطنت په دوره کې دي عبادت ځایونه په څه نومونه شهرت درلود.[1]

کاپیسې -باګرام د مؤرخانو په آثارو کې:

لومړنی شخص چې د کاپیسا څخه یې یادونه کړې ده د سانسکریت د علم د صرف و نحو عالم، (پاني نی) دي چې تر میلاده څلور پیړۍ د مخه ننی اټک ته نژدې د پیښور په شاوخوا کې یې، ژوند کاوه، دا شخص د (یوناني مؤرخانو پلار) هیرودت معاصر ؤ.

لکه چې فرانسوي لرغون پیژندونکي موسیو الفرد فوشه وایي، له (پاني نی) څخه تر هیوان تسنګ پورې یعنې (۴ ق. میلادي) نه تر اومې مسیحي پیړۍ پورې یعنې د اسلامي دورې د پیل څخه زر کاله د مخه وختونو کې له کاپیسې څخه یادونه شوې ده او دا نوم د هندوکش په جنوب کې د یوناني پاچاهانو په مسکوکاتو کې وهل شوي او وروستنی شخص چې د پخوانیو مؤرخانو په سلسله کې له دې نومه یادونه کړې هغه البیروني دي.

یا په بل عبارت د اسلامي دورې لومړنی مؤرخ چې د کاپیسا په کلمه کې د دې پخوانی نوم څخه یادونې کوي او نور پاتې عربي جغرافیه لیکونکي او مؤرخان له دې نوم څخه خبرتیانه لري او د هغوی په لیکنو کې د کاپیسې پر ځای له کابله بحث شوي دي.

زموږ په خاوره کې د مقدوني سکندر د راتلو څخه د مخه کاپیسې هلته چې د بګرام خرابي پرتې دي د ننجشیر د سیند مسیر ته نژدې موقعیت درلود، لکــه چې په ځینو مؤخذونو کې د هخامنشي سیروس (۶ ق. میلادي) پر ضد د دې ښار د خلکو د مقاومــــت څخه یادونه شــــوې ده [2] او د مخه

[1] تاریخ افغانستان، ټ۲، ۲۳۴، ۲۴۰ مخ
[2] افغانستان در پرتو تاریخ، ص ۱۷۰ - ۱۷۱

پرې لنډو کې بحث وشو.
د چين پخوانيو مؤلفينو (کاپيساش يا د اوسني کوهدامن جلګه د کپاپيس) يا د (کي بن) په نامه ياده کړې ده.
هغه وخت چې چيني ګرځندوی هيوان تسنګ په ٦٣١ ميلادي له بلخه د هند په تکل کاپيسا ته راغلی ؤ، هغه وايي چې کاپيسا د شمال له خوا د هندوکش په واورو پټو غرونو تکيه کړې او پر دريو نورو برخو يې د ذوذنقه په شکل تور غرونه راتاو شوي دي، چې په دوئ کې يې واورې نه پاڼې او ويلي کيږي.
موسيو فوشه هم د چيني ګرځندوی د تشريحاتو تصديق کړي دي چې دکاپيسا جلګه ٦٠ کيلو متره شمالاً جنوباً او ٢٠ کيلو متره شرقاً او غرباً پرته ده، که څو کوچنی ډنډونه او غديرونه پکې موجود وای نو کټ مټ به کشمير ته ورته ؤ.
کاپيسا د خپل جغرافيوي موقعيت په واسطه د هند او باکتريان (باختر) تر منځه لوی مذهبي او تجارتي معبر او (د هندوکش د لارو ور) دي لکه چې د چاريکارو کوچنی بازار نسبتاً ډېر مهيج او د هندوکش په جنوبي لمنه کې کوچنی تجارتي مرکز بلل کيږي.
تر اسلام د مخه هغه وخت چې بلخ (د روم، چين او ساساني) امپراطورۍ د بين المللي تجارتي مرکز ؤ د اندوس (نکافن) او د کابل د حوزې تو له مال التجاره کاپيسا ته راتله او په هغه وخت کې کاپيسا د تجارت له نقطه نظره لوړ مقام درلود. لکه چې هيوان تسنګ د دې مدعا ښه شاهد دي په کاپيسا کې هر ډول مال التجاره ډېره پيدا کېده او د کرنې حاصلات يې هم ډېر زيات وو. ١

کاپيسې د سلطنت (امپراطورۍ) او يا پلازمينې په توګه:

په تاريخ کې کاپيسا نه يوازې د يوه سوق الجيشي سيمې، نقطې او تجارتي لوی مرکز او ستر معبر او يا د يوه ډېر لوی مذهبي کانون په توګه ګڼل شوي دي بلکې د دې تر څنګه د دې ښار د عروج په دوره کې هغه نه يوازې د يوه شاهي پايتخت بلکې د يوه سلطنت په نوم هم ياد شوي دي.
هيوان تسنګ چيني زاير په ٦٣٢ ميلادي کله چې کاپيسې ته راغی دا وخت د دې لوی سيمې پاچا (کشاتريه) يعني د نجيبانو د طبقې څخه ؤ، او تقريباً امارتونه د ده تر اداري لاندې وو. د نوموړي زاير د يادداشتونو له متنه ځينې سيمـــې چې د کاپيسا د سلطنت پورې مربوطې وې داسې معرفي شوي دي.

١- لان پو (لغمان):

شاهي کورنۍ يې له منځه تللي وه، بالاخره د کورنۍ د بې اتفاقۍ او بې تفاوتۍ له امله د کاپيسا

---

١ آريانا دايره المعارف، ټ ٧، ٧٨١ مخ

باجګزاره شوه.

۲- نګاراهارا (ننګرهار):

مستقله حکمراني يې نه درلودله او حکمرانان يې له کاپيسا څخه مقرریدل.

۳- ګنداهارا (د ښکتنی کابل سیمه تر تکسیلا پورې):

چې دلته شاهي کورنۍ له منځه تللي وه او سلطنت يې د کاپيسا د نماینده ګانو له خوا اداره کېده.

۴- تاشاسیلو (تاکسیلا):

له ډېر پخوا نه دا سیمه د کاپيسا د سلطنت تابع وه، خو بیا وروسته د کشمیر باجګزاره شوه. ۱

دې سلطنت تر دې وروسته لا پراختیا وموندله او محیط يې تقریباً ۴۰۰ لي ته ورسیدله شماله له واورو په پټو غرونو او د نورو درو په استقامت او نورو غرونو محاط شو.

پخپله د پایتخت محیط ۱۰ لي شو. ۲

د کاپيسا ښار د پلازمینې په توګه هغه وخت منځ ته راغی چې د ستراتیژیکي، اداري او تجارتي موقعیت له مخې يې خاص اهمیت پیدا کړ لکه چې ویل کیږي د کاپيسا ښار تر یوه وخته پورې د یوه ښار په توګه او بیا وروسته د یوناني پاچاهانو د مرکز او د پلازمینې په حیث شهرت وموند. ۳

کاپیسا- بګرام د کوشانیانو په دوره کې:

تاریخي اسناد ښيي چې زموږ په هېواد کې د کوشانیانو د واکمنۍ په راتلو سره ورو ورو د یونانیانو د واکمنۍ ساحه تنګیدله. لکه وروسته له هغې چې کوشانیانو د یونانیانو ځای ونیو، دا وه چې یونانیان په جبري ډول د هندوکش په جنوبي سیمو کې محدود شول، تر څو چې د (۵۰ ق. میلادي) په شاوخوا کې کوشانشاهانو د هندوکش جنوبي برخوته هم راخپاره شول او په کابل کې د یونانیانو وروستنی پاچا (هریالوس) خپل ځای کوشاني پاچا (ویماکدفیزس) ته ور پریښود او له دې تاریخ وروسته کاپیس د کوشانیانو د پایتخت په توګه رامنځ ته شو او مخ په ترقۍ شو. او د لوی کوشان شاه (کنیشکا) په دوره کې د کوشانیانو د پراخې او سترې امپراطورۍ تابستاني پایتخت وپیژندل شو. ۴

کاپیسې چې د کاپيسا مرکز ؤ او نن ورځ په بګرام شهرت لري د خپل عروج او ودانۍ مرحلې يې تیرې کړي دي.

---

۱ تاریخ افغانستان، ج۲، ص ۵۰۷

۲ پورتني اثر ص ۱۷۱، ۱۷۳

۳ افغانستان در پرتو تاریخ، ص ۱۷۱

۴ افغانستان در پرتو تاریخ، ص ۱۷۱، ۱۷۳

کاپيسې نه يوازې د افغانستان د مشهورو ښارونو څخه ؤ بلکې په بيلابيلو دورو کې له يونانيانو څخه نيولي تر کوشانيانو پورې د لرغوني افغانستان پلازمينه وه.

له کاپيسې نه په بګرام شهرت موندل:

د تيرو بحثونو څخه دا نتيجه اخيستل کيږي چې کاپيسا نه يوازې زمونږ د هېواد د ستر ښار مفهوم افاده کوي بلکه يو وخت د سلطنت حيثيت يې هم موندلي دي. او کاپيسې بيا د هغه مرکز او پلازمينه معرفي شوي ده خو بيا وروسته په تاريخي منابعو کې له کاپيسې څخه يادونې شوي نه ده او په بګرام يې شهرت پيدا کړي دي په دې باب «افغانستان در پرتو تاريخ» کې داسې معلومات وړاندې شوي دي.

وروسته له هغې چې د يونانو باختري د پاچاهانو سلالې د «ريستي» قومونه تر فشار لاندې د «بکتر» «بلخ» او «باکتريان» «باختر» پريښودلو ته مجبور شول او د هندوکش جنوب ته راښکته شول نو د عبدالله برج تر څنګه چې هلته يوه ودانۍ وه او د جوړېدو نسبت يې مقدوني سکندر ته کيږي په دغه ځای کې يې د «نوي شاهي ښار» يعنې «بګرام - کاپيسې» د ښار په جوړولو لاس پورې کړ «د بګرام د نوم تسميه خو د مخه ښودل شوي او د شاهي ښار معنا يې درلودله.»

او که موضوع ته يو څه صراحت ورکړ شي د يونانيانو باختري د سلسلې دغه وروستنی پاچا «هيلوکلس» ؤ چې له بلخه يې پلازمينه «مرکز» کاپيسې ته انتقال کړ، دا وه چې د ميلاده د مخه د دوهمې پيړۍ په لومړنيو کې کاپيسې مرکزي او پايتختې حيثيت پيدا کړ.

د يونانو باختري پاچاهانو د يوې نيمې پيړۍ په شاوخوا کې په کاپيسې کې د افغانستان او هند په ډېرو پراخو سيمو سلطنت وکړ. ١

د مسيحي پيړۍ په پيل او يا تر يو څه موده د مخه ستر کوشانيان لکه يونانيان له باختره د هندوکش جنوبي لمنو ته راښکته شول او په کاپيسا کې يې د باختر د يونانيانو پر ځای يې واکمنی پيل کړه او د هغو قايمقام شول او د امپراتور کنيشکا د برم او دبدبې په دوره کې پخواني بګرام «کاپيسې» د زيات اهميت درلودونکي شول چې حدود يې د مخه معرفي شول. او د کوشان شاهانو تابستاني پلازمينه وګرزيدله.

تر سترو کوشانشاهانو وروسته بيا هم کاپيسې خپل مرکزي اهميت له لاسه ورکړي نه ؤ لکه چې کوچنيو کوشانيانو «کيداريانو» په وخت کې هم بګرام د پلازمينې مقام درلود. او تر دوی وروسته د يفتلشاهانو يوې څانګې دا ښار بيا هم خپل پايتخت وګرزاوه.

هېوان تسنګ چې دا دوهمې پيړۍ په اوږدو کې يې دا ښار په خپلو سترګو ليدلي دي شهادت ورکوي په ٦٣٢ ميلادي چې د باميانو له لارې د کوهدامن او کوهستان حوزې ته رانښوت او نژدې يوه

١ همدغه اثر، ص ١٧٣

میاشت دې ښار ته نژدې و اوسیده. نو د نوموړي د یادداشتونو له مخې سلطنتي کورنۍ په دې وخت کې (کشاتریه) نومیدله چې لغوي مفهوم یې (د جګړه مارو نجباوو) کورنۍ وه او د (کوشانانو یفتلي) له سلالې څخه عبارت وه کومه چې د کاپیسا د سوق الجیشي اهمیت له امله له رونقه لویدلي او رتبیل شاهان چې پخپله د پوځي قواوو سپه سالاران هم وو په بالاحصار کې د خپل تقرر سره د کاپیسې د ښار اهمیت یې له پامه غورځولي ؤ. په دې کې شك نشته دي چې د کاپیسا څخه مرکزیت یو دم او ناڅاپه کابل ته نه دي منتقل شوي یعنې لومړنی ښار (کاپیسا) تجارتي او مذهبي مرکزیت او دوهم ښار (کابل) پوځي او سوق الجیشي موقعیت درلود او دې دواړو ښارونو تر یوه وخته پورې د خپل مرکزیت موازنه ساتلې وه. د دې خبرې د اثبات د پاره دا نظریه موجوده ده چې د مخه ترې یادونه وشوه چې دا د کاپیسا په باب د چینایانو او د کابل په باب د عربو یادونې وي، دا وه چې ورو ورو د کاپیسا اهمیت مخ په زوال ؤ او کابل د عربو د حملو د مداومت په جریان کې د مرکزیت غښتلیا موندله.

۷۵۱ او ۷۶۹ میلادي کلونو ته په نژدې وختونو کې چې (وو کونګ) چینایي بل سیاح ګندهارا ته راغي چې دا وخت هم کاپیسا مرکزیت درلود او دا موضوع د موسیو فوشه د نظریې په اساس تر ۱۷۶ هجري ۳ – ۷۹۲ میلادي پورې دوام کړي دي. او دا هغه وخت دي چې ابراهیم بن جبرائیل؟ د برمکي فضل بن یحیی په امر چې د خراسان والي ؤ د غوربند د درې له لارې په کاپیسا حمله وکړه او د دې ښار بودایي مذهبي آبدات یې وران کړل. له دې نیتې وروسته کاپیسا د کوشاني او یفتلي عناصرو څخه تشکیله شوې وه.

هغه وخت چې په ۱۴۴ هـ کې هیوان تسنګ له هنده راوګرزېد، لا تر دغه وخته پورې دغې کورنۍ په بګرام کې سلطنت درلود او بګرام خپل پایتختي موقعیت له لاسه نه ؤ ورکړی. ۱

له کاپیسې څخه کابل ته د مرکزیت انتقال او د کاپیسې په متعلق وروستۍ پیښې:

د اسلام تر ظهوره پورې کاپیسې بګرام په تاریخي پیښو کې یادیده خو کله چې د اسلامي فتوحاتو لمنه تر کابله راورسیدله نو په پیښور کې د عربي لیکوالو له خوا د کاپیسې په نسبت له کابله زیاته یادونه کیدله.

احمد علي کهزاد په دې باب تفصیلي معلومات وړاندې کړي دي او وایي:

کله چې عربي مبلغین او لښکریان د افغانستان په لویدیزو پولو کې رابښکاره شول او بیا د سیستان

۱ افغانستان در پرتو تاریخ، ص ۱۷۴، ۱۷۵

ودانو سيمو لکه زرنج، ذالق، کر کويه او نورو برخو ته راوړسېدل تر دې وخته پورې هم بگرام خپل مرکزيت له لاسه نه ؤ ورکړی. خو د دې تر څنگه د کابل موجوده ښار د غرونو او د هغو پر سر باندې ديوال په لرلو سره زياتره د سوق الجيشي له مخې مساعد ؤ نو په مراتبو، سره يې د بگرام اهميت راښکته کړ او ورو ورو ور پسې اداري مرکز په تيره بيا د پوځي چارو مرکزيت کابل ته را نقل شو. په دې اساس رتبيل شاهان چې عرفاً کوشاني يفتلي وو د کابل د ښار د استحکام او د هغه د غرونو د پاسه د ديوالونو له پلوه چې د يفتليانو په وخت کې جوړ شوي وو د کابل د دې ستراتيژيکي موقعيت څخه داسې گټه واخسته چې نژدې د کاپيسې نوم له خاطراتو څخه ووهل شو او په ټولو تاريخي آثارو کې دا وخت د کابل او د هغه د دفاع څخه د عربو د حملاتو په مقابل کې يادونې شوي دي، لکه څنگه چې د چينايي سياح ياداشتونه شاهدي ورکوي، د مسيحي دوهمې پيړۍ په نيماي کې کاپيسا ته د تگ راتگ لار د عربو د سپاهيانو د حملو پر مخ تړلې نه وه نو له دې کبله د اوومې پيړۍ په دوهمه نيمايي کې او د اتمې پيړۍ په جريان کې چينايي منابعو له کاپيسا څخه او عربي مؤخذونو له کابله بحث کړی دی. او د دې موضوع علت دا دی چې چينايانو د کاپيسا د دولت (کی پن) په ملاتړ دا خبره په خپلو دفترونو کې ثبت او تکراروله او عربو هغه مقاومت د کابل په ديوالونو او استحکاماتو کې ليده نو زياتره يې له دې ځايه خبرې کولې، حقيقت دا دې چې کاپيسا خپل تاريخ د ژوندانه وروستنی شيبې تيرولې او دا ځکه چې د کاپيسې نوم په تاريخي آثارو کې نه دي ياد شوي او هغه هم يو ځل البيروني په خپل کتاب (مال الهند) کې د کاپيسې په صورت ياد کړې او دا هم يوه کيسه ده چې د پخوا زمانو څخه بحث کوي له دې وخته راهيسې بيا د کابل څخه يادونې کيدل که څه هم د کابل نوم په عربي ماخذ کې شهرت درلود او رتبيل شاهانو په دې ښار کې حاکميت درلود خو اصلي علت يې لکه چې ولوستل شو د کابل سوق الجيشي اهميت ؤ.

په هر حال قراين په دې دلالت کوي چې د اتمې ميلادي پيړۍ په وروستيو او د نهمې پيړۍ په لومړيو کې د افغانستان مرکز په قطعي ډول له کاپيسې څخه کابل ته را نقل شوی ؤ او د کاپيسې ښار تر زرو کلونو وروسته په بشپړه يا کمه توگه خپل موقف کابل ته پريښودلی ؤ او تر دې وروسته هرې منبع او مؤخذ د کاپيسې نوم هېر کړی او د کابل نوم عموميت پيدا کړی ؤ. ١ دا وخت د کاپيسې ښار د سوق الجيشي اهميت د ورکولو سره جوخت مذهبي او اداري اهميت هم له لاسه ورکړی ؤ او د اسلام د مقدس دين د خپريدلو په وجه زياتي د بودايي مذهب پيروي ته حاجت پاتې نه ؤ. خو بيا هم لکه چې د دې سيمې اهميت ونښودله په راوروسته زمانو کې هم کله کله دا سيمه د پام وړ وگرزيدله لکه چې د مغولي همايون پوځي قرارگاه، د امير حبيب الله خان په دوره کې، د مقدوني سکندر د ققفاز د سکندر يې پر ځای د جبل

---

١ همدغه اثر ص ١٧٤ - ١٧٥

السراج ماڼۍ جوړه شوه که څه هم د هغه د پاچاهۍ د مرکزيت حيثيت يې نه درلود خو بيا هم يوه تاريخي سيمه شمېرل کېدله.

(تاريخ افغانستان ج ۲) کې د کاپيسا د اهميت د مخ په زوال پيښې داسې بيان شوي دي:

که څه هم يو څه تکراري شکل لري خو يادول يې بې اهميت نه شمېرل کيږي.

په ۳۲ هجري/ ۶۴۴ ميلادي کې چې هيوان تسنګ د کاپيسا پايتخت ته راورسيد او نوموړي په دغه ښار کې شخصاً د پاچا سره ملاقات وکړ او بيخي کابل ته رانغی او علت يې دا ؤ چې د اسلامي فتوحاتو لمنه مخ په پراخيدو وه.

د سيستان د تاريخ په شهادت عبدالله بن ابي بکره په ۵۱ هجري / ۶۷۳ ميلادي سيستان ته راغی په بست، رخد او کابل (زنبيل) کې محاربه وکړه او بالاخره يې په دوو زرو درهمه يې د کابل د پاچا سره سوله وکړه.

نو که چېرته د سنې، تاريخ او ماخذ پورې مربوط واقعات وکتل شي د اوومې پيړۍ په دوهمه کې او د اتمې پيړۍ په جريان کې چيني منابعو د کاپيسا د ښار، (لکه چې د مخه هم پرې بحث وشو) عربي او فارسي منابعو له کابله يادونې کړې دي.

تر هيوان تسنګ وروسته وروستنی زاير چې زموږ هېواد ته راغی په همدې وخت کې يې وکولای شو چې د کاپيسا او باختر له لارې هند ته لاړ شي او دوئ يې له دوو تنو څخه عبارت دي يو يې (وانګ هيوان تسو) چې د چين د نماينده ګۍ وظيفه يې په غاړه درلودله او بل يې (هيوان تچاو) ؤ چې د دوهم خل د پاره يې هند ته د تګ نيت کړی ؤ.

لومړنی شخص په ۶۰۰م – ۶۵۹ ميلادي او دوهم شخص په ۵ – ۶۴۴، کې سفر کړی ؤ دوئ د باختر او کاپيسې د مملکت له لارې تير شو او هند ته لاړل، خو په دې ترڅ کې د عربو د لښکرو حملو ورته موقع ور نه کړه چې هلته راستانه شي ځکه چې د لارې سره د نيپال (تيبتيانو) او کاپيسا (تاشي يانو) يعنې عربو نيولې ؤ او تګ راتګ مشکل شوی ؤ، په نتيجه کې هيوان تچاو په مرزي هند کې پاتې او بيا هلته مړ شو.

د فرشته د ليکنې له مخې چې عربو په ۴۲هجري/ ۶۴۴ ميلادي پر کابل حمله وکړه ممکن يو څه د مخه وي او دا ځکه چې په دې وخت کې هم بودايي سياحانو او د چينايي استازو تګ راتګ د کابل سيمو ته جريان درلود. له بلې خوا نه څه رنګه چې (وانګ هيوان تسو) له نيپاله مراجعت وکړ او هغه کال چې (هيوان تچاو) غوښتل له کاپيسا څخه راستون شي معلوم نه دي خو د سيستان د تاريخ په حواله څرګنده ده چې په ۵۱ هجري/۶۷۳ ميلادي عبدالله ن ابي بکره کال ته راورسيد. نو په دقيق ډول ويل کيدای شي چې له ۶۶۵ ميلادي – ۶۷۳ که څه هم د هېواد په لويديزو سيمو کې د عربو حملې روانې وې

په ۶۷۳ ميلادي عبدالله بن ابي بکره د رتبيل شاه سره سوله وکړه او دا وخت د کابل او کاپيسا سلطنت مضمحل شوی نه ؤ.

په دې کې شك نشته دي چې د پورتنی تاريخ وروسته د کاپيسا د پاچاهانو تر منځه لکه چې عربي او فارسي مؤخذونو ښودلي ده. د رتبيل شاهانو او د عربو د راليږل شوو لښکرو تر منځه چې معمولاً د خراسان او سيستان د والي له خوا راليږل کېدل د اموي خلافت په ټوله دوره کې لشکر کشي او جګړې روانې وې رتبيل شاهان او دايان (برهمن شاهان) له زرنج، رخد څخه نيولي تر کابل او کاپيسا او هر چېرته د جګړې په ميدان کې شخصاً حاضر وو او د کابل سيمې تر دې وخته پورې د هغوئ په لاس کې وې.

لکه چې ليدل کيږي په (۵۷۱ ميلادي) او (۷۶۹ ميلادي) کې بيا بل چينايي زاير چې (وو کونګ) نوميده ګندهارا ته راغی او ترکي نژاده محلي امير سره يې وکتل چې د کاپيسا او کابل پاچاهانو تابع ؤ، نوموړي وروستنی چيني زاير دي چې زموږ ملك ته راغلی دي او تر ده وروسته د اتمي پيړی په اوږدو کې هغه سيلانيان چې هند ته راتلل او بيا چين ته ستنيدل د سمندر له لارې يې تګ راتګ درلود.

هغه وروستنی حمله چې په کاپيسا وشوه د خراسان د والي فضل بن يحيی په امر د ابراهيم بن جبل (رائيل) له خوا (په تېر روايت کې بن جبرائيل ښودل شوي دي) نوموړي د هارون الرشيد له خوا د خراسان والي مقرر شوی ؤ.

په ۱۷۶ هجري / ۳- ۷۹۲ ميلادي د (غوروند) (غوربند) له لارې د کاپيسا په شمالي برخو حمله وشوه او د يعقوبي د شهادت له مخې په دې حمله کې شاهي ښار (کاپيسي- بګرام) ليرې او نژدې بودايي آبدات بالخاصه لوی او مشهورو معبد (شابهار) يعني شاهي معبد چې چينايي زايرينو (هيوان تسنګ)، (وانګ هيوان تسو) او (وو ونګ) ورته اشاره کړې او بې له شکه هماغه (پخواني پاچاهي معبد) څخه عبارت دي وران شو.

د موسيو فوشه د نظريې له مخې د عربو د دې سخت ګوزار له کبله چې پر کاپيسا وشو کاپيسا خپل اهميت او مرکزيت له لاسه ورکړ او شاهي پايتخت له شماله جنوب ته د يوې سلسلې تپو او د غرونو شاته يعني کابل ته منتقل شو.

لکه چې وويل شو چينايي سيلانيان بالخاصه هيوان تسنګ چې پوره يوه مياشت د شالوکيه معبد (د چينايي يرغملو معبد) يعني دا د هغو چيني يرغملو معبد دي چې د چيني سينکيانك د شهزاده ګانو په شمول کنيشکا په چين کې د خپلو فتحو په وخت کې ګرونيولي وو) د کاپيسا په خوا کې اوسيده او د ده يادداشتونه په دېر وخت سره ليکل شوی دی چې له کابل څخه يې کومه يادونه نه ده کړې، خو د نوموړي او د ده د ملګرو دا چوپتيا د دې دليل کيدای نه شي چې معاصر کابل مخکې يا وروسته د ده د تګ

راتګ له تاريخ څخه خارجي وجود نه درلود، ځکه چې د بودايي معبدونو بقاياوې په شيوه کې. ساکا، کمري، چکري، ګل دره، حتى د بودايي معبدونو بقاياوې په مرنجان تپه، پنجه شاه، خواجه صفا، خواجه روښنايي، تپه خزانه (د چنداول د هزار قلعه د پاسه) تپه سلام، سخي مينه او علي آباد باندې حکم کوي چې په دې ټولو ساحو کې د غرونو او تپو په پوزو کې بودايي معبدونه، استوپې، شيوايي او هندويي بتکدې او د آفتاب پرستى او برهمني معبدونه موجود وو.

او حتى د سترو کوشانيانو د سلالې دوهم پاچا (ويماکد فيزس) پورې متعلق مسکوکات کشف د شيوکيو په استوپو کې ښيي، لکه چې د مسيحي دوهمې پېړۍ په نيمايي کې نوموړې استوپه ودانه وه، چې په يو روايت زياتره يې د يعقوب ليث صفاري له خوا د کابل د بالاحصار تر نيولو وروسته ورانې شوې.

په هر صورت که څه هم دقيق معلومات نشته، بيا هم قراين او پيښې په غير مستقيم ډول په دې دلالت کوي چې له کاپيسا څخه مرکز شيوايي او بودايي فاميل ته د رايانو او يا هندو پاچاهانو ته انتقال موند چې په ۷۹۳ ميلادي په شاوخوا يعنې د کاپيسا د امپراطورۍ په وروستيو کې صورت موندلى دي او دلته د پوځي ملاحظاتو تر څنګه مذهبي ملاحظات هم موجود وو، ځکه چې د برهمن يانو او هندوانو د پاره د کاپيسا او کابل څخه د لوګر د رود حوزې ته معتبره او مهمه ده.

بايد وويل شي چې له کاپيسې څخه کابل ته د مرکز انتقال په يو کرت نه دى شوى او دا ځکه څه وخت چې کاپيسا مرکز ؤ کابل هم موجوديت درلود او کاپيسا هم د کابل د مرکزيت موندلو وروسته هم باقي ؤ لکه چې د اسلامي دورې مسکوکات په کوفي خط هلته پيدا شوي وو، د دې نظريې تاييدونکي دي په هر حال کابل يوه اوږده موده د برهمن شاهي پايتخت نه ؤ، ځکه چې د صفاري کورنۍ د فشار له مخې يو ځل بيا د جنوب د شيواني کابلشاهانو مرکز به (ويهند) يعنې د اټک غاړو ته منتقل شو.[1]

د رايان کابلي يا برهمني کابل شاهانو د سلطنت په لومړيو کې د نيمې پيړۍ څخه زياته موده کابل پايتخت پاتې ؤ.

د کوشانيانو په دوره کې د کاپيسې- بګرام مدني عروج او آثار:

د تاريخي اسنادو په حواله کوشانيان په (۱ - ۲) او ۳ مسيحي پيړۍ کې په بګرام کې ميشته شوي وو.

په تېره بيا د ستر کنيشکا په دوره کې دا نقطه د هغوئ د امپراطورۍ پسرلنى پلازمينه وه، نو طبعاً په خپل وخت کې له اجتماعي نقطه نظره د ښه زيات اهميت درلودونکي ؤ. څه رنګه چې د (ګريکو بوديک) صنعت زياته ترقي درلوده نو په کاپيسا کې زيات شمېر صنعتګران د معبدونو په جوړولو او

[1] تاريخ افغانستان، ج۲. ص ۵۴۰ - ۵۴۸

هيکل تراشۍ بوخت وو که څه هم په بګرام کې د دين آزادي موجوده وه خو کوشانشاهانو د بوديزم سره د خاصې مينې درلودلو له کبله هغه ته زياته ترقي ورکړه تر څو چې بوديزم رسمي شکل او آئين وګرځېد، نو له همدې کبله د کوشانيانو په زمانه کې بالخاصه د ستر کنيشکا په وخت کې په بګرام او د غزني ښکلي حصار په لمنو کې معبدونه او استوپې جوړې شوي دي چې زر تنه عالمان او راهبان هلته اوسيدل د دې آئين نفوذ د اسلامي فتوحاتو له امله له منځه لاړ. کنيشکا د علم دوستی او ديانت پالنې له مخې چې يې درلود د وخت زښته زيات عالمان او پوهان د خپلې امپراطورۍ له شاوخوا څخه پر ځان راټول کړي وو.

هيوان تسنګ چيني نامتو سياح چې کاپيسا ته را رسيدلي او د هغه په باب يې ډېر ښه او زيات يادداښتونه قيد کړي دي.

بګرام په سياست او تجارت کې هم زيات اهميت درلود.

له نن څخه زيات دوه زره کاله د مخه بګرام يا کپيسا د يوې کندوالي په توګه پروت دي او هغه کيندنې چې په دې سيمه کې تر سره شوي دي د دې لرغوني ښار له برمه ډک تاريخ ښيي.[1]

د کاپيسې بګرام د ښار د اهميت له پلوه په ۱۹۳۶ - ۱۹۴۱ ميلادي پورې په ترتيب سره د هغه په مختلفو برخو کې د فرانسوي لرغون څېړونکي هيئت له خوا کيندنې وشوې او قيمت بها آثار هلته کشف شول د کوشاني پاچاهانو لکه ويماکد فيزس، کنيشکا، هووليشکا، واسودوا، مسي مسکوکاتو د سترو کوشانيانو واکمنۍ د تمرکز په ټينګښت دلته ۱ - ۳ ميلادي پيړۍ پورې شاهدي ورکوي.

موسيو ګير شمين د هغه کيندنې په اثر چې په ۱۹۴۱ ميلادي په وروستيو او د ۱۹۴۲ ميلادي په اوږدو کې په بګرام کې وکړې او په نتيجه کې زيات مسکوکات کشف شول او په هغه راپور کې چې د کابل موزيم ته وړاندې شو داسې نظريه ورکوي چې د کاپيسې ښار د يونانو باختري د سلطنت د عروج او تعالي په دوره کې د دوهمې ميلادي پيړۍ په لومړنيو کې بنا شوي دي، په دې ترتيب دا ښار د کوشانيانو تر ظهور د مخه تاسيس شوي دي او د کوشاني دولت د تاسيسيدلو سره د خپلې ترقۍ او تکامل پړاوونه يې وهلي او عظمت ته رسيدلي دي.

د ستر کنيشکا په زمانه کې د آريانا د کوشاني امپراطوري دا وړې پلازمينه وه، رنګارنګ منقوش او مصور ښيښې قيمتداره لوښي چې د آسيايي مديترانې د غاړو د ښارونو د ښيښې جوړولو د کارخانو محصول دي، د ملغلرو د اينبودلو د عاج مخصوصې صندوقچې جوړې شوي، (ماتورا) او د چيني ساخت د لوښو بقاياوې چې دا ټول د شاهي عماراتونو د سالونونو د تزئيناتو د پاره ؤ. د بګرام کاپيسې د ښار په مرکزيت دلالت کوي، او څرګنديږي چې د کوشانيانو د امپراطورۍ د دوبنۍ پلازمينې شاهي ماڼۍ ګانې د هغه وخت د دنيا په ډېرو تجملي محصولاتو مجللي شوي وې نومورې ښيښه ايز

[1] آريانا مجله، لومړۍ ګڼه. ۲۶۰ مخ

لوښي د هغو بيلونکو لوښو چې درلودل يې په يقيني ډول ثابتوي چې د لومړۍ او څلورمې ميلادي پيړۍ تر منځه کاپيسې مرکزيت درلود.

لکه چې موسيو هاکن څرګندوي د (اګوست) د سلطنت له وروستيو کلونو (۶۳م/۱۴ ميلادي) نه د کونستانتين د سلطنت تر وروستي پورې (۳۲۷ ميلادي) د کوشاني او رومن دولت تر منځه د سوداګرۍ اړيکې ټينګې وې، او د بلې خوا نه دا هم څرګندوي چې د هند د شمالي برخو او روم تر منځه اړيکې د (اګوست) (۶۳ - ۱۴ ميلادي) تراجان (۱۱۷ - ۲۹۸ لو هاردين (۱۳۸ - ۱۱۷م) ميلادي) تر منځه زياتې ټينګې شوې دي. او څه رنګه چې د هند شمالي سيمې په دې وخت کې د کوشانيانو د امپراطورۍ يوه برخه وه نو ويلای شو چې کاپيسې او (پوروشاپورا) (پيښور) د کنيشکا د وښي پايتخت ډېر زيات آباد او د امپراطورې د مرکزونو په توګه د باندينۍ نړۍ سره زيات تعلقات درلودل، نو د تعجب خبره نه ده چې د بګرام له کنډوالو څخه د رومن ښيښه اي لوښي د جګړې او غيرې نيولو د صحنو سره (ګلا د باتورونه) کشف شو، څکه چې دغه لوښي د رومن د امپراطورۍ د استازو په لاس د سوغاتونو په ډول دلته رارسيدلي او يا سوداګرانو د ځانونو سره راوړې وو.

په همدې ډول د چين ساخت لوښي چې اصلاً د لرګي څخه وو او د لوښي ګرد چاپير يې فلزي کړۍ درلودله او باندنۍ څنډه يې په (لاک) دوني په ډول رنګ آميزي او نقاشي کوله د (هان ها) د سلطنت د زمانې يادګارونه دي. د ملغلرو اينبودلو د پاره د عاج څخه جوړ شوي مخصوصي صندوقچې د (ماتورا) (هند) ساخت د امپراطورۍ د داخلي محصولاتو څخه وو. د دې صندوقچو د څنډو ټوټې د عاجي نورو يو شمېر لوايحو چې هر يو په ځانګړي ليک منسبت، نقاشي او رنګ آميزي شوي د د نيا د عاجي آثارو له زښته نفيسو او زښته زياتو سترو مجموعو څخه شمېرل کيږي، چې د کاپيسې له ښاره لاس ته راغلي او د کابل د موزيم پورې يې تعلق درلود.

د شاهي عمارتونو د محوطې د باندې د کاپيسې د ښار د محوطې د داخلي برخو په ختيز کې د ښار په بازار کې هم د (موسيکرت) له خوا کيندنې وشوې او په نتيجه کې يوه سلسله دکانونه د ختينو لوښو سره چې خاص د اينبودلو د پاره وو کشف شو. د دې ځينو لوښو څنډې په مختلفو ټاپو باندې ښکلي کړې شوي دي. د بازار د دې رستې له دکانونو څخه زياتې سکې تر لاسه شوې او ګردو د کوشاني پاچاهانو پورې تعلق درلود. د بازار او د کانونو څخه ښکاره څرګنديږي چې د کاپيسې د شاهي ښار د برجونو او حصار په د ننه کې کافي خلکو هستوګنه درلودله.

موسو ګيرشمن په بګرام کې د کيندنې د شپږمې او اومې مرحلې په جريان کې چې په ۱۹۴۱ ميلادي او ۱۹۴۲ ميلادي کې تر سره شوې، د يو بل پسې ۵۳۹ قلمه شيونه، لوښي او سکې کشف شوي چې زياتره يې سکې او ختين لوښي دي، د دې مسکوکاتو په منځ کې چې شمېر يې سلهاوو قلمونو ته

رسيږي داسې سکې هم شته دي چې تر اوسه يې نوعيت معلوم نه دي. [1]

د کاپيسې-بګرام په ښار کې حتی په يوه يا دوو څنګ په څنګ کوټو کې د ګاونډيو هېوادونو محصولات داسې خوا په خوا ايښودل شوي وو چې انسان ورته په تعجب کې پاتې کېده او دا شيان يو د بل پسې په ترتيب سره په درو ډستو ويشل کيږي:

۱- يوناني او رومن آثار

۲- هندي آثار

۳- چينايي آثار [2]

د کاپيسې -بګرام نور تاريخي آثار:

لکه چې تاريخي اسنادو په اثبات رسولې ده کاپيسا-بګرام چې د ستر کنيشکا په زمانه کې د هغه د امپراطورۍ له برمه ډکه پلازمينه وه او د نړۍ د ځينو هېوادونو د مناسباتو په متعلق يې پراخ نړيوال شهرت او مدني عظمت درلود، هميشه د نړۍ د لرغون پېژندونکو پاملرنه ځانته را اړولې ده او د هغوئ د کيندنو په نتيجه کې لا غني او مبتکر او نفيس اثار لاس ته راغلي دي.

د کاپيسا په جلګه کې ډېر تاريخي علمي مستقيمو او غير مستقيمو او اتفاقي کيندنو په نتيجه يو شمېر تاريخي اثار او نښې لاس ته راغلي دي او په دې سربېره د «پاى تاوه» «استرغچ»، چاريکار، جبل السراج، پنجشير، بګرام، د عبدالله برج د توپ غر، نجراب او نورو زياتو سيمو کې د خاورو پر مخ ځينې تاريخي آثار ليدل شوي دي.

هغو کيندنو چې په ۱۳۰۷ شمسي په دې ځاى کې د «مسيو هاکن» له خوا تر سره شوي مثبتې نتيجې يې ورکړي دي. او د عبدالله برج «شاهي ښار» په موضع کې يو لوى ډنډ «حوض» د شيستي ډبرو له ټوټو څخه جوړ شوي دي او د تزئيناتو او نورو سره موجود دي، د هغه ځاى کليوالو خلکو د دې ډنډ د مدور شکل او لوى ديوال په مناسبت د هغه ډنډ يوه ډبره د «طبق رستم» په نامه ياده کړې وه. دا ډبره اصلاً د عبدالله برج د لمر لويديز خواته د جمشيد خان په کلي کې وه خو امير عبدالرحمن خان هغه د فيل په واسطه اوسنی ځاى ته راوړې وه.

د پاتياوه د کشف شوو آثارو په منځ کې چې د کابل په موزيم کې موجود وو د «تخت الشجر» يو هيکل دي.

پر پايتاوه سربېره د کاپيسا د نورو سيمو څخه لکه جبل السراج، چاريکار، پنجشير، او نورو څخه

---

۱ تاريخ افغانستان، ج۲، ص ۲۳۴

۲ همدغه اثر، ص ۳۸۱

هم مهم تاريخي آثار تر لاسه شوي دي.[1]

د نولسمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي د افغان-انګليس د جګړو په وخت کې يو شمېر انګليسي څيړونکو يا په پټه او يا د افغاني حکومت په اجازه او حمايه په بګرام او د افغانستان په نورو تاريخي سيمو کې څيړنې وکړې چې ډېر مشهور څيړونکي يې (مسترولسن)، (مسن) او (ماتي برګر) ؤ او يوازې (مسن) د پاچاهانو لس زره سکې موندلې دي.

او د (مسن) او (ولسن) د ليکلو شوو کتابونو موضوع همدې مسکوکاتو او د افغانستان د معبدونو مکشوفه نورو شيانو تشکيل کړې وه.

د کاپيسا پايتاوه:

د کاپيسا د مدني او فرهنګي ځايونو څخه يو هم پايتاوه، چې د بګرام د شاهي ښار د کنډوالو د جنوب په ۱۲ کيلو مترۍ کې سراى خواجه ته نژدې موقعيت لري. د دې ځاى بودايي معبدونه د تاکسيلا يا کسيسيلا د بودايي معابدو او مذهبي تاسيساتو سره تام شباهت لري په ۱۹۲۳ ميلادي کې د لومړي ځل د پاره موسيو الفرد فوشه او موسيو هاکن فرانسوي لرغون پېژندونکي د افغانستان د لرغونو سيمو د پلټنو او کيندنو په ترڅ کې چې د کاپيسا. کوهدامن او کوهستان په اوږدو او پسور کې يې وکړې. بالاخره د زراعتي سيمو په منځ کې يې يوه جګه برخه وموندله چې له (۳۰ – ۴۰) مترو پورې يې اوږدوالي او له (۱۰ – ۱۵) مترو پورې يې پسور درلود او د يوه معبد د محل موقعيت يې ښوده.

فرانسوي پوهانو د ۱۹۲۴ ميلادي کال په دسامبر کې په کيندنو کې چې په دغه ځاى کې يې پيل کړي د يوه په زړه پورې هيکل تراشۍ لومړۍ ټوټه وموندله دا ټوټه د (سليټ) په تيږه کې د (ساکياموني) هيکل ؤ که ښه ورته وکتل شي په دې مجسمه کې د هيکل له ولو څخه د اور شغلې هواته خپريږي او د پښو له تلو څخه يې اوبه روانې دي.

د هيکل تراشۍ په دې ټوټه کې د بودا د صورت ګرد چاپير روښنايي نيولې ده (برهما) او (اندرا) کيڼې اوښي خواته د ور نژديوالي په حالت کې دي.

همدا راز د کاپيسا د نورو سيمو څخه هم لکه د بګرام د شاوخوا او شيخان خيل مختلفې ورته پارچې لاس ته راغلي دي او پوهان دې عقيدې ته رسيدلي دي چې په افغانستان کې د کاپيسا سيمه د غني تاريخي اثارو درلودونکي ده.

له پايتاوي د نوموړي پارچې نه په غير د هيکل تراشۍ يوه بله پارچه هم موندل شوې ده، چې د هنر او خصوصاً د تاريخ له مخې ډېر زيات اهميت لري، دا پارچه په اصل کې د يوې بلې کومې لويې مجسمې تخت ؤ چې په هغې کې کشف شوي وه که دغه پارچې ته وکتل شي نو ليدل کيږي: درې تنه

[1] آريانا دايره المعارف. ټ۷، ۷۸۰ مخ

کوشاني اعانه ورکووونکي، درې تنه ښځې او درې تنه ماشومان د يو سرې نه ګرد چاپير ناست دي، دوئ چې نوي دين منلي دي، خپل سوغاتونه يې هغه ته وړاندې کړي دي، د دوئ ارتې چپنې او زيړې موزې داسې ښيي چې دوئ د کوشاني قبيلو پورې تعلق لري چې نوي له مرکزي آسيا څخه باختر ته راغلي دي.

د پايتاوې دغه کوچني کلي چې نن يې نوم او نښان معلوم نه دي د هېواد د لرغونو آثارو د هيکل تراشۍ دوې مهمې پارچې وړاندې کړې دي چې د تاريخ، فرهنګ او کمال د هنر له مخې اهميت لري او د يو نوم ورکې نقطې څخه د کاپيسا په تاريخ کې يو ځليدونکې پاڼه يې روښانه کړې ده. ١

په بګرام کې په دې بودايي مرکز کې بر علاوه يو بل مرکز د (شتمرک) په نوم دی چې د بګرام د خرابو د ختيز په درې کيلو مترۍ کې د يوه غرګوټي چې خلك ورته کوه پهلوان يا پهلوان کوه وايي موقعيت لري دا معبد په کوشاني عصر کې د (معبد شالوکيا) يا معبد سريکه (ويهارا) وايي. ٢

کاپيسې-بګرام (شاهي ښار) د څو منارونو د مجموعې په توګه

لکه چې په تېرو بحثونو کې معلومات وړاندې شول چې کاپيسي -بګرام، عبدالله برج او داسې نور هغه محلي نومونه دي چې د تاريخي توصيفي ماهيت له مخې يو مطلب افاده کوي او د دې تر څنګه په کاپيسا -بګرام کې نور محلونه هم شته دي چې د تاريخي اهميت له پلوه د کاپيسا- بګرام موقعيت ته خاص ارزښت ورکوي.

که څه هم تکراري ښه به ولري خو بيا هم د ځينو نوو او تکميلي مطالبو د درلودلو له کبله پرې بحث بې ګټې نه دي په کاپيسا کې د مقدوني سکندر تر راتګ د مخه هم ودانۍ او ښارونه موجود وو لکه چې د چينايانو د (کياپيس) او (کې پن) کلمه د دې ځای پر ودانۍ او آبادۍ دلالت کوي او د دې ځای اسان له پخوا څخه د چينايانو په دربار کې مشهور وو

پردې سربېره هغه وخت چې مقدوني سکندر د آريانه (هرات) او اراکوسيا (کندهار) له سيمو څخه د کوفن (کابل) سيمې ته راځي، تر اوسني کابل او د بودايي کابل (شيوه کي) څخه تيرېږي او په اوسني بګرام کې توقف کوي، دا اقدام د دې خبرې لوی دليل دي.

بګرام د اوسني کابل او تر بودايي کابل څخه په هغه وخت کې چې هر څنګه ؤ زيات اهميت درلود. له دې نه بر علاوه د کاپيسا د ښار بګرام د ودانۍ اهميت نه يوازې تر ميلاده د مخه د درو پيړيو په شاوخوا کې محدود ؤ بلکه زر کاله وروسته هم د اوسنی کابل او شيوه کې د ترودانيو زيات ؤ. لکه چې چينايي ګرځندوی په ٦٣١ ميلادي کې د مخصوص مذهبي ځايونو د ليدنې او د پوهانو سره د کتنې په خاطر

١ آريانا دايره المعارف، ټ٧، ٧٨٠ مخ

٢ محمد اسحق، ابراهيمي، مراکز مهم آئين بودايي در افغانستان، ص ٧٢

دلته راغلی ؤ او د کابل په سيمه کې يې يوازې د کاپيسا د ښار په کتنه اکتفا وکړه او د اوسنی کابل سيمې ته رانغی. ۱

څه رنګه چې کاپيسا د جغرافيايي موقعيت له مخې يو ميدان دي چې د مرکزي هندوکش د دروازو او د پنجشير د رودخانې مجرا په مستقيم ډول د اندوس (سند) د وادي سره نښلوي او د پکتيا د اراکوزي لارې يعنې د آريانا جنوبي او جنوب غربي برخې هم په دې باند پای ته رسيږي او د مراوداتو او سوق الجيش او تجارت له نقطه نظره د هر ډول آبادی د پاره ښه مستعد دي او د ده مرکزيت د دې سبب شوي دي چې دلته څو ښارونه آباد شي لکه د نيکايا، او پيانه، قفقاز اسکندريه، سکندري حصار او نور چې د هغې خرابې اوس هم موجود دي. او د نولسمې پيړۍ له لومړی وخت څخه يې د محققانو پاملرنه ځانته را اړولې ده.

کومو محققينو چې تر نورو زياتره يې د کاپيسا جلګې ته توجه ور اړولې هغه څلور تنه محققين دي لکه:

دوه تنه يې انګليسان او دوه تنه يې فرانسويان دي.

يو تن انګليسي مستر چارل مسن (۱۸۵۲ – ۱۸۰۰ ميلادي) او يو تن فرانسوي مسيو ګلوا د اګوست کورت (۱۸۶۱ – ۱۷۹۲ ميلادي) په عملي ډول په کاپيسا کې څيړنې تر سره کړي دي او د دوه نور يې (مسيوژا) او (مستروسن) د منابعو په مرسته د دوو لومړنيو محققانو په مقايسه د کاپيسا د ښار د موقعيت صايب نظريات وړاندې کړل.

دا ده چې په بګرام کې دوی مشخصې نقطې موجودې دي.

- يوه يې عبدالله برج.
- او بله يې د يوه پراخ ښار کنډوالې چې تقريباً ۶۰۰ متره ليرې د جنوب په خوا کې پرتې دي.

د موسيمو ګرشمن د علمي کنيدنو او څيړنو وروسته چې د عبدالله برج په محوطه کې تر سره شوي، ثابته شوه چې دلته د مقدوني سکندر په زمانه کې د يونانيانو له خوا په محلي اصولو يوه پخه کلا چې ګرد چاپير يې حصار، بارو، برجونه او خندکونه درلودل ودانه شوی وه. او دا محل هماغه د نيکا يا (نيسه) ښار دي چې (مستروسن) او (مکدونالد کرندل فوشه)، (هاکن) او (ګريشمن) د هغې موقعيت په اتفاق سره په بګرام کې تثبيت کړي دي. او فوشه هغه (پخوانی شاهي ښار) بللي دي.

موسيو فوشه څرګندوي چې تر دې تاريخ وروسته يوه مانۍ او مستحکمه کلا تقريباً ۵۰۰ متره جنوب ته په يوه مستطيل شکل محوطې کې بلې خواته انتقال موندلي چې د هغې د موقعيت جهتونه د عبدالله برج يا (پخواني شاهي ښار) سره تفاوت نه لري، يوازې د تناسب د نقطه نظره هغه لويه ده ځکه چې

---

۱ تاريخ افغانستان ج۲، ۲۴۰ نه د مخه

د نوي محوطې اوږدوالي ۴۵۰ متره او پسور يې ۱۵۰ متره دي.

دا نوي مستطيل شکله محوطه د لومړنۍ سره په يوه برخه کې د تپې عمودي څنډې ته د پنډ ديوال جنوب شرقي يوه برخه ښيلوي چې د اومو لويو خښتو څخه آباده شوې وه. دې دريم حصار بازار، ماڼۍ ګانې او د ښار عمده عمارتونه احاطه کول، د دې آباديو مجموعه د يوې نوي محوطه په داخل کې دوه نيم کيلو متره احاطه لري او د باندنۍ اطراف ماحول يې د ښار قصبې پراختيا موندله او يو شمېر خلکو دلته ژوند کاوه. د دوئ هډېرې اوس هم له ختينو خمونو څخه ډکې دي. د تپې د پيچ په امتداد کې ليرې چې د رودخانې په مجرا باندې حاکميت لري معبدونه او استوپې پرتې دي او د مستطيل نما او مدورو ټاکلو شکلونو موقعيت له هغوئ څخه ځرګندېږي.[1]

دغه نوي مستطيل شکله محوطه چې موسيو فوشه له خولې تعريف شوه، موسيو هاکن ورته (نوي شاهي ښار) وايي او دواړه فرانسوي څېړونکي هغه يو ښار بولي چې چيني ذاير هيوان تسنګ په ۶۳۲ ميلادي هغه د کاپيسې د ښا د کاپيسا د مرکز په نوم ياد کړي دي.[1]

يو بله خرابه چې د کاپيسې په ډنډ کې د يو تاريخي ځای په موقعيت دلالت کوي (هغه سار سکندري) يا (حصار سکندري) دي.

دا کلا د اوسني کوهدامن يعنې سرايخواجه ته نژدې د کابل او سمت شمالي د پياده رو يعنې سرايخواجه څخه يوازې د دوو کيلو مترو په مسافه وراندې موقعيت لري او د کابل څخه يې مسافه ۲۵ کيلو متره ده.

ځوک چې د دې کلا د خرابو ا هغې ته د تګ راتګ د لارو سره بلدتيا لري نو د سکندر سار د سرايخواجه د شمالي سمت په اوسني سرك د انګورو د باغ او کرنې د مځکې شاته په شرقي افق کې چې يو شمېر غونډې ګانې ښکاري او که ورپسې ښه وراندې لاړ شي يو رودګي مخې ته راځي او د دينه هغې خواته د يوې نيمې سنګي او نيمې خاوريني تپې د پاسه د يوې کلا خرابه چې يو څه لويه ده ځرګندېږي، د دې سيمې اوسيدونکي ورته د سکندر سار (سار سکندريه) وايي چې بې له شکه هماغه (حصار سکندريه) دي.

که د ستراتيژيکي ماهيت له مخې دې کلا ته وکتل شي په قطعي ډول حکم کيدای شي چې دغه خرابې د پخوانيو مستحکمو کلاګانو له بقاياوو څخه دي د رودګي د اوبو جريان په غربي او شمالي ارخ کې د کلا يو ډول طبيعي خندق ګڼل کيږي. او د کلا نورې خواوې هم چې ګودالونه او کندې لري او شواهد يې شته چې دا د کلا د هماغو سنګي او خاورينو تپو د پاسه پرتې دي.

[1] تجسسات عتيقه شناسي در بگرام، موسيو هاګن، ص ۶

- رازقي نړيوال، د افغانستان استحکامي کلاوې، حصارونه او بالاحصارونه، ميوند مطبعه، ۱۳۸۳، ۱۴۳ – ۱۴۶ مخونه

د کلا په ګرد چاپير کې پنډ ديوالونه او د هغوی مستحکم برجونه هم موجود وو. احتمال لري چې کلا څلور، دروازې درلودلې، چې د شرقي او غربي دروازو موقعيت يې په څرګنده توګه تشخيص کېدای شي او په يقين سره ويل کېدای شي چې د کلا عمومي مدخل د کلا په جنوبي بازو کې موقعيت درلود.

وروسته ثابته شوله چې د کرنې د مځکې د آبادولو په وخت کې تيرې او ځښتې يې ورل شوي او د دې ځښتو پيروالی د بګرام ښار د ځښتو سره کوم توپير نه لري لکه چې معلومه ده بګرام دوه ميلادي پيړۍ د مخه د يونانيانو په عصر کې جوړ شوي دي او د سترو کوشانيانو په دوه رکې ۱ - ۲ ميلادي پيړۍ پورې يې د خپل عروج دوره تېره کړې ده. سکندري سار د تاريخي اسنادو له مخه د پروان د سکندري په معاصر وخت کې ودانه شوې ده او په قطعي ډول د کوشانيانو په زمانه ك ودانه او معموره وه. (۴۰ - ۲۲۰ ميلادي)

که څه هم په دې محل کې علمي کيندنې شوې نه دي خو د هغې څخه د خاورو د ايستلو په وخت کې يو څه اثار لکه مسکوکات، غمي، مهري او داسې نور شيان د يوناني او کوشاني د دورو پورې اړه لري.

موسيو ګيرشمن د دې کلا په کنډوالو کې کيندنې هم تر سره کړي دي.[1]

د قفقاز سکندريه:

دا سکندريه چې د کاپيسا-بګرام له مستحکمو کلاګانو څخه ده ځکه ورته د قفقاز سکندريه ويل کيږي، کله چې سکندر دغې سيمې ته راورسيد د هندوکش د هسکو غرونو په څوکو چې په سپينو واورو پټې وې، د لومړي ځل د پاره سترګې ولګيدلې نو يې هغه د قفقاز د غرونو د څوکو په نوم ياده کړه او دا کلا يې هم د قفقاز د سکندريې په نوم ونوموله د لرغونې پيژندونکو د څيړنو له مخې د دې کلا موقعيت په پخواني پروان يا جبل السراج ته نژدې د سالنګ د درې په خوله کې واقع دي. خو بې له شکه د دې کلا موقعيت د هغې پخواني او ښکلي محل نوم دي چې هلته سکندرذ پخې پوځي کلا په جوړولو لاس پورې کړ په لرغوني ادب کې د پروان نوم ذ پروانتا په شکل د يوه غره نوم دي او په اوستا کې ترې يادونه شوې ده.

وايي کله چې سکندر په ۳۲۸ قمري ميلادي بګرام ته راورسيد نو يې د پنجشير د سيند په غاړه په اوسني عبدالله برج کې (د مخه پرې بحث وشو) قرارګاه ونيوله او د واره يې د هغه محل د خوښيدلو له مخې د قفقاز د سکندرې په جوړولو شروع وکړه. تر دې وروسته د پنجشير او نورو سيندونو څخه تير شو او د سالنګ خولې ته راورسيد. دغه محل يې د پوځي حاکميت او سوق الجيشي خاص موقعيت له مخې ډېر زيات مناسب ومو‌ند نو يې هلته يې د يوې پخې کلا په جوړولو شروع وکړه څه رنګه چې ژمي

[1] رازقي نړيوال. د افغانستان استحکامي کلاوې، حصارونه او بالاحصارونه، ميوند مطبعه، ۱۴۱ - ۱۴۲ مخونه

نژدې و د هغې د جوړولو په کار کې يې د پوره بيړې څخه کار واخيست.

د دې کلا په جوړولو کې يوناني سپاهيانو او د کاپيسا د درو وګړو په مرسته له ۲ - ۳ مياشتو پورې د کلا باري او برجونه جوړ شول، سکندر او يوناني سپاهيانو دغه ژمي همدلته په کلا کې تير کړ.

اوس د دې سکندريې کومه نښه نښانه په پروان کې پاتې نه ده مګر هغه زيات شمېر مسکوکات چې په نولسمه پيړۍ کې د کيندلو په نتيجه کې له هغه ځايه لاس ته راغلي دي دا خبره په اثبات رسوي چې يو وخت دغه محل يو ستر اداري او پوځي کانون ؤ.

دا کلا د دوهم ځل د پاره د همايون له خوا (۹۵۵ هجري) له سره جوړه شوه چې په دغه وخت کې د ده د لښکر مرکز او مهمه قرارګاه وه.

وروسته بيا امير حبيب الله خان همدلته د يوه معتبر ارګ بنسټ کېښود ۱

افغانستان در رتو تاريخ د اوپيانو خرابي ته چې په ريزه کوهستان کې پرتې دي او د کره تار خرابو ته هم اشاره کړې او وايي چې د لرغونې تاريخ په اوږدو کې دا ټولې مهمې خرابې يوازې د کاپيسې په نوم يادې شوي دي. او بګرام که څه هم د ېر پخواني نوم دي خو انتساب يې د دې سيمې سره تازه ګي نه لري. په نتيجه کې ښايي وويل شي چې کاپيسې -بګرام پخواني شاهي ښار دا د هندوکش د لارو ور، د خداى بن د روحانيونو او نجيباو نجيب کلي د څو ښکلو فرهنګي، مدني، تجارتي، پوځي او د ستراتيژيکي ښارونو مجموعه زموږ د هېواد د لرغونو ښارونو په منځ کې خورا لوړ مقام لري. او دا ځکه چې نه يوازې زموږ د هېواد يو ښکلي لرغونې ښار دی چې د تير روايت له مخې په افغانستاني کشمير کې يې موقعيت درلود يو اداري، تجارتي، مذهبي او سوق الجيشي ښار ؤ د دې په خوا کې د خپل بې ساری په زړه پورې موقعيت له مخې زموږ د لويو تاريخي مرحلې د امپراطورانو د امپراطورۍ د وبنې پلازمينه هم وه او تاريخي برم يې حتی يو وخت نړيوال شهرت درلود. او د باندنيو سياحانو هستوګنځي ؤ.

د کاپيسا ښار که څه هم تر ميلاده د مخه د دريمې پيړۍ په لومړي نيمايي کې تاسيس او د پايتخت حيثيت يې درلود، خو د کوشاني لومړي پاچا کنيشکا د پاچهي په زمانه کې ۱۲۰ — ۱۶۰ - ميلادي او د هغې سلالې په دوره کې يې زيات اهميت درلود او د خپل وخت له سترو پايتختونو څخه ؤ.

لنډه دا چې ولې په تاريخ کې د کوهدامن، کوهستان، بګرام، چاريکار، تګاب، نجراب او نور مربوطات يې د کاپيسا په نامه ياد شوي دي؟ حال دا چې کاپيسا يوازې د شاهي ښار نوم ؤ او مؤرخان داسې ليکي چې د يوه پايتخت شاوخوا او نژدې قصبې او کلي ټل د خپل پايتخت په نامه يادېږي. لکه چې اوس د کابل شاوخوا په کابل شهرت لري. ۲

---

۱ افغانستان در پرتو تاريخ، ۱۷۰ مخ

۲ آريانا دايره المعارف. ټ ۷. ۱۳۵۵. ۷۸۳ مخ

۹ - ګرديز

(د پکتيا ولايت دروازه)

زموږ د هېواد د لرغونو تاريخي ښارونو څخه يو هم د ګرديز پخواني ښار دي چې د نورو تاريخي او مذهبي بيلګو تر څنګه د پوره سوق الجيشي اهميت درلودونکي دي.

د ګرديز موقعيت او څلور خواوې:

ګرديز د کابل په جنوب کې د ختيز طول البلد د ۲۹ درجو او ۱۶ دقيقو او شمالي عرض البلد ۳۳ (۲۲) درجو او ۲۷ دقيقو تر منځه موقعيت لري.

ګرديز د بحر له سطحې څخه ۲۲۵۳ متره لوړوالي لري او د کابل څخه د ۱۲۲ کيلو مترو غير مستقيمي مسافې او د ۱۰۰ کيلو مترو په مستقيمه مسافه ليرې پروت دي.

څلور خواوې يې:

- د شمال خواته: د تيرې کوتل
- د لويديز خواته: زرمت (مموزايي) اوستوګن دي.

جنوب خواته: سپاهي خيل کوتل او ستو کنډو.

- د ختيز خواته: سيد کرم ولسوالي او مچلغو غرک سيمې.

د گرديز د تسميې وجه:

گرديز يا گرديس له دوو کلمو څخه متشکل دي:

(گر) او د (ديس) (ديز) چې (گر) د غر معنا لري، او (ديس) (ديز) د دژ، حصار او پخې کلا په معنا دي.

گرديز د اوږدو پېړيو په ترځ کې زموږ د هېواد د ډېرو نورو پخوانيو ښارونو او محلاتو د نومونو غوندې، ددې نوم (س) په (ژ) او (ز) باندې اوښتي او گرديس په (گرديژ) او (گرديز) اړول شوي. له ۲۰۰ هجري قمري راهيسې په احسن التقاسيم کې د (غر) پښتو کلمه چې په فارسي د (کوه) معنا ورکوي او ديز د (دژ) يعنې پخې کلا معنا لري په تغيير سره په (گرديز او گرديژ) اوښتي دي او مرکبه معنا يې د (غره مستحکمه کلا) ده.

ښاغلي محمد ابراهيم عطايي د دې ښار د تسميې د وجې په هکله داسې وايي:

گرديز يعنې غرنی کلا چې تقريباً د احسن التقاسيم د قول په تاييد يې دا نظريه وړاندې کړې او پوره منطقي ده.

اروا ښاد محمد صديق روهي پخپله گرديز يوه پښتو کلمه بولي او وايي: (غرديس) غر د (کوه) او ديس د (وطن) يعنې (غرنی وطن).

د (ديس) کلمه چې د نورستاني (ديش) د کلمې سره مترادف دي او هغه هم د هستوگنځای او کلي معنا ورکوي لکه کامديش، ميرديش او داسې نور، نو ويلای شو چې گرديز هم يو غرنی هستوگنځي يا محل دي. اما منطقي معنا او مستدلله معنا يې هماغه (غرنی جنگي کلا ده).

ځينې مؤرخين د گرديز پخواني نوم (برير) بولي خو دا روايت دومره قوت نه لري. [1]

په يو بل روايت عوام خلك گرديز ته (زمر) وايي.

د گرديز د شهرت او اهميت علتونه:

په تاريخي سوابقو کې چې کومو عواملو گرديز ته خاص اهميت ور په برخه کړي دي او مؤرخانو ترې هميشه يادونه کړې ده هغه په لاندې ډول ښودل کېدای شي:

۱- د گرديز سوق الجيشي د خاص موقعيت اهميت.

۲- د گرديز اهميت د هغه د بالاحصار د موجوديت له بابته.

۳- د گرديز اهميت د مذهبي، ښکلو صنعتونو او تاريخي اثارو د مرکزيت له مخې.

[1] د آريانا مجله ۱۰ گڼه ۱۳۲۳، ۱۷ مخ

- د ګرديز سوق الجيشي د خاص موقعيت اهميت:

لکه څنګه چې کاپيسا - بګرام د هندوکش د لارو ور بلل شوي دي، ګرديز هم تقريباً د دغې يو سوق الجيشي او جغرافيايي خاص موقعيت درلودونکي دي. او زموږ د هېواد هره سيمه او يا ښار چې دغسې ممتاز موقعيت لرلي دي د تاريخ په اوږدو کې يې خپل تاريخي او تدافعي اهميت ساتلای دي. لکه چې وايي: ګرديز د پکتيا د ولايت دروازه ده. او د دوو لويو درو په خوله کې موقعيت لري. چې يوه دره يې د مير زکي په استقامت احمد خيلو او ځاځيو ته ور اوږده شوي چې ګولاهي ته رسيږي.

او بله دره يې مخ په جنوب د خوست ولايت ته ورغزيدلي ده او له ګرديز ۹۰ کيلو مترو په اوږدوالي واټن لري.

د ګرديز لويديز خواته غزني او د جنوب لويديز لور ته يې ارګون، څه وړاندې د متاخان د دښتې څخه پورته د سر روضي په لار او په بيلابيلو لارو تر ګومله پورې رسيږي.

د ګرديز سوق الجيشي اهميت هر وخت مرکزي حيثيت درلودلي دي چې د عربو او د غزنويانو د لشکر کشيو په وختونو کې يې پوره اهميت درلود. ۱

د حدود العالم په حواشي او تعليقاتو کې راغلي دي:

ګرديز د افغانستان جنوبي پولي ته نږدې پروت دي. د دې اثر په يوه برخه کې راغلي دي:

ګرديز يو ښار دي د غزنين او هندوستان تر منځه د تل (سطح) پر سر واقع دي يوه پخه کلا لري چې د درو بارو درلودونکي ده.

ګرديز د مشهور عالم د زين الخبار د مؤلف عبدالحي ګرديزي مسقط الراس يعنې ټاټوبي دي چې د زرمت په ميدان کې او د غزني د ختيز په ۳۴ ميلي کې موقعيت لري.

مقدسي (۳۴۹) په دې باب د (راهنامه) په نوم په خپل اثر کې داسې ليکي... له غزني څخه تر ګرديزه يوه مرحله (منزل) او له هغه ځايه تر (اوغ) همدا مسافه او له هغه ځايه تر (لمالجان) دومره مسافه او له دې ځايه تروهينده (اوده) د ټولې لارې اوږدوالي ۱۷ منزل دي.

 څرګنده ده چې دا لار د افغانانو د غرنيو لارو څخه د سندونو د (اباسين) پورې ډېره نږدې لار ده. او ګرديز د غزني او کابل او بنو د لارو په تقاطع کې موقعيت لري.

يعنې کومې لارې چې د غزني څخه په دې سيمه کې تر اباسين پورې غزيدلي دي زيات تګ او راتګ په هغې لارې دي چې د ګرديز څخه تيرېده.

ښاغلي احمد علي کهزاد ليکي

له ۷۹۳ ميلادي يعنې د اتمې پيړۍ په اوږدو کې د کابل مرکزيت د سامنته د يوا (د کابلشاهانو د

ننګرهار مجله ۲ ګڼه ۱۴۲۱ قمري/ ۱۳۷۹ شمسي، ۶۱ مخ

سلسلې پاچا) تر سلطنت پورې يې دوام درلود او د يعقوب ليث صفاري په واسطه په اتمه ميلادي پيړۍ کې د کابل تر فتحې پورې دوام وکړ سامنته د کابل تر نيولو وروسته چې ځيني يې ترې د صفاريانو لاس ته ورغلل او مسلمانان شول او ځينو يې ګرديز ته پناه يووړله او په مؤقتي ډول د يو څه وخت د پاره ګرديز د برهمنشاهي سلطنت مرکز وګرزيد او بيا چې د عمرو ليث صفاري په وخت کې د لوګر د سجاوند مشهور معبد فتح شو نو د برهمن شاهانو مرکز له ګرديز څخه ويهند (اووند) يعنې د اټک غاړې ته انتقال شو.

د ننګرهار د مجلې په دوهمه ګڼه د دې موضوع په متعلق په يو څه تفصيل سره داسې معلومات ورکړ شوي کله چې عربي قواوو په پر له پسې يرغلونو کابل ونيو د کابلشاهانو څخه زنبورک خپل پايتخت لومړي د لوګر سکاوند (سجاوند) او بيا يې خپل مرکز ګرديز ته ور انتقال کړ د سيستان په تاريخ کې پر ګرديز د يعقوب ليث صفاري د يرغلونو په مورد کې حکايات شته دي او بو سعيد عبدالحی ګرديزي په زين الخبار کې وايي يعقوب ليث کله چې کندهار او غزني ونيو نو ګرديز ته راغی او د ګرديز امير ابو منصور اضلع بن محمد بن خاقان يې په دې راضي کړ چې د سيستان دربار ته باج ورکړي.

په تاريخي پيښنو کې ګرديز او غزني دواړه يو ځای سره خوا په خوا يادېږي لکه چې د لويکان کورنۍ د غزني او ګرديز اداره يو ځای په لاس کې درلودله او کله چې سبکتګين د غزني اقتدار په لاس کې واخيستنو د لويکانو نفوذ ته يې خاتمه ورکړه او له دې وروسته سلطان محمود دا ځای غزني ته نژدې خوندي ځای بللي او هر چېرته به يې چې په کومه جګړه کې اميران او جنرالان اسير کړل هغه به يې ګرديز ته راوړل او دلته به يې ساتل.

معتمد د طوس حکمران ابو علي محمد مظفر دواتي چې يو حکمران ؤ او سلطان محمود يې په جګړه کې ډېر مصروف کړی و او چې يې په جګړه کې ماتې وخوړله سلطان محمود د هغه غزني ته اسير راووست چې بيا په ۳۸۸ هجري کې همدلته مړ شو.

په ګرديز کې د قاقسور زيارت د هغه د شخصيت سره اړه لري چې د سنايي معاصر بلل شوي دي.[1]

- د ګرديز اهميت د هغه د بالاحصار د موجوديت له بابته

استحکامي کلاوې او تدافعي د ژونه چې زموږ د هېواد د خاصو او ممتازو موقعيتونو په لرونکو نقطو کې بنا شوي دي، د تاريخ په اوږدو کې هميشه د پاچاهانو او فاتحانو د جدي پاملرنې وړ ګرزيدلي او يا هم د مذهبي مرکزونو تاسيسولو د پاره خورا مناسبت ځايونه ګڼل شوي دي. او دا ځکه چې د دوئ د هستوګنې د سيمې او د واکمنۍ د ساحې دفاع او ساتنې، د دې نقطو او د هغوی په استحکامي بناګانو متکي پاتې شوي دي او هغوئ هر يو په خپل وار په دغو ممتازو حاکمو نقطو کې استحکامي د

[1] ننګرهار مجله ۲ ګڼه ۱۴۲۱ قمري

ژونه، پخې کلاوې، بالاحصارونه او حصارونه او ارګونه او مذهبي د پيروانو مذهبي مرکزونه جوړ کړي دي.

د ګرديز بالاحصار هم د داسې پوځي پخو کلاګانو او بالاحصارونو څخه دي او معمولاً په تاريخي اسنادو کې زياتره تذکرات د همدې بالاحصار په آدرس راغلي دي. وايي چې د ګرديز جنګي کلا او بالاحصار د «زمر» د خور له خوا چې «زکه» او د «ميرزکه» په نوم ياديدله د مقدوني سکندر د حملو په مقابل کې (۳۲۸ قمري ميلادي) کې جوړه شوې ده. ۱

ګرديز دا غزني جنګي کلا د ننګرهار د دوهمې ګنې په حواله داسې معرفي شوې ده:

په ۲۰۰ هجري قمري د افغانستان يو واکمن حمزه شاري د ګرديز بالاحصار جوړ کړي دي. د ګرديز جنګي کلا د ګرديز د ښار په ختيزه خواکې پر يوې جګې غونډۍ باندې ودان شوي دي.

- ګرديز او د هغه بالاحصار په تاريخي آثارو کې:

ګرديز د پکتيا ولايت مرکز او له کابل څخه په ۱۲۲ کيلو متره مسافه پروت دي. ګرديز يو تاريخي ښار دي چې له پخوانيو زمانو څخه يې يو ټينګ حصار درلود د پيښو او جګړو په مقابل کې يې ډېر مقاومت او مدافعه کړې ده.

هغه وخت چې د اسلام د لښکرو مشر يعقوب ليث صفاري د کابل ښار فتح کړ او بيا يې د دوو پيريو وروسته په جګړه ايزې هوښياری او يوې پلمې د کابل بالاحصار هم ونيو د کابل پاچا رتبيل شاه د ګرديز حصارته راغی او هلته حصاري شو او له هغه ځايه يې ډېر مقاومت وښود.

د بالاحصار ساختماني جوړښت په دې اثر کې داسې ښودل شوي دي

د ګرديز بالاحصار يوه د ختو اوږده کلا ده چې د ګرديز د ناوې په منځ کې ودانه شوې ده او تقريباً ۳۵۰ متره اوږدوالي لري او له ځمکې څخه يې جګوالي (۴۰ مترو په شاوخوا کې دي او ګرد چاپير يې يو پسور ور خندق کيندل شوي چې بقاياپې تر نن ورځې پورې ليده کيږي او نوموړي بالاحصار تر اسلام د مخه لکه د کابل بالاحصار يو لوی مذهبي مرکز هم ؤ او اوس عسکري چونۍ ده.

لکه چې په مخکينی بحث کې وويل شو چې د ګرديز او د هغه د بالاحصار څخه په حدود العالم، د مقدسي په «راهنامه» او عبدالحي ګرديز په زين الاخبار کې هم يادونې شوي دي.

له ګرديز څخه زموږ د هېواد د ځينو پاچهانو د واکمنۍ په دورو کې هم تذکرات راغلي دي لکه په غوري دولت کې کله چې غوري واکمنانو د هند په استقامت فتوحات کول هغوئ د خپلو سوقياتو په لار کې د ګرديز څخه د يوې دروازې په حيث کار اخستلی دي.

د جلال الدين لښکري چې له غزني څخه د اباسين د غرو پورې عسکري سوقيات کول هم د ګرديز

۱ آريانا دايره المعارف، ۷ ټ، ۱۳۵۵، مخ ۸۸۸

شاوخوا ته راغلي دي.

ګوډ تیمور څو وارې ګردیز ته راغلي دي او له دې ځایه څخه یې نژدې چې په ګردیز کې یې د بابریانو د یو ستون لښکر خان روغاني سره جګړه وکړه او په دې جګړه کې ګوډ تیمور په خپل سر نوموړي هغه په خپلو خلکو وواژه.

بابر هم د اوسني تیرى کوتل له لارې ګردیز ته راغلي دي او دلته یې خپل یاغیان مره کړل او په اداري تشکیل کې یې ګردیز د غزني سره یو ځای د یوې حکمرانۍ لاندې کړ. په ګردیز کې به د بابریانو هغه خلك په حکمرانۍ مقرریدل چې د زړورتوب امتحان به یې ورکړی وو.

په ۱۹ پیړۍ کې چې پکتیا د استعمار پر ضد دا ور یوه سره تو ته ګرزیدلي وه او د جنرال رابرټس د پریشاني اسباب یې راټول کړي وو. ۱

په همدغه اثر کې د ګردیز بالاحصار د ساختماني مشخصاتو په باب د معلوماتو د وړاندې کولو وروسته چې د مخه ترې یادونه وشوه په تاییدې ډول داسې لیکل شوي دي:

د ګردیز د ودانیو پر سر د یوې زړې کنډوالې په شان د خاورو یوه ودانۍ ښکاري چې د غټو ډبرو د پاسه جوړه شوي ده د دې خاورینې غونډۍ پر سر یو قبر دي چې د ښار خلك یې زیارت کوي.

د ګردیز د ښار اوسیدونکي د بالاحصار په متعلق ډیرې افسانې لري او وایي چې دا بالاحصار یو وخت دومره لوړ ؤ چې کله به لمر راوخوت سیوري به یې پر کلایکو پروت ؤ، کلایکو د ګردیز د لویدیز په ۲۵ کیلو مترۍ کې موقعیت لري.

د تاریخ پلار هیرودت چې کله د پکتیا د نوم یادونه کوي همدغه سیمه ده چې د ننی پکتیا په نوم یادیږي، یعنې ګردیز د پکتیا د ولایت د مرکز په توګه د پکتیا عمومي مفهوم افاده کوي.

چینایي ګرځندوی هیوان تسنګ او عربي جغرافیه لیکونکي ابن بطوطه او داسې نورو ډیرو مؤرخینو او جغرافیه لیکونکو هم ګردیز پیژنده.

څه رنګه چې د ګردیز بالاحصار یوه پخه غرنۍ کلا وه چې د هغې څخه د اسیرانو د حبسولو د پاره د یو زندان په حیث هم کار اخیستل شوي دي. لکه چې مرحـــــوم غبـــــار په دې باب داسې استشاره لري:

"زندانهاي عمده دوره غزنویها در قلعه های مستحکم گردیز، مندیش (غور) جوزجان، کشمیر، ملتان، غزنی و غیره بود." ۲

---

۱ ننګرهار مجله، ۲ ګڼه، ۶۲ مخ

۲ افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار، ص ۱۶۱

- د ګرديز اهميت د مذهبي، مستظرفه صنايعو او تاريخي آثارو د مرکزيت له مخې:

افغانستان د جغرافيايي مساعد او ممتاز موقعيت، د آسيايي تمدن او فرهنګ په څلور لاري کې او د تاريخي دورو د لرغونتوب او تنوع له مخې د هغو هېوادونو له جملې څخه دي چې په زياته اندازه د پخوانيو دورو تاريخي آثار پکې پيدا شوي او پيدا کيږي دا مسئله نن نه بلکې تر يوې نيمې پيړۍ زياته موده د مخه بيخي په ډاګه شوه چې د افغانستان خاوره د لرغونو آثارو په تېره بيا مسکوکاتو او مستظرفه صنايعو په درلودلو سره ډېره شتمنه او بدايه سيمه ده.

لکه چې د امير دوست محمد خان د سلطنت په دوره کې يو تن انګليسي لرغون پېژندونکي مستر مسن يوازې د بګرام له دښتې څخه د شپيتو زرو مختلفو سکو په راټولولو بريالي شو.

همدا شان په ۱۳۲۶ شمسي هغو مهمو کشفياتو په پراخه پيمانه هر چېرته په علمي تحقيقاتو حلقو کې سر و صدا راپورته کړه چې د ګرديز په ميرزکه کې تر سره شول.

په همدې ترتيب لکه څنګه چې نګاراهارا د ګندهارا د يو مذهبي مرکز له امله د زيات تاريخي شهرت او اهميت درلودونکي ؤ په همدې ډول د ګرديز ميرزکه هم د دغسې تاريخي ارزښت او شهرت درلودونکي وه، دا ځکه چې ميرزکه د دغه عصر د ښکلو صنعتونو ډېر شتمن او د يونانو باختري شاهانو د دورې په متعلق بيلابيل هغسې تاريخي آثار درلودل چې د خپل نادرتوب له مخې په نړۍ کې بيخي بې سارې ګڼل کيږي چې د شهکارونو ګنجينې يې په ميرزکه کې موندل شوي دي.

تر اسلام د مخه ګرديز د دې ډول ښکلو صنعتونو لوی مرکز شمېرل کېده، په تېره بيا هيکل تراشي د هغې زمانې د مستظرفه صنايعو له جملې څخه لوړ نوم درلود. او دلته يې د خپلې پر مختيا د لوړو مدارجو په کچه کې قرار درلود، چې د مثال په توګه د يو فيل هيکل د يادونې وړ دي چې د عاج څخه تر لاسه شوي دي.[1]

څه رنګه چې د ګرديز ميرزکه د هنري تاريخي آثارو په تېره بيا د مختلفو دورو د مسکوکاتو د انتساب له مخې لوړ نوم لري نو په کار دې چې په لومړي سر کې د ميرزکي او يا د هغې د اثارو په متعلق معلومات ولرو.

په دې مورد کې ښاغلي احمد علي کهزاد د آريانا په مجله کې په پوره تفصيل سره بحث کړی دی چې تقريباً د هغه د يو څه لنډيز په اقتباس به بسنه وکړو.

نوموړی ليکي:

---

[1] آريانا دايره المعارف، ټ۷، ۸۸۸ مخ

د ګردیز په شمال شرق کې د ۳۰ کیلو مترو په مسافه د ځمکې ساختماني وضعیت په داسې شکل دي چې په غیر محسوس ډول مخ په پورته دي او له دې ځایه د احمد زایي او میرزکه د رود د اوبو ویشل پیل کیږي. دلته یوه علاقه ده چې منګلي قبیلې پکې اوسیږي. د نوموړي رود نرۍ اوبه د ګردیز جنوب په استقامت جریان پیدا کوي او نورې نرۍ اوبه د میرزکه د رود په نوم چې مقابل خواته د شمال ختیز په استقامت بهیږي لومړنۍ یاد شوي رود وروسته د ګردیز د رود په نوم او چې ورپسې ښه نور تیر شي یو څه لیرې د ګردیز د ډنډ او د زرمت حاصلخیزه جلګې ته اوبه ورکوي او د شمال لویدیز د کټواز خواته بهیږي او بالاخره که چیرته د نوموړي زود اوبه بې مصرفه پاتې شي نو د مقر په ولاړو اوبو کې ور تویږي.

د میرزکي اوبه چې د بهیدو مخه یې د شمال خواته ده له غونډیو څخه تیریږي، د منګل د لوړ او په ونو پټ غره بیخ ته ورسیږي او د ګومل په استقامت جریان پیدا کوي.

د اوبو د تقسیم له هغه خط چې د مخه ترې یادونه وشوه درې کیلو متره لېرې د (چنجي قول) اوبه د ختیز له خوا نه د میرزکه له رود سره یو ځای کیږي او د چنجي د قول په تڼ خوله کې د رود خانې په کینه غاړه کې یوه غونډۍ لیدل کیږي چې نن ورځ محلي اوسیدونکي یعنې منګلي (آیي) قوم هغې ته کافر کوټ وايي، دا غونډۍ د رودخانې د مسیر له غاړو د برګي له اوبو څخه نژدې ۷۰ کیلو متره فاصله لري او د اوبو د مجرا له تله ۳۰ متره لوړه ده.

د کافر کوټ په جنوبي ګاونډي برخه کې یوه د ځمکې مربع الشکله برجسته ټوټه ده چې د هغې د پاسه د پخو خښتو ټوټې او تیکر لیدل کیږي او له دې څخه دا جوتیږي چې نوموړي غونډۍ د ځمکې دغه برجسته مربع الشکله برخه تر ۱۰۰ مترو پورې د کافر کوټ په جنوب کې په پخوانیو زمانو کې تر اسلام د مخه د هغو ودانیو یوه برخه ده چې هویت یې معلوم نه دي.

د کافر کوټ څخه ۷۰ متره لیرې د میرزکه د رود خانې د نیمه وچ مسیر په غاړه یوه چینه موجوده ده چې د ۱۳۲۶ هجري شمسي په پسرلي کې په تصادفي ډول د قبایلي منګلیو ښځو د هغې په منځ کې یو شمېر سکې وموندلي او وروسته له هغې چې د چینې د منبع په شاوخوا کې پلټنه وشوه یوه لویه مربع الشکله کوټه چې هره ضلعه یې ۶ متره اوږده آباده شوي وه او دغې کوټې ته نژدې نورې وړې وړې کوټې هم پرتې وې او په اصل کې داسې معلومه وه چې د اسلام نه د مخه دغه کوټې ته نژدې په پخوانیو زمانو کې او حتی د میلادي پیړۍ څخه هم د مخه دلته متبرکې چینې موجودې وې چې خلکو یې د عادت له مخې اوبو ته سکې ور غورځولي او په دې ترتیب د ۴ ق. میلادي په شاوخوا کې تر دریمې مسیحي پیړۍ پورې یعنې د ۷۰۰ کلونو په اوږدو کې د افغانستان د مختلفو پاچهانو د سلسلو پورې مربوط د مسکوکاتو نمونې په زیاته پیمانه هلته جمع شوي دي، تر کومه حده چې ګومان کیږي او له امکان څخه

ليرې هم نه ده چې اصلاً د پنځوسو زرو په شاوخوا کې پخوانۍ مختلفې سکې په دغه چينه کې راجمع شوي دي چې زيات شمېر يې قبايلي خلکو موندلي او د کابل موزيم ته راوړل شوي او د موزيم له خوا په بيه رانيول شوي دي، که څه هم يو زيات شمېر يې د کيمياوي دوا په واسطه تر مينځلو وروسته محوه شوي دي خو بيا هم د هغو شمېر تر لسو زرو دانو زياتې دي. ١

ښاغلي احمد علي کهزاد بيا په يوه بله ليکنه کې چې د آريانا په مجله کې چاپ شوي ده په يوه څه تفاوت او تاييد داسې معلومات وړاندې کړي دي:

د زياتو کيندنو او عمراني مطالعه وروسته څرګنده شوه چې په اصل کې دغه چينې د دې غونډۍ د نورو چينو په شکل دا يو نوي پيدا شوي شی دي چې د رودخانې د مسير په اوږدو کې ځای په ځای لکه چشمه زار ليدل کيږي.

اتفاقاً د دې چينو څخه په يوه چينه کې چې اوبه ترې راښهيږي د يو مستطيل شکل کوټې محوطه چې اوږدوالي يې له ختيز څخه لويديز ته د پنځو مترو او له شماله جنوب ته د څلورو مترو په شاوخوا کې دي.

په ښکاره سره د کيندنې د مرحلې په ابتدا کې يو شمېر مسکوکات له دې چينې څخه تر لاسه شوي دي، ښايي داسې تصور نه شي چې په دغه چينه او يا کهې کې کومه دفينه موجوده ده، چې په قصدي، اتفاقي او يا اجباري توګه چا هلته څه مسکوکات پټ کړي دي چې د پيسو د ښخولو او پټولو موضوع مطرح نه ده. په اصل کې له چينې څخه لرې د محوطې په منځ کې يوه کوټه ښکاره شوي چې دغه کوټه پخپله سنګکارۍ کې څلور منظم ديوالونه اوچت درلود او دغه کوټې ته ضرابخانه ويلای شو چې د معلوماتو له مخې يو وخت دلته مهرونه ايستل کېدل، زرګري، آهنګري کېدل چې سرنيزې، غشي او داسې نور شيان پکې جوړيدل دا وه چې په ميرزکه د لرغون پيژندنې د اصولو سره سمې علمي او حتی پلټنې او کيندنې پيل شوي او ورو ورو دلته له دې ځايه نه زره سکې تر لاسه شوي چې زياتره برخه يې د سپينو زرو او مسي دي. په دې کې شك نشته چې په دې ځای کې پراخ مطالعات تر سره شول چې ډېر لوی کار دي او زياتو وخت کې وغوښت.

په يو بل روايت سره د ميرزکه د دغه چشمه زار او د سرخرود د چينو منبع يوه ده او د دې چينو تبرك د هماغه بابا بانك سره ارتباط لري او د دې روايت په اساس د ښاغلي کهزاد لومړنی روايت چې په مختلفو زمانو کې ورته د تبرك د پاره په پر له پسې ډول سکې وراچول شوي او بالاخره د مسکوکاتو يو کلکسيون ترې جوړ شوي دي او دوهم روايت ځکه دومره مؤثق نه ښکاري چې که ضرابخانه وي خو سمه ده اما د وسلو جوړلو موضوع ځکه صحت نه ده چې د وسلو څخه پکې کومه روايت نشته.

١ افغانستان در پرتو تاريخ، کهزا، ٢٥٧ – ٢٥٨ مخونه

د ميرزکه د کلکسيوني د مسکوکاتو نوعيت:

د ميرزکه څخه تر لاسه شوي مسکوکات د فلز د جنسيت له مخې نقره اي او مسي دي او د نوعيت له مخې په دوو دستو ويشل کيږي:

۱- يو ډول يې محلي سکې دي چې خاص د محل پورې تعلق لري او زياتره د افغانستان په شرقي او جنوبي برخو کې، په تاکزيلا او پنجاب کې ضرب کيدلي او په عمومي صورت په ګندهارا کې ليدل کيدلي او د کوم پاچا او يا پاچهي نوم پرې نه ليدل کيږي او د دې تر څنګ مرتب او منظم شکل نه لري.

۲- دوهم ډول يې هغه منظم او مرتب مسکوکات دي چې د لرغونو تاريخي سلالو او لرېو پورې لکه د هندوکش د جنوبي يوناني پاچهانو، اسکايي، اسکالي او پارتي او کوشاني پاچهانو پورې تعلق لري.

لومړی ډول مسکوکاتو ته په انګليسي (بنت بار) او پنځه وايي چې لومړی يې د سپينو زرو د ميلو په شکل خارجي بڼه پيدا کړې ده او دوهمې دستې مسکوکات د سپينو زرو مقطوعه نازکې ټوټې دي چې د هغوی پر مخ بيلابيل شکلونه او علامې چې نوعيت يې تر ۳۰۰ پورې رسيده ليدل شوي دي لکه د انسان، وسلې، ونو، مرغان، لمر او ستورو ځينو ګلانو، ابداتو او داسې نورو شکلونه پرې ښکل شوي دي.

له کومه ځايه چې د ميرزکه کلکسيوني سکو پورې مربوط معلومات په ډېر تفصيل ليکل شوي دي او يو ډېر اوږد بحث تشکيلوي نو يوازې د هغو په نيته او مربوطيت بسنه کافي ګڼل کيږي:

۱- د انتي ماکوس په دوره کې ۲۰۰ ق. ميلادي – ۲۳۰ ق. ميلادي.
۲- د پانتالتون په دوره کې: ۱۹۰ ق. ميلادي.
۳- د اګاتوکلس په دوره کې: ۱۸۵ ق. ميلادي.
۴- د ايودوت د دورې متعلق: ۱۸۰ ق. ميلادي.
۵- د ايوکراتيد په دوره کې: ۱۷۵ ق. ميلادي.
۶- د مناندر په دوره کې: ۱۶۵ ق. ميلادي.
۷- د هليوکلس په دوره کې: ۱۵۹ ق. ميلادي.
۸- د ليزيوس په دوره کې: ۱۵۰ ق. ميلادي.
۹- د انتيال کيلاس په دوره کې: ۱۴۵ ق. ميلادي.
۱۰- د ارکه بيوس په دوره کې: ۱۴۰ – ۱۳۰ ق. ميلادي.
۱۱- د ديو مدوس په دوره کې: ۱۴۰ – ۱۰۰ ق. ميلادي.
۱۲- د فيلوګزنوس په دوره کې ۱۲۵ ق. ميلادي.
۱۳- د امين تاس د دورې متعلق: ۱۰۰ ق. ميلادي.

۱۴- د دوپلوس د دورې متعلق، ۴۰ ق. میلادي.

۱۵- د ازس د دورې، ۵۸ ق. میلادي.

۱۶- د ازیبزس د دورې ۴۰ – ۴۵ ق. میلادي.

۱۷- د اسپاري لیزس د دورې ۱۱۰ ق. میلادي.

۱۸- د کند و فارس د دورې ۱۹ - ۴۸ ق. میلادي.[۱]

د پورتني تحقیقاتي لیکنې څخه د ګردېز د میرزکه د کلکسیوني مسکوکاتو او مارغي آثارو دغه ډوله زیات نوعیت چې اوه پیړۍ د اوږدې پیړۍ مسکوکات معرفي کوي واقعاً د ګردیز د میرزکه تاریخي اهمیت په تصدیق سره په ډاګه کوي.

ګردیز د مذهبي مرکزیت له مخې:

ګردیز د مذهبي مرکز له پلوه لکه چې د مخه ورته اشاره وشوه تر میلاده د مخه د بغلان د معبد (نوشاد) د ډېرینی کتیبې له مخې چې د سرخ کوتل څخه د پلخمري په ۹ کیلو مترۍ کې کشف شوي او د زرتشتي آتشکدې (زه د دې آتشکدې سره اتفاق نه لرم) چې په تخاري ژبله لويك نه پکې يادونه شوي چا چې په غزني او ګردیز کې واکمنی درلودله او بالاخره د تاریخي موقعیت له مخې.

په شلمه پیړۍ کې ګردیز د ویاړلو او تاریخي حماسه هستوونکو واقعاتو څخه د افغان انګلیس د دوهمې جګړې په وخت کې د جنوبي جبهې د قوماندان سپه سالار محمد نادرخان څخه یادونه شوې ده.

افغاني سپه سالار محمد نادرخان ۱۹۱۹ د مې په ۱۴ نیټه پورې د ګردیز په بالاحصار کې د استقلال د بېرته اخستلو د جګړې د نقشې او محاربوي پلان د تنظیمولو په خاطر هلته قرارګاه ونیوله.[۲]

---

۱ آریانا مجله، ۱۳ ګڼه، ۸ مخ

۲ افغانستان در مسیر تاریخ، ۷۶۴ مخ

۱۰ - لوګر

(مثلث الشکله سیمه)

پخپله لوګر د یو ښار نوم نه دي بلکې زموږ د هېواد د یوې مهمې تاریخي سیمې نوم دي چې په تاریخي اثارو کې ترې زیاتې یادونې شوي او ځینې مهم ښارونه او محلات ورته منسوب دي.

لوګر د تاریخي، سوق الجیشي، مذهبي، زراعتي، اقتصادي او فرهنګي موقعیت له مخې زیات اهمیت درلود

د لوګر موقعیت:

د لوګر سیمه چې د ختیز نه لویدیز ته اوږده غوندې غزیدلي پرته ده څلور خواوې یې په دې ډول دي:

- د شمال له خوا: چار آسیاب.
- د لویدیز له خوا: د غزني مربوطات.
- د جنوب او ختیز له خوا: د پکتیا ولایت پورې نښتې ده. ۱

۱ پښتو آریانا دایره المعارف، ټ۷، ۱۳۵۵، ۹۳۷ مخ

په یو سند کې بیا د لوګر موقعیت داسې معرفي شوی:

لوګر د افغانستان د نهه ویشتو ولایتونو څخه یو ولایت دي چې د کابل ولایت په جنوب ختیزه خوا کې د ۶۲ کیلو مترو په پراختیا د ختیز طول البلد په ۶۸ درجو، ۵۵ دقیقو ۳۰ ثانیو او د شمالي عرض البلد په ۲۳ درجو، ۶۵ دقیقو په ۳۰ ثانیو باندې د کابل- غزني، وردګو، پکتیا او ننګرهار تر منځ او د سمندر د اوبو له تل څخه ۱۹۳۰ متره لوړ پروت دي. ۱

مګر د تاریخي سوابقو له مخې د لوګر جغرافیایي موقعیت داسې تثبیت شوي دي:

د لوګر سیمه د دریو تاریخي مهمو ښارونو یعنې کابل، غزني او ګردیز تر منځه د یوې لوی مثلث په شکل پرته ده او هغه رود چې د دې سیمې (لوګر) په نوم یادیږي. د دې مثلث له منځه تیریږي او د هغه د شمالي زاویې په راس کې د کابل سره د شینې په سیمه کې یو ځای کیږي.

د دغو دریو ښارونو د تاریخي اهمیت له مخې چې ترې یادونه وشوه هر یو په یو تاکلي عصر کې د مرکزیت او پلازمینې حیثیت درلود او د هغو ارتباطاتو او تړاو له مخې چې د لوګر سیمې په بیلابیلو دورو کې د نوموړو ښارونو سره درلود نو د جغرافیایي موقعیت په اعتبار د لوګر د موقعیت د ټاکلو د پاره تر دې غوره بل تعبیر او معیار موندل کیدای نه شي او که دلته یې د یو لوی مثلث په چوکاټ کې واچوو نو لیدل کیږي چې د ضلعو په دریو راسونو کې یې د کابل، غزني (میدان وردګ) او ګردیز درې مهم ښارونه واقع دي.

لوګر څه د اقتصادي او جغرافیایي اهمیت له مخې او څه د فرهنګي، مذهبي او اقتصادي تاریخي اهمیت له مخې د تاریخ په اوږدو کې د همیشه د پاره د دې درو ښارونو له ښیګنو څخه برخوداره پاتې شوي دي او پخپله هم یوه زراعتي سیمه او د دغه دریو واړو ښارونو انبار خانه شمېرل کېدله. ۲

ښاغلي غبار د خپل کتاب د ګنداهارا په مبحث کې لیکلي دي:

په ګنداهارا کې لاندنی ولایتونه شامل دي:

- د پیښور سیمې
- یوسفزي
- هشت نګر (هشنغر)
- سوات
- باجوړ
- بونیر

۱ اتلس محلات افغانستان لوګر، ۴ – ۵ مخ

۲ افغانستان در پرتو تاریخ، ۲۶ مخ

- دير
- ننګرهار (جلال آباد وادي)
- لمپاکا، لمغانات
- کونړونه
- اسمار
- کابل
- لوګر
- وردګ
- کاپيسا (کوهدامن او کوهستان)[1]

په همدې اثر کې د ګندهارا لوی ښارونه او کلي هم ښودل شوي دي. چې تقريباً پورتنی سيمې احتوا کوي:

- کابل، پخاور، (پيښور)، اټك، چاريکار، نوشاره، برکي راجان، جلال آباد، ننګري (په لغمان کې)، مندوړ (په لغمان کې) اسمار، ښيوه، شګي، چغسرای، لعل پوره، جلالر، (جلالا)، شبقدر، دير، امبيله، تره کي، ليان قلعه، ناوګی، کوتای کوټګي.[2]

د ښارونو د نومونو په پورتنی قطار کې ليدل کيږي چې د لوګر ښار (برکي راجان) ښودل شوي دي او له دې څخه دا خبره جوتيږي چې په دغه وخت کې نوموړي ښار د لوګر مرکز ؤ. برکي راجان د يوه ښار او اداري مرکزيت له درلودلو پرته د ګرويك بودا له سترو مرکزونو څخه ؤ او د خاص اهميت درلودونکي ؤ.[3]

د لوګر تاريخي اهميت د هغه د رودخانې تاريخي اهميت له مخې هم څرګند دي او لا هغه وخت چې ذ کابل لرغونې ښار د دې سين د مجرا په ورروستی برخه کې دواړو غاړو ته موقعيت درلود لکه چې وايي:

د کابل لومړنی هسته چې د يو کلي په شکل موجوده وه په دوهمه دريمه او څلورمه پيړی کې د چکري د جنوب شرق زاويې څخه په تدريج سره شمال لويديز خواته تغيير محل وکړ لکه کمري، شيوه کي، تخت شاه، زنبورك، جبه کهنه او بالاخره هغې پوزې ته وروغزېد چې د شير دروازې او آسمايي د پخوانيو ديوالونو، بارو، برجونو او بالاحصار ګوشه ايزې بقاياوې کټلای شو.[4]

---

۱ د افغانستان تاريخي جغرافيه، مير غلام محمد غبار، ۱۳۰، ۸۵ مخ

۲ پورتنی اثر، ۸۵ مخ

۳ لرغوني او اوسني کونړ، رازقي، ۱۸۰ مخ

۴ آريانا دايره المعارف د کابل مبحث

د لوګر د تاريخي او جغرافيايي موقف په باب مرحوم احمد علي کهزاد ليکي:

کابل د خپل جغرافيايي موقعيت سره په يوه غرنی نقطه کې پروت دی. د دې تاريخي ښار په جنوب او شمال کې دوه نسبتاً پراخې خو ډېرې حاصلخيزې ساحې پرتې دي چې دواړه د کابل انبار خانې ګڼل کيږي لکه څومره چې د کاپيسا (کوهستان او کهدامن) جلګه د سرسبزی زيات نفوس، د حاصلخيزی اندازې، د کرنې د پراختيا او د تاريخي اثارو د بقاياوو له مخې د کابل په شمال کې شهرت لري عيناً په همدې فاصله به مقابل سمت يعنې د پايتخت په جنوب کې يوه سيمه د (لوګر) په نوم د کابل د شمالي سيمې غوندې يوه زرخيزه، حاصلخيزه، سمسوره او د زيات نفوس درلودونکې خاوره ده، د دې دواړو سيمو تر منځه توپير دا دی چې کاپيسا زياتره باغونه او تاکستانونه لري او بالمقابل لوګر غله خيزه سيمه ده او که د رودونو په مقايسه وويل شي د لوګر د سين له اوبو څخه پوره ګټه اخيستل کيږي اما برعکس د کاپيسا د سيمې رودونه د هغو د تند حرکت په وجه دومره اوبه نه ورکوي.

لوګر د کاپيسا غوندې يوه سيمه ده چې د تاريخ په پړاوونو کې يې لويې لويې دورې تيرې کړي دي، منتهی د کاپيسا په مختلفو سيمو کې لکه بګرام، پايتاوه، شترك او نورو کې د لرغون پيژندنې، کيندنې او څيړنې تر سره شوي دي، حال دا چې په لوګر کې هغومره علمي تحقيقات کيندنې شوي نه دي. يوازې د لوګر دا موقعيت چې د کابل، ګرديز او غزنې په منځ کې پروت دی او د درې واړه مرکزونه په بيلابيلو زمانو کې لوی اداري، فرهنګي، سياسي او مذهبي کانونونه وو او په تاريخ کې يې ډېر لوړ مقام درلودلـــی دی. [1]

لنډه دا چې لوګر د غلې دانې له پلوه په زړه پورې ښه زراعتي محصولات لري او د کروميت کوارتسي او د عينك د سيمې د مسو غني معدنونه هم لري.

د لوګر د تسميې وجه:

لکه چې د مخه وويل شو د کابل د شمالي سيمو د کاپيسا، بګرام غوندې لوګر هم د هغه د جنوبي غوندې تاريخي اهميت لري او په زياتو تاريخي آثارو کې ترې يادونې شوي دي.

بطليموس او د سکندر نورو مؤرخانو د کابل په حوزه کې نور ډېر ښارونه هم ياد کړي دي، اورتسپانا يا کابورا چې د اوسنی کابل څخه عبارت دي او د دې ځای اوسيدونکې (کابلي تې) بلل شوي دي او د هغه تر څنګه خواوشا نقطې لکـــه دارګردا، (ارغنده)، لوکرنا، (لوګر) او بګردا (وردګ) ياد کړي دي. [2]

که د فقه الغته په لحاظ د لوګر نوم وڅيړل شي، نو ګورو چې (لو) د پښتو د لوی مخفف دی او (ګر) د پښتو د (غر) معنا لري نو داسې حدس وهل کيږي چې د دغې لرغوني درې څخه مراد (لوی غر) دی او بيا

---

[1] افغانستان در پرتو تاريخ، کهزاد، ۲۱۴ – ۲۱۵ مخونه

[2] د افغانستان پخواني تاريخ، ج۱، کهزاد، ۴۵۴ مخ

په لوغر او بالاخره په (لوګر) اړول شوي دي.

ځیني وخت په محاورو کې (لوهوګر) هم استعمالیږي چې دا هم پوره تاریخي ریښه لري.

که د هغو سیمو نومونو ته مراجعه وشي چې د چین د بودايي مذهب نامتو راهب (شي فاهیان) ۳۹۹، ۴۱۴ میلادي د ګندهارا د یو شمېر سیمو د لیدلو وروسته پرې ایښودلي لکه: (سوهوتو) سوات چلو چاشي لو (تکسیلا، فولو شا (پېښور)، (لویې) روه نو څرګندیږي چې (لوهوګر) هم دغو نومونو سره په ځینو برخو کې پوره شباهت لري.

نو په قوي احتمال سره ویل کیدای چې د (ګر) معنا خو (غر) دي او دا (لوهو) خامخا د سیمې او یا ښار معنا ورکوي او مجموعي معنایې (غرنی سیمه) بلل کیدای شي او د بطلیموس په قول کې هم د (لو) کلمه موجوده ده.

د لوګر ځیني سپین ږیری او د نظر خاوندان وایي چې (لوګر) په اصل کې (لوګرد) دي او دا ځکه چې په دې زراعتي سیمه کې چې به لو کیده نو ګردونه به پورته کېدل، نو دا سیمه په (لوګرد) وبلل شوه دا قول هم حقیقت نه نږدې ښکاري ځکه چې لوګریو حاصلخیزه زراعتي سیمه او د غلې انبار بلل شوې ؤ.[1]

لوګر او اورمړي:

د لرغونې زمانې د استنادو له مخې د لوګر د سیمې ژبه (اور مړي) ده چې تر اوسه یې بقایاوې په برکي برک یعنې د هغه په پخواني مرکز کې موجودې دي.

د دې سیمې د محلاتو، نهرونو او کاریزونو نومونه خامخا یوه مشخصه مفکوره ایجادوي لکه کاریز رسن، کاریز تسن او کاریز درویش، کاریز خزر، پل چوګی، نهر راجان، نهر منچ، نهر پند، جوی بابوس، ده کیشن، غندي کیشن، پاد خواب شانه او نور.

د (برکي برک) دا تسمیه چې همدا اوس هلته څو په شمار کورنۍ په اورمړي ژبه خبرې کوي دومره عجیبه او نوي نوم نه دي.

په همدې شان د (برکي راجان) تسمیه اورمړي ژبې تسمیه برکي برک سره د وزیرستان په (کاني ګرام) سیمه کې اوس هم باقي پاتې دي.[2]

په یو بل روایت په برکي برک کې د نولسمې پیړۍ په لومړیو کې اتو زرو کسانو په اورمړی خبرې کولې او اوس یې ځای پښتو نیولي دي او اورمړي ژبه له منځه تللې ده.

د میلادي زرو کلونو په لومړۍ نیمایي کې د هندوکش او د سلیمان د غرونو تر منځه اورمړي او پراچي ژبې مرو جې وې چې په جنوب ختیز کې یې د کابلستان ژبې بقایاوې دي.

---

[1] د استاد غلام جیلاني مدقق له خولې

[2] افغانستان در پرتو تاریخ، ۲۱۵ مخ

د پښتنو یو شمېر قبایل لکه اپریدي، ورکزي، منګل، ختك او خوږیاني د اورمړي له قومه دي.

د لوګر د ناوې جغرافیایي منظره مخکې تر دې چې د لوګر دغه محلات معرفي شي نو د موضوع د ښه وضاحت په منظور ښایي د لوګر د جغرافیایي موقعیت او د هغه د سین په اعتبار څه یادونه وشي کوم چې د لوګر د سین دواړو خواووته پراته دي.

د لوګر سین د کابل د سین غونډې د پغمان غره د اونۍ د غاښي څخه سرچینه اخلي او وروسته له هغې چې د وردګو له تنګي څخه تیر شي په زقوم خیل کې د لوګر حوزې ته ور ننوزي، د دې سین مخې ته (برکي راجان) برکي برك، پاد خواب روغني او د بابړو کلي راځي بیا وروسته د هونی سیدان څخه پل علم ته ورسیږي او چې د کافرو غونډۍ، تنګي واغجان، محمد آغي، مسهي او د سهاك له سیمو څخه تیر شي د شینې د کلي په شمال لویدیز کې د کابل د سین سره یو ځای کیږي.

د لوګر د سین د شمالي یعنې کینې خواته د نور ابدال غر او د بابوس کلي او دشته پرته ده او د سین ښي خواته (جنوب ته) برکي برك موقعیت لري همدا شان د لوګر ناوې ته لاندنۍ کوچني درې راوتلي دي چې د دې درو په نومونو کې هم د لوګرد تاریخي محلاتو پتې لګیدلای شي.

۱- دره تنګي (وردګ تیپانګي): دا دره د برکي برك په لویدیزه برخه کې پرته ده او د جنوب لویدیز په استقامت ورغزېدلې ده.

۲- سجاوند دره: چې پخپله سجاوند ځانته یو تاریخي بحث لري.

۳- د خروار دره.

۴- څرخ لوګر: دا دره جنوب ته پرته ده او دوه ښاخه کیږي:

- یو ښاخ یې د خروار درې سره نښتي.

- او بل ښاخ یې د ګردیز په استقامت امتداد لري.

۵- ال تمور (آل تیمور): دا دره د جنوب په لور ورغزیدلې ده چې د تیرې د کوتل په واسطه د ګردیز سره نښلي، د کابل ګردیز عمومي لاره د همدې درې له منځه تیریږي.

۶- سپیست دره: چې وروستی میدان (رستم میدان) ته ورځي او پکتیا ته اوړي.

۷- شواز دره: جنوب شرق ته پرته ده او د پکتیا د احمدزیو سیمو ته ورسیږي.

۸- خوشي دره: چې د ختیز په استقامت آزرې ته ځي او په حصارك غلجایي کې د کابل د پخوانۍ لارې سره یو ځای کیږي.

د لوګر ناوه چې تقریباً جنوباً او غرباً پرته ده دواړو غاړو ته یې دا سیمې پرتې دي.

- کابل، چار آسیاب، کلنګار، مغل خیل، پل علم.

باید وویل شي چې په لوګر کې یو شمېر سیمې شته دي چې اوسیدونکو یې پکې یو شمېر تاریخي

شواهد (مسکوکات) موندلي دي او یا یې ورته پته شته دي او دا په دې دلالت کوي چې دا سیمې د زیاتو تاریخي اثارو د درلودلو له امله لا نور اهمیت هم لري.

د لوګر تاریخي، فرهنګي محلات:

سجاوند

د لوګر د ډېرو مهمو تاریخي، فرهنګي سیمو څخه یو هم سجاوند دي چې په لرغونو اثارو کې ترې یادونه شوې ده.

دا محل د اسلامي دورې په ادبي او تاریخي متنونو کې لکه حدود العالم، د اصطخري المسالك و الممالك او د البیروني په مسعودي قانون کې د (شګاوند)، (سګاوند) او (سکاوند) په نومونو یاد شوي او سجاوند یې معرب شکل دي او وایي چې دا ناحیه د لوګر په جنوب لویدیز کې پرته ده او تر اوسه پورې یې نوم او نښان او موقعیت مشهور او خوندي پاتې دي او په ځینو لرغونو متنونو کې یې د غزني سره تعلق تصریح شوي دي لکه چې حدود العالم وایي: اسستاح و سکاوند دو شهر کند بردراس کوه نهاده و جای بسیار کشت و بذر است اندر غزني.

البیروني په مسعودي قانون کې د شکاوند قلعه د لوګر په (آستاق) کې ګڼي.

دا دواړه تعبیرونه سم او پر ځای دي او دا ځکه چې سکاوند د لوګر په جنوب غربي ګوښه کې د غزني د لارې په سر پروت دي او د غزني پخوانۍ لار غزني ته له دې ځایه تیریږي.

هغه څه چې سجاوند ته یې تر اسلام نه په مخکنیو دورو کې نړیوال شهرت ورکړي دي هغه د ډېر مجلل او ستر معبد موجودیت ؤ چې همدا اوس یې د خرابو بقایاوې د غره په یوه پوزه کې لیدل کیږي.

د سجاوند په مورد کې تاریخي سوابق او معلومات د دوو تنو له آثارو څخه په ښه توګه تر لاسه کیدای شي.

- یو یې چینایي سیاح هیوان تسنګ.
- او بل یې د (جوامع الحکایات د تاریخ) لیکوال محمد عوفي.

د سجاوند په هکله هیوان تسنګ وایي:

چې د (تسو-کو-تا) په سیمه کې چې غزني او د هغه مربوطات پکې شامل دي یو برهمني لوی معبد ؤ چې د (معبد شونا) په نوم یادیده او څه رنګه چې د شیوایي آئین او د آفتاب پرستۍ پورې مربوط آثار، د کابل، غزني او ګردیز د لوګر د دریو شاوخوا سترو ښارونو څخه کشف شوي دي نو په دې کې د هیڅ شک ځای نشته چې د سجاوند مشهور معبد دي دواړو د یو دیانت سره تعلق درلود.[1]

[1] افغانستان در پرتو تاریخ

ښاغلي میر غلام محمد غبار هم خپل په کتاب لغغانستان در مسیر تاریخ په ۲۶۰ - ۲۶۱ مخونو کې د سجاوند په مورد کې څرګندونې لري او وايي چې دلته د یو لوی معبد موجودیت د سجاوند د زیات شهرت سبب شوي دي.

تر هیوان تسنګ شپږ کاله وروسته محمد عوفي په خپل پورتنی اثر کې خپلې پخواني خاطرات را یادوي او د ده د لیکنو څخه پوره جوتیږي چې د سجاوند دغه لوی معبد د دریمې هجري پیړۍ تر دوهمې نیمایي پورې یعنې د رای - (کملو) یا (کلمو) د سلطنت تر زماني یعنې د کابل د برهنمنشاهي سلسلې دریم پاچا او د صفاري شاهي سلسلې د دوهم پاچا عمرو لث صفاري د واکمنۍ تر عصره پورې آباد ؤ لکه چې وايي:

(په هغه زمانه کې د هندوانو لوی معبد همدا سجاوند و او د هندوستان په اقتصاد دي ځای د بتانو نمانځته یې کوله.)

یوه بله موضوع چې د سګاوند د ښارګوټي او کلا تاریخي اهمیت لا برجسته کوي هغه د سجاوند د مسکوکاتو موجودیت دي.

د (کوشانو یفتلي) پاچهانو د واکمنۍ د دورې د مسکوکاتو یو ډول چې زیاتره د سکه پیژندونکو په منځ کې د شاهي (نګین) یا (تجین) باندې شهرت لري هغه یو ډول نیم تنه ایز هیکل دي او د افغانستان د ځینو سیمو د نومونو په ترڅ کې چې (سګاوند) ورته ویل شوي دي. سکاوند او د هغه معبد د دوارو اهمیت په ډاګه کوي.

د قراینو له مخې ویل کېدای شي چې د سګاوند معبد لکه د خیرخانې معبد چې لرغون پیژندنې د دې دوارو هویت ښودلي دي د آفتاب پرستی یو برهمنی معبد ؤ. او د دې معبد زیات شهرت د (کابلي رایان) یا (کابلي برهمناشاهانو) د اقتدار په وخت کې په افغانستان سربېره د هندوستان په اقطارو کې هم خپور شوی ؤ.

د سجاوند معبد د عمرو لیث صفاري تر وخته پورې ودان ؤ مګر هغه وخت چې دې صفاري پاچا د کابل په استقامت د فتوحاتو په خاطر د زابلستان شحنه (کوتوال) چې (فرد عان) نومیده د څلورو زرو سپرو سره مامور کړ او هغه ځای یې ونیو، په دې مورد کې محمد عوفي وايي:

(فروغان چون به ذابلستان رسید لشکر کشید و شکاوند را بکشاد و بتان را بشکست و بت پرستان را بر اندخت و بعضی از غنایم به لشکریان داد و باقي به عمرو لیث فرستاد و فتح نامه نوشت و از وی مدد خواست.)

سجاوند تر دریمې هجري پیړۍ وروسته د څو نورو پیړیو په اوږدو کې د اسلامي ادب او فرهنګ له ډېرو مهمو مرکزونو څخه شمېرل کېده لکه چې یو شمېر د قرآن پاك لوړ مقامي عالمان او مفسرین له دې

ځایه راپورته شوي دي چې اوس يې مزارونه د خاص و عام زيارتونه دي.

د غزنويانو په زمانه کې يوه قلعه او محل په سجاوند کې بنا شوي و چې د غزنويانو د آبادۍ آثار د سجاوند د معبد پخوانيو ديوالونو او سنګکاريو پر مخ معلوميږي دغه اثر ښيي چې څومره اسلامي آئين، تمدن او معماري د پخوانيو معتقداتو فرهنګ او معمارۍ ځای نيولی ؤ. [1]

تر اسلام را وروسته هم سجاوند مذهبي موقف لـه مخې خاص اهميت درلود لکه چې د شيخ سنان زيارت همدلته پروت دی څوك چې په ملك الکلام باندې مشهور ؤ.

د خواجه احمد او خواجه نور دوو روحاني شخصيتونو چې سره ورونه وو زيارت يې په سجاوند کې پروت دی.

په همدې شان لوی مؤرخ سراجي بابا چې د سراجيه په نوم د ميراث د علم واضع دی هم دلته ښخ دی. (د قاري دل آغا صاحبزي له قوله.)

د سجاوند د علمي شخصيتونو څخه يو هم صدرالاسلام امام الاجل شمس العارفين ابو جعفر بن طبغور سجاوندي دی چې په محمد ابن (طغور)، ابو عبدالله محمد بن طبغور او په مجد الدين احمد ابن محمد طبغور باندې هم شهرت لري او ځينې يې په ابو جعفر بن طبغور سجاوندي باندې يادوي.

د محمد ابن طبغور سجاوندي د نورو علمي او ګټورو آثارو په جمله کې لاندينی تاليفات مشهور دي:

١- الوقف و الابتداء

٢- الموجز

٣- عين المعاني في تفسير بيع المثاني

٤- انسان عين المعاني چې د عين المعاني لنډ تفسير دی [2]

د برکي برك ښار

د لوګر د لرغونو ښارونو څخه يو هم د برکي برك ښار دی چې د برکي راجان د شمال د ١١ کيلو مترو په مسافه موقعيت لري. دا ښار يو وخت د کابل ولايت پورې مربوط د لوګر د لوی حکومت مرکز ؤ.

برکي برك د ختيز طول البلد په ٦٨ درجو، ٥٨ دقيقو او ٥٢ ثانيو د شمالي عرض البلد په ٣٣ درجو، ٥٧ دقيو او ٥٨ ثانيو په منځ کې پروت دی. د برکي برك ښار، بازار، دولتي ودانۍ او ملکي کورونه لري. دوه جوماتونه هم په دې ښار کې شته دي چې يو يې د قاضي جومات او بل يې د آخند جي صاحب په جومات شهرت لري.

---

[1] افغانستان در پرتو تاريخ، کهزاد، ٢٦٠ – ٢٦١ مخونه

[2] آريانا مجله، ٨ ګڼه، ١٣٢٢ کال

ځرنګه چې پخوا د ښار یو مرکز ؤ اوس هم د هندوانو ځو کورني پکې هستوګنه لري او دا موضوع دا خبره مدلله کوي چې یو وخت دا ښار د بودایي مدنیت او آئین یو مهم کانون ؤ او د ګنداهارا له مهمو ښارونو له جملې څخه شمېرل کېده.

که چېرته په دې ښار کې علمي پلټنې وشي نو امکان لري چې د پخوانیو زمانو فرهنګي او مذهبي اثار به پکې کشف شي.

برکي راجان:

د لوګر بل تاریخي ښار برکي راجان دي چې د برکي برک په شمال لویدیز کې پروت دي او د ختیز طول البلد په ۶۸ درجو، ۵۴ دقیقو او ۴۹ ثانیو او د شمالي عرض البلد د ۳۳ درجو، ۵۶ دقیقو او ۱۳ ثانیو په منځ کې موقعیت لري.[۱]

د برکي راجان ښار هم یو لرغوني محل او د تاریخي سابقې له مخې ممکن د برکي برک سره هم ردیف وي.

کلنګار او پل علم:

دا دواړه ځایونه د لوګر د مهمو محلاتو له جملې څخه دي چې د شرقي طول البلد په ۶۹ درجو، ۵۹ دقیقو او شمالي عرض البلد په ۳۳ درجو، ۲ دقیقو او ۱۸ ثانیو په منځ کې موقعیت لري.

کلنګار لکه د لغمان د الینګار غوندې یو تاریخي نوم دي او د ننګرهار د نوم د څېړنې په اساس چې (ناګار) یا (نګر) یې که مد نظر ونیول شي نو دا هم د (ګلن ګار) د وو کلمو څخه مرکب دي او لرغوني تاریخي ریښې لري او ممکن د مذهبي سوابقو درلودونکي هم وي.

اما پل علم د خپل جغرافیایي موقعیت په اعتبار چې تقریباً په درې لارې (د غزني، ګردیز او کابل لارو) په منځ کې پروت دي، خورا مهم سوق الجیشي اهمیت لري.

پل علم د دې مناسب موقعیت په اعتبار اوس د لوګر د ولایت د مرکز مقام تر لاسه کړي دي.

د بابوس کلي او دښته:

د بابوس نوم له دوو کلمو څخه مرکب دي (با-بوس) او د بوس کلمه معمولاً زیاتره د یوناني نومونو سره نږدیوالي لري نو ویل کېدای شي چې دا محل تر اسلام نه د مخه هم موجود ؤ.

خو په یو روایت سره د بابوس نوم یو فیلسوف ته داسې نسبت ورکړ شوي دي:

بابوس فیلسوف بن کې هوس ساپیس بن کې مینوس د لوګر ولایت د بابوس د سیمې او سیدونکي په ختېه هوس خیل ګنداری ؤ. نوموړي د لومړۍ هجري پېړۍ د پیل او د اسلام د ظهور په شاوخوا کې

[۱] پښتو آریانا دایرة المعارف، ټ۴، ۱۳۴۴ کال، ۳۸۹ - ۳۹- مخونه

ژوند درلود او د خپل وخت یو مشهور قومي محلي امیر ګڼل کېده او د علومو په فلسفو کې یې هم پوره لاس درلود. د لوګر ولایت په سیمه کې د ده په نوم یو لوی کلي دي چې هغه د بابوس لوی کلي یادیږي. [1]

د بابوس دښته هم یوه پراخه دښته ده او په دې وروستیو وختو کې به زیاتره عسکري تطبیقات پکې اجرا کېدل

خم هند

دا د لوګر یوه تارخي سیمه ده چې په خم هندو (د هندو خم) باندې شهرت لري او د کلنګار په ختیز کې پرته ده، د هغه ځای د اوسیدونکو له قوله هلته زیات مسکوکات تر لاسه شوي دي.

د (هندو) د کلمې په استدلال ممکن دا هم د هندوانو د استوګنې ځای ؤ.

پادخواب شانه:

په لوګر کې دوه پاد خوابه موجود دي، پادخواب شانه د پاد خواب روغني ختیزې خواته پروت دي.

د لرغون پېژندنې د لاس ته راغلو آثارو په شهادت پادخواب شانه د لوګر یوه تاریخي او فرهنګي او یوه زراعتي سیمه ده، لکه چې د پادخواب شانه له زراعتي مځکو او شاوخوا باغونو څخه د کوشانیانو او غزنویانو زمانې پورې مربوطه مسکوکات موندل شوي دي او ممکن نور هم تر لاسه شي، همدا راز ځینې فلزي مجسمې او فلزي مهرونه او نور آثار هم دلته تر لاسه کېدای شي.

پادخواب شانه چې د لوګرد مشهورو کلیو، د ډېرو ښکلو او سمسورو سیمو څخه شمېرل کیږي په دې ځای کې تخت شاه، کاریز چیجي او تخت زنبورك پروت دي، په تاریخي اسنادو کې ترې یادونې شوي او د بودایي مدنیت او برهمنی آئین د اثارو ادرسونه هم په دې ځایونو کې ورکړ شوي دي.

د پادخواب شانه په هکله د خلکو په منځ کې بیلابیلې محلي کیسې هم اوریدل کیږي ځینې وایي چې په اصل کې دا سیمه (باد، خواب) ؤ، او په دې ځای کې داسې په زړه پورې نسیم الوته چې سړي ورته خوب ووړ. نو دا ځای د غزنویانو د اوسیدلو محلونه (خوابګاه) یا (خواب خانه) یعنې د خوب ښه ځای ؤ.

پاد خواب شانه په اصل کې (بادخواب شاهانه) تعبیریدای شي. ځینې د دې سیمې د یو شمېر چینه زارو په باب کیسې کوي او وایي دا چینې د ننګرهار د سلطان پور د چینو سره تر ځمکې لاندې ارتباط لري او له دې ځایه د لوګر د پادخواب شانه چیني او د سلطان پور چیني د اهل هنود د عرف له مخې متبرك مقام درلودلي دي او د برسات په موسم کې د هغوئ دیرې په زړه پورې کلنی. اوږدې میلې هلته پر ځای کېدلي.

[1] د ساپیانو پیژندګلو. عبدالمالك صافي سرحدونو وزارت

د لوګر د دوشينې د اوسيدونکي مومن خان له خولې، دا سيمې زراعتي سيمې او چمن زار ؤ او سلطان محمود غزنوي درمو پاده وانانو به په دې چينو کې رمې راټولولې.
پاد خواب شانه چې د دوشينې ختيز ته او پاد خواب روغني يې لويديز ته پرته ده، پاد خواب شانه د غزنويانو د غوښو د اکمالولو او وريو د راټولولو او پاد خواب روغني يې د غوړيو د راټولولو ځای ؤ نوموړې دلته د بابك د ويساك ميلو ته هم اشاره کړې ده.

کافرو غونډۍ:

د بودايي مدنيت او مذهبي مرکزونه زياتره د هوارو سيمو په نسبت د تپو او غونډيو په لمنو کې تاسيسيدل، نو د کافرو غونډۍ د نوم د تسميې له مخې دا واقعاً د کافرو غونډۍ وه او ممکن پخوا دلته بودايي مذهبي مرکز موجود ؤ او دا غونډۍ په يو بل نوم مسمی وه، خو کله چې اسلام دلته نفوذ وکړ او بودايي آئين ته يې دلته خاتمه ورکړه نو مسلمانانو دې غونډۍ ته د کافرو غونډۍ نوم ورکړ.

هونې سيدان:

هوني د هونيانو د نوم څخه مشتق شوي دي، چې دا يو آريايي قوم دي او دلته يې هستوګنه درلودله او دا محل د دوی په نوم مسمی شوي دي.

واغ جان:

دا ځای هم د لوګر د يو تاريخي محل نوم دي چې له دوو کلمو «واغ-جان» څخه عبارت دي، البته دا هغه جان نه دي چې د انساني نومونو په پای کې راځي دا جان ځانته لغوي معنا لري او په فقه اللغت کې څيړل کېدای شي.
دا نوم د برکي راجان د نوم سره د مفهوم له مخې نژديوالي لري. او په هېواد کې دې ته ورته نور نومونه لکه سنجان، خنجان او داسې نور ليدلای شو.

موسهي:

موسهي د هماغو عجيبو نومونو څخه يو نوم دي چې سم شکل يې لا معلوم نه دي. په دې ځای کې د يو کوچني آس او د هغه د سوار کار مجسمې چې د پخې ختې څخه جوړې شوي موندل شوي دي او نمونې يې پخوا د کابل په موزيم کې موجودې وې او په لړ تو پير سره هغو ته ورته مجسمې له بګرام څخه هم لاس ته راغلي دي او معمولاً د تاريخي سابقې له مخې هغه د سترو کوشانيانو د عصر په وروستيو يعنې دريمې مسيحي پيړۍ ته نسبت ورکول کيږي.
په موسهي کې هم د يوې ډبريني غونډۍ د لمنې په بيخ کې چشمه زار شته چې زيات ماهيان پکې ليدل کيږي او د عقيدې په خاطر يې څوك نه نيسي. د موسهي يو بل تاريخي اهميت په دې کې هم پروت

دي چې د بلخ تکسيلا ډېره پخوانی لار له بګرام څخه د پای منار له کوتله راتيره شوي او د کابل څخه موسهي ته او بيا له موسهي څخه بادام چشمه، يکاب... او حصارك غلجايي کې د کابل مشرقي د پخوانی لارې سره يو ځای شوې ده.

دشت تخت شاه او دستي ميدان

دا دواړه سيمې هم د لوګر د هغو سيمو په جمله کې شاملې دي چې ځينې تاريخي لرغونې شواهد ترې تر لاسه شوي دي.

لنډه دا چې د لوګر سيمې د تنګي موسهي څخه نيولي د التمور تر کوتله پورې او له څرخ څخه تر سجاوند پورې، په دې ارته ساحه کې په تاريخي زمانو کې اسلامي تاريخي زمانې دي او که تر اسلام نه د مخه، خو ټولې مختلفې غني فرهنګي دورې لري او هغه تاريخي شواهد چې په دې سيمه کې حد په حد ليدل کيږي د لوګر د فرهنګي، مذهبي او تاريخي اهميت په اثبات رسوي.[1]

د لوګر سين او د هغه مذهبي تبرك:

د کابل د غرنيو حصارونو په لمنو کې زيات شمېر بودايي آبدات خپاره واره پراته وو.

خو د لرغونې کابل آبادي يا لږ تر لږه د «بودايي کابل» يعنې پخوا په هغه ځای کې پروت نه ؤ چې اوسنی کابل پکې موقعيت لري، بلکې ۷ –۸ کيلو متره د جنوب ختيز خواته د کمري او چکري په شاوخوا کې پروت ؤ.

د خورد کابل تسميه پخپله داسې ښيي چې لرغونې او «وړوکي کابل» په هغه چاپيريال کې پروت ؤ.

موسيو فوشه داسې نظريه څرګندوي چې بودايي او هندويي کابل لوګر د رود دواړو غاړو ته پروت ؤ نه د کابل د سين دواړو غاړو ته لکه چې اوس موقعيت لري.

څه رنګه چې د کابل د برهمن شاهي د تاج پوشۍ مراسم د کابل د معبدونو څخه په يوه معبد کې تر سره کېدل او دا معبد هم د لوګر د رود په غاړه پروت ؤ او احتمال لري چې يعقوب ليث صفاري هم له دې نامتو معبد څخه بتان وړي او بغداد ته يې استولي وي «زما په عقيده دا معبد هماغه د سجاوند معبد نوشاد به وي.»

او اوس هم د هندوانو مذهبي مخصوص غسل چې «آبهي شکه» ورته وايي د لوګر په سين کې اجرا کيږي.

د لوګر رودخانه او د هغې شاوخوا سيمې لکه ساکا، شيوکي، هندکي، او کمري د کابل د اهل هنود له نظره تر نن ورځې مذهبي اهميت لري او د کابل اهل هنودو د ويساك د اختر مراسم په همدې سيمه کې

---

[1] افغانستان در پرتو تاريخ، ۲۱۶ مخ

پر ځای کول او د لوګر د رود په اوبو کې يې غسل کاوه.

د بلې خوا نه د اسلامي مبلغينو لومړنی اقامت او د حضرت تميم (رض) او جبير (رض) د (علي الفضله) شپه په شهدای صالحينو کې ښيي چې د کابل ودانۍ دا وخت د لوګر په همدغه متبرکه (د اهل هنود له نظره) حوزه کې موقعيت درلود.[1]

يادونه:

څه رنګه چې د لوګر او د هغه د کلنګار او برکي برک او برکي راجان په اړوند دا لاندنی يادونې وروسته لاسته راغلي نو څکه د مبحث په پای کې ونيول شوي.

روايت دی چې په پخوانيو زمانو کې يو سړي (لهور) په نوم چې د هند د راجاګانو څخه ؤ او يو شتمن سړی د برکي راجان او برکي برك په سيمه کې چې ځو محدود کورونه يې درلودل استوګنه درلوده، نوموړي د کرنې سره خاصه مينه درلوده نو يې يو شمېر بزګران چې ناقلين وو راټول کړل او د دوی په مرسته يې د کرنې يو څه ځمکې آبادي کړي.

د ځينو سره دا عقيده ده چې دا د لوګر نوم د هماغه (لهور) بدل شوي نوم دي چې په لهو ګرد او لهو ګر او اوس يې د لوګر شکل ونيو.

وايي چې نوموړي دوی لوڼی درلودلي د يوې نوم (رايحه جان) او د بلې نوم (ګل نګار) وه او د اسلام په دين مشرفې شوي وې.

څه رنګه چې يې د پلار د عقيدې مخالف دين غوره کړي ؤ نو د مسلمانانو د نفوذ په وجه هند ته لاړ او هلته يې د لاهور د ښار موسس شو.

رايحه جان چې په برکي راجان کې اوسيدله، د پلار شتمنی ورته ورسيدله او د پلار د کرنې د سيمو د اوبولو د پاره يې د راجان وياله چې د وردګو په تنګي کې د لوګر له سين څخه را جلا شوي جوړه کړه.

نوموړي د ښه شهرت او محبوبيت له مخې چې په خلکو کې يې درلوده دا سيمه د دې په نوم رايحه جان مسمی شوه او بيا وروسته په راجان او ورپسې په برکي راجان تبديل شو. د لهور دويمه لور چې ميړه يې وکړ او د ميړه استوګنځي يې د ګل نګار او ور پسې په کلنګار تغيير شکل وکړ.

همدا شان ځينې سپين ږيري چې قول يې يو څه مصدق دي د برکي راجان د تسميې د وجې په باب وايي په اصل کې برکي د مير برك صاحب د نوم لنډيز دي او مکمل نوم يې مير سيد محمد برکي چې په ابو برکات باندې ملقب ؤ دي او د برکي راجان نوم هم له دې څخه اشتقاق شوي دي.

[1] تاريخ افغانستان، کهزاد، ص ۵۴۵

۱۱ - کونړ او نورستان

(د افغانستان کشمير)

مقدمه:

لرغوني کونړ زموږ د هېواد د هغو ترو تازه، ښکلو په ځنګلونو سمسورو، د طبيعي بې سارو او په زړه پورې منظرو، د نه تسخيريدونکو تاترو، د شپږ شپيتو او يا ۶۶۶ څخه د زياتو درو مجتمع ده، چې د تاريخ په اوږدو کې يې د زيات سوق الجيشي، اقتصادي، فرهنګي او مذهبي اهميت د درلودلو له کبله ممتاز موقعيت درلود.

- کونړ يوازې په شنو ځنګلونو د پټو سيمو نوم نه دي بلکې کونړ د يو ډېر اوږد او لوی سين د تاريخي او نامتو سين نوم دي.

- کونړ د نورستان په وجود کې زموږ د هېواد يوه داسې غرنۍ سيمه ده چې د تاريخي لرغونو آثارو او مدارکو له مخې د لسو ملکانو د جنګ د قبيلو په لومړی رديف کې ځای لري او د (الينا) نامتو او مهمه قبيله پکې اوسيدله.

- کونړ د يو ډېر لرغوني ښار نوم دي

- کونړ د هغې غرنۍ سيمې څخه عبارت ؤ چې د لرغونې ګندهارا په وجود کې يې خورا ځلانده او ارزښتناکه تاريخي سابقه درلوده.

- کونړ د سوق الجيشي او اقتصادي وتلي موقعيت او ارزښت درلودونکو سيمو يوه کليه ده.

- کونړ د هغې صعب العبورو، په ګڼو ځنګلونو پوړې، د ځپاندو رودونو، مستو آبشارونو او د طبيعي د لا ښکلو مظاهرو يوه تابلو ده چې د کشمير سره سيالي کوي او د افغانستان کشمير ورته ويلای شو.

او بالاخره کونړ هغه سيمه ده چې هر جهاني فاتح او يرغلګر قوت ته يې د غرونو هره تره او مورګه نه تسخيريدونکي سنګر دي او حتی مقدوني سکندر ترې ببرته روغ نه دي وتلي.

د پورتينو ممتازو او بې سارو مشخصاتو په اعتبار د لرغوني کونړ په باب هر اړخيز معلومات زما په يوه ځانګړي اثر (لرغوني او اوسني کونړ) په نوم کتاب کې ورکړ شوي دي او په دې مبحث کې چې اساسي برخه يې د کونړ لرغوني ښارونه او تاريخي کلي معرفي کيږي. بايد په ډېر معذرت وويل شي له کومه ځايه چې د تاريخ په اوږدو کې کونړ د جغرافيايي صعب العبور خاص موقعيت او نه تسخيريدونکي درو له مخې، چې حتی ځينې سيمې يې همدا اوس (دست ناخورده) منزوي او په تجريد کې پاتې دي. نو د دې ملحوظاتو له مخې په تاريخي اسنادو کې زموږ د هېواد د نورو سيمو غوندې پرې ډېرې محدودې يادونې شوې دي. په زغرده او صراحت سره ويل کيدای شي چې د کونړ د ښارونو، کليو او تاريخي آباداتو او ابنيو په متعلق معرفت په مجهولاتو او تاريکيو کې پاتې دي او زموږ مؤرخان او ليکوال په دې نه دي برياليي شوي چې د کونړ په مورد کې عامه و تامه آشنايي ولرلای شي او د ګوتو په شمار چې کوم يو د کونړ په باب ليکلي دي هغه هم کافي نه شمېرل کيږي. د دې علت په بنا زما د پاره هم ډېره ګرانه ده چې د کونړ د تاريخي ودانيو او آبداتو په هکله لازم معلومات وړاندې کړم. دا دی په ډېره لنډه لاسی سره د کونړ مقدماتي معلومات او د کونړ ښارونه او کلي معرفي کيږي.

د دې لپاره چې د کونړ طبيعي منظره او د جغرافيوي موقعيت يو څو بيلګې د مقدمې په توګه وړاندې شوي وې چې لاندنی محتويات پکې شامل دي.

۱- د کونړ د تسميې وجه.

۲- کونړ په تاريخي اسنادو کې.

۳- د لرغوني او اوسني کونړ جغرافيايي او تارخي موقعيت او حدود يې.

۴- لرغوني نورستان او بلورستان.

۵- د کونړ د سين (راسا) لنډه معرفي او معاونين يې.

۶- د کونړ د مشهورو درو نومونه.

۷- د کونړ د کوتلونو، غاښو او کنډوونو نوم اخستنه.

۸- د کونړ لرغوني ښارونه.

۹- د کونړ د لروغونو کليو نوم اخيستنه.

۱۰- د کونړ تاريخي آبداتو او ابنيو ته لنډه کتنه.

۱۱- ضروري يادونه.

۱- د کونړ د تسميې وجه:

که هغو تاريخي مدارکو ته چې د کونړ په باب پکې تذکرات راغلي دي وکتل شي نو په هغو کې کونړ د کنر، کنير، (کهويئس)، (کونړ) په مفهوم د دوو کلمو څخه متشکل دي چې نورستانيانو ورته کوو نر وايه. يعنې (و) د ضمې په زور اچولو چې دلته (کو) د ښوونه (زيتون) په معنا او (نر) د درې په مفهوم افاده کوي او عمومي معنا يې د (ښوونه دره) ده.

په دې نوم کې هم د نورو نورستاني کلمو او نومونو غوندې چې په نورو ژبو کې يې (ر) په (ړ) اوښتلي. بدلون راغلي او د کونر په ځای کونړ مروج شوي دي. [1]

دا چې کونړ واقعاً د زيتون دره وه. نو په تاريخي شواهدو کې داسې مدارك ښودل شوي دي:

پخوا د کونړ ناوه د کونړ د سين تر غاړې پورې په ګڼو ځنګلونو پټه وه او زياتره ونې يې ښونان او غوراځکې (ښونه ته ورنه ونه) وو. او د دې ادعا د ثبوت په مقصد دوه دليلونه وړاندې کيداى شي:

- لومړی کله چې سلطان محمود غزنوي د لومړي ځل لپاره د اسلامي فتوحاتو په ترځ کې د کابل له سين څخه راپورې ووت او د کونړ خولې ته راغی او د نور او قيرات په درو يې بريدونه کول نو يې د خپل لښکر سره د نجارانو. آهنګرانو. سنګتراشانو او نورو کسبګرو ډلې هم راوستلي وې تر څو چې د ځنګل ونې ووهي. تيرې ماتې کړي او د خپل لښکر د پرمختګ له پاره لاره تياره کړي.

- بل مستند دليل چې د دغو دوو ډولو ونو عمومي موجوديت ته مصداق ورکوي هغه دا دي:

کله چې د کونړ د ښکتنيو او هوارو برخو پخواني کورونو ته وکتل شي د هغوئ د کوټو په چتونو کې د ډاګو (دستك) د پاسه د دړو پر ځای د ښوونانو او غوړ راځکو لښتې اچول شوي وي او زما د يادو خبرو ده کله چې زمونږ د کلي خلکو د خپلو کورونو کوټې شنډلې د هغو په چتونو کې د ښونانو او غوړاځکو ځانګې پرتې وې او د بلې خوا نه ما شخصاً ۵۰ کاله د مخه د غرو د لمنو څخه د خپل کلي پورې په دې ډول ځنګلونو پټې ليدلې دي د دې شواهدو بر علاوه همدا نن له اسعد آباد څخه پورته د کونړ سين دواړه غاړې د غوراځو په بوټو تکې شنې ښکاري

---

[1] ريشه هاي تاريخي و فرهنګي نورستان. سميع الله تازه. وزارت اطلاعات و فرهنګ. مطبعه دولتي. ۱۳۶۷ کابل. ص ۱۵۹

پورتني شواهد په دې دلالت کوي چې د کونړ د غرونو لمنې د کونړ تر سين پورې د دغو دواړو ونو په ځنګلونو پټې وې او ځای يې درلود چې نورستانيانو دې درې ته د ښو نانو دره ويلي ده.

- د (کو) د معناوو له مخې د کونړ د تسميې وجه.

د کونړ په نوم کې چې مخکينی کلمه (کوه ده، دا (کو) د مرحوم حبيبي د (پنځوس مقالې) د اثر په حواله په سانسکريت کې دوې معناوې لري:

- يوه يې د کوهي او ځا په معنا او بله يې د رود او اوبو، په معنا چې د کوهي کلمه همدا اوس زموږ په ورځنيو محاورو کې ژوندۍ پاتې ده.

او بې له شکه د کوهي کلمه اوبه افاده کوي او که يې د اوبو او رود په معنا تکيه وشي په ډېر وضاحت سره حکم کېدای شي چې کونړ يعني د اوبو او رودونو دره، او که د کونړ د جغرافيايي وضعيت په اساس وليدل شي واقعاً په کونړ کې اوبه او رودونه بيخي زيات او حتی د (کو) (رود) کلمه هم د کونړ د ځينو رودونو په نومونو کې په ځرګند ډول موجوده ده.

لکه: د (وايګل د رود د معاونينو له جملې څخه: ده کوی، ژاك کوي. او ځام کوي، او که په وايګلي لهجه هم کو (اوبه) يا رود وبلل شي نو ويلای شو ده رود، ژاك رود او ځام رود او يا د کونړ د سين د جنوبي غاړې په معاونو رودونو کې د جنجريت کو (جينجرت رود) د کونړ سين د ختيزې غاړې معاونين شيشې کو او تيريچ کورکو.

لنډه دا چې که کونړ ته د ښوونانو دره وويل شي او يا يې د اوبو، او رودونو دره وبولو دا ګرده په عيني مصداق سره د کونړ د تسميې وجه افاده کوي، د شك او ترديد خبره پکې نه پاتې کيږي.

او که فرضاً نورې معناوې ولري زما سره يې د معلوماتو مدارك په لاس رانغلل.

۲- کونړ په تاريخي اسنادو کې:

د کونړ تاريخي سمسوري درې له لرغونو زمانو څخه نړيوال شهرت درلودلي دي، د سيلانيانو، زايرينو او جهان کشايانو او سوداګرو د زياتې پاملرنې وړ ګرزيدلي نو د مؤرخانو او جغرافيه ليکونکو په آثارو کې يې ياد نې شوي دي او دا ځکه چې د وريښمو د لارې يوه څانګه هم ددې درې څخه تېره شوې، قيمتي تيږې او په زړه پورې طبيعي مناظر لري مګر د دې ټولو په سر کې چې کونړ ته يې خاص اهميت او مقام ورکړي دي هغه د کونړ سين دي، چې په ويدې معلومو سرودونو او نورو اثارو کې ترې په پوره برجسته ګۍ او مکرر ډول يادونې شوي دي لکه چې په حدود العالم کې د نړيوالو جغرافيايي او تاريخي نومونو او اعلامونو په ترڅ کې د کونړ په هکله داسې ليکل شوي دي.

کونر شهريست خورد و و اندرو بتخانه هاست

په ويدې سرودونو کې د آريايي قبيلو د ليږديدلو په لړ کې د کابل د سلطنت په بيان کې د کونړ څخه

داسې يادونه شوې ده:

... د رودونو د طبيعي مجراوو لارې يې پر مخکې ونيولې، شرقي، جنوبي او جنوب لويديز خواته تيت شولې يعنې يوه ډله يې د (کوبها) (کابل) څخه د نجراو، تګاو او سروبي له لارې (کونړ) او له هغه ځايه سواستو (سوات) او د سيند حوزې ته خپاره شول. چې په دې روايت کې د کونړ مفهوم په (راسا Rasa) کې افاده شوې دي.

د بابر په تزوک کې هم له کونړ څخه د هغه د معرفي او يوې کيسې په ترڅ کې داسې يادونه شوې ده:

(يو بل تومان سيمه) کنير (کنر) دی. دا ولايت په سرحد کې دي که څه هم د ده پراختيا د نورو تومانونو په شان نه ده مګر له دې امله چې حاصل يې کم دي نو لږه ګټه رسوي. ١

ښاغلي احمد کلي کهزاد په خپل اثر (از سروبي تا اسمار) کې د کونړ په باب داسې ليکلي دي.

د کونړ دره چې د نورستان په څنډه کې پرته ده که چېرته د هغې سوابق، د طبيعي تولنيزې او جغرافيايي وضعې له مخې هغه په نظر کې ونيول شي نو ويلای شو چې نوموړې دره هم د نورستان يوه برخه ده. ٢

٣- د لرغوني او اوسني کونړ جغرافيايي او تاريخي موقعيت او حدود يې:

په تاريخي آثارو کې د لرغوني کونړ حدود هم په مختلف شکل ښودل شوي دي چې حيات افغاني د کونړ حدود داسې معرفي کړي دي.

- ختيز ته د باجوړ سمې.
- لويديز ته: لغمان
- شمال ته: د کافرستان غرنۍ سيمې
- جنوب ته: کامه ليکاني او مومند پراته دي.

د کونړ شمال لويديز ته يو جګ غر دي چې کونډ نوميږي او د سمندر له سطحې څخه يې جګوالي ١۴۴٣٨ فټه دي. ٣

کونړ يعنې د کونړ ناوه يا ناحيه له اسماره رانښکته د بر چغسرای (وته پور) په شمول تر جلال اباد پورې ناوه معرفي شوې ده او حتی په زياترو مدارکو کې له وته پوره رانښکته د شګې او ګمبيرې په ګډون د لغمان تر حده پورې اوږده ده او دا لويه ناوه د کونړ د درې په نوم ياديږي او دواړو خواوو ته يې د

---

١ ريشه هاي تاريخي و فرهنګي نورستان، ٩۴ مخ

٢ پورتنی اثر ٥٢ - ٥٣ مخونه

٣ حيات افغاني، محمد حيات خان، ت١. ژباړن، فرهاد ظريفي او طالبي، سرحدونو وزارت دولتي مطبعه، کابل ١٣٧٠، ٣٧ مخ

يو شمېر لويو او کوچنيو، لمدو او وچو درو خولې راوتلي دي او په بل نوم هيڅ ياده شوې نه ده.

په تاريخي پيښو کې ډېر ځله له اسماره پورته نورستان او له وته پوره پورته د پيچ دره بلل شوې ده لکه چې وايي:

هغه وخت چې د امير عبدالرحمن خان قواووې کونړ، شينوارو «مراد ترې د باجوړ د سيمې شينواري دي» او شيګل ته انتقال شوي «ريشه هاي تاريخي و فرهنګي نورستان» په دې يادونه کې اسمار لا څه چې بريکوټ هم د کونړ په سيمو کې نه دي شامل شوي په يو بل روايت کې بيا داسې راغلي دي: د باشګل زياترو نورستانيانو د چترال او کونړ د مسلمانانو سره خپلوۍ کولې، چې دلته بيا بريکوټ د کونړ په سيمه کې شامل ګڼل شوي دي.

که په عيني ډول او يا د «خاص کونړ» د نوم په اعتبار موضوع ته ځير شو نو داسې نتيجه به لاس ته راشي چې کوز کونړ «ښيوه» خاص کونړ او بر کونړ «اسمار» هغه نومونه دي چې د کونړ د ناوې نوم په واقعي مفهوم سره پرې تعبيريدلای او پراختيايي تاکلای شي او حتی په هغه زمانه کې چې کونړ د ګندهارا، بلورستان او کافرستان او لوی ننګرهار يوه سيمه بلل کېدله. بيايې هم په دغو ټولو مواردو کې خپل اصلي نوم او مشخصه ځيره ساتلې ده او د هغوئ په يادولو سره د هغه چا سترګو ته چې کونړ يې ليدلی ؤ، د کونړ عيني سيمه تجسم کوي له دې ځايه کونړ پرته د کافرستان او ننګرهار څخه يوه جلا او ځانګړې سيمه. ناحيه او ولايت دي

د اوسنی کونړ «ولايت» جغرافيايي موقعيت او پولي يې له کومه وخته چې د کافرستان په درو او سردرو باندې د اسلام پلوشې را خپرې شوي او د نورستان په نوم نومول شوي دي. له همدې دورې راهيسې دا سيمه د مرکزي اداري تر حاکميت لاندې راغلي او د کونړ د اداري مرکز په حيث ورته ځای ورکړ شوي دي

کونړ د افغانستان په اداري تشکيل کې پخوا د ننګرهار ولايت «سمت مشرقي» په چوکاټ کې يوه ولسوالي وه چې مرکز يې لومړی خاص کونړ بيا بر کونړ «اسمار» او چې حکومت اعلی «حکمرانی» ته يې ارتقا وکړه نو مرکز يې چغسرای ته انتقال شو تر څو چې د مرحوم دکتور محمد يوسف د صدارت په دوره کې «۱۳۴۴ شمسي» د افغانستان د ۲۹ اداري واحدونو څخه يو ولايت وشمېرل شو.

د تاريخي سوابقو له مخې د کونړ سيمه په د ننه کې دومره تجزيه شوې نه ده. خو د داکتر نجيب الله د قدرت په وخت کې ۱۳۶۰ شمسي د کونړ. لغمان او نورستان سيمې د يو مستقل ولايت په نوم په اداري تشکيل کې رامنځ ته شوې. بې له شکه دا يو عنودانه او نامعقول اقدام ؤ او دا ځکه چې د ارتباطي موضوعګانو له مخې پرته د چغسرای مرکزيت چې ټولو نورستانيان ته مرکز کيدای شول د هغوئ د پاره يې هر اړخيزې ستونزې رامنځ ته کړې.

د کونړ موقعيت او حدود د کونړ ولايت د هېواد په ختيز کې د يوې اوږدې ليکې په شکل د جنوب ختيز هندوکش د غرونو د سترو سلسلو په منځ کې له شمال څخه تر جنوب پورې د جلال آباد تر ښار پورې غزيدلي پروت دي، چې د ختيز طول البلد په ۷۰ – ۷۱ درجو د ۶ – ۲۳ دقيقو او ۱۴ – ۲۸ ثانيو او د شمالي عرض البلد په ۲۴ درجو، ۲۷ – ۳۴ دقيقو او ۱۳ – ۲۴ ثانيو په منځ کې د هېواد له مرکز (کابل) څخه د ۲۴۰ کيلو مترو په شاوخوا واټن لرې پروت دي. ۱

د سمندر د اوبو، د تل څخه يې لوړوالي د هغه د بيلابيلو محلاتو په لوړوالي او ټيټوالي کې سره توپير لري خو د غرونو لوړې څوکې يې د ۴۲۶۷ مترو په اندازه د بحر له سطحې څخه لوړې دي.

کونړ لکه چې د مخه هم ورته اشاره شوي له درو کونړونو کوز کونړ، خاص کونړ او بر کونړ څخه عبارت دي.

د کونړ د ولايت څلورې خواوې:

- شمال ته: د بدخشان ولايت
- لمر لويديز ته: د لغمان ولايت
- لمر خاته ته: د سرحد آزاد سيمې
- جنوب ته: د ننګرهار ولايت

د کونړونو عمومي مساحت ۱۱۸۱۹ کيلو مترو مربع په شاوخوا کې دی.

۴- لرغوني نورستان او بلورستان:

لرغوني نورستان چې د ګندهارا يوه په زړه پورې تاريخي، فرهنګي او مذهبي سيمه ده د سوق الجيشي، اقتصادي، کلتوري او مذهبي ملحوظاتو له مخې په تاريخ کې د خاص اهميت درلودونکي وه. او بيا کونړ هم په خپل ذات کې د دې نورستان يوه مهمه ناحيه شمېرل کېدله.

لرغوني نورستان د کونړ په شمول هغه غرنۍ برخې احتوا کوي چې له پخوانيو زمانو راهيسې د (اليناياتو) ټاټوبي ګڼل شوي دي او په بلورستان او کافرستان يې شهرت درلود.

د مؤرخانو د معلوماتو له مخې د ختيز هندوکش په جنوبي لمنو کې د کابل شمال ختيز او د جلال آباد شمال ته د پنجشير او د کونړ د سين د مجرا په منځ کې د هندوکش او تور غر د لمنو په لويديز ختيز په شمال او جنوب کې يو شمېر کرې وړې درې خو ښيخې زياتې شمېر درې، په ځنګلونو پټ يو سلسله غرونه او په واورو پټې څوکې چې اوښتل پرې خورا ګران دي او يو شمېر ځپانده سندونه او رودونه چې نن ورځ په عامه اصطلاح ورته نورستان وايي او يوه پېړۍ زيانه موده د مخه د کافرستان په نوم يادېده.

د دې سيمې ختيزې برخې ته بلور او لويديز ته کتور ويل کيږي. دا ويش نن د لغمان د نورستان او د

---

۱ د افغانستان جغرافيايي قاموس. ټ۵، ۱۰۰ مخ نقشه فواصل کيلومتري سرک ها

اسمار (کونړ) د نورستان يا په بل عبارت لويديز نورستان او ختيز نورستان يو له بله جلا کوي.

لرغوني نورستان په عام جغرافيايي مفهوم سره د ختيز هندوکش جنوبي لمنې رانيسي او د هېواد يوازنۍ سيمه ده چې هلته د هندوکش محلي تمدن او فرهنگ تر زياتې اندازې پورې لاس ناخوړلي او خوندي پاتې دي.

د دې موضوع يوازنۍ علت هماغه د دې سيمې کوهستاني توب دي چې د تاريخ په ټولو دورو کې سر پټي او يـوې گوښې ته مجزا پاتې دي او ټول عرف او عادت يې په هماغه لرغوني حالت کې قرار لري.[1]

د لرغوني نورستان ستراتيژيکي او سوق الجيشي اهميت له دې نشئت کوي.

او بل ښکاره ثبوت يې دا دي چې د اسلام پلوشې خو پيړۍ وروسته په ۱۳۱۳ هجري قمري يعنې له نن څخه پوره يوه پيړۍ او نه مياشتې د مخه دغه ولايت په سر درو او درو کې وځليدلې. که څه هم د ډېرو پخوانيو زمانو څخه د الينايانو او د هغوئ استوگنځي د بلورستان او کافرستان څخه په تاريخي آثارو کې پراخي يادونې شوي دي خو پرته د يو شمېر سياحانو نورو پرديو قوتونو په دې سيمه کې نفوذ کړي نه دي تر هغې چې مقدوني سکندر په ۲۲۷ قمري سلطان محمود ۳۸۸ هـ/۹۹۷ ميلادي، امير تيمور او محمد ظهير الدين بابر ۹۱۴ د هغه د فتح کولو تکل وکړ خو د محدودې کاميابۍ نه په غير بېرته ناکام ستانه شوي دي.[2]

د افغانستان د سياسي تاريخ ليکوال سيد مهدي فرخ د نورستان د پراختيا په باب داسې ليکي:

نورستانيان له چترار (چترال) او باجاور څخه تر بدخشان او پنجشير پورې اوږدوالي لري او د هغه ويش (پولي) په شمال کې د بدخشان په ختيز کې قاشقارد (کاشغر) او لويديز کې اندراب، قطغن، خوست (نه د پکتيا خوست) او د کابل کوهستانونه او له جنوب څخه باجاور لمقان (لمغان)، (لغمان) او داسې نورو سيمو پورې تړلي دي

ستوارت النفنسن د پخواني نورستان وسعت داسې ښيي:

نورستاني خاوره د هندوکش د سلسلو ډېره لويه، پراخه او د بيلوت تاغ يوه برخه رانيسي:

- شمال ختيز ته يې قاشقار
- شمال ته يې بدخشان
- شمال لويديز ته کنداهارا (گندهارا)
- لويديز ته يې اندراب، خوست، بلخ (پخور د قطغن او بدخشان او تخار سيمې هم په بلخ کې شاملې

[1] افغانستان در پرتو تاريخ، علي احمد کهزاد، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳۴۶، ۲۷۳ مخ

[2] لرغوني او اوسني کونړ، رازقي، ۹۲ – ۹۳ مخونه

دي، او د کابل کوهستانونه واقع دي.

لکه چې ښکاري دا روایت د پورتني روایت سره دومره ښکاره تفاوت نه لري مګر سر لال ستن په «اندرموست ایشیا» نومي کتاب کې د نورستان پراختیا تر واخان پورې ښودلې ده او د واخان د شاوخوا سیمو کلاګاني او حصارونه د ده له ودانیو څخه ګڼي.

نوموړي عقیده لري چې دا سیمې د یوولسمې عیسوي پیړۍ په نژدې کې هغه وخت چې مسلمانانو برى تر لاسه کړ نو دا سیمې په کافرستان مشهورې شوې.

همدا راز «کپستان وو» او «یول» په دې عقیده وو هغه قبایل چې ایطالوي سیاح مارکوپولو کشم ته نژدې د کوکچې د سین په غارو کې لیدلي وو همدا نورستانیان وو چې ممکن هغه وخت یې د هندوکش د شمال په ناوو کې هم ژوند کاوه او کله چې په اتمه عیسوي پیړۍ کې ۱۷۶ هجري ۷۹۲ م کاپیسا سقوط وکړ، د شمالي سیمو سره د نورستان ارتباط هم وشلیده او ورو ورو یې د جنوب له خوا هم پراختیا محدودیت پیدا کوي. ۱

- د بلور او بلورستان موقعیت او حدود یې:

لکه چې د مخه وویل شو د نورستان ختیز او لویدیز کې تور پوشان «کتور» او په مرکزي سیمو کې یې سفید پوشان «بلور» استوګنه لري. او د بلورستان نوم هم د همدې بلور څخه اخیستل شوي دي. بلور او بلورستان د نورستان د سیمو یو پخواني نوم دي چې د ګلګت او چترال د سیمو تر سیمو پورې اطلاقېده دا هغه لرغوني ولایت دي چې څلور خواوې یې په لاندې ډول ښودل شوي دي.

- د شمال خواته: د هندوکش د بدخشان ولایت له واخان او زیباك نه نیولي تر منجانه پورې.
- د جنوب له خوا: په ګندهارا «د سوات باجوړ او اوسني سمت مشرقي».
- د ختیز له خوا: د کشمیر ولایت.
- د لویدیز له خوا: د ګندهارا په ولایت «د نجراو او پنجشیر د ناوې پورې محدود دي.
- د شمال شرق له خوانه: یوه څنډه یې د پامیر په سلسلې او سطحې پورې تړلې ده. ۲

د بار تولد په قول تر اوسه پورې د هغه ځای یوه برخه سفید پوشان ځانته بلور وایي او دا کلمه په چینایي اثارو کې تر اتمې میلادي پیړۍ پورې لیدل شوې ده.

په تاریخي آثارو کې د بلورستان پولې په مکرر ډول او تقریباً په اتفاق نظر سره په لاندني توګه ښودل شوي دي:

- د کشمیر د ناوې له یوې برخې څخه تر کابله.

---

۱ پورتني اثر، ۹۵ – ۹۶ مخونه

۲ جغرافیاي تاریخي افغانستان، میر غلام محمد غبار، ۱۵۶ مخ

- او د شمال له خوا نه: تر یارکند او کاشغر پورې ګډل کیږي.

قاضي منهاج سراج او محمد عوفی د غوریانو د دورې مؤرخانو هم بلورستان د شغنان، تخارستان او د درواز د غرونو په ردیف کې راوستلي دي.

د ښاغلي غبار (افغانستان و نګاهی به تاریخ آن) د مقالې په استناد بلریا بولر (اوسني نورستان او چترال) یو ولایت دي چې حدود یې په پورتنی ډول دي.

سرهنري یول چې پخپله زمانه کې د ډېرو مشهورو مؤرخانو څخه وو د بلورستان په هکله لیکي: د کافرستان (نورستان) ولایت او د باطل پرستی د مملکت یوه برخه وه چې له کابل څخه تر کشمیره یې اوږدوالي درلود او د منځنیو پیړیو اسیایان ورته (ابها ما) (بیلاور) وایي.

بلورستان په پخوانیو زمانو کې د باختر ولایت یوه برخه ده.

مارکوپولو د پامیر شمالي سیمې په بلورستان کې شاملې ګڼي.

نور تاریخي اسناد د بلورستان د پراختیا لمن د ختیز خواته چین سره هم سرحد ښیي لکه چې حدود العالم هم د بلورستان حدود په یو څه تفاوت سره داسې ښودلي دي.

- د بلورستان پراختیا د شرق له خوا نه د کاشغر او یارکند پورې.

- د جنوب له خوا نه: د کشمیر ملحقات لکه، هونتر نګر، ګلګیت، پنبیل، یسین (اوسني کشمیر لویدیز ته) او د چترال پورې محدود دي چې د کشمیر او اوسني ماوراءالنهر تر منځه جاده د بلورستان او واخان څخه تیریږي.

(د حدود العالم په حواله، ریشه هاي تاریخي و فرهنګي نورستان، ۵۸، ۶۴ مخونه) د چین په تالیفاتو کې (۸ پیړی) او هم د مسلمانانو په تصنیفاتو کې بلور او بلورستان په یو مملکت باندې اطلاقېده چې حدود یې د مخه ښودل شوي دي. ۱

د پورتنی اثر په قول بلورستان تر پنځوسو زیات کلي او باندې لري.

۵- د کونړ د سین (راسا) لنډه معرفي او معاونین یې:

د کونړ سین چې په لرغونو تاریخي اثارو کې په عمومي ډول د (راسا) په نوم راغلي دي د کونړ د اوږدې ناوې په منځ کې تقریباً تاو راتاو پروت دي یو لوی او څپانده سین دي.

دا سین د لرغونې زمانې راهیسې د اوړي او ژمي په موسم کې د زیاتو اوبو درلودونکي دي دا چې ولې د کونړ سین تر کامې وروسته د کابل په سین زیات شهرت لري علت یې یوازې د کابل د تاریخي مرکزیت اهمیت دي.

د کونړ د سین سرچینه د ۴۰۰۰ مترو له لوړوالي څخه د ختیز هندوکش له بیخه د بروغیل له کوتله

---

۱ جغرافیاي تاریخي افغانستان، ۱۵۶ – ۱۵۷ مخونه

چې د واخان او یار کند (یار قند) وادي سره ننبلوي سرچینه اخلي یا په بل قول دا سین چې د څلورو زرو مترو له لوړوالي څخه د هندوکش له بیخه او د اصلي مسیر څخه راښکته وښیو او ګنو غرونو د لوړو سلسلو او ارتفاعاتو څخه راښکته کیږي او په تدریج سره زیاتښت او د جریان شدت مومي.

د یو بل اثر د روایت له مخې د کونړ سین د پامیر له لوړو سطحو څخه چې له (پشت خار) (پشت خر) څخه وړاندې نه دي او دا ځای د بیلوت تباغ یوه څوکه ده چې د آمو (اکسوس) سرچینه هم پکې ده د هغې د نومړي څوکي له بلې ډډې څخه راوتلي دي.

- د کونړ د سین نومونه:

په تاریخي مختلفو آثارو کې د کونړ سین لومړي په (راسا) او بیا په (سیند رود)، (اسند رود)، (هیوان)، (مهران)، (د بسند سیند)، (بیلام)، (کاشغر)، یارقند، (یارکند) سیند، (چترال سیند)، (لوی سیند) خواسیس، جوس، یو اسپله او په داسې نورو نومونو یاد شوي دي. برسېره پردې چې د خپل مسیر په هره سیمه کې د هغې سیمې په نوم یاد شوي دي لکه د کابل د سلطنت بیان ورته د کامي سیند ویلي دي د افغانستان د آریانا په معلومو سرودونو کې د راسا په نوم یاد شوي او د ریګوید په سرودونو کې هم څو ځله د دې سیند یادونې شته دي او کله کله هم د کابل د سیند د مرستیال په صورت یاد شوي دي.

- د کونړ د سین معاونین:

لنډی سین:

دا سین د باشګل د رود په نوم هم یادیږي او د باشګل رود د (ښکوري) او (ښتلي) د رودونو څخه مرکب دي. د دې سین د جریان لوري له شمال څخه مخ په جنوب دي.

په بدیوا کې د بریکوټ د شمال په یونیم کیلومترۍ کې د چترال. بلیانګل یا (بلیام ګل) په رود ورګډیږي.

تر بدیوا وروسته د پخې ګام، شد ګل، منلګل. بدنیشاپر او پروک د رودونو سره ورګډیږي. (د کلام) ارناوۍ او بدیوا رودونه هم ور سره یو ځای کیږي او په بریکوټ کې د کونړ د سین سره ورغاړه وځي.

دا سین لاجور دي او سریع الهضمه اوبه لري.

- د پیچ سین:

د پیچ سیند د دوو لویو سیندونو د تشکیلونکو رودونو څخه عبارت دي:

الف: چې یو یې د وایګل رود دي او دوهم له درو رودونو یعنې ده کوي، ژاك کوي او ځام کوي څخه تشکیل شوي دي. نور وړوکي څانګې لري لکه همشوز رود، بنشه اي رود، د قلعه ګل رود.

ب- د پارون رود:

د دې رود سره د ده په مسیر کې د کانتیوا رود، لیندا لام رود، او په کنده ګل کې ور سره د کوړنګل رود په وته پور کې ور سره، د کتار کلا رود او بالاخره د دمکلي په شمال شرق کې د لوی سین سره ورګډیږي.

ج: د کونړ د سین د جنوبي غاړې معاونین د سرچینې راهیسي.

ارسون، جنجریت کو، دریز، ایسین، اچست، چترال، شیلي، اوردګل، ارز، ارکاري، لتکو او داسې نور.

- د کونړ د سین د ختیزې غاړې معاونین:

ارندو رود (ارنوی رود)، د مل عشریت، ګله تګ، دروش، شیشې کو (ششي رود) ګیسو، نیروز، چغوز، دینین، نوروت، ګو لنګو، جوی حرام، پرې ایت، مرادې برنیز، برنګول، ریشون، ګوګر، تیریچ کورکو، یونې، میر اکرم، سنوغور، ارسپور چمر کند، یار خون.[1]

- د کونړ هغه سیندونه چې د کونړ د نورستان څخه یې سرچینه اخستلې ده:

الف: د رمګل رود (رامیګل رود):

درمګل رود د پوشال رود او د لیز رود څخه تشکیل شوي دي چې معاونین یې د پکیاول رود، کیوشت او د (کیوښت ننیا) او د باندوي رود، کولم رود، کوله تن رود او بالاخره کله چې د لغمان برخې ته ورسیږي د الینګار په نوم مسمی کیږي.

ب: فرجغان رود

دا رود د چارسدر، پیتك او کارك د رودونو څخه متشکل دي او کله چې د دولت شاه څخه ور تیر شي نو د الیشنګ د سین په نوم یادیږي.[2]

پرته له دې د کونړ د سین په مسیر کې ځای په ځای لامده خوړونه هم راتوئیږي.

٦- د کونړ مشهورې درې:

الف: له کوز کونړ څخه پورته او د کونړ د سین ښي خواته:

- دره نور.
- مزار دره.
- د یو ګل (د نور دره)
- د باډیل دره

---

[1] لرغوني او اوسني کونړ، پوهنوال رازقي نړیوال، قلمي نسخه. ۵۸ - ۶۸ مخونه

[2] د پورتني اثر ۶۹ - ۷۰ مخونه

- د لچك دره
- دا ډوال دره

له ښکته نه پورته د کونړ د سين کيڼې غاړې ته:

- شالې وولې
- شونکړې دره
- ناوې دره
- مرورې دره
- د انګام دره
- د کوريکا دره
- د خارا او قاسم دره
- د شنه ګل دره: د ناړې په خوله کې
- د ساو او ځونك مقابل دره.
- د شال او سنګر مقابل دره

ب: له چغسراى پورته د کونړ سين ښي غاړې ته:

- د پيچ دره
- شيګل دره
- او يو بله کوچنې دره.

ج: د کونړ داخلي درې:

- کامديش دره
- باشګل دره
- وايګل دره
- د کانتيوا دره
- د کتاى دره
- د پارون دره
- د شومان دره او درې نورې لويې او ورې بې شمېره درې او خوړونه. ١

پورتنى اثر ٧١ – ٧۶ مخونه

۷-د کونړ د مشهورو کوتلونو، غاښو او کنډوونو نوم اخستنه:

الف: هغه کنډوونه او غاښې چې د کونړ په سرحدي برخو کې موقعيت لري: له ښکته پورته:

- د شالي، وولي، کنډو
- د ميتي، کنډو
- د ميا غاښې
- ګلونو غاښې
- چرتنې غاښې
- ګنډيرو غاښې
- سوران کنډو
- ګنډيرو غاښې
- ناوه پاس کنډو (ناوې غاښې)
- ښه رود کنډو
- مرورې کنډو
- ليتي، کنډو
- بنشي، کنډو

او داسې نور.

ب: هغه غاښې چې نورستان د نورو سيمو سره نښلوي:

- د زيرك غاښې
- مندال غاښې
- کيتوي غاښې
- پارون غاښې
- پوښال (پوشال) غاښې
- چمار غاښې

ج: د نورستان هغه کوتلونه چې د ننه په نورستان کې سره سيمې نښلوي:

- د پيرو دم غاښې
- کاما کوتل
- ځيسين غاښې
- کوکجاني دا غاښې

- حامین دا غاښې
- کنجل واټ کوتل
- ساوات کوتل
- بامي کوتل
- پریت غاښې
اګن باداغاښی
- پت کیون (پچیکیون) غاښې او داسې نور. [1]

۸- د کونړ لرغوني ښارونه:

کله چې د کونړ د ښارونو په باب موضوع مطرح کیږي د ټولونه د مخه د جغرافیایي ممتاز موقعیت او د ښه مناسب توب د مشخصاتو له مخې چې کلاسیك ښارونه په دغسې غورو محلاتو کې آباد شوي دي بې له شکه د کونړ هغه مناسبه نقطه پام ته راځي چې د پیچ سین د لوی سین سره او یا د اسمار دره د پیچ د درې سره د دمکلي او کوزي کرهالي په برخه کې مروري (اندراج) ته مخامخ یو ځای کیږي او مخ په ښکته امتداد پیدا کوي، د دې محل د ښار اوسني نوم اسعد آباد (اسد آباد) په چغسرای مشهوږ دي. مګر په تاریخي اسنادو کې د کونړ د دې لرغوني ښار په متعلق معلومات یو څه ګونګ او په تورتم کې لیدل کیږي، ما تر وسه پورې هڅه وکړه چې د دې ښار (ښارونو) په متعلق په یو څه مستدللو او منطقي شواهدو ولاړ حقایق وړاندې کړم چې هغه به د کونړ د دې ښار په مختلفو نومونو کې تر څیړنې لاندې ونیول شي لکه:

الف: چغان سرای (چغان غونډی)

ب: د نیسا ښار

ج: د کونړ ښار.

د: ننګرښار.

هـ: چغته السرای

و: دمکلی.

الف: د چغان سرای تاریخي ریښه یوازې د چغان غونډی په نوم کې څیړل کیدای شي او که د نورستان قبیلې وڅیړل شي نو یوه مشهوره قبیله پکې چغانیان دي چې په مختلفو تاریخي آثارو کې ترې

---

[1] ریشه هاي تاریخي و فرهنګي نورستان ص ۱۴ - ۱۶

يادونه شوې ده. لکه مرحوم حبيبي د زين الاخبار د پاورقۍ په ۱۵۷ مخ، بيقهي تاريخ په ۴۶۵ او مقدسې د چغانيانو څخه تذکرات لري او په نتيجه کې ويل شوي دي چې چغانيان د کاموجي يعنې کمبوجاس له قبيلې څخه دي او په دوو اساسي قبيلو ويشل کيږي لکه کام دکته قبيلې څخه) او کامتوز. ۱

نو په قوي احتمال سره کله چې چغانيانو د کونړ په دې برخه کې واکمنی درلوده دلته يې ودانۍ جوړې کړي او د چغان غونډۍ د دې په نوم مسمی شوه.

په يو بل روايت سره د چغان غونډۍ د کلا بنسټ ايښودونکي يا ننگرشاه ؤ چې د مخه پرې بحث وشو او يا د چغانيانو د واکمنۍ په وخت جوړه شوې ده.

خو د مدارکو له مخې د دې استحکامي کلا د جوړولو نسبت ننگرشاه ته زيات محقق دي د دې کلا د جوړولو مقصد هماغه د کلاسيکو کلاگانو د جوړولو د سبك له مخې ؤ چې د دغې محلاتو په حاکمو نقطو کې جوړېدلې.

د چغان غونډۍ د کلا څخه د شاوخوا درو خولې او سيمې په ډېره آسانۍ سره د څارنې لاندې نيول کېدای شي او د دې کلا په واسطه څاريدونکي سيمې پرته د کوم طبيعي مانع څخه مدافعه کېدای شي، او د ننگرښار ساتنه يې تامينولای شو.

همدا اوس د دې استحکامي کلا خپل تدافعي ارزښت له لاسه ورکړی نه دی او د يوې پوځي چونې په حيث ترې گټه اخيستل کيږي. او د دې ښار بالاحصار شمېرل کيږي. ۲

متاسفانه په پورتينو مدارکو برسېره په دې باب نور اسناد مې تر لاسه نه کړای شول.

ب: د نيسا ښار:

په تاريخي آثارو کې تر ۱۰ د زياتو نيساگانو له جملې څخه يو هم د کونړ هغه ښار دی چې د مقدوني سکندر د لښکر کشۍ په وخت کې ورته نيسا ويل شوی ده.

کله چې په افغانستان کې د مقدوني سکندر د لښکر کشيو جريان ته وکتل شي نو نيسيا، نيسه، نيسا يا نيکايه او داسې نورو تقريباً مترادف ډولو د يو شمېر محلونو او ښارونو د نومونو څخه يادونې شوي دي او د دې جريان د موضوع نه خارج هم په مرو او بلخ کې د نيسا په نوم تذکارات راغلي دي.

دلته دا فکر پيدا کيږي چې په دې تقريباً يو نوم. به دا ځايونه او محلونه د مقدوني سکندر د سفر د جريان پورې مربوط وي، حال دا چې دغسې نه ده، نو په تاريخ کې به بيخي په ندرت سره داسې يو نوم پيدا شي چې د جلا جلا محلونو او ښارونو نوم وي، ما تر يو حده پورې په يوه مقاله کې دغه نيساگانې وڅېړلې خو دلته يوازې په هغه نيسا بحث لازم گڼل کيږي چې د کونړ د نيسا پورې تړاو لري.

---

۱ ريشه هاي تاريخي و فرهنگي نورستان، ۶۶ مخ

۲ د افغانستان استحکامي کلاوې، حصارونه او بالاحصارونه، رازقي نړيوال خطي نسخه، ۱۰۸ مخ

په کونړ کې د نيسا د ښار بيلگې چې په يو څو نيساگانو کې هغه څرگندې شوي دي لکه چې احمد علي کهزاد د نيسا د ښار د موقعيت د تثبيتولو په مقصد په لاندې ډول په تفصيل سره داسې ليکلي دي:

... شرق ته د يوناني سکندر د لښکر کشيو څخه لا د مخه له دې جملې نه د افغانستان په خاوره کې د نيسا ښار زيات شهرت لري، د دې ښار د شهرت علت د هغه په زياتو انگورو په تېره بيا د اُومانو (هومانو) د شرابو له مخې ؤ چې حتی د يونان په داستانونو او اسطورو کې يې نقلونه راوړل کېدل.

ويل کيږي چې د (ديونيزوس) د انگورو د شرابو رب النوع د دې ښار د تاداو ايښودونکي ؤ او له دې کبله دا ښار په (ديو نيزوس) مشهور شوي ؤ چې د يوناني ژبې له مخې د يو (خدای) او نيزوس د (ښار) په معنا دي

او د نيسا ښار يعني (د خدای ښار) نوميدلي او دغه صفت ورته يونانيانو د لقب په توگه ورکړي دي.

لکه چې د مخه اشاره وشوه شرق ته د يونانيانو تر راتگ نه مخکې دا خبره مشهوره وه چې د ميترولوژي (د شرابو رب النوع) په اصل کې د دې ښار اوسيدونکي ؤ، د هغې يوې تاريخي پيښې په استناد چې يې سکندر د پوځي کارنامو په گزارشونو کې مشهور کړي دي هغه دا دي، کله چې سکندر دغه ځای ته راورسيد نو د دغه مقدوني ځوان فاتح او (اکوفيس) د ښار (نيسا) د مشر تر مينځه ملاقات وشو، نوموړي مشر د سکندر څخه وغوښتل چې د بکوس د يونانيانو د شرابو رب النوع په خاطر د دې ښار د خلکو د آزادي درناوی وکړي او په چارو کې يې مداخله و نه کړي او سکندر د هغه دا غوښتنه ومنله.

د نيسيا يا نيسايا د ښار موقعيت دي د افغانستان په ختيز کې د کابل او ننگرهار، د ولايتونو تر منځه سيمو (سروبي يا لغمان) کې وپلټل شي.

د هغو نښو نښانو څخه چې دې ښار درلودلي يوه يې يو جگ غره ته چې په مروبي مشهور ؤ نژديوالی او بله علامه يې د پيچکو (پيروتی) او عشق پيچان د گل بوټو شته والي ؤ چې يوناني سرتيرو به هغه د تاج په ډول له خپلو سرونو څخه تاوه ول او دا له دې کبله چې په پخوانی يونان کې دا د افتخار او ميړانی د علايمو څخه شمېرل کېده.

ځينو مؤرخانو د دې ښار موقعيت په هډه او د ننگرهار ولايت په منځنی برخه کې او ځينو په لغمان (قرغه اي) کې ښودلي دي.

په يو بل روايت چې يو څه ښايسته ښکاري دا ښار د کونړ د سين او د پيچ د سين د يو ځای کېدو په برخه کې موقعيت لري چې دغه ځای د چغسرای په نوم شهرت پيدا کړي د پيچ او د اسمار د درو په خولو کې پروت دي او د پوره توجه وړ دي د نيسا ښار د دې نښو نښانو د مطابقت له مخې د کونړ په همدې محل کې واقعيت لرلای شي لکه هغه څه چې د نيسا د ښار د ريس بکوس سره د سکندر د ملاقات

موضوع او د شرابو رب النوع ؤ. ۱

که موضوع لنډه شي نو د کونړ د دغه ځای ښار يو وخت د نيسا په نوم زيات شهرت درلود.

ح: د کونړ ښار:

په تاريخي مدارکو کې د اسلامي د لومړي دورې د تاريخونو او جغرافيه په جمله کې حدود العالم چې په کونړ کې کوم ښار په ګوته کړي دي د هغه مشخصه يې داسې ښودلې ده:

(کونر شهريست خورد اندرو بتخانه ها.)

پوښتنه دا مطرح کيږي چې دا ښار د کونړ په کومه برخه کې واقع دی او که د بتانو خبره وي خو په دغه زمانه کې د کونړ په هره سيمه کې بتان او معابد موجود وو په قوي احتمال سره چې حدود العالم د کونړ کوم ښار ته اشاره کړې ده همدغه د کونړ د کرهالي په سيمه کې د چغان غونډۍ د لاندې محل دی او دا ځکه چې دلته د تاريخي ابنيې نښانې شته دي او په يو ښار دلالت کوي.

د: ننګرښار:

د اسعد آباد د ښار بل پخوانی نوم ننګرښار دی چې د ننګر کنډ نوم يې ښه نښانه ده.

د تاريخي آثارو او شواهدو او څرګندونو له مخې د دې ښار موقعيت بيخي څرګند دی او هغه د چغان غونډۍ يعنې د چغان ښار په خرابو باندې جوړ شوی دی.

د کونړ يو تکړه ليکوال او واقعه ليکونکي محترم عدالخالق اخلاص د کابل په مجله کې د ننګرښار په باب يو لړ معلومات په لاندې شرح وړاندې کړي دي:

د جلال آباد د شمال ته د ۲۷ کروه - ۹۲ کيلو مترو په فاصله ننګرښار موقعيت لري. دا يو مهم او تاريخي ښار دی او لرغون ډوله اثار د هغه په يوه تپه کې چې په چغان غونډۍ مشهوره ده ليدل کيږي دا تپه د اسمار د سين او پيچ د سين د يو ځای کېدو په شمال شرقي کونج کې پرته ده او اوس هلته يوه عسکري چونۍ ده.

د دې ښار په متعلق پخوانی خلک وايي: چې د دې ځای واکمن د ننګرشاه په نوم يو بت پرست ؤ او د دې غره پر څوکه يې د تيږو او چونې (ګچ) څخه يو محکم ډبرين عمارت د خپلې استوګنې او پناګاه په مقصد جوړه کړې ؤ، لکه چې اوس هم د دې غره څوکې ته په پښتو ننګر کنډ وايي.

د دې تپې نه ګرد چاپير يو لوی او آباد ښار موجود ؤ چې همدا اوس د هغه د ځلورو ديوالونو، کوټو، ښکلو او مقطعو صفو نښې نښانې د توږل شويو تيږو او چونې څخه تيار شوی ؤ موجود دي.

د دې حکمران وزير شامير نومېده، ده هم ځانته يو عمارت درلود چې اوس د وټه پور د پاسه کلی د

۱ افغانستان در پرتو تاريخ، کهزاد، ۱۶۰ – ۱۶۱ مخونه

شامیر کوټ په نوم مشهور دي.

د چغان غونډۍ ګرد چاپېر پخوانی شیان او آثار او ابنیې د هر ډول لوښو لکه ډېر بریښ ښکلي خاورین لوښي، کوزې، صراحي ګانې او د چونې څخه جوړ شوي بتان پیدا شوي دي. او څرګنده ده چې د حدود العالم د کونړ ښار همدا ننګرښار دي او طبیعي ده چې دا وخت دلته بودایي مذهب رواج ؤ.

په پورتنی روایت کې د ننګرښار موقعیت او پراختیا د هغه له عمومي دروازو څخه څرګندیږي چې په لاندې ډول ښودل شوي دي:

- شمال دروازه: د شیګل په حد کې د ننګرشاه په مقام.

- لویدیزه دروازه: د پیچ درې په حد کې.

جنوبي دروازه: د نرنګ د نو آباد په حد کې (چې د دیوالونو نښې نښاني یې همدا نن د سرکانو پل ته مخامخ د کونړ سین ښي غاړې ته په نژدې غرګوټي کې موجودې دي.)

- د شرق خواته یې څکه دروازه نه وه چې د اسمار لوی سین هلته بهیده.

دا درې واړه دروازې د هغو درو عمومي لارو پر سر چې ښار ته راننوتلي دي ودرول شوي وي، چې هم د دې دروازو په واسطه د دښمن د تعرض څخه د ښار ساتنه او دفاع کیدله او هم د هغو سوداګرو هغه مال التجاره چې له کاشقار، بدخشان او هندوستان څخه ښار ته راوړل کېدله یو اندازه محصول او باج اخیستل کېده چې په دغه وخت کې یې رواج درلود.

تر اوسه پورې د دې درې واړو دروازو د دیوالونو آثار، د تیرو توټې په دغو ځایونو کې شته دي. ١

دا چې د ننګرشاه په وخت کومه بده پیښه رامنځ ته شوه چې د ده واکمنۍ ته یې خاتمه ورکړه نو محترم اخلاص د هغې کیسه په کابل مجله کې داسې بیان کړې ده

د ننګر د سیمې پاچا ننګرشاه چې بودایي مذهبې ؤ وروسته د دوو مغلي شهزاده ګانو سلطان پګهل او بهرام شاه د ده په ښار حمله وکړه او د ده لور چې بې نظیره نومیدله د نوموړو شهزاده ګانو سره د مراودې له لارې او د تعهد له مخې د پلار سره خیانت وکړ، مغولي شهزادګانو چې په دو شاخیلو کې یې (دا ځای د دوی په نوم یعني دو، شاخیل باندې مسمی دی) قرارګاه نیولې وه.

هر څو چې دوئ هڅه وکړه د سختې محاصرې سره سره یې د دغه ښار په نیولو لاس بر نه شو، تر څو چې نوموړې شهزاده ګۍ د دوئ سره ارتباط پیدا کړ او دوئ ته یې لیک واستاوه او ورته څرګنده یې کړه که چېرته تاسې زما سره تعهد کوئ چې هم به مې له وژلو معافوئ او هم به مې یو تن په نکاح کوئ نو تاسې ته به هغه حکمت در وښیم چې په یقیني ډول پرې ښار فتح کولای شئ او زما په پلار غلبه حاصلولای شئ.

---

١ کابل مجله، حوت ١٣١٢ ش. د اخلاص لیکنه، ریشه هاي تاریخي و فرهنګي نورستان. ٩١ - ٩٣ مخونه

دوارو شهزاده ګانو دا ليك ولوست او د دې د وعدې په منلو يې ورته مثبت ځواب ورکړ، بې نظيرې ورته په ليك کې هغه غار وښود چې د مځکې لاندې له دې ښاره سين ته وتلی ؤ.

د ښار خلك د دې غار له لارې او به اکمالوي که چېرته تاسې سل کاله هم دا ښار محاصره کړئ ځرنګه چې دلته د غلو او ماکولاتو ګودامونه زيات دي هيڅوك له محاصرې نه تنګيږي، نو که چېرته تاسې د دغه غار خوله ونيسي دا ښار نيولای شئ.

شهزاده ګانو همداسې وکړل او له دې لارې يې ښار ونيو، زيات شمېر خلك چې نه شو تښتيدلای عام قتل يې کړل، بې نظيرې هغوی ته ځان تسليم کړ.

کله چې شهزاده ګان د ښار د چارو له تنظيم څخه فارغ شول نو يې د بې نظيرې په هکله داسې فيصله وکړه، څه رنګه چې بې نظيرې د خپل پلار سره خيانت وکړ زموږ سره به هم خامخا خيانت وکړي او د بلې خوا نه د دې په نکاح کولو چې ډېره ښکلې ده زموږ د دوارو ورونو مخالفت هم رامنځ ته شي نو يې بې نظيره لوڅه د يوې هوارې تيږې د پاسه سره لمر ته لاس او پښې تړلې واچوله تر څو چې دا نازك بدنه او ښکلې نجلۍ د لمر په تودوښه کې مړه شوه او س هغه تيږه چې د هغې ځوانيمرګی په وينو سره او بيا توره شوه په توره تيږه شهرت لري.

تر دې وروسته دوارو شهزادګانو د دين په تبليغ کې ډېره هڅه وکړه او هم د دوئ د ودانيو په وجه د ننګرښار لغوه او پر ځای يې د چغه سرای نوم پرې کيښودل شو. [1]

بايد وويل شي چې د دې کيسې په هکله ارواښاد حبيبي هم په تفصيل سره ليکلي دي.

خاطره:

ښايي دې موضوع ته اشاره وشي چې د دغو دوارو مغلي شهزاده ګانو نومونه د کونړ د حکمرانانو او يوسفزايانو په جمله کې لومړي سلطان پکهل بن کهجامن بن هندو ۸۰۰ هجري/۱۳۹۷ ميلادي او سلطان بهرام بن کهجامن بن هندو ۸۱۰ هجري/۱۴۰۸ ميلادي راغلي.

د کونړ د حکمرانانو او د يوسفزايانو په بحث کې بيا سلطان بهرام ننګرشاه هم بللي شوي دي.

نو دا ده چې دا موضوع پوره دقت او څېړنه ايجابوي او د مدارکو د نشتوالي له کبله مې و نه کړای شو چې څېړنه پرې وکړم. خو قوي احتمال لري د دغو مغلي شهزاده ګانو نومونه غلط روايت شوي وي.

هـ: چغه سرای (چغته السرای):

د کونړ د دې محل د ښارونو په نومونو په تير بحث کې يو څه معلومات وړاندې شو او دا نتيجه په

[1] کابل مجله، ۱۳۱۸ کال، ۹۱ – ۹۴ مخونه، د اخلاص مقاله

لاس راغله چې د ننګرښار نوم د چغتای د کورنۍ د شهزاده ګانو د واکمنۍ په وخت کې په چغته السرای واړول شو.

افغانستان در پرتو تاریخ کې د محمد ظهیر الدین بابر د تزك په قول د دې ښار په باب لیکي:

... د پیچ دره د کونړ د درې ډېره لویه او اوږده فرعي دره ده چې د چغسرای په مقابل کې د کونړ د عمومي درې چې دا دره په داخل کې لري له هغو څخه لغمان او د هغه د مربوطو درو او بیا برنی نورستان (بلور) ته په یو ډول سره ورغزېږي.

د دې جغرافیایي معرفي او پراختیا څخه زموږ مطلب د یوې هغسې جغرافیوي او تاریخي نقطې ښودل دي چې د تاریخ په اوږدو کې خاص اهمیت لري چې معمولاً دا نقطه د چغان تپه یا چغان غونډۍ په نوم یادیږي، بابر په خپل تزك کې هغه د چغان سرای یا چغانیان سرای په نومونو یاد کړي دي.

د چغسرای څخه ښاغلي کهزاد داسې یادونه کوي، مقدوني سکندر او بابر دواړو د دوو زرو کلونو په زماني فاصله کې چغسرای ته راغلي وو.

د بابر په عصر کې نژدې څلور سوه کلونو پخوا کې که څه هم د چغسرای اوسیدونکي مسلمانان وو خو بیا یې هم د داخلي نورستان د اوسیدونکو سره چې کافران وو رګډ شوي وو او دا وضعه نه یوازې په چغسرای کې، بلکې له نجرابه تر پاسنی نورستان پورې د هندوکش د غره د جنوبي لمنو په درو کې لیدل کیدله.

میر غلام محمد غبار په خپل اثر افغانستان در مسیر تاریخ کې داسې لیکلي دي:

بابر په شپاړسمه پیړۍ کې (۱۵۰۴ میلادي) نه یوازې چترال او نورستان د کافرستان په نوم یاد کړي بلکې چغسرای یې هم د کافرستان یوه برخه ګڼلې وه د بابر د تزك له روایته چې وایي:

(په ۹۲۰ هجري، چې مې چغسرای ونیو هلته نارنج، ترنج او کرنج (ممکن چوکوتره) زیات لیدل کیږي او تند شراب یې له نورستان څخه راوړل چغسرای یو محقر ځای دی چې د نورستان په خوله کې پروت دي.

د چغسرای او چغان سرای د محل او موقعیت په باب دومره ویل کیدای شي چې ډېر امکان لري په راوروسته وخت کې چې ننګرښار او چغان سرای په چغسرای تعویض شوي ؤ د هغې موقعیت هم د چغسرای په اوسني محل کې یعنې د کرهاړي څخه رادي غاړه د مکلي لاندې عمومي شهرت پیدا کړي وي، او دا ځکه چې په قوي احتمال سره د اوسني چغسرای محل نوي آبادې ده او د چغان سرای څخه تاریخي قدامت نه لري.

دا چې ولې مؤرخان چغته السرای ته چغان سرای وایي زما په عقیده که د دې ښار مؤسس د مغولي کورنۍ چغتای واکمن بولي او دغه نوم هغوئ ته منسوبوي حال دا چې د چغان نوم د نورستان د چغانیانو

د قبیلې سره تعلق لري.

په هر صورت چغسرای د کونړ د ښار وروستي نوم دی چې د اسعد آباد د ښار د نامه مخکښې افاده یې کوله.

دا خبره هم د یوره یادونې وړ ده چې بر چغسرای ولې په چغان سره نه یادیږي، نو د مغلي یادو شوو شهزاده ګانو د واکمنۍ په وخت کې ممکن هغوئ په دې محل کې هم کومه آبادی کړې وي.او د بر چغسرای نوم یې ورکړی دی.

د دې یو دلیل دا دی چې د ننګرشاه وزیر شامیر هم هلته ودانۍ درلودلې او د بلې خوا ممکن مغلي شهزاده ګانو د پیچ له درې نه په ننګرښار باندې تعرض کړی وي.

و: دمکلي:

دمکلي د کونړ د اسعد آباد ښار سره خوا یو ډېر پخوانی کلي دی او دا چې په عمومي محاورو زیاتره د چغسرای په ځای استعمالیږي نو په دې باب هم یو څه لیکل بې ضرورته نه دي.

د ژبپوهنې له مخې چې (دم- کلي) له دوو کلمو څخه ترکیب موندلی دی دا دواړه کلمې هم جلا جلا معنا وي دي او د ترکیبي شکل معنا یې هم توپیر لري.

- که چېرته (دم-کلي) ورته وویل شي نو (دم) لکه لودم، دړی دم یوه یوه نورستاني کلمه ده. او ګلي له ګل څخه په اشتقاق د دره ګۍ معنا ورکوي چې د ترکیبي معنا هم که ټرته د دم معنا مشخصه شي هغه داسې تعبیرولای شي.

- په پښتو کې (دم) د خولې یا دهن معنا ورکوي او (کلي) چې قریه او دهکده ده نو د ترکیبي شکل معنا یې کیږي د (خولې کلي) او که لا ورته صراحت ورکړ شي (د دړو د خولې کلي) چې د جغرافیوي موقعیت په اساس دا معنا منطقي ښکاري.

- ځینې وايي چې دا (دم کلي) نه بلکې د دمې کلي یعنې د توقف او استراحت کولو کلي دي، او د وخت په تیریدلو سره یې تر (دم) وروسته (ه) حذف شوي او دمکلي شوي دي چې دا هم د منطق سره برابر یو روایت دی، ځکه کله چې سوداګر او مسافرین درو ته ور ننوتل هم دلته یې د دمې د پاره توقف کاوه او کله چې د کامدیش او یا د پیچ له درو او نورو سیمو څخه څوك د کونړ ښکتنیو برخوته تلل هم دلته به یې توقف کاوه.

په عمومي ډول د دمکلي درې واړه معناوې د هغه جغرافیایي موقعیت په اعتبار سمې او په منطقي استدلال ولاړې دي او ممکن نورې معناوې به هم ولري.

که د دې کلي د خصوصیت په مورد کې وویل شي دا کلي د کونړ په یوه ډېر مناسب محل کې جوړ شوي او پخوا یې د یوې مستحکمې کلا شکل درلود، خو د ساختماني سبك له مخې د دې کلا جوړښت

د کونړ د ښکتنیو تاریخي کلاګانو سره په ځینو مواردو کې توپیر درلود.

ز- دا سپې ښار:

د کونړ د لرغونو ښارونو څخه یو ښار هم د اسپي ښار ؤ.

وایي چې اسپي یو لوی ښار ؤ چې د افغانستان په ختیزو سیمو کې یې موقعیت درلود او په پخوانیو زمانو کې د اسپسیانو (یوسفزو) د قوم پورې یې تعلق درلود، معلومه نه ده چې دا ښار د اوسپلا د سین (د کونړ د سین معاون) په غاړه پروت ؤ او که له هغه څخه لیرې خو قوي ګومان دا دي چې له دې سینده دومره لیری نه ؤ. ۱

اوس د دې ښار په باب څه معلومات نشته دي.

۹- د کونړ لرغوني کلي:

کله چې د کونړ لرغوني کلي وایو نو طبعاً د کونړ هغه استحکامي کلاوې باید وګڼل شي چې د تاریخي کلیو (ښارګوټو) په شکل یې موقعیت درلود.

که تاریخي واقعیتونو ته ور وګرزوو نو ګورو چې په لرغوني افغانستان کې په تیره بیا د مهاجرتونو په بهیر کې چې د شمال څخه جنوب او جنوب ختیزو سیموته د سیندونو او رودخانو د مسیر او مجراګانو په غاړو او دغسې طبیعي لارو کې پرتې دي وکتل شي نو هر چېرته چې آریایي قبیلو او قومونو په کوم محل او سیمه کې همیشنۍ هستوګنه غوره کړې ده هلته یې ځانته مستحکمې کلاوې جوړې کړې دي، چې دغه کلاګانې زیاتره د ساختمان د کلاسیك په سبك جوړ شوي دي چې په سیمه کې په یو خاص او مناسب جغرافیایي محل کې جوړېدلي او تر وروستی حده پورې یې د دښمنانو او پردیو له زیان او خطره څخه خوندي وي، چې د کسیلا کوف روسي عالم له نظره د نورستان کلاوې هم په دغسې مشخصاتو بناوې.

که د کونړ د کلاګانو عمومي ساختماني شکل او مشخصاتو ته وکتل شي نو:

- په یو جغرافیایي مناسب محل کې واقع دي لکه حاکمي نقطې. درو لارو او څلورو لارو، د سیندونو د تلاقي په نقطه کې.
- پاخه دیوالونه یې درلودل او په هغو کې تیرکشونه ایستل شوي وو.
- یوه او یا دوې عمومي دروازې یې دلودلې.
- په څلورو کونجونو کې یې پاخه تدافعي برجونه لرل.
- او خودکفا وې یعنې ټول کسبګر پکې موجود وو، د اوبو د اکمالاتو منابع یې درلودلې. او داسې

۱ آریانا مجله، ۱۷ ګڼه، انجمن تاریخ، ۱۳۲۳ ش، ۴۴ مخ

نور ۱

د دې د پاره چې دا اوږده موضوع لنډه شوې وي نو يوازې د هغو په نوم اخستنه بسنه لازمه ګڼل کيږي.

د کونړ لرغوني کلي:

- د خلغتيك كلي په ښيوه کې
- د ښيوې كلي (كوز كونړ كلي)
- د خاص كونړ كلى
- د پشت كلى
- د سركانو كلى
- د كوز نرنګ كلى
- دبر نرنګ كلي (زوړ نرانګ)
- د ديو ګل كلى
- اندراك كلي (ښارګوټى)
- د كولى ګرام كلى (په خاص كونړ کې)
- د مرورې (اندراج كلى)
- د بر كونړ (اسمار) كلى
- د ننګلام كلى (پيچ دره کې)
- دليچه لام كلى (د پيچ په دره کې)
- د كامديش كلى.

او داسې زيات شمېر كلي.

بايد وويل شي چې په عمومي ډول د ټول كونړ د لويو او كوچنيو كليو شمېر له ۸۰۰ كليو څخه زيات دي ۲

۱۰- د كونړ تاريخي آبداتو او آثارو ته لنډه كتنه

• دا يوه طبيعي پديده ده هر چېرته چې انسان ځانته استوګنځي جوړوي او ژوند پکې کوي د خپل ژوندانه ښې ښانې هلته پرېږدي يعنې د ژوند د سويې سره سم د خپل مدنيت او كلتوري بيلګې په ياد

۱ د افغانستان استحكامي كلاوې حصارونه او بالاحصارونه، خطي نسخه، رازقي نړيوال

۲ اطلس محلات افغانستان كنرها. ګڼه ۷، اداره مركزي احصائيه ۱۳۶۴

ګار پریږدي.

په کونړ کې هم د هغه ځایونو پخوانیو اوسیدونکو، د خپل ژوندانه بیلګې یعنې تاریخي اثار لري چې د پښتو آریانا دایره المعارف په دې هکله لیکلي دي:

په کونړ کې ځینې تاریخي شکلونه، رسمونه او خطونه د تیرو پر مخ شته دي ښایي چې دغه آثار د کونړ د زرهاوو کلونو د واقعاتو او پیښو شاهد وي د نړۍ لویو فاتحانو کله چې افغانستان ته مخه وکړه په کونړ کې یې هم زور آزمویلي دي یوناني لوی فاتح مقدوني سکندر د یرغل څخه کونړ هم په امن پاتې نه شو او نوموړي په همدغو درو کې ټپي شو او په ډېره پریشانۍ له کونړه سوات ته ورغی.

په کونړ کې د مغولي دورې آثار هم لیدل کیږي او په ځینو ځایونو باندې تر اوسه مغولي نومونه ثبت دي.[1]

همدا شان تر کومه ځایه چې د کونړ پخواني اوسیدونکي بودایي مذهبه وو نود ګریک بود یک صنعت هم په کونړ کې زیات عمومیت درلود او دغه صنعت په خاصه توګه په هیکل تراشۍ (یعنې په لرګی کې کیندنې) د یادونې وړ مقام درلود.

بر علاوه په لرګیو کې د تزئین کاري د فن ښې نښانې د جوماتونو په دروازو، د کورونو په دروازو کړکیو، رواقونو، میزونو او څوکیو او د مقدسه اماکنو په ځینو برخو کې همدا نن لیدل کیدای شي.

د موضوع د لنډیز په منظور د کونړ د آبداتو د تاریخي آثارو په باب داسې معلومات ورکول کیدای شي.

الف: د کلوم کتیبه:

دا تاریخي کتیبه د کولم یا کالم د دروازې په خوله کې په یوه لویه تیږه حک شوې ده چې دوې برخې لري.

یوه برخه یې د امیر تیمور پورې مربوطه ده چې محتویات یې داسې دي:

(امیر تیمور پادشاه مغل اول فاتح مسلمانی بود که ولایت این طایفه سرکشی را تا این نقطه تسخیر نمود ولی قلوم را نسبت استحکام آن نتوانست متصرف شود.)[2]

بله برخه یې د امیر عبدالرحمن خان پورې تعلق لري چې داسې پرې ښکل شوي دي:

(در وقت امیر عبدالرحمن خان غازی در سنه هزار و سه صد و سیزده (۱۳۱۳ هجري قمري) تمام کافرستان با کلوم مسخر گردید و اهالی آنجا دین مبین اسلام را قبول نمودند، و جا الحق و زهق الباطل

---

[1] پښتو آریانا دایره المعارف ۷، ۱۳۵۵، ۸۵۳ مخ

[2] ریشه هاي تاریخي و فرهنګي نورستان، ۸۱ مخ

انالباطل کان ذهوقا ۱

ب: د چغان سراى ابنيې و آبدات:

د کونړ د تاريخي ابنيو او آبداتو په جمله کې د ننګرښار د مهمو ودانيو بقاياوې او د هغه د هديرې کتيبې دي چې د دغه ښار په مخروبو کې په زياته اندازه خښتې، د مرمرو د تيږو لويې او پنډې تختې ليدل کيږي.

تر کومه حده چې د مخروبو تهدابونه او ديوالونه ښيي نو جوتيږي چې يوه ورځ دلته يو شمېر مهمې ودانۍ موجودې وې چې له دې جملې څخه د يو عمارت په ديوالونو کې دغسې خښتې او د تيږو تختې د کنډوالو د پاسه د غره په لمنه کې ښکاري.

د آباديو په ډېره ښکته لمنه کې يوه هديره هم پرته ده چې د هغې اوږدوالي ۱۵۰۰ مترو د پيچ درې په استقامت رسيږي پرته ده د مرمرو د تيږو زياتې لوی خښتې، د مرمرو ستنو ټوټې، د هغوی قاعدې او سرونه چې په ګلانو او پاڼو تزئينکاری شوی دی تر سترګو کيدای شي.

په ظاهره کې د دې ودانۍ بقاياوې د ډېرو لوحو د ليکنې له مخې چې په عربي او فارسي پکې نومونه ليکل شوي دي داسې فکر کيږي چې په اسلامي دورې پورې تعلق لري د هديرې په شناختو د سلطان پګهل او بهرام شاه او داسې نور نومونه ليکل شوي دي. ۲

ج: د برنرنګ د غره په لمنو کې هم يو شمېر آثار موجود وو:

خو اوس يوازې هغه آبدات پاتې دي چې په (اندرګلي) کې د غره په يوه لوړ ګټ د سړي او ناوې عکس د يو آس سره ښکل شوي دي په ډنډونو نومې کلي کې هم په يوه کمر کې په اس سپور سړي چې په لاس کې يې توره ده ليدل کيږي.

د برنرنګ په مزار نومي سيمه، په شنه غوندۍ او دلچه ګلي د ورغالي په سيمه کې هم تاريخي آثار موجود وو.

د: د کولي ګرام د کلي د پاسه هم د تاريخي آثارو سيمه موجوده ده.

هـ: د نورستان په زياتو سيمو کې هم د غرونو په ګټونو رسامۍ او نور آثار پيدا کيږي چې مشهور يې د مرکزي نورستان د يوه غره په لمنه کې يوه کيندل شوي ژوره کاسه ده.

هـ: په کونړ کې غارونه او مغارې:

په کونړ کې د ننګرښار غر خورا مشهور دي چې د ننګرشاه په بحث کې ترې يادونه وشوه.

يو بل غار د ډنډونو د کلي د پاسه د يو غره په لمنه کې چې د نو آباد ويالــه ترې تيريږي هم ممکن

---

۱ پورتنی اثر ۱۲۹

۲ د ساپيانو پيژندګلوی. عبدالمالك ساپی، د سرحداتو وزارت. ۱۳۷۰ ، ۱۳۷ مخ

موجود وي.
او د پشت د کلي د پاسه هم يوه لويه مغاره او سمڅه موجوده ده.

۱۱ - ضروري يادښتونه:

د کونړ په اقتصادي او فرهنگي ژوند کې د هغه ځنگلونه او معدنونه ټاکونکي نقش لري او تاريخي آثار د لرغوني ژوند په اړوند کلتوري تمثالونه تمثيلوي خو تر کومه ځايه چې ليدل شوي دي د کونړ د خلکو د دې سرشارې ملي شتمنۍ او عامه پانگې سره دلسوزانه او مسؤولانه برخورد نه کيږي، چې په ډېره خلصه توگه په دې باب يوه لنډه کتنه او يادونه کيږي.

الف: لکه چې په تېرو بحثو کې وويل شو کونړ د گڼو ځنگلونو درلودونکي سيمه ده او بيا په دې ځنگلونو کې که څه هم د نښتر ونې ميوه لرونکي ونې نه دي خو بيا هم تر ميوو لوړ مقام لري او که لرگينه طلاوې نو لرگينه طلا ورته ويلای شو او نښتر واقعاً د ځنگلونو د پاچهانو حيثيت لري، په دې نښترو کې ځينې داسې ونې هم شته دي چې د دنيا تر پيدا ښتنه تر نن ورځې پورې په پېړيو پېړيو عمر لري او جگوالي يې له سلو مترو هم لوړ دي.

د کونړ د نښترو چارتراش چې په بيگانه ژبه ورته سيليبر وايي د خپل عالي جنسيت له پلوه نړيوال نوم لري.

خو افسوس چې نن د کونړ دا دنگ غرونه سپيره کيږي او درنې لمنې يې له ځنگلي بوټو څخه خالي کيږي، چې همدا اوس د نرنگ غرونه بيخي سرلوڅي دي لکه چې گورو د کونړ په هره ځنگلي برخه کې د نښترو دا تاريخي ونې په ډېره بې رحمۍ او بې مسؤليتۍ رانسکوريږي او دا ټولنيزې شتمنۍ يوازې يو څو ځواکمنو کسانو په جيبونو کې لويږي.

په کونړ کې د ځنگلونو سره دا بې ساري ظلم او بې رحمي د لاندنيو زيانونو د رامنځته کېدو سبب شوې ده.

- که غرونه له ځنگلونو څخه پاک شي نو واورې ژر ويلي کيږي يعنې د اوبو منابـــــع يې بې موقع جاري شوي او د سندونو د وچيدلو عامل گرزي لکـــه چې همدا اوس د کونړ سيــــــن پخوانی اوبه نه لري.

- بې ځنگلونو غرونه د موسمي سختو بارانونـو پـه وخت کې توپاني سيلابونه جوړوي او د سيمو خلکوته د يادونې وړ ځاني او مالي تاوانونه ور رسوي.

- که غرونه له ځنگلونو خالي شي د کونړ په ښه هوا ناوړه اغيزه کوي.

- که غرونه گڼ ځنگلونه و نه لري د کونړ (کشمير توب) د گمبيرې دښته گرزي.

- او بالاخره په راتلونکي کې افغانستان له دې بې ساري شتمنۍ څخه محرومه کيږي.

ب: معدنونه:

په کونړ کې یوه اندازه د قیمتي ډبرو کانونه شته دي لکه د پیچ په دره او د باډیل په دره کې، له دې څخه هم شخصي ګټه اخیستل کیږي.

ج: تاریخي آثار:

څه رنګه چې کونړ د لرغوني بډایه مدنیت درلودونکي وو او د ګندهارا د مدنیت ځلانده دوره یې تیره کړې ده نو د زیاتو، تاریخي آثارو درلودونکي دي چې چاته دومره زیاته پته نشته، خو اوس د دې آثارو ځینې لرونکي سیمې په خپل سرې راکیندل کیږي او اثار ترې وباسي چې د برنرنګ د غره د لمنې په مزار کې تاریخي آثار او د کولي ګرام د کلي د پاسه ورل شوي آثار یې مثال راوړلای شو.

زما پیشنهاد دا دي چې په پورتنیو دري وارو مواردو کې د اسلامي او ملي روحیې په مقتضا قومي او دولتي چارواکي ښایي دلسوزانه پاملرنه وکړي.

یوه بله موضوع چې کونړ او نورستان کې لکه د پخوا غوندې د یو بل سره یو تن او یو وجود ساتلای شي او ور سره جوخت د دې غرنیو سیمو ستونزې حل کوي هغه دا ده چې که بېرته دواړه ولایتونه یو واحد ولایت شي خو را ګټور اقدام به وي.

خاطره:

څه رنګه چې مې ساحوي ریسرچ نه دي کړي نو د خپلو معلوماتو د نیمګړتیاوو له کبله به معذور وګڼل شم.



Bamiyan

۱۲ - غور

(د ښکلو ښارونو، ماڼيو او مستحکمو کلاګانو مجتمع)

غور زموږ د هېواد له تاريخي لرغونو او له برمه ډکو سيمو څخه يوه سيمه او پوځي او سوق الجيشي بې ساری ورتيا او پياوړتيا درلودونکي يو غرنی ولايت دی هغه چې د زمانې زياتې تودې او سړې يې ليدلې او د جهاني جهان کشايانو او مهاجمانو بې رحمانه او بې شمېره تاړاکونه يې ګاللي دي.

غور د هغسې لوړو، مستحکمو او نه تسخيريدونکو کلاګانو او استحکامي د ژونو درلودونکي وطن چې د يرغلګرانو په تيره بيا د چنګيزي خونخوارو لښکرو د توپاني وحشيانه بريدونو په مقابل کې يې په ډېره ميړانه او بې ساری اتلولۍ سره د ډېرې کلکې مدافعې سنګرونه ګرزيدلي دي او حتی موږ د غور په استحکامي کلاګانو او ښارونو کې د اسې ښارونه او کلاوې معرفي کولای شو چې د هغو هستوګنو باتورانو د مهاجمانو د سختې او اوږدې محاصرې په شرايطو کې يې د خپلو مړو غوښې خوړلې او تر وروستی غړي پورې يې دښمن ته د ور تسليميدلو په ځای شرافتمندانه مړينې ته ترجيح ورکړې ده.

غور دا زموږ د هېواد د وتلو اتلانو او تاريخي قهرمانانو سيمه ده چې د هغوی د شهامت او شجاعت

جاج د امير کروړ، جهان پهلوان په دې بولله کې په پوره ځلانده ډول انعکاس موندلي دي:

زه يم زمري پر دې نړۍ له ما اتل نشته

په هندو سندو پر تخار او په کابل نشته

موږ د امير پولاد جهان پهلوان د غښتلي او پياوړي ځېرې ته په غير د المار پښتون، شعيب افغان، سندان (مسندان) هغه حماسه هستوونکي اتلولۍ د هېواد د تاريخي وياړونو، ځلانده سمبول بللای شو چې د چنګيزي وحشت ګرو په مقابل کې يې په يادګار پريښي دي د غور د استحکامي دژونو، لوړو او ښکلو کلاګانو له جملې څخه چې د تاتاري پوځونو د سيلاب په وړاندې لکه غرونه ودريدلي د فيوار، خيسار، کاليون او دوکي کلاګانې د غوريانو د آزاد منشۍ او فداکارۍ وياند ه تمثالونه وو.

لکه چې د (جغرافياي تاريخي سرزمين هاي خلافت شرقي) د ۴۴۴ مخ د ليکنې له مخې چې وايي:

د غور زياتره کلاګانې د چنګيزي تاړاکونو په وجه په ۶۱۹ هجري کې خرابې شوي دي، خود خيسار (خستار) کلا له دې مصيبت څخه په امان پاتې شوې ده.

د غور ښارونه، پلازمينې او شاهي ماڼۍ ډېرې ښکلې او دنګې وې د هغوئ ساختماني سبکونه او هنري خصوصيات د غوريانو د دورې د صنعتونو د ظرافت او د معمارۍ د لوړې فنکارۍ ډېرې ښې بيلګې ګڼل کيداى شي.

غور د هغه د غرونو د غزيدلو لړيو د بې شمېرو چينو د درلودلو له کبله په (هزار چشمه) باندې، مشهور دي، په لرغونو زمانو کې غور د پوره آبادۍ، سرشارۍ، سمسورتيا، لوړو او ښکلو ودانيو په زړه پورې ماڼيو، پخو او له دبدبې ډکو کلاګانو، معمورو ښارونو، د تر و تازه شنو درو، رڼو ويالو او صافو چينو په درلودلو يوه بډايه سيمه وه.

د لرغوني غور جغرافيايي موقعيت او پراختيا

غور زموږ د هېواد بشپړه غرنۍ منطقه ده چې د لويو غرونو، خوړونو، درو او غونډيو څخه متشکله ده، هوارۍ او د کرنې ځمکې يې محدودې دي.

د لرغوني غور حدود د يو څه پراختيا درلودونکي محدوديت او څلور خواوې يې په لاندې ډول ښودل شوي دي

د طول البلد په ۶۴، ۶۵ درجو، ۳۸ دقيقو او ۴۹ ثانيو په منځ کې پروت او عمومي مساحت يې ۳۸۷۵۸ کيلو متر مربع دي.

- د شمال له خوا نه: د بابا په غره او باميانو.
- د جنوب له خوا: په ارزګان، تيرى، هرات او اوسنى زميند اور.
- په ختيز کې: په اجيرستان (تاريخى وجيرستان) او غزني.

- د لويديز له خوا نه: په فراه، اسفزار، بادغيس او د هرات په سمسوري ناوې پورې تړلي دي.
اوسنی غور د لاندنيو څلورو سيمو څخه عبارت دي:
- ختيزه برخه: چې لعل سرخ، سرلينك، خواجه وجيهه الدين او پساوند پكې شامل دي.
- لويديزه برخه: چې نوروز، ملي علي، اندر او سين پكې شامل دي.
- په شمالي برخه كې دا كلي شامل دي: چشمه ميران او سرنای عاشقان.
- او جنوبي برخه يې د غارك، پشو، ارسيو او نورو كليو څخه مركبه ده. ١

مگر غور د اوسنيو اداري تشكيلاتو له پلوه د يو ولايت په حيث د جوزجان، فارياب، بادغيس، هرات، هلمند، ارزگان او باميانو د ولايتونو په منځ كې موقعيت لري.

غور چې نن ورځ د افغانستان په لويديز كې يو كوچنی ولايت شمېرل كيږي په پخوانيو زمانو كې نسبتاً ډېره پراخه سيمه گڼل كېدله چې د هرات او غزني تر منځه د بابا د غره او د سپين غره (سپيد كوه) د غرنيو سيمو او درو څخه متشكله وه.

په يو بل روايت دا پراخه غرنۍ سيمه چې غور او غورجستان نوميده د غرجستان په ختيز او جنوب كې پرته وه له هراته تر باميانه، د كابل او غزني تر پولو پورې يې اوږدوالي درلوده نو هر څومره چې تاريخي اسنادو ته ورستنيږو هغومره د غور د سيمې ارتوالی زياتيږي او زياتې سيمې رانيسي.

غور په تاريخي دورو كې يو وخت ډېر زيات شهرت درلود ځكه چې غور د غوري پاچهانو ستر مركز ؤ او له دې ځايه څخه يې ليرو ليرو ملكونو پورې حكمراني درلوده.

داسې يو وخت هم ؤ چې غور د خراسان، سيستان او تر ډهلي پورې د پنجاب د ولايتونو مركز ؤ چې په شمالي خواوو كې د مرو، بلخ او تخارستان ولايتونو پكې شامل وو او پولې يې د پامير تر غرونو او چترال پورې رسيدلې.

د انگليسي هولدچ په قول د غور د نامه د اوريدلو سره سم د انسان ستر گو ته يوه داسې لويه ځمكه ودريږي چې له هند څخه تر ايران پورې او له آمو نه تر هرمز پورې غزيدلې وه د منځنيو پيړيو جغرافيه پوهانو د غور سيمه د لويو او جگو غرونو او سردنگو تاترو په واسطه د هريرود، هلمند، خاشرود، فراه رود د سيندونو سرچينه بولي تر دې اندازې پورې چې د مرغاب د سيندونو سرچينه هم دغه ځايونه گڼي. ٢

د لرغوني غور د كلمې تاريخي ريښې:

زياتو هېوادنيو او بهرنيو جغرافيه ليكونكو او تاريخ پوهانو د لرغوني غور د كلمې د ريښو په هكله خپل نظريات وړاندې كړي دي چې په لاندې ډول پرې بحث كيږي:

---

١ پښتو آريانا دايره المعارف، ٧ ج، اطلاعات او كلتور وزارت، دولتي مطبعه ١٣٥٥ كال، ٦٣٥ – ٦٣٦ مخونه
٢ د غور لرغوني كلاگانې، پوهاند رازقي نړيوال، ٢ مخ

ښاغلي مير غلام محمد غبار د «غوریان» د کلمې په هکله چې د «غور» کلمه تري اشتقاق شوي ده په تحقيقي شکل داسې ليکي:

... له سيحون او جيحون څخه د «آرين» د څانگې د مهاجرت په جريان کې تر پنځه زرو کلونو زياته موده د مخه د «آرين» شعبه د نورو څانگو څخه راجلا شوه او جنوبي سيمو ته يې حرکت وکړ او تر يو وخته پورې د سيحون او جيحون په څمکه کې و اوسيدل، تر دې وروسته يې د «باختر» او «آريانه» «هرات» ولايت ته نقل مکان وکړ د همدې آريايانو يوه بله برخه چې په باختر او آريانه کې يې استوگنه غوره کړې وه له دې ځايه هم د افغانستان د مملکت نورو واديو ته خپره شوه، د افغنستان آريانه يانو خپل نوم په هرات باندې کيښود يعنې دا ځاى يې په آريانه مسمى کړ او بيا د دوو څانگو په شکل په مملکت کې وويشلى شوى، زياتره د مقاماتو «محلاتو» او طايفو نومونه يې د همدې «آريانه» کلمې د طبيعي بدلونونو له مخې رامنځ ته شول لکه چې د «غوريان» نوم د هرات د اوسني ولايت په ختيزو سيمو کې د «آريان» د کلمې تحريف دي، چې بيا وروسته په «اوريان» او «غوريان» واوښت او د محل او وگړو نوم د هرات په ختيزه خوا کې د هماغو اوريان او غوريان تحريفات دي.[1]

تاريخ پوهان د غور کلمه د لرغونو کلمو لکه «گيرى» د گيرى کلمه د اوستا او سانسکريت له ريښې نه د غر معنا افاده کوي، غرج، غرچ، گرياغوش او داسې نورو کلمو څخه مشتق گڼي.

«گر» او «غر» اوستايي کلمې دي او په دري کې چې د کوه په معنى راغلى دى او په پښتو کې هم د غر معنا لري لکه چې د گرشا په کلمو کې د «ملك الجبال» په مفهوم او «سنگر گروده» او «گرديه» کلمې چې[2] په دري افاده کيږي او په ځينو نورو کې لکه «گردين» کردژ او گرديژ چې د غرنى. کلا په معنا راغلي دي.

د توماسك په عقيده «د غور، غرچه، غرچ، غج» کلمې ټولې د يوې ريښې درلودونکي دي چې د غر په معنا دي.

په يو سند کې چې بيا هم د مرحوم غبار د ياد شوي روايت سره يو څه نژديوالي لري داسې ليکل شوي دي:

په هغه زمانه کې چې د آريانانو يو ښاخ د دوو زرو کلونو په شاوخوا کې پخوا، له بخدي څخه په مهاجرتونو پيل وکړ د دوئ له جملې څخه هغه برخه چې د جنوب لار يې پر مخ کې ونيوله او د يوې مسافې تر وهلو وروسته د افغانستان د مرکزي غرونو لمنو ته راورسيدله، نو دا سيمې د ښکلو درو، شنو ورشوگانو او د طبيعي په زړه پورو منظرو د درلودلو له کبله د هغوى د استوگنې د پاره ډيرې مساعدې وگڼل شوي او هماغه ؤ چې په همدغو محلاتو کې ميشته شول.

---

[1] جغرافياي تاريخي افغانستان، غبار، ۱۳۴۶، ۷۶ مخ

[2] د غور لرغوني کلاگاني، ۳ مخ

څرنګه چې د دوئ دا لوی تاتوبي یوه غرنی سیمه ده نو یې د غور په نوم ونوموله چې د کوه معنا ورکوي. ۱

د ژبپوهنې له مخې (هور) یا (خور) چې د خاوران کلمه ترې مشتق شوې ده او په سانسکریت کې ورته (سور) یا (سیر) چې د سوري کورنی ورته منسوب ده ویل کیږي او هغه لمر دي چې د همیشه د پاره په زړه پورې توده ځلا لري، د خراسان او منځنی آسیا په فرهنګي تاریخ کې د غور اهمیت او موقف خورا زیات او په زړه پورې دي (اتلس محلات افغانستان، اداره مرکزي احصائیه، ۱۳۶۴).

د ناصري طبقاتو په تعلیقاتو کې چې مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبي پرې لیکلي دي، لیکي:

د غرش او خرچ کلمې (رچ)، (رګ) او (د) دي چې ګراد غر له هغو څخه جوړیږي او (ش-ج-چ) دا وروستنی حروف ممکن د عربانو له راتګ وروسته ور سره نښتلي او اضافه کلمې دي. نوموړي زیاتوي چې د غرڅه (کوهي) پښتو او غلجه د معروفه افغاني قبیله) د غور د غزني کلمې سره نسبت لري. ۲

زیاتره ګومان کیږي چې د غور کلمې د یوناني مؤرخینو په آثارو کې نه ده یاده شوې او که د سترابو (۶۴ق.م – ۲۰ قبل از میلاد) نقشې ته مراجعه وشي ګورو چې د افغانستان د پخوانی برخه یې (پارو پامیزاد) په نوم ثبت کړې ده د مجمل التواریخ و القصص په حواله د غور نوم د هغې د سیمې پر پاچا باندې د رستم زال د ژوندانه په وخت کې ایښودل شوي دي لکه چې د هندوانو د القابو او نسب د یادونې په لړ کې لیکي:

(د کابل او سند د خاورو پاچهانو ته یې رتبیل وایه او د غورپاچا د رستم زال په زمانه کې له رتبیل شاه څخه جلا شو په پاچا او ځمکې یې د غور نوم کیښود، د غرجستان پاچا ته یې (شار) وو ایه او د بامیان پاچاته یې (شیر) او دا ولایتونه د رستم سره وو د زابلستان په جمله کې او دا لقب پرې ده ایښودلي دي او اوس هماغه رستم پر خپل ځای پاتې دي. ۳

په دې توګه ویلای شو چې د غور کلمه ډېره پخوانی سابقه لري او دا چې د یوناني مؤرخانو په آثارو کې ترې یادونه شوې نه ده د دې خبرې علت دا دي چې یونانیانو د خپلو فتوحاتو په لړ کې د دې سیمې د غرونو بیخونو ته نه ؤ راغلي چې نوم پرې کیږدي، د پورتنی اثر د مؤلف د روایت له مخې که څه هم افسانوي شکل لري خو سره د دې هم د غور د خاورې او د هغې د واکمنانو د لقبونو تاریخي قدامت دا خبره په ډاګه کوي چې د (غورشاه) د (غرجستان شار) او د (بامیانو د شیر) لقبونو د عربو او غیر عربو

۱ پورتنی اثر، ۳ مخ

۲ د غور لرغوني کلاګانې، ۴ خ

۳ مجمل التواریخ و القصص، تالیف ۵۲۰ هجري طبع ۱۳۱۸ تهران، ۴۲۲ مخ په حواله
- جغرافیاي تاریخي غور، ص ۱۴ - ۱۵

مؤرخانو او جغرافیه لیکونکو په آثارو په تیره بیا د اسلام په لومړیو کې زیات راغلي دي. ١

لنډه دا چې که په نتیجوي ډول د غور د کلمې د تسمیې وجه وڅیړل شي نو د برهان قاطع په روایت غور د اول او دوهم توري په پیښ د مور په وزن تلفظ کیږي او وایي چې دا د یو ولایت نوم دي کندهار ته نږدې. ٢

د غور د کلمې باستاني ریښه په اوستا او سانسکریت کې د ګیري په شکلونو او پخواني باختري کې د (ګر) ده چې په پښتو د غر معنا لري او د آریایي ژبې له پخوانیو کلمو څخه شمېرل کیږي، د اویستا په کتاب د هوم لیښت په برخه کې (ګیري) راغلي دي او هم په خرده اوستا کې چې د اوستا پنځمه برخه ده هم لیدل کیږي. د سانسکریت د فرهنګونو څخه څرګندیږي چې په هغو ژبه کې د ګیر یا (ګیري) معنا غر دي.

د تاریخ پوهانو او جغرافیا لیکونکو له خوا د غور په باب یادونې:

له کومه ځایه چې غور یوه لرغوني، تاریخي غرنۍ سیمه او د هر اړخیزې ارزښمندی، اهمیت او ممتازو خصوصیتونو څخه برخورداره ده نو د تاریخ پوهانو او جغرافیا لیکونکو له خوا په زیاترو مواردو او تاریخي واقعاتو کې ترې پراخې یادونې شوي دي.

د دې یادونو حجم د غور د لویې امپراطورۍ له تاسیس وروسته مخ په زیاتیدو شو او د غزنویانو په وخت کې هم غور د دې سیمې د ثقافت او فرهنګ په وده کې څرګند نقش درلود

مسالك و الممالك یو مهم جغرافیایي کتاب دي چې ابو اسحق ابراهیم اصطخري د غور په هکله پکې لیکي:

... او غور ډیرې زیاتې ناحیې لري... غرنۍ او آبادي دي مستحکمې کلاوې زیات رودونه چینی، باغونه او بڼونه لري او د غور حدود له (هري) را ونیسه تر فراه تر زمیند اور د کروان تر رباط پورې (٢١۴ مخ) غور یا غورستان د غرجستان په ختیزه او جنوبي برخه کې پروت دي. او یوه غرنۍ ناحیه ده چې له هرات څخه د بامیان کابل او غزني پورې غزیدلي ده. دا ولایت په ٢٢٥ هجري قمري د یعقوب لیث صفاري په واسطه فتح شو.

له ٢٥٠ هجري قمري راهیسې د سیمه ییزو کورنیو څخه یوې په غور حکومت کاوه چې د فیروز کوه مستحکمه کلا د هغوی په لاس کې وه، د دې کورنۍ لومړنی نامتو واکمن محمد سوري دي.

غزنوي سلطان محمود په ۴٠١ هجري قمري غور خپل تابع کړ، مګر سوري کورنۍ لاهماغسې واکمنی درلودله.

١ پورتنی اثر ١٥ مخ
٢ برهان قاطع، محمد حسین، ١٣۴٢، ص ١۴٢۶

بل کرت غیاث الدین محمد چې په سلطان شهاب الدین باندې ملقب ؤ د غور برم او دبدبه بیا رانوي کړه، نوموړي نه یوازې خراسان بلکې ټول هند یې په لاس کې درلود او د ده د واکمنۍ په وخت کې ټول هندیانو اسلام ته مخه وکړه. ۱

تر دې وروسته غوري دولت متلاشي شو او ۹۱۹ هجري قمري د غور ګردی سیمې د چنګیزي لښکرو د هجوم په واسطه پایمال او فیروزکوه د خاورو سره خاورې شو او تر دې وروسته غور خپل تاریخي رونق له لاسه ورکړ. ۲

غور چې د سیندونو او چینو لویه سر چینه ده د هریرود، هیرمند، خاشرود او فراه رود د دې غرنۍ سیمې څخه سرچینه اخلي، نو د زیات ارزښت د لرلو له امله په تاریخ کې ترې زیات تذکرات راغلي دي لکه چې د حدود العالم مؤلف لیکي:

غور ناحیه ایست اندر میان کوه ها و شکسته گی ها و او را پادشاهیست که غور شاه خوانند. او را قوتش از میر گوز گانانست و اندر قدیم این ناحیت غور کافران بودندی، اکنون بیشتر مسلمانان اند.

و ایشانرا شهرك ها و دهها بسیار است و اندرین ناحیت برده و زره و جوشن و سلاحها نیکو افتد و مردمانش سپید اند.

حافظ ابرو د غور په باب لیکي:

... و در غور پنج باره کوه بزرگ عالي است که اهل انجا اتفاق دارند که از راسیات جبال عالم است.

د غور په مورد کې په تقویم البلدان کې راغلي دي:

غور ناحیتیست کوهستاني در خراسان نزدیك به هرات، غور مملکت بزرگی است بیشترش کوهستان است، جای ابادان با چشمه ها و بستانها، نهرها استوار و تسخیر ناپذیر.

اصطخري، ابن حوقل او حافظ ابرو هم د غور د غرونو او مستحکمو حصارونو په باب یادونې لري چې د اقتباس څخه یې صرف نظر کیږي خو داسې ښکاري چې دوئ ممکن له یو ماخذ څخه استفاده کړې وي.

په عجایب المخلوقات کې راغلي دي:

(غور شهریست بر کوه منیع، زبان ایشان غیر از زبان خراسان بوده و برابر شهر غزني است.) ۳

ابو الفضل بیهقي و محمود غزنوي د فتوحاتو د بحث په یوه برخه کې د غور په باب لیکي: (و آن ناحیتی و جایی است سخت حصین از جمله، غور و مردم آن جنگی تر و نیرومندتر و دارالملك غوریان

۱ بررسي هاي تاریخي، ۴۰ ګڼې، ۱۲۳ – ۱۳۸ مخونه په حواله، جغرافیاي تاریخي افغانستان، ۳۱۱ – ۳۱۲ مخ
۲ جغرافیاي تاریخي افغانستان، ۳۱۲ مخ
۳ جغرافیاي تاریخي افغانستان، ۳۱۴ مخ

بوده، به روزگار گذشته هر والي كه آن ناحيت او را بوه‌ي همه ولايات او را اطاعت داشتندي.

ابوالقاسم فردوسي په شهنامه كې په دغه حماسي ډېر لوی منظوم اثر كې د غور او غوريان په باب داسې وايي:

سر غوريان بود بسطام مشير - كجا پشت پيل آور دي به زير

د سر غوريان څخه مراد د بسطام سوري دي.

اسدي طوسي هم په گرشاسب نامه كې له غور څخه داسې يادونه كوي:

زرنج و هم غور و زابلستان

هم از بلخ تا بوم كابلستان

د عبدالحی گرديزی په تاليف زين الاخبار كې (۴۴۰ هـ) هم له غور څخه يادونه شوې ده، چې د دې واقعې په وروستي پاراگراف كې داسې ويل شوي دي.

... و اورا به نيشاپور آورد و همين ابو جعفر زبادی به غور شد و چند حصار از غور فتح كرد.

د سيستان د تاريخ نامعلوم مؤلف (۴۴۵ – ۷۲۵هجري) د ښارونو د ودانی او بنسټ ايښودونكو په ترڅ كې له غور څخه داسې يادونه كوي.

... اسفزار و بوزستان و لوالستان و غوربسام نريمان كرد نظامي عروضي سمرقندي د ځلورو مشهورو مقالو مؤلف د غور په اړوند كله چې يې د ملك الجبال قطب الدين محمد څخه يو بيش قيمت بخشش واخيست نو د غور د تاريخي سيمې او د هغې د كانونو په باب يې يو گزارش وليكه:

په تاريخ جغرافيا په يو بل گټور كتاب كې چې (جهان نامه) نوميږي او د محمد نجيب بكران له خوا په ۶۰۵ هجري كې تاليف شوي دي د غور په باب يادونې شته دي لكه چې د هغه د غرونو او سينونو د يو رود په هكله ليكي:

(هيرمند رود معروفی است از حدود كوهای غور و غرجستان ختيز پس بر زمين داور بگذرد پس بر بست پس به ولايت شبستان رود و بحيره زره ريزد.)

د فخرالدين مباركشاه تاليف كتاب اداب الحرب و الشجاعه (۶۲۶ – ۶۲۷ هجري) كې د غور په باب ليكل شوي دي: (... و بادشاهان غور به تيغ و نيزه بيشتر جنگ كردي...) حمدالله مستوفي په خپل اثر نزهةالقلوب كې د غور د ستاينې په برخه كې ليكي:

(غور ولايتی است و شهرستان آنرا آهنگران خوانند از اقليم چارم است و قريب سی پاره ديه از توابع آنجا است.)

د اسلام نامتو گرځندوی ابن بطوطه په خپله تاريخي سفرنامه كې چې د اتمې پيړۍ په نيمايي كې يې وليكه د غور څخه يې يادونه كړې او ليكي:

ايل غور در قريه ها و صحراهاى بادغيس (مرغيس) سكونت دارند و اين صحرا به مساحت چار شبانه روز راه سرتاسر سبز و خرم چراگاه فيل و گوسفندان، بيشتر، درختان اين منطقه پسته است كه محصول آنرا به عراق مى برند.

معين الدين محمد زمچي اسفزاري هم په خپل كتاب (روضات الجنات في اوصاف مدينة الهرات) كې د غور په باب داسې يادونې لري: در قديم الايام عظيم معمور بود، عمارات رفيع و قصور بدايع و قلاع منيع داشته و هميشه نواحي آن ديار از لوث بدعت و ناشايسته گى ها پاك مي بوده....

تاريخ حبيب السير في اخبار ابناء بشر و خواند مير تاليف (۹۲۷ - ۹۳۰هجري) كې راغلي دي: و ؤرخان از غوريان اول كسي است كه در سلسله سلاطين شمرده اند علاوالدين است.

د امين احمد رازي تاليف هفت اقليم هم د غور په باب ليكي: و غور مابين غزنين و خراسان واقع شده و آب و هواى نيك دارد و اكثراً فواكش خوب مي شود و بيشتر ولايت وى كوهستان هاست. ١

كه څه هم غور په تاريخي اثارو كې د يوې ناحيې، ولايت او ښار په شكل ياد شوي دي، خو كله چې د غور عمومي جغرافيايي او تاريخي منظرې ته وكتل شي نو څرگنده ده چې غور په حقيقت كې د ښكلو او معمورو ښارونو، مستحكمو كلاگانو او حصارونو، ښكلو او دنگو ماڼيو مجتمع ده چې په مجموعي ډول د دوئ تولو شمېر ۹۶ ته رسيږي.

بې مورده به نه وي چې د معلوماتو د تر لاسه كولو په غرض يوازې د ماڼيو او مشهورو كلاگانود نومونو په راوړلو اكتفا وشي او بيا وروسته يې ښارونه معرفي شي.

الف د غور قصرونه او ماڼۍ:

- خول ماڼۍ (قلعه سنگي يا سنجه)
- سركاليون
- كجوران
- فيورا
- تيرى
- كهيرا
- دوكى
- سيفرود
- خاسك ٢

١ جغرافياي تاريخي غور، عزيز احمد پنجشيري، ١٣٦٠، ١٧ - ٢٠ مخونه
٢ د غور لرغوني كلاگاني، ١٠٧ مخ

چې په عین حال کې دا پورتني ماني چې د معماري د صنعت په اساس په خورا زیات ظرافت او مهارت جوړې شوي دي. مستحکمې کلاګانې هم دي.

ب: د غور کلاګانې:

- اشیار
- والشتان (بالشتان)
- تمران
- تمزان
- تکاني کوټ
- وجیرستان (قلعه وجیر)
- شهرك
- کاسي
- شورسنګ (شیرسنګ)
- فیروز
- ګزیو
- ساجي
- تیر دهنده
- بند راو
- بلروان
- کوهتیز (کوهشیر)
- سبکجي
- خوست
- ایثار
- فخر آباد
- بشلنګ
- خوابین
- خلج
- روزګاران
- قره باغ

- دولت یار
- چغچران
- چهل آباد
- چار در
- جوز درې کلا
- یامان
- پساوند
- ورشك
- بشوره (پشوره)
- سرمژگان
- لروند
- حصار دره
- گرزیوان

او ځینې نورې کوچنۍ کلاګانې لکه:

- رنگ قلعه
- لاغري قلعه
- ساخانه
- نای
- مرنج
- کوه سنگ
- گچي گرد
- خطیف
- حصار تور

ج: د غور ښارونه:

د دې د پاره چې د موضوع اساسي بحث ښارونه تشکیلوي نو د غور د ښارونو په باب په یو څه تفصیل سره خبرې کیږي.

د ښارونو په موضوع کې د ښارونو مشخصات لکه مؤسسین، د جوړېدو نیټه، موقعیت، د معماري د صنعت بیلګې او استحکامي څرنګوالي او په ډېر محدود صورت تاریخي پیښې بیانیږي او په دې

توګه د یو کل او اجمال په شکل د غور د ښارونو سره معرفت پیدا کیږي.

۱- د مندیش ښار کلا (۴۰ – ۸۰ هجري قمري):

مندیش د غور د ډېرو پخوانیو پلازمینو او مشهورو ښارونو څخه یو پایتخت او د غور د محلي واکمنانو استوګنځي او اداري مرکز ؤ چې امیر پولاد سوري (۱۳۰ هجري قمري) له دغه ځایه د غور په ټولو غرنیو سیمو حکومت کاوه د امیر پولاد نه د مخه شنسب بن خرنك (۴۰ – ۸۰ هجري قمري) په شاوخوا ؤ کلونو کې چې په غور کې یې حکومت کاوه په قوي احتمال سره د ده اداري مرکز همدا مندیش ؤ چې دا سیاسي او اداري مرکز د صفاریانو تر دورې پورې د غور پایتخت ؤ. ۱

په پټه خزانه کې د جهان پهلوان امیر کروړ، په مبحث کې د مندیش په هکله ځو ځایه یادونه شوی ده او لیکي:

... شیخ کته علیه الرحمه هسې وایي چې په تاریخ سوري کې راوړي چې امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی چې په کال ۱۳۹ سنه هجري د غور په مندیش کې امیر سو او (جهان پهلوان) یې باله. ۳۰ مخ.

... وایي چې امیر کروړ په دوبی (زمین داور) کې ؤ او هلته یې مانۍ درلودله چې کټ مټ د مندیش په شان وه. ۲

د پورتنی یادونې څخه مطلب دا دي چې مندیش په پلازمینې او اداري مرکز سربیره یوه ښکلي او په زړه پورې مانۍ هم وه.

طبقات ناصري د مندیش د موقعیت، ساختماني مشخصات او د هغې زمانې د معمارۍ د صنعت د بې سارو بیلګو په هکله داسې معلومات ورکړی دي:

مندیش د غور یوه پخه، محکمه، سخته او زښته زیاته جګه کلا وه دا کلا د مندیش د (زار مرغ) د غره په تړو کې پرته وه چې د تیږې لیك (ډبرین لیك او خط سنګي) د لیکنې له مخې د دې کلا تادا ؤ بسطام ایښي ؤ او څرګندیږي چې د هغې د ودانولو د پاره یو شمېر تکړه استادان ګمارل شوي وو.

د دې کلا دیوالونه د بارو په ډول د مندیش د غره د یوه تلي (همواري سطحې) د پاسه اینبودل شوی ؤ چې ۱۲ برجونه یې درلودل او په هر یوه برج کې ۳۰ کړکي موجودي وي (شپږ برجونه د ختیز او شمال خواته او شپږ نور برجونه د لویدیز او جنوب خواته) چې په هر یوه برج کې د آسمان رسم کښل شوی ؤ په داسې ترتیب سره چې هره ورځ لمر په تاکلي درجه له یوې کړکۍ څخه راختلو او په څرګند ډول یې ښودله، دغه ورځ لمر په کومه درجه او کومه میاشت راخوت.

دا خبره په دې دلالت کوي چې د امیر عباس بن شیش د خلافت او استادۍ په زمانه کې د نجوم علم

---

۱ جغرافیاي تاریخي غور، عزیز احمد پنجشیري، مطبعه پوهنتون کابل، ۱۳۶۰، ۴۳ مخ

۲ پټه خزانه، محمد هوتك بن داوّد دوهم چاپ ۱۳۳۹، ۳۲ مخ

وده کړې او د غور زياتې ماڼۍ په دې ترتيب ودانۍ شوې وې او بيا يې عموميت پيدا کړی ؤ. ۱
محمد عثمان صدقي د طبقات ناصري د معلوماتو په تاييد داسې ليکلي دي:
... د شنسب د کورنۍ پايتخت او دارالملك د غور په يوه سيمه کې چې په دې نوم «منديش» ياديده چې نښې نښانې يې د زار مرغ په کوتل او د «ابدال غر» د څوکې او غاښې په منځ کې شته دي
هغه ماڼۍ چې د غوري شنسب زوی امير عباس د منديش په ولايت کې جوړه کړې وه، د اسمان د برجونو په څير له دولسو برجونو څخه مرکبه وه چې هر برج يې ديرش کړ کې درلودلې او د پوهانو په نزد د زيات ارزښت لرونکي وه، هره ورځ چې به لمر راوخوت د هغو برجونـــو له يوې کړکۍ څخه به ځليده. ۲
د پورتنيو روايتونو له مخې د منديش تاداو د بسطام په زمانه کې اېښودل شوې او په دويم روايت دا ماڼۍ د امير عباس شنسبي په زمانه کې جوړه شوې ده، داسې څرګنديږي چې د ماڼۍ بنسټ د بسطام په وخت کې اېښودل شوې خو بيا وروسته د امير عباس په دوره کې د نجومي علم څخه په ګټه اخستلو سره د هغې ودانۍ بشپړه شوې ده چې پخپله د ناصري طبقاتو د پورتنۍ ليکنې له مخې په وروستی پاراګراف کې دا مصداق صدق پيدا کوي او ويل شوي دي چې د نوموړي امير په وخت کې د نجوم علم وده موندلې او د هغه په اساس زياتې ماڼۍ جوړې شوې دي.
منديش او خولې ماڼۍ «سنګ قلعه» د غور د نامتو ښارونو څخه وو چې د غزنويانو او غوريانو په زمانه کې يې پوره شهرت درلود.
ابوالفضل بيهقي د هغې زمانې نامتو مؤرخ چې د امير محمد د محمود زوی د خپل ورور مسعود له خوا د کوهتيز (کوهشير، کوهژ) په کلا کې بندي شو او له هغه ځايه منديش ته راوستل شو د دې کلا په باره کې داسې ليکي:
«منديش يوه ډېره پخه، سخته، محکمه او جګه کلا ده او کله چې سړي د ... اياز له څنګل تيريږي او ګورو الشت ته رسيږي د کيڼې خوا له لياري له ورايه د منديش کلا ښکاري، ډېره زياته لوړه، له شمېره وتلي پوړۍ يې درلودلې او په ډېر زحمت سره ورته سړي ورختلای شو. ۳
تر بيهقي وروسته عبدالحی ګرديزي (۴۴۰ هجري) دا کلا د مملکت د ډېرو پخو کلاګانو څخه شمېرلې او وايي چې «نای» او «مرنج»، «د سيستان هغه کلاګانې دي چې شاهي خزانې پکې ساتل کيدلې» د کلاګانو په شان پاچهي ګنجونو او خزانو د ساتلو د پاره ټاکلې شوې وې.

---

۱ طبقات ناصري ج۱، قاضي منهاج سراج جوزجاني، انجمن تاريخ افغانستان، ۱۳۴۲ شمسي، دولتي مطبعه، ۳۳۱ – ۳۳۲ مخونه
۲ شهرهاي آريانا، محمد عثمان صدقي، نشرات بيهقي، ۱۳۵۴، ۹۳ مخ
۳ طبقات ناصري، ج۱، ۳۳۳ مخ

د غزنویانو تر دورې وروسته (۳۵۱هـ-۹۶۲/۵۸۳ -۱۱۴۸ م) په طبقات ناصري کې یادونه شوې.

مینورسکي لیکي چې مندیش د شنسب د کورنۍ اصلي ټاټوبي دي چې د زار مرغ د لوړ غره په لمنه کې پروت دي. ۱

د پټې خزانې تعلیقات هم د مندیش په باب یو لړ څرګندونې لري لکه چې وایي:

راجع به عمران و آبادانی این خطه منهاج السراج شرح خوبی می نویسد که: (عباس بن شیش در ولایت مندیش به خط سنگه برای بنای قلعه استادان کامل از اطراف حاصل کرد و دیوارها به رسم باره از آن قلعه برد و طرف شخ کوه زار مرغ بر کشید و در پای آن کوه در بالای تلی قصر بلند بنا فرمود. ۲

بعد از آن در جای دیگر گوید: بهاءالدین سام را خط سنگه که دار الملك مندیش بود معین شد....

از تصریحات فوق مؤرخین بر می آید که مندیش از مشهورترین حصص ارض غور است و مرکز آن هم سنگه بود.

موقعیت اصلی مندیش و سنگه را نمی توان اکنون به صورت یقین تعیین کرد و اگر تحقیق به عمل آید شاید اکنون هم در غور همین نام ها باقي مانده باشد. ۳

د پورتنیو لیکنو او څېړنو څخه جوتیږي چې مندیش نه یوازې له برمه ډکه، پخه، ډاډمنه پوځي کلا او ښکلي ماڼۍ وه بلکې د غوریانو د یو مشهور فرهنګي او سیاسي ښار هم بلل شوي او د غور د یو لوی غر نوم هم دي. ۴

په تاریخ کې د مندیش څخه د یو زندان په توګه هم یادونې شوي دي لکه چې وایي:

د مندیش ښار د مستحکمې کلا او برجونو او متینو بارو لرونکي ؤ او د غور د پخوانیو پاچهانو امارت ځای ؤ او د غزنویانو په دوره کې د سیاسي زندان په توګه ترې کار اخیستل کېده لکه چې سوري امیر محمد په همدې کلا کې د غزنوي سلطان محمود له خوا بندي شوی ؤ. ۵

۲- د فیروز کوه ښار (کلا) ۵۴۳ - ۶۲۰ هجري/۱۱۴۸ - ۱۲۲۲ (میلادي):

د فیروز کوه د ښار د تسمیې وجه د غور د یو مشهور غر څخه نشئت کوي چې فیروز کوه نومیږي چې د دې غره لړۍ د غور ولایت د دولت یار څخه پیل کیږي او د څلورو سوو کیلو مترو په اوږدوالي د هرات د شمال لویدیز د قزل بولاق په کلي پای ته رسیږي د دې غره په جنوبي بیخ کې هریرود بهیږي چې هغه له

۱ پورتنی اثر، ۳۳۴ مخ

۲ طبقات ناصري، ص۱۸۳ په حواله، پټه خزانه، ۲۲۷ مخ

۳ پټه خزانه، ۲۲۷ - ۲۲۸ مخونه

۴ د غور لرغوني کلاګانې، پوهاند نریوال، ۴۰ مخ

۵ جغرافیاي تاریخي غور، عزیز احمد پنجشري، ص ۶۹ مخ

سیاه کوه ښخه بیلوي.

الفدا د خپلې جغرافیا په کتاب کې چې تقویم البلدان نومیږي (تالیف ۷۲۱ هجري) فیروز کوه په بیروز کوه ثبت دي او لیکي چې بیروز کوه د (شین غر) په معنا دي او هغه یوه کلا ده ډېر مستحکمه او د غور د غرونو دارالملك دي. ۱

فیروز کوه د غور ډېر لـه برمه ډك، ډېر زیات مستحکم او ښـته زیات معمور ښار ؤ او د غوري پاچهانو ډېر لوی سیاسي مرکز شمېرل کیږي، دا ښار د ملك الجبال قطب الدین محمد په واسطه تاسیس شو او د سلطان شهاب الدین غوري په دوره کې د خپلې ترقۍ لوړې پوړۍ ته ورسید.

د منځنی پیړۍ مؤرخان او جغرافیه پوهان د دې ښار او د هغه د ماڼیو او عمارتونو له عظمت څخه زیاتې یادونې کړیدي.

د طبقات ناصري صاحب منهاج السراج جوزجاني د فیروز کوه په باب لیکي:

چون ملك عزالدین حسین که پدر سلطان بود در گذشت و سلطان سوری به جای پدر نشست ولایت میان برادران قسمت کرد در این قسمت، ولایت و رشاد به ملك الجبال داد و دار الملك خود ملك الجبال انجا کرد و بعد از آن او را چنان اتفاق افتاد که موضعی طلب کرد تا قلعه حصین و موضع شگرفی بنا کند که آنحضرت را شاید به اطراف معتمدان فرستاد و تارای او بر موضع فیروز کوه قرار گرفت و قلعه و شهر فیروز کوه را بنا کرد.

طبقات ناصري په لومړي ټوك کې د فیروز کوه په هکله پورتنی موضوع په یو څه توپیر سره داسې یاده شوې ده:

فیروز کوه ډېره زیاته پر تمینه ډېره پخه او ډېره سخته کلا او ډېر آباد ښار ؤ او د غوري پاچهانو سیاسي مرکز بلل کېده.

دا کلا د فیروز کوه د ښار شمال ختیزې خواته په (ورشاده) نومي سیمه کې د فیروز کوه د غره په یوه لوړه او نیغه څوکه باندې د غور د پاچهانو په زمانه کې جوړه شوې ده.

وایي کله چې ملك قطب الدین محمد چې خپل وطني لرغوني لقب یې (غرشاه) په عربي (ملك الجبال) واړوو او ځانته یې انتخاب کړ نو یې تصمیم ونیو چې یوه مستحکمه کلا او له عجایبو څخه ډك محل کوم چې د پاچهی دربار سره مناسب وي ودان کړی نو یې د مربوطو سیمو څخه تکړه او ماهر معماران راوغوښتل او د فیروز کوه په غره کې یې ورته ځای وټاکه تر څو یې د همدغه غره په نوم د فیروز کوه کلا او ښار تاسیس کړ. ۲

---

۱ جغرافیای تاریخي غور، ۶۴ مخ

۲ طبقات ناصري ج۱، منهاج سراج جوزجاني ۱۳۴۲، مخ ۳۳۷

فرشته هم پورتني قول تاييدوي او وايي: کله چې ملك الجبال د فيروز کلا او ښار په بشپړه توګه ودان کړ نو يې هغه خپل دارالملك وګرزاوه او د ښکار د پاره يې نژدې دوه فرسنګه ديوال وغزاوه دا قصر ملوکانه ماڼۍ شوه او د سترو پاچهانو روش يې په مخ کې ونيو. ۱

د طبقات ناصري په دوهم ټوك کې فيروز کوه بيا داسې معرفي شوي دي:

د فيروز کوه کلاګانې د لوړو کوشکونو، ښکلو ماڼيو درلودونکي وي چې هم د متانت او جګوالي له مخې او هم د تجمل او ښکلا له مخې يې هيڅ سارى نه درلود.

په دې اثر کې د فيروز کوه د ښار مشخصات په يو څه تفصيلي ډول داسې ښودل شوي دي:

اين قلعه بود بر شمال شرق شهر، بر سر کوه بلند و شامخ و بدان موضع در عهد سلاطين غور يك قصر بزرگ بيش نبود و رفتن ستورها بران ممکن بود و در ګرد سر آن کوه بر کشيد و راه آن قلعه چنان ګرده بود که شتر با بار بران قلعه برفتی و مردم هزار را امکان مقام بودی. ۲

د فيروز کوه ښار پرته له دې چې زياته دبدبه او عظمت يې درلود د ستراتيژيکي وضعيت له مخې د بې سارو پخو کلاګانو څخه ؤ لکه چې ياقوت حموی په معجم البلدان کې د فيروز کوه ستراتيژيکي اهميت په ډېره لنډه توګه داسې بيان کړي دي.

فيروز کوه يوه ښکلي کلا وه او اوبه يې له چينې څخه وي، يعنې د اوبو اکمالات او تهيه د يوې جنګي کلا د پاره چې په ننه کلا کې وي په مدافعوي چارو کې ستر نقش لري.

د ناصري طبقاتو په دوهم ټوك کې راغلي دي:

هغه وخت چې ملك ضياءالدين د سلطان غياث الدين محمد سام څخه وروسته د فيروز کوه پر تخت کښيناست او ځانته يې د ملك علاوالدين لقب اختيار کړ نو غور او غزني د ده تر واکمنۍ لاندې راغلل او د فيروز کلا يې جوړه کړه.

پورتني روايت دا خبره رامنځ ته کوي چې د فيروز کوه ښار، ماڼۍ او کلا په يوه پلانه دي ودان شوي، د غور پاچهانو د هغې د خاص اهميت په وجه يو د بل پسې د هغې په بيا بيا جوړولو کې خاصه ونډه اخستلې ده.

د منهاج سراج په قول چې دی پخپله د فيروز کوه او د غوريانو په دربار کې روزل شوي ؤ وايي:

ملك الجبال قطب الدين محمد د ملك عزالدين حسين زوی د دې کلا او ښار تاداؤ کېښود او سوري سلطان (سلطان سيف الدين سوري ۵۴۳ هجري/۱۱۴۸ ميلادي د غوريانو لومړنی پاچا چې د سلطان لقب يې واخيست او د پاچهي مرکز يې د رستيه حصار ؤ.) د ورسل (ورشاد) ولايت ملك الجبال يعنې هماغه

۱ د غور لرغوني کلاګاني، ۴۰ مخ

۲ طبقات ناصري ج۲، ۱۳۲ مخ

قطب الدين ته ورکړ او ده د فيروز کوه د کلا تاداو وکيش او جوړه يې کړه خو بيا وروسته تر ده سلطان بهاءالدين سام د فيروز.کوه د دغه ودانۍ بشپړه کړه يو کال وروسته (۵۴۴هـ/۱۱۴۹م) د هغه ځای پر تخت کښيناست او د ده څخه را وروسته دغه ځای د دارالملك يا حضرت په نوم شهرت وموند.

دا پورتنی ليکنه ځکه پوره سمه او ثقه ده چې منهاج سراج د عيني مشاهداتو له مخې چې د دغه زمانې او دربار سړی ؤ، کړی ده.

د يو بل سند له مخې چې وايي: څه وخت چې علاوالدين جهانسوز (د وجيرستان حکمران) د غور د مملکت پايتخت او د فيروز کوه حضرت (دربار-ارگ) باندې کښيناست د سوري سلطان او ملك الجبال د وينو د کسات اخيستلو په مقصد يې پر غزنې باندې لښکر وايست، د سلطان محمود مربوطي سيمې يې ورانې کړې او چې غور ته راستون شو او چې يې د غزني له خاورې څخه هر څه راوړي وو نو د فيروز کوه په غره کې يې څو برجونه جوړ کړل چې دغو برجونه له ۵۶۰هـ-۱۲۶۵م) پورې باقي پاتې وو. ۱

د ځينو مؤرخانو په عقيده چې فيروز کوه يوه لويه کلا ده خو افسوس چې موقعيت يې معلوم نه دي، مگر دا نظريه معقوله نه ده ځکه چې په ډېرو زياتو شواهدو او د نامه د شهرت له مخې (فيروز کوه) د هغه موقعيت بيخي څرگند او معلوم دي.

د فيروز کوه کلا د يوه رود په غاړه ودانه شوې وه چې ښايي دا رود د هريرود پاسنۍ برخه او يا د مرغاب پاسنۍ برخه وي.

خو هولدج چې په ۱۸۸۴-۱۸۸۵ ميلادي کې يې د غور سيمې ليدلي وې د تيوري پراخې خرابې چې د هغې د اوسيدونکو په قول په غور مشهورې او د فراه رود مرستيال رود په غاړه پروت او فيروز کوه ورته وايي او د تيوري موقعيت دا سې مشخص شوی چې د هرات، فراه او هريرود د پخوانۍ وادي سره په آسانۍ مراوده کولای شي، نو ښکاره ده چې د فيروز کوه اصلي ځای تيواره (تيوري) ده. ۲

په يوه بل روايت فيروز کوه د هريرود په پورتنۍ برخه کې او په ظاهره آهنگران ته نژدې پروت دي او د دې ښار چې د دولسمې پېړۍ په وروستۍ او د ديارلسمې پېړۍ په لومړيو کې د ډېرو مقتدرو، ښکلو او لوړو ودانيو او قصرونو درلودونکي پايتختونو څخه شمېرل کېده په دقيقو توگه نه دي معلوم او وايي چې د فريه خبره سمه ده. (۳) بيا هم دا قول سم نه دي لنډه دا چې د فيروز کوه د ښار او يا جنگي کلا د دبدبې، عظمت او متانت د دورې وروسته د ۶۱۹-۶۲۰ هجري د چنگيز د تباه کوونکي لښکر د حملو په اثر د چنگيز د زوی (اوکتای) په واسطه د فيروز کلا بيخي ورانه شوه چې هيڅ نښه نښانه يې پاتې نه

---

۱ پنځوس مقالې، پوهاند عبدالحی حبيبي، دولتي مطبقه، ۱۳۵۴ کابل ۴۵۰ مخ.
۲ شهرهاي آريانا، محمد عثماني صدقي، ۱۳۵۴، ۷۱ خ
۳ (بار تولد، جغرافيايي تاريخي ايران تهران ۱۳۰۸، ۴۴۵ مخ

شوه او له همدې ځايه دي چې اوس يې پيژندل يو څه گران دي او د موقعيت خبره يې يو څه ابهامونو ته وځي.

د فيروز کوه د ښار په متعلق په تاريخي آثارو کې زياتې او مهمې پيښې ثبت دي چې د موضوع د اوږديدلو له کبله يې د بيانولو څخه صرف نظر کيږي

۳- د آهنگران ښار (کلا) ۴۰۱ – ۶۱۹ هجري:

آهنگران د غور د لرغونو ښارونو له جملې څخه ؤ او تر ۴۰۱ پورې د امير محمد سوري سياسي مرکز ؤ او په همدې کال د سلطان محمود غزنوي له خوا فتح او د غزني دولت تابع شو.

د آهنگران ښار د اوسني چغچران په لويديز او د هرات د ختيز په ۲۶۰ کيلو مترۍ کې د دې ښار کنډوالي موجودې دي.

يا په بل عبارت دا ښار د هرات ختيز ته د ۲۶۰ کيلو مترو په واټن په هغه نقطه کې چې د ميمنې (يهودان) شمال د هريرود لار د شورك د دري جنوب ته قطع کوي پروت دي.

د آهنگران ښار د زيات شمېر جغرافيه ليکونکو او مؤرخانو په آثارو کې ياد شوي او د ده د متانت او مستحکموالي څخه ستاينه شوې ده، لکه چې پټې خزانې له محتوياتو څخه څرگنديږي د محمد سوري د دربار شاعر، سوري شيخ اسعد (د محمد سوري او د غزني سلطان په جنگ کې د سوري پاچا سره همرکاب او حاضر او د پيښو شاهد ؤ.)

آهنگران يې د سوري محمد د امارت په وخت کې د نوموړي امير عدل له مخې آباد او معمور گڼلې دي.

ابو ريحان البيروني په خپل اثر د (قانون په کتاب) کې د (رف) ښار د آهنگران ښار بللي او موقعيت يې ورته د غور د غرونو په منځ کې ښودلي دي، او د غور د ډېرو مستحکمو کلاگانو څخه يې شمېرلې ده چې په ۴۰۱ هجري د غزني د امپراطور له خوا فتح شوه.

حمد الله مستوفي په نزهه القلوب (په ۷۴۰ هجري کې تاليف) له آهنگران څخه داسې يادونه کوي:

غور يو مشهور ولايت دي او د هغه شهرستان ته آهنگران وايي، دا يو لوی ښار دي گرم سير او هوا يې په جوړوالي او روغتيا کې د انگورو او خربوزو له ميو څخه ډېره ښه ده او موقعيت يې د طول البلد د ۹۹ خطونو او عرض البلد ۳۵ خطونو په منځ کې دي.

مينورسکي د حدود العالم په حواشي او تعليقاتو کې ليکي:

د لرغوني غور د پايتخت نوم د عربو د جغرافيه ليکونکو په کتابونو کې نه ښکاري مگر د سلطان محمود غزنوي د فتوحاتو او هم د مغلو د حملو په وخت کې آهنگران د غور د ډېرو لويو ناحيو څخه ياد

شوي او د آهنګران په باب د نزهه القلوب روايت د هغه د اوسني موقعيت سره سمون خوري. ۱

په څرګنده او ربښتينې توګه آهنګران د کاسي په جنوب او د برنی هريرود په برخه کې موقعيت لري او د زياتو پوهانو په عقيده لکه روسي محقق بارتولد (چې د مخه يې هم روايت را واخيستل شو) چې پخپله تاريخي جغرافيه کې يې ليکلي دي: د آهنګران کلي هماغه کلي دي چې اوس د هريرود په سيمه کې پروت دي مګر راورتي د ناصري طبقاتو په ترجمه کې سخته غلطي کړې ده او هغه يې د غزني د آهنګ د نهر په شاوخوا کې ګڼلي دي.

خو د اروانباد حبيبي د اهنګران لومړنی موقعيت سم بولي او وايي چې آهنګران هم په همدغه نوم شهور او ننبې ننباني يې ښکاره دي او د برنی هريرود په غاړه د کاسي په جنوب کې پروت دي.

احمد علي کهزاد د آهنګران د موقعيت يو څه نورې بيلګې په ګوته کوي او ليکي: د آهنګران کلا د ۲۲ کيلو مترو په اندازه د کاسي جنوب ته د وادي په منځنۍ برخه کې د يوې خاوريني غونډۍ د پاسه د ۵۰ مترو په واټن د هريرود کينۍ خواته پروت او د هغه د مات شوي ديوال دوی توتې لوېې تيږې هم هلته پرتې دي. ۲

لکه چې د مخه وويل شو د آهنګران د ښار څخه يو ازې يو کلي پاتې دي چې د هريرود په پاسنۍ برخه کې موقعيت لري، د آهنګران ښار د غور پاچهانو د ودانيو له جملې څخه شمېرل کيږي چې خرابه يې اوس هم په چغچران کې موجوده ده.

د آهنګران د ښار (کلا) بنسټ ايښودونکي او د هغه د تاداو ايښودلو او جوړولو نيټه معلومه نه ده او هم دا پته نشته دي چې د کوم غوري پاچا په زمانه کې جوړه شوې ده، خو په تاريخي پيښو کې چې له آهنګران څخه يادونې شوي دي او وايي چې آهنګران د غور د پخو کلاګانو او ښارونو څخه دي او د شهرستان نوم هم ورته په دې ورکړ شوي دي چې ممکن نور واړه ښارونه او يا کلاګانې يې په ساختماني ترکيب کې شاملې وي.

آهنګران په ۴۰۱ کې د سوري د کورنۍ د حکمرانۍ مقر باله کېده چې د فيروز کوه څخه يې تاريخي سابقه مخکې وه، د دې دورې وروستنی امير محمد سوري نوميده چې د قاضي منهاج سراج په وينا کله به يې د سلطان محمود غزنوي څخه اطاعت کاوه او کله به يې ترې سرغړونه او تمرد ښکاره کاوه، تر څو چې سلطان محمود د لوی لښکر سره غور ته راغی او محمد سوري هم د لسو زرو عسکرو سره مقابلې ته راپورته شو او د آهنګران له کلا څخه يې په پوره ميړانه دفاع کوله، څو چې په دغه جګړه کې محاصره او سلطان ته تسليم شو، سلطان محمود هغه غزني ته راووست او د ده پر ځای يې د ده زوی شيش د آهنګران

۱ جغرافياي تاريخي غور، ۶۶ - ۶۷ مخونه

۲ غوريان، عتيق الله پژواک، دولتي مطبعه، ۱۳۴۵ کابل، ۱۲ - ۱۳ مخونه

حاکم وټاکه.

د دې پېښې تفصيل په يو بل روايت کې داسې راغلي دي:

په يوولسمه ميلادي پېړۍ کې چې سلطان محمود د غور د بت پرستانو په مقابل کې لښکر کشي وکړه او هغه يې ونيو او په خلکو يې رسماً د اسلام دين ومانه او د غزنوي دولت تابع يې کړ. مګر ځينې برخې چې د سوريانو د سلطنت د سلسلې د اصلي سلالې څخه وي خپلواکې پاتې شوي چې د دې سلسلې له پاچهانو څخه يوه پاچا د غور د آهنګران په ښار کې سلطنت کاوه او دغه پاچا امير محمد سوري و او کله چې د سلطان محمود غزنوي له خوا د يوې لښکر کشۍ په ترڅ کې د آهنګران په کلا کې محاصره او بيا بندي شو نو دا وه چې هلته يې ځان په زهرو وواژه. جوزجاني عقيده درلوده چې په ۱۰۴۴ د غور شهرستان ته آهنګران ويل کېده، او حمدالله مستوفي د غور د مهمو ښارونو په جمله کې آهنګران په (هنګران) ثبت کړی دی تر څو چې په ۶۱۹ هجري د آهنګران ښار د چنګيزي لښکرو د فساد په واسطه وران شو. ۱

۴- د خيسار ښار (کلا) ۴۱۱ – ۵۵۸ هجري/۱۱۶۲ ميلادي:

د غور د ډېرو لويو، جګو، پخو او ښکلو کلاګانو څخه چې د غور په لوړو غرونو (د خيسار د غره يا کوه روئين) کې پرته ده، يوه هم د خيسار کلا ده، کومه چې په برم او محکموالي کې يې هيڅ‌ېرته ساری نه درلود د ياقوت په قول د هرات او غزني تر منځه په سرحدي برخه کې دا غر موقعيت لري. چې بيقهي هم په ۴۱۱ هجري کې کله چې سلطان مسعود له هراته په غور حمله کوي لومړنی منزل يې (راباشان) او دوهم منزل يې خيسار يادوي او بيا په بل ځای کې تولك او اصطخري هغه له هراته د دوه ورځنی لارې په فاصله کې بيانوي، خو ځينې پوهانو د خيسار د غره موقعيت د اوسنی زرنی د غرونو د لړۍ لويديزې خواته د (جهان کلا) محل اټکل کړې دي.

اوس هم قيصار د خيسار سم نوم دي چې د فيروز کوه د غرونو په سلسلو کې پروت دي.

د مستر فريه په قول دا کلا د سلطان غياث الدين ابو الفتح په واسطه جوړه شوې ده.

احمد علي کهزاد چې د يوه سفر په ترڅ کې يې د خيسار کلا او د هغې خرابې ليدلي دي داسې ليکي:

د خيسار کلا چې د غور اديبان يې د (خونسار) او (قيصار) او عوام يې د (نجلۍ کلا) په نامه يادوي د غور د ډېرو زياتو مستحکمو پخو او لوړو کلاګانو څه ده چې د دې کلا لوړوالي بيا هم د خرابکاريو او بشري لاس وهنو له کبله خوندي پاتې دي او دا يوازنۍ کلا ده چې تر ننه پورې يې د کُلا د باندنيو او د ننيو برجونو ډېر شواهد باقي پاتې دي چې شکل او محکموالي او آبادی د زمانې دبدبه يې په ډېره ښه توګه تصور کېدای شي.

---

۱ جغرافياي تاريخي ايران، بار تولد، ۱۳۰۸ تهران، ۴۳ مخ

خيسار په مستقيمه توګه د تيوري په جنوب لويديز کې پروت دي په ناصري طبقاتو کې په څرګنده توګه د کومې کلا څخه يادونه نه ده شوې مګر د غور د پنځو غرونو په باره کې خيسار يا (خج خيسار) راغلي دي چې دې غره ته نن د جهان د کلا ګانو غر ويل کيږي او دا غر د غور د ډېرو ښکلو او لوړو غرونو څخه دي. ۱

۵- داستيه ښار (۵۴۳هجري ۱۱۴۸ ميلادي - ۵۴۴ هـ ۵۵۸هـ/۱۱۴۹):

داستيه ښار د غور د اداري او سياسي لرغونو مرکزونو څخه يو مرکز او د سلطان سوري د سلطنت په وخت کې د هغه د پاچهي پايتخت ؤ.

طبقات ناصري داستيه د ښار موقعيت د هرات او غزني په منځ کې ښيي خو مشخص محل يې معلوم نه دي. د دې ښار تاريخ د شپږمې هجري د نيمايي پورې تعلق لري. ۲

د ياقوت حموي په قول استيه د غور د مشهورو ښارونو (کلاګانو) څخه دي د سوري سلطان (سلطان سيف الدين سوري (۵۴۳ - ۵۴۴ هجري/۱۱۴۸ - ۱۱۴۹ ميلادي) په زمانه کې دا ښار د غور اداري او سياسي دارالملک په توګه وټاکل شو. نوموړی د غوريانو لومړنی پاچا دي چې په دې لقب (سلطان) باندې ياديږي.

د سلطان غياث الدين محمد د بل ورور ابوالمظفر معزالدين چې د غور د سترو پاچهانو له جملې څخه ؤ او خپل ورو يې د سر جاندار (جبه رسان د ګارد قوماندان) په توګه د غور د کجوران او استيه د کلا د حکمران په توګه وټاکه (۵۵۸هجري/نسخه، ۵۵ مخ.) ۳

- د زرنی ښار (کلا) ۱۳۹ هجري:

زرنی د غوري واکمنانو د پايتختونو څخه يو پايتخت ؤ چې اوس د يو کلي په توګه راغلي دي او د تيوري د کلا د جنوب په ۵۳ کيلو مترۍ کې واقع دي، دا ښار د ۶۴ درجو، ۳۰ دقيقو او ۶ ثانيو شرقي طول البلد او ۳۳ درجو، ۱۰ دقيقو او ۵۵ ثانيو شمالي عرض البلد کې موقعيت لري، د آب جوش نهر د هغه د لويديز څخه تيريږي او د فراه ولايت مربوط د زرنی تګاب په سيند کې توئيږي او د هغه د کنډوالو اثار اوس هم په دغه کې ليدل کيږي.

فرانسوي جنرال فريه په ۱۸۴۵ ميلادي دا کنډوالي ليدلي او ليکلي دي چې دا ځای د غوري لرغونو پايتختونو څخه شمېرل کيږي، په دې توګه نورو ليکوالانو هم زرنی په خپلو ليکنو کې د غور پخواني

---

۱ د غور تاريخي جغرافيه ۸۱ مخ

۲ جغرافياي تاريخي غور، ۴۸ مخ

۳ د غور لرغوني کلاګانې. رازقي نړيوال، قلمي نسخه پنځه پنځوسم مخ

پایتخت او هغه ته د غوري امپراطـــورۍ د دبدبې او برم په وخت کې معمور او آباد ښار ګڼلي دي. ۱

په یوه سل روایت زرنی د مساحت له مخې یو کوچنی ښار ؤ او پـه یـوه کـلا کې چې د تیږو او خښتو څخه جوړه شوې وه او زیاتې برخې یې نړېدلي دي محاط ؤ.

د زرنی د ښار مؤسس د دې ښار د جوړولو د پاره د زرنی د وادي په منځ کې ډېر ښه موقعیت انتخاب کړې ؤ چې د تپې شاوخوا یې په ونو پټه وه او هرې خواته یې کږې وږې ویالې رابهیدلې.

زرنی له هراته ۴۰ فرسخه مسافه لري او نفوس یې له ۱۲۰۰ تنو څخه تیرې نه کوي چې لـه سوریانو او تیمنی ګانو متشکل ؤ.

د ګیر حو کورنۍ چې د لومړۍ ځل د پاره ورسره په افغانستان کې مخامخ شوم همدلتـه مې ولیدلې. (راوي)

زرنی چې په وړنی (یا) (ورنی) هم ثبت شوی دي. او که د طبقات ناصري مؤلف د غـور د پنځو غرونـو د یادونې په ترڅ کې هغه (راسیات جبال عالم) بولي خو د کوم سند او ماخذ ذکر نه کوي.

مګر زیات شمېر پوهان همدا زرنی د غور د پایتخت په شکل پېژني نه پردې ورته، نوم بل ښار.

ویل کیږي چې زرنی یو لوی کلي دي چې د تیوري په جنوب کې موقعیت لري او د ننی غور لـه مرکز څخه د (آیه) او (دو رودي) له لارو څخه ۶۰ کیلو متره لیرې پروت دي.

د زرنی کلا د یوې غونډۍ د پاسه پرته ده چې د ختیز لـه خوا د پنج شاه پـه غره او د جنوب لـه خوا د نمکه غر او د لویدیز خواته یې خچه ګك لورته غرونو احاطه کړې ده.

زرنی، نیلي او د مژګان دره د غور ډېرې جنوبي څنډې ګڼل کیږي چې د کندلان، بالشتان، ګلستان، زمینداور او ګرمسیر سره ګاونډیتوب لري.

ښاغلي کهزاد د طبقات ناصري د روایت په اشارې سره دا هم زیاته کړې ده چې: د زرنی د موجوده کلا ګنجایش (ابعاد) د کجوران د مقر څخه نماینده ګي کوي د کلا حجم د غور د ډېرو زیـاتو مستحکمو، ښکلو او جګو کلاګانو څخه دي.

د زرنی په لویدیز افق کې د لومړنی غره (پنج شاه) په پورې او د زرنی په نژدې سیمو باندې حاکمیت لري او د هغې د ښخو شوو خزانو په باب داستانونه لکل شوي دي.

باید وویل شي چې د تاریخي اسنادو په اعتبار د زرنی نوم بیخي مؤثق دي.

نعیمي لیکي: که د غور جغرافیه وکتل شي د زرنی د اوسني ښار او سیمې پـه هکلـه (هولدچ) او فریه په تفصیل سره خبرې کړې دي او په هم هغه موقعیت کې چې زرنی پرته ده مونږ یې پیژنو. ۲

---

۱ غوریان، عتیق الله پژواك ۱۳۴۵ کال، ۲۳ مخ په حواله جغرافیاي تاریخي غور، ۴۸ مخ
۲ د غور لرغوني کلاګانې، ۵۶ – ۵۷ مخونه

په هغه تاريخي آثارو کې چې ماترې استفاده کړې ده د زرني ښار او يا کلا بنسټ ايښودونکي نه دي ښودل شوي، همدا راز د غور د پاچهانو څخه د مشخص پاچا نوم پکې نه دي اخيستل شوي. مګر څرنګه په مخکنيو رواياتو زرني د غور د امپراطورۍ پلازمينه ګڼلې شوې ده نو دا په دې خبره دلالت کوي چې د دغې دورې د پاچهانو د وخت د پيښو سره يې هم تعلق درلود د زرني ښار کلا د ستراتيژيکي وضعيت او موقعيت له پلوه په يو مناسب محل کې جوړ شوي او خاص پوځي او تدافعي اهميت لري.

۷- د زميند اور ښار (کلا) ۱۳۹ هجري:

زميند اور (د اروا ښاد رشاد په قول زنند اور) د غور د غرنيو سيمو جنوب خواته په منځنيو پېړيو کې د هلمند ولايت په شمالي سرحدونو کې پروت دي چې د غوري واکمنانو د ژمنۍ پلازمينې په تېره بيا د غور د ستر سلطان غياث الدين (۵۵۹ – ۵۹۹ هجري) د سلطنت پايتخت ؤ

که څه هم دلته له پخوا زمانې راهيسې د غور واکمنانو استفاده کوله، خو د (پټې خزانې) په حواله امير کروړ د سوري امير پولاد زوی (۱۳۹ هجري) په مورد کې ويل کيږي:

چې امير کروړ به په دوبی (زميند اور) کې و او هلته به يې ماڼۍ درلودله چې کټ مټ د منديش د ماڼۍ غوندې وه او په دغه ځای کې يې ښکار کاوه او عشرت. ۱

بايد وويل شي چې د غور د دې دوبنی پايتخت زيات سياسي اهميت د سلطان غياث الدين د سلطنت په زمانه کې ښه پېژندل کيدای شي، چې له دې ځای څخه يې په ټول افغانستان. هندوستان او د ايران په يوه برخه حکمراني کوله.

په دغه زمانه کې په (داور) کې يې يو ښکلې او له دبدبې ډك باغ جوړ کړې ؤ چې د باغ ارم باغ حرم) په نوم يادېده او قاضي منهاج سراج جوزجاني د سلطان غياث الدين په يادونه کې له دې ب غ څخه هم يادونې لري.

داسې روايت دي چې نوموړي سلطان د ځوانۍ په لومړنی وخت کې يو لوی معاشر ؤ او د ښکار سره يې مينه درلودله، د فيروز کوه له ارګه چې د ده پلازمينه وه د زميند اور تر ښاره پورې چې ژمنې دارالملك ؤ هيڅ ژوندي ته اجازه نه وه چې ښکار وکړي او د دې دواړو ښارونو ترمنځه واټن ۴۰ فرسنګه ؤ.

نوموړي پاچا په زميند اور کې چې کوم باغ جوړ کړي ؤ، د باغ ارم نوم يې پرې ايښودلي ؤ او الحق چې د دنيا پر مخ د ښکلا او تازه ګۍ له مخې هيڅ يو پاچا داسې باغ نه درلود. اوږدوالي يې له دوو ميدانو وار څخه زيات ښت کاوه ټولې چيني يې په صنوبر، ابهلو او د رياحينو په بوټو ښکلې کړې شوی وې. سلطان امر کړی ؤ چې د دې باغ تر څنګه يو ميدان جوړ کړي چې د دغه ميدان اوږدوالي او لنډوالي

۱ پټه خزانه، محمد بن داود هوتك، پوهني مطبعه، ۱۳۳۹ کال، ۳۲ مخ

سره مساوي يعنې مربع الشكل ؤ او هر كال به يې يو ځل فرمان وركاوه چې د ۵۶ فرسنګو په اندازه له نژدې سيمو څخه لس زره ښكاريان دغه ميدان ته راټوليدل او په دې ترتيب د ښكاريانو پر تمين جشن يې جوړاوه. ۱

فخرالدين مبارك چې په دغه جشن كې موجود ؤ دا رباعي يې وويله:

اندر مى و معشوق و نگار اويزى
به زان باشد كه در شكار اويزى
آهوى بهشتى چو بدام تو دراست
اندر بزكوهى به چه كار اويزى

اوس په داور كې په دې نوم كوم باغ نشته خو په قوي احتمال سره دا نوم د باغران په ولسوالى كې چې په تاريخي زميندا ور كې پروت دي موندلاى شو، ځكه چې په اصل كې دغه باغ (باغ ارم) ؤ او د وخت په تيريدلو سره په باغران اوښتلي دي. د دې په خوا كې يو بل دليل هم شته دي چې په دغه ولسوالى كې اوس هم طبيعي ښكلې منظرې خود رويه ښكلې ګلونه او زيات شمېر ځروبې موجود دي او د قاضي منهاج سراج هماغه خبره را يادوي چې دلته باغ ارم جوړ شوى ؤ.

نن زميندا ور په كوچنى كلي بدل شوى چې د هلمند ولايت د موسى قلعه د دريو ميلو په مسافه د جنوب خواته پروت دي. د شمال خواته د باغران ولسوالى او د جنوب له خوانه د هلمند د څپانده سين او د شرق له خوا د ارزګان ولايت او دهراوت ولسوالى او د لويديز له خوا نه د موسى كلا سره نښتلى دي. ۲

۸- د غلغلې ښار (د باميانو كلا) ۵۴۰ – ۶۱۸ هجري:

د غوري دولت د پلازمينو څخه يو هم په باميانو كې د غلغلې ښار دي، پخوا تر دې چې باميان د شنسب د كورنۍ سياسي مركزيت پيدا كړي د غلغلې ښار يو مذهبي مركز ؤ او د نړۍ له هر ګوټ څخه د هغو د مشهور... د زيارت په مقصد ورته زايرين راتلل او بيا هغه وخت چې د غوريانو سياسي نفوذ په دغه سيمه كې پراختيا وموندله او مسلمانان ورته راغلل نو يې وغوښتل چې په اسلامي سبك يو ښار او يو مركز دلته ودان كړي، همدا وجه وه چې د باميانو د غلغلې ښار چې د اسلامي دورې د خصوصياتو مركز ؤ د شنسبيانو د كورنۍ د سلطنت تر تاسيس وروسته د سلطان علاوالدين حسين جهانسوز په لاسونو دا ښار تاسيس او د شنسبيانو لومړنى امير ملك فخرالدين مسعود بن حسين شنسبي چې د علاوالدين حسين مشر ورور ؤ په باميانو كې قدرت ته ورسيد او (۵۴۰ – ۵۸۰ هجري) پورې يې پاچهي وكړه. دې پاچا د شغنان او طخارستان د غرونو سلسلې، د درواز، بلور او تركستان تر پولو پورې د خپل

---

۱ غوريان، عتيق الله پژواك، ۱۳۴۵، ۷۱- ۷۲ مخونه

۲ جغرافياي تاريخي غور، (۵۹ – ۵۰ مخونه

دولت نفوذ ورساوه، خشن او بدخشان یې په خپل واک کې راوستل د شنسب د کورنۍ پنځو تنو په بامیانو حکومت وکړ او وروستنی امیر یې علاوالدین مسعود بن شمس الدین محمد ؤ (۶۱۰ هجري په حدود کې) تر ده وروسته جلال الدین منکبرتي د خوارزم د شاهي کورنۍ څخه د سلطان محمد خوارزم شاه زوی د یو څو مودې د پاره پر بامیانو حکومت وکړ، تر څو چې دا ښکلي او تاریخي ښار د چنګیز د حملو له لاسه په ۱۲۲۲ میلادي وران او د خاورو سره خاورې شو نن ورځ د دې ښار کنډوالې د بودا د مجسمو په مقابل کې د یوې جګې تپې د پاسه پرتې دي او د دې ښار اصلي اوسیدونکو دا ښار ډېر لوی باله او ویل یې چې د دې ښار لمنې د پولادي درې یعنې د شمال لویدیز خواته د ښار د ډېرو لیریو سیمو پورې پراختیا درلودله، د دې ښار له کنډوالو څخه یو پخپله ارګ دی چې د تپې د پاسه په ځانګړې توګه واقع ؤ او نورې بقایاوې یې اصلي ښار دی او زیات جمعیت یې درلود، تجارت او صنعت پکې زیات ترقي کړې وه او د سوداګرۍ کاروانونه له جنوبه شمال ته او له شماله جنوب ته تګ او راتګ درلود او د غلغلې ښار یې دمه ځای ؤ. ۱

د غور د تاریخي جغرافیه لیکوال د غلغلې د ښار او د هغه د پیښو په باب په تفصیل سره څرګندونې لري او وایي: ... د یوه لوی دیوال په مقابل کې.... په زرینځي رنګ په نیمه مخروطي شکل د بامیانو د نرۍ اوبو ښې څنډې ته د سرې پاملرنه ځانته را اړوي چې هغه د غلغلې ښار د بالاحصار څخه عبارت دي.

د ښار لمنه د بالاحصار د احاطې څخه څو کرته پراخه ده، پخپله د غلغلې ښار په تاریخي ماخذونو کې لیدل شوي نه دي خو د بامیانو کلا یا کلاګانو لکه ضحاک او سرخشك ته اشاره شوې ده، د دې ښار اوسیدونکو د شپږمې هجري پیړۍ په لومړیو کې په سمڅو، پخو ودانیو، لویو برجونو، د پخو او موخښتو او تیږو څخه په جوړو شوو ودانیو کې ژوند کاوه. وروسته تر هغې چې علاوالدین محمد خوارزمشاه د ۶۰۷ – ۶۱۱ هجري کلونو په شاوخوا کې د غوریانو او غزنویانو اردوګانو ته ماتې ورکړه، زوی یې جلال الدین د غلغلې په ښار کې خپل مرکزیت ټینګ کړ، تر څو چې د چنګیز وحشتناك هجوم د شمالي برخو څخه د هندوکش جنوب ته سرایت وکړ او په زیات ګومان سره چنګیز د شکاري درې څخه بامیانو ته راننوتلی او د ضحاك په ښار کې چې د بامیانو د شمال ختیز په ۱۷ کیلو متری کې یې کنډوالې موجودې دي چې د بامیان او کالو د ښار د ساحو اوبه یو ځای کیږي او څه وخت چې موتې جن د چغتای زوی او د چنګیز لمسی ووژل شو نو چنګیز قسم وخوړ چې په ښار کې به نوم ژوندي، انسان وي او که حیوان ژوندي پاتې نه شي نو د غلغلې ښار یې تر ډېر مقاومت وروسته په ۶۱۸ هجري ۱۲۲۲ میلادي کې د خاورو سره خاورې کړ د مغلو فاتح ښار ته اور واچوو او هغه څوك چې د اور له لمبو څخه په امان پاتې شوي وو له یوه سره یې له تیغه تیر کړل او بالاخره د غور شنسبیانو او خوارزمشاهانو د علم

۱ جغرافیای تاریخي غور، عزیز احمد پنجشیري، ۵۱ – ۵۲ مخونه

دوستو او هنر پالونکو پاچهانو د (آزاده ګان) کلا دغه د علم او فضیلت او هنر کانون پخپله اصطلاح (ما او بالغ) یعني د مغصوب او نحس ښار لقب ورکړ.

د غلغلې جنوب لویدیز ته د غلغلې د ښار کنډوالي د سید آباد په کلي کې د یو مستطیل شکل کلا بدنه د هغې د لوړو دیوالونو سره موجوده ده چې د غلغلې د ښار د وګړو ورځنیو محاورو له مخې د (قلعه دختر) په نوم مشهوره ده.

په دې هکله زیاتو پوهانو لکه پروفیسور هاکن، فرانسوي مشهور لرغون پیژندونکي، پروفیسور مینورسکي او داسې نورو پوره څیړنې تر سره کړې او د غلغلې د ښار پیښې یې بیان کړې دي. ۱

۹- د غزنه ښار (کلا) ۵۵۱ – ۶۱۲ هجري:

د غزني د ښار په باب په مخکنیو ګڼو کې (۴۳۹- ۴۴۲) په پوره تفصیل سره لازم معلومات وړاندې شوي دي، خو دلته د موضوع سره د مناسبت له مخې په لنډ ډول یو څه نور زواید پردې اسنادو برسیره د غلغلې د کلا دوه یادګاره هم د کابل په موزیم کې موجود وو چې یوه یې د لرګی دروازه چې د هغې په پورتنۍ برخه کې په کوفي رسم الخط (الملک لله) لیکلي شوي او بل یادګار یو خطي کتاب ؤ چې په فالنامو مشهور ؤ او هغه د څو رسالو څخه عبارت دي او ځیني نور یادداښتونه کوم چې په ۵۸۳ هجري کې لیکلي شوي دي او د شنسبیانې دوهم امیر ملک شمس الدین د ملك فخر الدین زوی د سلطنت د دورې سره مطابقت چې تر ۵۸۶ هجري لیکل کیږي.

د غور د پاچهانو د لویو او سیاسي مرکزونو څخه یو هم د غزنه ښار ؤ چې هلته د غوري کورنۍ پنځو تنو سلطنت کړی دی او په جمله کې لوی پاچا غوري سلطان معزالدین د سلطان سیف الدین سوري ورور ؤ چې د غور او ختیز د سترو پاچهانو څخه شمېرل کیده، دې علم دوست او مدنیت پالونکي پاچا د غزني د ښار بیا جوړونې ته چې د علاوالدین جهانسوز له لاسه وران او ویجاړ شوی ؤ ملا وتړله او تر یوه حده پورې یې د غزنین ښار بیا ودان کړ.

په دې دوره کې د غزنه د سیاسي قلمرو پولې د ختیز خواته د کنګا تر غاړو، له لویدیزه د خراسان خوارزم د سیمو، د نسا او بارور د پورې اوږدوالي درلود او د جنوب له خوا نه د عرب د بحیرې سره نښت.

نوموړي پاچا په ۶۰۲ هجري چې د چنګیز د وتلو کال دي مړ شو ښایي وویل شي چې د سلطان معزالدین ژمنې پایتخت د لاهور ښار ؤ او د اوړي پلازمینه یې غزنه او خراسان.

د غزنه پنځه تنه پاچهان دا دي:

۱- سلطان سیف الدین سوري، ۵۵۱ هجري.

---

۱ جغرافیاي تاریخي غور، ۱۱۱ – ۱۱۳ مخونه

۲- سلطان معزالدين غوري، ۵۶۹ – ۶۰۲ هجري.
۳- سلطان علاوالدين محمد بن سام، ۶۰۲ – ۶۱۲ هجري.
۴- سلطان تاج الدين يلدز المعزي.
۵- ملك الكريم قطب الدين ايبك المعزي. ۱

۱۰- د برکوشك ښار (کلا) ۱۳۹ – ۶۱۱ هجري/۸۵۶ میلادي:

د بر کوشك کلا چې د برکوشك په ماڼۍ باندې شهرت لري او په سلطاني کوشك هم یادیږي په ځینو مواردو کې ورته ښار هم ویل شوي دي په فیروز کوه کې پرته وه.

یا په بل عبارت د فیروز کوه له ښارونو څخه یوه هم د برکوشك ډېره مجلله او له عظمته ډکه د غوریانو د دورې ودانۍ ده، چې د احنف بن قیس له خوا جوړه شوې ده، دا هماغه ماڼۍ ده چې د پاسه یې په سرو زرو مرصع کنګرې د درو مترو په لوړوالي او د دوو مترو په پسور جوړې شوي دي او د سرو د هما مجسمه د اوښ په اندازه پرې نصب شوې ده.

برکوشك هغه قصر دي چې په فیروز کوه کې آباد شوي او په ناصري طبقاتو ترې داسې توصیف شوي دي:

برکوشك قصریست در میان فیروز کوه که در هیچ ملك و مثل آن به ارتفاع و تدویر و ارکان و منظره ها، رواقات و مشرفات هیچ مهندسی نشان نداده است و بالای قصر پنج کنگره ازین مرصع نهاده اند هر یك به ارتفاع سه گز و چیزي در عرض دو گز و دو همای زرین هر یك به مقدار شتر بزرگ نهاده به آن شرفات زرین هما. ۲

په پورتنی اثر کې د برکوشك څخه په مکرر صورت یادونې شوي دي او وایي چې دا ماڼۍ د یو لوړ غره د پاسه پرته ده او له دې کبله ورته بر (پورته) ویل کیږي چې لوړتیا او جګوالي کې یې ساری نه درلود او د فیروز کوه له نامتو ښارونو څخه ګڼل کیږي. ۳

څرګنده ده چې په فیروز کوه کې د برکوشك سربېره نورو مشهورو کلاګانو هم موقعیت درلود.

د برکوشك ماڼۍ د معماري د صنعت له پلوه د هغې منظرې، رواقونه، (ګنبدیزي طاقچې) او داسې نور تزئيناتي ترتيبات په ډېر مقبولیت او ظرافت سره کار شوي دي.

په همدې ډول د دې ماڼۍ د مهندسي چارې په ډېرو لوړو هنري معیارونو تر سره شوي دي چې د نړۍ په نورو مدنیتونو کې یې بیخي نظیر نه لیدل کیږي.

---

۱ د طبقات ناصري، ۴۰۵ مخ په حواله، جغرافیاي تاریخي غور، ۵۲ مخ
۲ طبقات ناصري ج۱، ۷۵ مخ
۳ طبقات ناصري، ج۲، طبع ۶۵۸ هجري ۳۸۲ په حواله د غور لرغوني کلاګاني، ۶۴ مخ

د مانۍ د پورتنيو مشخصاتو په تاييد ويل شوي چې دې مانۍ پنځه کنګارې (کنګرې) درلودلې چې هر يوه يې دوه په دريو ګزو کې اوږدوالي درلود، د سرو زرو او جواهراتو څخه جوړې شوي وي دوه د سرو زرو ګوربتان چې هر يو يې د اوښ په اندازه غټ ؤ د مانۍ د پاسه ځای په ځای شوی وو.

د دې مانۍ د کنګارې دا د وه سيمرغه سلطان غياث الدين د اجمير تر فتحې وروسته د تحفې په ډول د نورو سوغاتونو سره يو ځای د غور د لوی سلطان غياث الدين د پاره فيروز کوه ته راليږلي وو [1]

چې له دې جملې څخه زرينه کړۍ زرينو ځنځيرونو سره د يوې جريرې چې (5X5) مترو کې يې دايره وه د زرينې غرې (....) چې په څرخ (ګردونه) ځراوه، د سلطان غياث الدين په امر دغه کړې او جريره يې د فيروز کوه د جومات په طاق کې ځوړند کړل او کله چې يو وخت دا جومات سيلاب وران کړ نو يې هغه د هرات جومات ته واستول او بيا کله چې د هرات جومات هم ويجاړ شو د همدغو قيمتي شيانو په وجوه او ارزښت يې هغه بيا له سره ودان کړ. [2]

د برکوشک مانۍ په ۱۲۰۹م / ۸۵۶هـ کې د ډېرو نورو لوړو کلاګانو غوندې د امير کروړ په واک کې وه.

په پټه خزانه او نورو تاريخي اسنادو کې د دې ښار په باب يادونې شته دي چې د بيان څخه يې صرف نظر کيږي.

اوس د برکوشک حقيقي محل مشکوک دي او په اوسني غور کې د برکوشک په نوم کوم ځای نه ليدل کيږي، مګر بايد وويل شي چې د کوشک کلمه د غور په ځينو سيمو لکه د سرکشک کلي، قلعه کشک، کشک عليا او کشک سفلي او قريه کشک کې ليدل کيږي چې دا ټول د غور ولايت د لعل و سرجنګل د ولسوالی په لويديز کې موقعيت لري او دا تاريخي نوم يې ژوندي ساتلي دي.

۱۱- د تولك ښار (کلا) ۳۵۳ هجري:

تولك د غور او غرجستان له لرغونو مهمو ښارونو څخه دي، د دې تاريخي ښار د جوړېدو نسبت ابو علي محمد بن العباس تولکی ته کيږي چې د غور زيات پوهان او شخصيتونه له دې ځايه راپورته شوي دي.

که د تولك د تسميې وجه وڅيړل شي نو په پښتو (د غوريانو) ژبه داس پورته او ښکته ځغلولو ته ورلك تولك وايي.

اوس تولك د يوې ولسوالی په توګه د هرات په جنوب ختيز او د شهرك په جنوب لويديز کې د شرقي طول البلد په ۶۳ درجو او ۴۴ دقيقو او شمالي عرض البلد په ۳۳ درجو او ۵۸ دقيقو په خطونو پروت دي

۱ مدنيت غوري د ر افغانستان، شهزاده سيف زي، پوهنځي ادبيات و علوم بشري، ۱۳۵۵ کابل، ۲۳ مخ

۲ جغرافياي تاريخي غور، ص۶۵

او د بحر له سطحې څخه ۲۲۵۰ متره لوړ او ۲۹۵۶ کيلو متر مربع مساحت لري. ۱

د تولك د مشخصاتو او ساختماني خصوصيتونو په باب هم زياتې يادونې شته دي، وايي چې د تولك کلا يوه هغسې کلا ده چې د هيڅ يو غر سره نښتې نه وه، د منوچهر په زمانه کې جوړه شوې وه چې د غور او خراسان په منځ کې يې موقعيت درلود، دې کلا د غشو د ويشتلو د پاره سوري (تيرکشونه) درلودل، د کلا د پاسه د تيږې او چونې (سنگ خارا) څخه خونې جوړې شوې وې چې ارشي ورته ويل کېده امير نصر تولك د کلا د پاسه د اوبو حوض جوړ کړ چې د هغه گرد چاپير د چونې او تيږې څخه شل په شلو مترو کې ؤ او اوبه ترې هيڅ نه تيريدلي (طبقات ناصري، ج۲) خو د دې اثر لومړی جلد په يو بل ځای داسې اشاره کوي چې تولك د هرات په غرونو کې واقع دي (۱۳۳ مخ).

په يو بل روايت سره چې وايي: د تولك کلا يوه هغسې کلا وه چې د يوه غره د پاسه چې په تندي کې يې د وريځو سره غاړه ايستله او پوخوالي کې يې د سکندر د ديوال سره سيالي کوله. ۲

د دې کلا د پوخوالي او نه تسخيريدلو حاج د يو روايت څخه اخيستل کېدای شي چې وايي: هغه وخت چې مغلو په تولك بريد وکړ د تولك خلکو پوره ۸ مياشتې د هغوئ سره جگړه وکړه تر څو چې هغوی ناکام مراجعت ته مجبور کړل شول.

د تاريخي اسنادو له مخې د تولك کلا تر ۳۵۳ هجري نه د مخه ودانه شوې وه او دا ځکه چې په دې کلونو کې په زياتو تاريخي پيښو کې د دې کلا يادونې شوي دي. ۳

ننی تولك د هرات ښار جنوب لويديزې خواته د څلويښتو کروړو په مسافه پروت دي او د يوې کلا په خوا کې چې اوس د حکومت مرکز هلته دي د مخه يوه لويه کلا وه چې تولك نوميدله له همدې امله د تول شاوخوا ته تولك ويل کيږي.

تولك له تيرو څخه په ډکو غرنيو سيمو کې پروت دي په کوچنيو او لويو درو باندې ويشل شوي دي، دا درې تولك ته اوبه ورکوي او هغه رود ته کيکان وايي.

پخواني مدارك ښيي چې پخوانی آبادی پرته له هماغه خرابي نور چېرته تولك هم کم ليدل کيږي.

د تولك کيڼې خواته يو غار دي چې په (غار گوش) باندې مشهور دي او په ډېر عجيب شکل جوړ شوي دي چې د ورننوتلو لار يې له يوه کوهي څخه ده. ۴

۱ اطلس قريه جات افغانستان، ج۳، اداره مرکزي احصائيه، ۱۳۵۳، ۱۵۱۷ مخ
۲ تاريخنامه هرات، سيف محمد بن يعقوب الهروي، ۱۳۲۶، ۷۷۰ - ۷۷۳ مخونه
۳ افغانستان لنډ تاريخ، پوهاند حبيبي، تاريخ تولنه، ۱۸۰ مخ
۴ جغرافياي تاريخي غور، ۷۵ مخ

۱۳ - تخارستان (تخار)

(د قيمتي کانونو سيمه)

نن چې زموږ د لرغوني هېواد په اداري تشکيلاتو کې د بدخشان، تخار، کندوز، بغلان او سمنګان په نومونو کوم ولايتونه رامنځ ته شوي دي يو وخت دا ټول او حتى د ځينو نورو ولايتونو ځينې برخې هم د يو ستر تاريخي ايالت يعنې طخارستان په نوم موجود او مشهور ؤ او د تاريخي سابقې، پوځي، مذهبي، اقتصادي، اداري او داسې نورو ملحوظاتو له مخې يې خورا زيات تاريخي اهميت درلود او د مؤرخانو او جغرافيا ليکونکو په آثارو کې ترې په پراخه پيمانه يادونې شوي دي.

د دې د پاره چې د دغه پراخې لوېې او د زياتو تاريخي مهمو ښارونو او محلاتو درلودونکې سيمې په هکله ليکنه او څېړنه يو څه فشرده شوي او د ضروري مطالبو په محتوا کې تر ليکنې او څېړنې لاندې نيول شوي وي او ور سره جوخت د لازمي استفادې وړ وګرځېدلې شي نو تر ټولو لومړۍ ښايي پخپله د طخارستان په متعلق بحث وشي او وروسته د دغه د ولايتونو، ښارونو او مهمو محلاتو په باب معلومات هم په لنډه او مشخصه توګه وڅېړل شي.

په لرغونو زمانونو کې زموږ د لرغوني هېواد د هندوکش د غره هغې خواته شمالي برخې د باکتريا

(باختر) د مربوطاتو په نامه يادېدلې چې مرکز يې هماغه بلخ (بخدي) د ښکلو او لوړو بيرغونو ښار (بخدي سريرام اردو درفشام) ؤ.

باختر د آريانه (هرات) غونډې د شمالي له لويو ولايتونو څخه متشکل او بلخ د ام البلاد په لقب هغه د ستر مرکزيت حيثيت درلود، که څه هم د بلخ په څوا کې آريانه (هرات) هم د آريانا د دغسې لرغوني او لومړني ټاټوبي مقام درلود.

طخارستان په ځينو دورو کې د باختر څخه جلا رياست بلل شوي او حتی د بلخ څخه يې په ځينو ډېرو مواردو کې زيات اهميت او تاريخي لوړ موقف پيدا کړی دی.

د طخارستان موقعيت:

د طخارستان جغرافيايي موقعيت په تاريخي اسنادو کې د امويه، امو درياب، گوزگان، يا گوزگانان (جوزجان) او مرگيانا په منځ کې ښودل شوي دي، خو په ځينو نورو منابعو کې د جوزجان د سيمو پر ځای بلخ ښودل شوي دي.

ويل شوي دي چې د اقتصادي مسايلو د اهميت له پلوه طخارستان د بلخ سره بيخي نژدې طبيعي ارتباط درلود، ځکه چې باکتريا، د برنی طخارستان د سيمو له لارې د تبت او چين د هېوادونو سره مناسبات لرل او د بلخ يونانيانو کله چې طخارستان ونيو له همدې لارې يې د تبتيانو او چينايانو سره جگړې کړې دي او بيا يې د چين سره تجارتي مناسبات ټينگ کړې دي.

د مقدوني سکندر تر يرغل نه د مخه ۳۳۰ ق. ميلادي د تخارستان تاريخنامه لکه د يو شمېر زياتو هېوادونو غونډې مجهوله وه او په اغلب گومان سره يې په منځنۍ پېړۍ کې د بلخ د مقدراتو سره گډ برخه ليک درلود.

دا هم معلومه نه ده چې طخارستان پخوا په څه نوم ياد شوي دي او بيا هغه وخت دا ايالت د تخار په نوم مشهور شو چې د دې سيمې او سېدونکو تخاريانو د تخار په نوم نړيوال شهرت پيدا کړ.

يوناني منابعو هم د تخار قوم د باختر د يونانيانو د فاتحانو په ډله کې تر ميلاده دوه پېړۍ د مخه ياد کړي دي.

روسي عالم بار تولد (د جغرافياي تاريخ ايران) په دې باره کې يو لړ معلومات وړاندې کوي او وايي:

د تخار قوم پخوا په (يو لونسن) يعنې د چين په پولو کې موقعيت درلود په دې معنا چې د افغانستان په شمال ختيز کې يې استوگنه درلوده او تر اسلامي دورې راوروسته هم د باختر يوه برخه د تخار (تخارستان) د قوم په نوم يادېدله.

د تاريخي آثارو په استناد دا د تخار قوم په اصل کې آريايان وو، تخار قوم ځانته تاريخي سوابق درلودل او دې تخاريانو تر ميلاده دوه پېړۍ د مخه د لومړي ځل د پاره په بخدي کې قدرت پيدا کړ او

سل کاله د دوی تر استوګنې وروسته په باختر کې له دوې څخه يوه طايفه د کوشانيانو په نوم راپورته شوه.

د طخارستان (د تخاري) د تسميې وجه:

د تخار کلمه د يو (ستي) کام له نامه څخه منځ ته راغلې ده، اساساً دې نوم د ميلاد څخه مخکې له څلورمې پيړۍ راهيسې تر اتمې مسيحي پيړۍ پورې خارجي وجود درلود او د آريانا په شمال لويديزه (د بلخ د شمال په شاوخوا کې) څنډه کې دستي کامونو يو ښاخ له ميشته کېدلو څخه وروسته دغه برخه په خاصه توګه د هغوی په نامه مشهوره شوه او د تخارستان کلمه په منځنيو پيړيو کې ډېره استعماليدله.

لويديز (توکيوان)، (توركان) د خپلو فتوحاتو په لړ کې لويديز او جنوب لويديز پلوه مخکې راغلل او د آريانا د يفتلي دولت له منځه وړلو او يرغل کوونکو ساسانيانو د مخ په شا څغلولو وروسته د شپږمې مسيحي پيړۍ په دوهمه نيمايي کې تخارستان ته ننوتل، د دې وخت د طخارستان جغرافيايي مفهوم د باختر له کلمې څخه ډېر جامع ؤ او د هندوکش په شمال کې يې د پامير له لمنو څخه ټول قطغن او بدخشان او د مزار شريف ولايت هم چې د ميمنې علاقه يې هم احتوا کوله او د اکسوس (امو سين) په شمال کې سغديان (مرو) هم پکې شامله وه.

چينايي هېوان تسانګ چې د کيوانا (کورکانو) د تسلط په عصر کې د افغانستان هېواد ته راغلي دي د آريانا دغه برخه يې د (تو-هو-لو) په نوم ياده کړې ده او د هغې پراختيا يې د شمال نه جنوب پلو يوزرلی (لي د چين مسافوي قياسي واحد د ۵۰۰ مترو سره برابر دي) او له ختيزه لويديز لورته يې درې زره ښودلي ده نومورې ليکي:

څه رنګه چې د دې ځای پاچهي کورنۍ له منحه تللې ده نو مختلف رييسان د دې سيمې په هره برخه کې حکومت کوي او په عين حال کې هغوئ ټول د توکيوانو (تورکانو) تابع دي يا په بل عبارت په طخارستان کې د هغه د پراخ مفهوم سره چې يادونه ترې وشوه يو ډول ملوك الطوايفي منځ ته راغلې ده چې هر خان په خپله کوچنۍ سيمه کې حاکم ؤ.

او دوئ ټولو د کندوز مرکزي خان ته اطاعت درلود. او دغه خان په خپل وارد توکيو (تورکانو) د (ييغو) د لاس کښينولې واکمن ؤ، دلته په کار دي چې د سيتي د موضوع سره يو څه آشنايي پيدا شي.

سيتي چې ساکا او اسکايان ورته وايي په اصل کې اسکاييان د (تيان شان) د غرونو او د خضر (تورې بحيرې) تر منځ پخوا د هندو اروپايي د خلکو يوې خانګې ته تګ راتګ درلود چې نن ورځ معمولا هغه د سيتي قومونو په نامه ياديږي او (اوستا) ورته (توريا) وايي، اثوريان يې (اشکوزي) بولي، هخامنشيان ورته (ساکا) او چيناييانو به د (سي) په نامه يادوله.

سريتيان، ساجتيان، ساکيان (اسکايان) پوچيان، يفتليان د هغوی مشهورې څانګې دي.

(ازي یې Asii)، (پازیایي Pasiai)، تخاري، (ساکارولئ Sacarai;o) د هغوئ برخې دي.

تخاري قبیله له سنگیانگ نه نیولې د پامیر تر لویدیزو لمنو پورې خپره شوه، د بدخشان او قطغن د منځینو پیړیو د تخارستان زړه او مرکزیت یې تشکیلاوه.

د تخار او تخاري کلمه او د دې په بنا د تخارستان (طخارستان) د تسمیې وجه د تاریخي آثارو په استناد داسې ښودل شوې ده.

(تخاري) په لومړي مرحله کې خامخا د سنگیانگ د یو (ستې کام) نوم ؤ چې په ترقی او اهمیت سره دغه کام یو ښه لوی مفهوم پیدا کړ لکه چې ځینې هغه د سیټ، او (سیتي) کلمې مرادف بولي او سیتي کامونه (تخاري قومونه) هم بلل شوي دي.

همدارنگه د ستي ژبو او یا کم له کمه د هغوئ د ښاخ د ټاکلو په باره کې یې تخاري کلمه استعمال کړې او د (الف) او (ب) تخاري په نامه یې ښاخونه تر مینځ ته راوړي دي. او په همدې توگه یې هغه ستر مدنیت او تهذیب چې د (ایکزاردت) د حوزې او د آمو د حوزې ټول سنگیانگ یې احتوا کاوه، د تخاري په نوم یاد کړي دي. مقصد دا دی چې د تخار کلمه چې دغومره لوی مفهوم یې پیدا کړ. په لومړي سر کې د یو کام او یا قبیلې له نوم څخه کوم زیات شی نه ؤ.

بطلیموس د (تگوروا) د کام نوم ذکر کړي دي (البته دا نوم (گ) د (خ) په تعویض سره (تخوزوا) ته نږدېوالي لري) او د ده د معلوماتو له مخې د وریښمو د ستري معتبرې (لارې) پر سر یې د (توگارا Thogara) په نوم یو ښار هم درلود.

چینایي منابع د توگارا د کام پاتې شونې د میلاد نه د مخه په دوهمه پیړۍ کې د (کان سو) په سیمه کې یادوي.

همدا راز نیتي مضامین دغسې نوم د (کانسو) په سیمه کې څرگندوي او حتی اسکایي اسناد چې د میلاد څخه پخوا د ۸۰۰ کلونو په شاوخوا کې د ختن څخه پیدا شوي دي په (کان سو) کې د توگارا په نوم د یو ښار ذکر کوي.

د پورتنیو څرگندونو څخه جوتیږي چې د ستي کامونو یو بل ښاخ ترکان سو پورې چې د نوموړي کام د ورسیدلو د سیمې د ډېره لیرې ختیزه برخه ده خپور شوي او د مرکزي آسیا د کامونو د جنبش په ترڅ کې له یو چیانو سره لویدیز پلو ته راغلي دي، تر څو چې د یوناني مؤرخینو په وینا دوئ د (آمو) د سین جنوب خواته راورسیدل او د آمو د برنۍ حوزې ځمکې د هغوئ په نامه (تخارستان) مشهورې شوي دي او دا نوم د منځینو پیړیو تر پایه پورې معمول او مروج ؤ.

تخاري قبایلو د لرغونو ټاټوبي دود، دستور او ژبې له نقطه نظره د یوچیانو سره زیات شباهت درلود او له هغوئ سره یې په گډه د آمو سین د حوزې پلو کډه وکړه او داسې یو تر بله سره خلط او همرنگ وو

چې د هندي مؤخذونو زیاترو مخصوصو منابعو یوچیان لوی او کوچنی د تخارا (توګارا) یا تخاري په نامه یاد کړي دي.

بطلیموس د (مارینوس) د یادداشتونو له مخې د کان سو او باختر ترمنځ په څو مختلفو ځایونو کې د تخار د نامه څخه یادونه کړې ده. او دا هغه ځایونه دي چې (یوچیان) پکې اوسیدل او یا چې له دې سیمې څخه تیر شوي وو. دا نوم که څه هم په بیلابیلو ځایونو کې د تلفظ له مخې جزئي توپیر لري خو د هغه تسلسل د تخاریانو د حرکت په خط (خط السیر) باندې ښه رڼا اچوي.

په هر حال بطلیموس د کان سو په علاقه کې د (تاګوروا Thagouroi) او (داسا) اوس په شمال کې (تاکوري وا Thakourio) او د (اسیك کول) سیند ګوتې ته نږدې د تاګوروا او په سغدیانه کې د (تاخوروا Tochoroi) او په باختر کې د (تخارو Tacharoi) نوم یادوي.

څه رنګه چې یو چیانو (بیدو) د کان سوتر باختر پورې همدغه ځایونه طی کړي دي او ځینې د چینایي منابعو یوچیان او د یوناني منابعو تخاریان دواړه یو شي ګڼي لکه چې هندي ماخذ په دې باره کې کوم توپیر ته قایل نه دي بلکې د یوچي په عوض یې یوازې تخاري کلمه په هر ځای کې استعمال کړې ده.

په هر حال که تخاریان یوچیان وي یا نه وي خو د هغوئ یو ښاخ شمېرل کېده او د پیش قراولي ډلې په حیث له دوو درې سیتي قبیلو یعنې (آزي یې) یا (زیایي) او (سکارولي) سره باختر ته راغلل او زیاتره د هغو سیندونو په برنیو حوزو کې چې له پامیر راښکته کیږي په اوسني قطغن او بدخشان کې تیت او میشته شول او ورو ورو دې سیمې د هغوئ په نوم (تخارستان) یعنې د تخاریانو د استوګنې ځای باندې شهرت وموند او دا نوم د مسیحي میلاده پخوا له څلورو پیړیو راهیسې مشهور شو (چې یو مخکیني روایت کې هم دا نیته تایید شوې وه.)

همدارنګه د (توخري) یا (تخاري) کلمه په هغو اسنادو کې چې اخیراً له مرکزي اسیا څخه پیدا شول د هماغه وخت د اسکایي یا کوشاني ژبې د نوم په حیث استعمال شوې وه.

او هیوان تسانګ په اومه مسیحي پیړۍ کې له (توخري) څخه (تو-هو-لو To-Ho-Lo) جوړ کړی دی.[1]

ښاغلي میر غلام محمد غبار د تخاري ژبې په هکله لیکي:

تخاري ژبه د هند اروپايي له ډېرو مشهورو ژبو څخه ده، دا ژبه (داري) یا (آریایي) ژبې سره هم عصره او په ګاونډیتوب کې هم پرې خبرې اترې کیدلې.

ژبه لیکنې عمدتاً د برهمایي په خط او الفبا دي او زیاتره د بودایي دین پورې تړاو درلود او د سانسکریت د ژبې ترجمه ده.

---

۱ پښتو آریانا دایرة المعارف، ټ۴. ۱۳۴۴، ۹۵۷ مخ

ژبپوهان دا ژبه له دوو لهجو (کولیش) څخه مشتمله ګني.

- یوه یې (الف) تخاري.
- او بله یې (ب) تخاري.

پوهان ګومان کوي چې لومړنۍ لهجه (دراغني) او دوهمه یې (کوچي) په سیمه کې رواج درلود او په دقیق صورت دا معلومه نه ده چې دا دواړه لهجې څه وخت په بشپړ شکل له منځه تللي دي هغه آثار چې له دې ژبې څخه نن په لاس کې دي د شلمې پیړۍ په پیل کې د چین له ترکستان څخه کشف شوي دي. ۱

د جغرافیا لیکونکو او مؤرخانو په آثارو کې د طخارستان حدود او موقعیت

په لرغونو زمانو کې د تخارستان د نوم تر څنګه پاسنی تخارستان او ښکتنی تخارستان هم زیات استعمالیده او له دې کبله چې تخارستان په عمومي مفهوم سره د قطغن او بدخشان یو مرکب نوم ؤ خو ځینې وخت بدخشان په مستقلانه مفهوم هم استعمال شوي دي.

پخوا د قطغن او بدخشان (تخارستان) لوی ایالت د لاندنیو محدودو په منځ کې ښودل شوي دي:

- د ختیز له خوا: د پامیر په غره.
- د شمال له خوا: د امو په نهر (امو سین)
- د لویدیز له خوا: په خلم، تاشقرغان او بلخ.
- د جنوب له خوا: د هندوکش د لړیو په منځ کې.

ښاغلي برهان الدین کشککي په خپل یو اثر کې د دې ایالت حدود داسې بیائوي:

- شمالاً د درواز له پولي د کندز د (بغري قول) تر تانۍ او د امویه (کوکچې) سین.
- په شمال مشرق کې: د پامیراتو د خط فاصل پورې.
- شرقاً د دورایي کوتل د خط فاصل پورې.
- د جنوب له خوا: د غوري سیمې.
- غرباً: د مهر علم د ابدال تر دښتې پورې چې د کندز او تاشقرغان په منځ کې موقعیت لري. ۲

دلته ګورو چې د تخارستان لویدیزې پولې تر بلخ پورې نه دي غزولې شوې او د دې نه دا خبره جوتیږي چې په ځینو روایتونو د طخارستان پراختیا تو بلخه نه رسیږي.

خو په یو بل تاریخي سند کې د طخارستان پراخ ولایت د لاندنیو سیمو په منځ کې واقع ګڼل شوي دي.

- د بلخ په ختیز کې د امو سین نه تر بدخشان پورې

۱ جغرافیای تاریخي افغانستان ۲۱۱ – ۲۱۲ مخونه، د تاریخ زبان فارسي ت۱، ۱۶۴ مخ په حواله
۲ رهنمای قطغن و بدخشان. ۷ – ۸ مخ

- د جنوب له خوا: د باميان او پنجشير د غرونو په څانګو محدود دي.

دا لرغوني ولايت يونانيانو د (تورخاري) په شکل ياد کړي دي چې د امو دريا د پاسنۍ سيمې څخه عبارت دي.

په چينايي منابعو کې د (تو-هو-لو) په شکل يعنې تخارستان او د چين په سالنامه کې (پنځمه ميلادي پيړۍ کې) د شمالي Wel په حالاتو او هم د (تانګ) په تاريخ کې دا نوم ليدل شوي دي چې د (Tsung-ling) د غرونو په لويديز او د (وخش Hu Wa) د سين په جنوب کې پروت دي او د هغې زمانې چينايانو ورته (تاهيو-Ta-Hio) هېواد وايه.

هيوان تسانګ هم لکه چې د مخه ورته اشاره شوي د (To-Huo-lo) (طخارستان) له هېواده يادونه کړې ده او وايي چې طخارستان:

له شمال څخه تر جنوب پورې زرلې - ۵۰۰ کيلو متره او له ختيزه تر لويديزه پورې درې زرلې - ۱۵۰۰ کيلو متره پراختيا درلوده.

- د طخارستان په ختيز کې د (Tsun-ling) غر پروت دي.

- او په لويديز کې په (پوليز Po-li-sz) نښتي.

- او په جنوب کې يې: له واورو ډك غر.

- او په شمال کې يې: اوسپنيزه دروازه ده.

حدود العالم د تخارستان په متعلق داسې تذکرات لري:

تخارستان يوه داسې ناحيه ده چې د غرونو له امله يې نعمتونه ډېر دي او په غرونو کې يې د خلخ د ترکانو ځای دي او له دې ناحيې څخه اسان پيدا کيږي، پسونه او غلې يې ډيرې او ميوې يې ډول ډول دي. (۹۹ مخ)

تخارستان چې د طخارستان او طخيرستان په شکلونو هم ضبط شوي دي، يعقوبي وايي:

دا يو پراخ او لوی ولايت دي د خراسان له سيمو څخه او له يو شمېر ښارونو څخه مشتمل دي چې يو پاسنی ښار او بل ښکتنی ښار د بلخ په ختيز کې او د جيحون رود په لويديز کې، د طخارستان او بلخ تر منځه واټن ۱۸ فرسخ دي.[۱]

په اللباب کې راغلي دي چې طخارستان يوه پراخه سيمه ده او په څو ښارونو مشتمله ده، د بلخ النهر يعنې د جيحون په هغه خوا کې.

د دې اثر په استناد بدخشان د طخارستان څخه يوه جلا سيمه بلل شوې ده.

---

۱ د پورتنی اثر د حاشيې او تعليقاتو د برخې، ۶۵ مخ

د تخارستان سيمې او ښارونه:

پښتو آريانا دايرة المعارف، طخارستان د فيوډال ولايت (خان نشيني) د هغه د مشخصاتو سره په يو څه تفصيل معرفي کړې او ليکي:

لکه چې د مخه اشاره وشوه توکيوانو (تورکانو) د خپل تسلط په دوره کې تخارستان د يوې متمرکزې ملوك الطوايفي په صورت اداره کاوه او د اطراف ټولو خانانو به د کندز مرکزي خان ته اطاعت درلود يعنې دا وخت د کندوز ښار د دې ملوك اطوايفي د مرکزيت حيثيت درلود.

د هېوان تسانګ د يادداشتونو له مخې ويل کيداى شي چې تخارستان عموماً په ۲۷ خان کښيناستونکو سيمو ويشل شوي ؤ چې تر ټولې مشهورې سيمې يې په لاندې دول معرفي کيداى شي:

۱- (کيو-مي-تو- Kui-mi-to) يا (کوميدا Komedai) په نامه ياده کړېده او بطليموس له دې نيتې څخه پخوا په خپله جغرافيه کې هغه د کومدي په نامه ياده کړې ده.

دا خان کښيناستونکي سيمه د پامير د غرونو په بيخ کې پرته او جنوب پلو د (شي-کي-ني Shi-ki-ni) يعنې شغنان په سيمو نښتې ده.

۲- پو-تو-شنګ-نا Po-to-chang-na چې تعبير يې بدخشان دي هېوان تسانګ د هغه چاپيريال دوه زره لي ليکي. او له دې سيمې څخه د ده د تيريدلو په وخت کې د دغه ځاى خلك بودايان وو.

۳- شي-کي-ني Shi-ki-ni چې د شغنان غرنۍ او صعب العبوره سيمه ده پراختيا يې دوه زره لي او د مرکز چاپيريال يې ۵ – ۶ لي دي.

۴- (آن-تا-لو-پو An-ta-lo-po) يعنې اندراب چې د هماغه وخت د طخارستان د خان کښيناستونکو سيمو په جمله کې يې زښته زياته پراختيا درلودله لکه چې چاپيريال يې درې زره لي او د مرکز چاپيريال يې ۱۴ – ۱۵ لي ليکلي شوي دي.

د دې چينايي زاير د مسافرت په وخت کې دلته درې بودايي معبدونه موجود ؤ او ۴۰ – ۵۰ تنه عالمان پکې اوسيدل.

۵- (پو-هو، Po-Ho) چې د باختر سيمه يې په دې وخت کې ډېره محدوده او د ختيز نه لويديز ته ۸۰۰ لي.

او د شمال نه جنوب ته: ۴۰۰ لي اوږده وه.

سره له دې د بلخ ښار هم د (راجاګير يهه Raga griha يعنې د کوچني پاچهي ښار) په نامه ياديده او ۲۰ لي چاپيريال يې درلود، سل بودايي معبدونه لا دلته آباد ؤ او ۳۰۰ راهبان پکې اوسيدل او ټول (هنايانا) يعنې د خلاصون د کوچنۍ لارې د طريقې پيروان وو، که څه هم په دې وخت کې د ساسانيانو او تورکانو د جنګونو او له هغوى سره د يفتلي دولت د مقابلې په اثر د بلخ او باختر اهميت ډېر کم شوي ؤ

او تورکان د طخارستان د اداري په خوښه له بلخ نه مرکز کندوز ته نقل کړ خو سره له دې بيا هم د بلخ کوچنی پاچهي ښار د علم او پوهې او مذهبي کانون مرکز ګڼل کېده لکه چې د کندز توركي خان د هېوان تسانګ څخه خواهش وکړ چې د بلخ ښار وګوري او سره له دې چې د ده د مسافرت له کرښې نه چپ دي، د هغه له معبدونو او عالمانو دې ناليدلي کتلي تير نه شي او په نتيجه کې چينايي زاير په بلخ کې د آريانا له زښته زيات لوی بودايي عالم (براجنا کارا) سره ملاقات وکړ او خپل پاتې مسافرت يې په جنوب آريانا کې د ده په ملګرتيا او مصاحبت اجرا کړ. ٢

بر علاوه له پورتنيو خان نشينو سيمو څخه ځينې نورې سمې (ښارونه) هم د طخارستان په ايالت کې شامل وو.

- (کو-زي-تو Kowh -si-to) يعني خوست.
- (هي-موتا-لو Hi-mota-lo) يعنې درايم.

د چينايي زاير په يادداشتونو کې راغلي دي او د هغو تولو څخه څرګنديږي چې لوی او کوچني خانان د تخارستان په درو او وادي ګانو کې تيت و پرك وو. ١

د هېوان تسنګ د ليکنې له مخې دا څو لاندې ټکي د پاملرنې او يادونې وړ ښکاري:

- په پورتينو يادو شوو او يا وروستنيو روايتونو کې چې کوم ښارونه معرفي شوي او يا معرفي کيږي د هغوئ په متعلق د هېوان تسنګ يادداشتونه ډېر ثقه، د پوره صراحت او وضاحت درلودونکي دي.

- د طخارستان د شهرت او عروج په وخت کې بلخ (کوچني ښار) بلل شوي دي، حال دا چې په تاريخي اثارو کې تر طخارستان زيات له بلخ څخه يادونې شوي دي ممکن په دې وخت کې طخارستان او د هغه مرکز کندوز د تجارتي، مذهبي او اداري موقعيت له مخې تر بلخ ممتاز موقعيت پيدا کړي ؤ او بلخ په دې بودايي دوره کې هغه پخوانی برم او عظمت نه درلود نو ځکه هېوان تسنګ هغه د (کوچنی شاهي ښار) په نوم ياد کړي ؤ.

- بله موضوع چې طخارستان تر بلخ يو څه مهم تلقي شوي دي هغه ممکن د بلخ په نسبت د طخارستان د مربوطو سيمو پراختيا ده ځکه د کومو مهمو ښارونو څخه چې طخارستان يې احتوا کاوه بلخ په هغه کې شامل نه دي.

اصطخري د طخارستان ښارونه داسې معرفي کړي دي:

- خلم
- سمنګان

---

١ پښتو اريانا دايرة المعارف ټ ۴، ۱۳۴۴، ۹۵۶ – ۹۵۷ مخ

- بغلان
- سکند
- او اليز يا ولوالج (رستاق)
- طابقان (تاليکان يا تاليقان)
- ارهن
- روب
- داون
- سرای عالم
- خوست
- اندراب
- حذر گاه (۲۱۶ - ۲۱۷ مخونه)

ښايي وويل شي چې د طخارستان د پورتنيو ښارونو ځينې ياد شوي ښارونه دومره مشهور ښارونه نه دي.

خو يعقوبي د دې ښارونو له جملې ځينې ښارونه د بلخ مربوط بولي لکه چې وايي:

هغه ښار ته چې خلم ورته ويل کيږي او هغه ښار ته چې سمنجان (سمنگان) ورته وايي او هغه ښار چې ولوالج (رستاق) ورته ويل شـــي او هغه ښار چې (هوظ) ورته وايي او هغه ښار چې نورمن ورته ويل کيږي. ۱

مگر دلته چې کومه خبره د يو څه تامل وړ ده هغه دا ده چې ممکن يعقوبي د نورو مؤرخانو په پرتله د طخارستان د سيمو او ښارونو له موقعيت سره دومره بلدتيا نه درلوده نو ځکه يې حتی په طخارستان کې د ننه ښارونه لکه رستاق هم د بلخ له مربوطاتو شمېرلی دي.

ابن حوقل بيا د طخارستان د ښارونو په اړوند داسې معلومات ورکړي دي:

د طخارستان ډېر لوی ښار طاليقان (طالقان) دي چې په هامون کې واقع دي او له غره څخه د يو غشي گوزارولو په مسافه ليرې پروت دي.

او بل ښار چې د تاليقان څخه وروسته دي هغه وروالېز (ولوالج او يا رستاق) دي او په دې پسې اندراب دي.

اندراب يو ښار دي چې د غرونو په منځ کې پروت دي

که د طخارستان د ښارونو په اړوند د مؤرخانو او جغرافيا ليکونکو او پوهانو پورتنيو څرگندونو ته

---

۱ جعرافيای ناريخي افغانستان، ۶۴ مخ

وکتل شي نو معلومه به شي چې په ټولو مواردو کې واحد مفاهیم افاده شوي او ممکن دغو ټولو له یوه ماخذ نه استفاده کړې وي او دا ځکه چې یو له بله سره دومره توپیر نه لري.

د طخارستان کانونه:

طخارستان په خپلو یو شمېر سیمو کې سرشاره، قیمتي او بې ساری قیمت بها معدنونه لري. او ځای لري چې د قیمتي کانونو او (کریمه احجارو) سیمه یې وبولو چې په توګه د بیلګې په توګه د بدخشان لعل نړیوال نوم لري.

د طبیعت دا سرشاره شتمنی د طخارستان د لاندنیو سیمو په لمنو اوسینو کې پرتې دي چې په لاندې ډول دي:

- لاجورد: په غنج خواه، جرم او کران.
- لعل: په غاران، زاورده.
- مالګه: کلفکان، درونه، قرلق، ولوالج، چال او نمک آب.
- چودن: فیض آباد
- سرب: زیباک
- ډبرو سکاره: نهرین، چال او تاله و برفک
- رانجه (سرما) نراک.
- ګوګرد: زیباک، سنګیچ، خان آباد سیمه، کران.
- اوسپنه، اوشان

او داسې نور معدنونه چې د طخارستان په ځینو سیمو کې وجود لري.

د طخارستان د مرکزونو او ښارونو معرفي:

د طخارستان مرکز:

کندوز (د بې شمېرو لارو د تلاقي نقطه):

کندوز چې اوس د هېواد په اداري تشکیلاتو کې یو جلا ولایت دي پخوا یې نه یوازې د طخارستان د لرغوني ښار او مرکز حیثیت درلود بلکې د هغه د نوم د مفهوم له مخې دا یوه پخوانی مستحکمه او زړه کلا وه چې د پوځي ماهیت له پلوه یې خاص اهمیت درلود په تاریخي مدارکو کې کهندوز، کهندژ، کهندز او قندوز یعنې د زړې کلا او پخې کلا په معنا وې او یا د کیان د قبیلې په انتساب سره (کیان دیس) یا (کیان دژ) ضبط شوي دي. او دا چې (ك) یې په (ق) لکه قندهار په معرفي شکل قندوز او پښتو

کندوز تعویض شوي دي.

که د کندوز د ښار او یا د هغه د نوم تاریخي سابقې ته نظر واچول شي نو ویل شوي دي چې تورکانو د خپل مؤقت تسلط په دوره کې تخارستان د ملوك الطوایفي او داسې خان نشینو په صورت اداره کاوه چې شمېر یې د هېوان تسنګ د لیکنې په قرار ۲۷ خان نشینو ته رسیده او د ټولو مرکز د کندوز ښار ؤ.

که څه هم د بلخ د (یو- هو) په نوم او یا د (راجا ګیریه) یعنې (کوچني پاچهي ښار) په صفت یادیده او د بودایي معبدونو د شهرت، د عالمانو او روحانیونو د ډېرښت له نقطه نظره یې زیات اهمیت درلود. خو د تخارستان اداري مرکز په دې وخت کې د کندوز ښار ؤ، کومې موضوع چې کندوز ته یې په تخارستان کې د مرکزیت اهمیت ورکړی ؤ دا د نورو بیلګو په سر کې د هغه مهم او جغرافیایي ممتاز موقعیت دي یعنې کندوز د تخارستان د ایالت د ټولو سیمو په منځنۍ برخه کې پروت دي. په دې کې شك نشته دي چې کندوز د مذهبي مؤسساتو، فاضلاتو، عالمانو او نورو حیاتي مسایلو له نقطه نظره بلخ ته نه شو رسیدلای خو جغرافیایي او اداري موقعیت یې هغه تورکي خانانو ته چې په تخارستان باندې حاکمان وو ډېر اهمیت درلود.

کندوز د باختر له ښارونو او د قطغن او بدخشان له هغو هوارو سیمو څخه تقریباً په یوه فاصله پروت ؤ دلته به بې مورده نه وي چې د کندوز اهمیت د هغو لارو د موقعیت په اعتبار معرفي شي چې له کندوز څخه د هېواد زیاتو بیلابیلو سیمو ته غزیدلي دي او په لاندنۍ ډول پرې بحث کیږي.

کندوز یوه لار، د پامیرونو د یو شمېر لارو خولې ته او بلې لار د لویدیز باختر د ورانو علاقو سره نښلاوه.

همدا راز دوی نورې لارې هم موجودې وي چې یوه یې له کندوز څخه سیخه شمال پلو ته د اکسوس (امو) د سین په غاړه ختمېدله لکه چې همدا اوس د حضرت امام صاحب په سیمه کې یوه سمه لار له کندوز څخه د آمو سین سره نښلي او د کلای زال ډېرې مهمې خرابې او کنډوالې چې د افغاني هېواد یو ستر لرغوني ښار ؤ د هغې په څنګ کې پرتې دي. بله لیار د جنوب په استقامت د کندوز د سین د بهیدڅي (مجرا) په اوږدو کې غزیدلې ده او د تخارستان مرکز یې د پلخمري او دوشي د خولې په حدود کې د هندوکش د شمالي لمنو له کړلیچونو او ژورو سره نښلاوه دا یوه داسې نقطه ده چې د هندوکش د جنوب دوې لویې لارې له شمالي لارې سره تړل کېدلي یوه یې هغه لویه تجارتي او کارواني لار ده چې د (تاکزیلا) له ښار څخه لیشکلاواتي (چارسده) او پاروشاپورا (پېښور) په استقامت غزیدلې وه او د ګندهارا، لمپاك (لغمان له علاقې څخه کاپیسا ته راتلله.

بله هغه لیار وه چې د اراکوزي له حوزې څخه د ارغند او سین د پاسنی بهیدڅي په اوږدو کې راغزیدله د ژورو او کړلیچونو څخه وروسته په وجیرستان یعنې د جاغوري او ناور د دښتې په منځ کې د

خوادا (وردګو) خواته او د ارغندي له سيمې او د پغمان له لمنې اوسنی کوهدامن او کوهستان ته رسيدله او د غوري له درې او چار درې او کوشان له درې او اندراب څخه دوشي ته تلله.

همدا شان د (شبر) له غاښي څخه تر تيريدلو وروسته (لکه اوسني شکاري درې چې اوس د موټرو سرك دي او په منځنيو پيړيو کې دا لار د کاروانونو د تګ راتګ عمومي لار وه لکه چې د لرغونو کلاګانو په تيره بيا د (سرخشك) د ښار موجوديت دا نظريه تاييدوي) بيا د هندوکش د جنوب د مشهورې لياړې يو بل ښاخ دې د دوشي او کيله ګۍ په برخه کې د کندوز د سين د مجرا سره نښليده او د دې سين بهيدځي يوه طبيعي کرښه وه چې کاروانونه د هغې په اوږدو کې تر کندوز پورې تلل. لکه چې همدا نن که څه هم سرك له علي آباد نومي ځای څخه وروسته خان آباد پلو ته ور ګرزي يو بل ښاخ د کندوز په استقامت سم امتداد پيدا کوي.

هيوان تسانګ په خپلو يادداشتونو کې کندوز د (هوه- Hwoh) په نوم ياد کړې دي.

دا (هوه) ښار نه بلکې داسې سيمه ګڼل کېدله چې خپل ځانته يې يو جلا مرکز درلود او د دې مفکورې او اهميت په بنا اوس کندوز يو جلا ولايت دي چې دا دي دلته د هيوان تسنګ دغه يادداشتونه د دې موضوع د ښې خرګندونې سبب کېدای شي (دا سيمه هم د (تو-هو-لو) يعنې تخارستان د خاورې يوه برخه ده.

د دغې سيمې چاپيريال ۳۰۰ لي او د مرکز چاپيريال يې ۱۰ لي اوږدوالي لري. حکمفرمايي هلته نشته او ملك د تورکانو تابع دي. ځمکه يې يوه هواره جلګه ده چې په مرتب صورت پکې کرنه کيږي او زيات حاصلات ورکوي ونې او بوټي پکې زيات شنه کيږي، زښته زيات ګلان او ميوې لري آب و هوا يې نرمه او په زړه پورې ده، خلك يې زيات امانت کار دي، نارينه يې طبيعتاً چابك او زرنګ دي او وړين لباس اغوندي.

د ديانت له نقطه نظره زياتره د بودايي مذهب پيروي کوي او ځينې يې په برهمني آئين دي. دلته سل سانګارامي (بودايي معبدونه) او ځو سوه تنه روحانيون شته دي چې د بودايي مذهب په چوکاټ کې د خلاصون دوو طريقو يعنې (لويې لارې او کوچنۍ لارې) په قوانينو کې معلومات لري او په دواړو مسلکونو باندې عمل کوي.

پاچا د توکيو (تورکانو) له تبر څخه دي او د اوسپنې دروازې لري د جنوب په ټولو درو او کوچنيو رياستونو باندې د ده حکم چليږي او د مرغه غوندې خپل ځای بدلوي را بدلوي او هميشه په دې ښار کې نه اوسيږي. ۱

۱ پښتو آريانا دايره المعارف، ۴ ټ، ۱۳۴۴، ۹۵۵ – ۹۵۶ مخونه

کندوز د تاريخي اثارو د اهميت له مخې:

قندوز يا (کهن دز) چې د خان آباد د لويديز په ۲۴ کيلومترۍ کې پروت دي په پخوانيو دورو کې يې خاص تاريخي اهميت درلود او د تخارستان پايتخت ؤ.

د يفتلي دولت په دوره کې تر دوو ژرو کلونو زياته موده د مخه له دې ښاخ څخه تجارتي مهمې لارې چې د هندوکش جنوبي صفحات يې د کوهدامن، کوهستان د شمالي صفحاتو سره نښلول دا ټولې لارې دې ښارته را رسيدلې.

که څه هم د دې لارو په باب د مخه پراخ بحث وشو خو دلته د هغو د تاريخي اهميت او ځينو نورو بيلګو په پام کې نيولو سره پرې بحث بې ضرورته نه دی.

قندوز چې د هندو کوه په شمالي صفحاتو کې د تخارستان او باکتريان تر منځه يو مهم تم ځای ؤ او د دې لويې تجارتي لارې څخه درې ښاخه بيلېدل.

- يو ښاخ د بلخ په لور.
- بل ښاخ د تخارستان په استقامت.
- او دريم ښاخ مستقيماً د آمو رود په لوري غزيدلي ؤ.

تر اسلام د مخه قندوز هم د بودا د مذهب له مرکزونو څخه يو مرکز ؤ لکه چې د مخه وويل شول چينايي نامتو سياح شون تونګ (هيوان تسيانګ) دا ښار د (هوه) په نوم قيد کړې دي. بودايي معبد دلته موجود ؤ او څو سوه روحانيون دلته اوسيدل د اسلام د منځنيو پيړيو جغرافيا ليکونکو له قندوز څخه تذاکرات لري.

قندوز په حقيقت کې هماغه قندز او هماغه عام نوم دي چې په دري ژبه کې (قله کهنه) يا کهن دز په ځای استعمال شوي دي.

په ۱۹۳۶ ميلادي د تصادف له مخې د هغه ځای د آهنګرانو د کلا څخه بودايي معبد کشف شو، څو کوچنۍ او لويې مجسمې ترې تر لاسه شوې، د دې مجسمو کتلو د ارکيالوژۍ پوهانو (لرغون پيژندونکو) په نزد يو مهم اثر ايجاد کړ او دا نظريه چې ويل يې د افغانستان مجسمه جوړونه د ګريکو بوديك د صنعت ايجاديت دي عوض کړه او موسيو هاکن په دې باب يو کتاب د باختر د صنعت په باب ليکلي دي او څرګندوي چې د قندوز مجسمې مورږ دي ته ګماري چې دا مجسمه جوړونه د باختر صنعت دي.

قندز د آمو رود د جنوبي غاړې نه تر علي آباد پورې تقريباً ۷۰ ميله مسافه لري قندوز چې په يوه پراخ دښت کې موقعيت لري د تاليقان او اندراب رودونه د ده له منځه تيريږي او د قندوز زياتره سيمې د دې رودونو په واسطه خړوبيږي.

د قندز ښار په تاریخي دورو کې هرې برخې ته چې د دې پراخې سیمې څخه نقل مکان وکړ څو ځلي وران شوی او ودان شوی دی.

د قندز پخوانی ښار د هغه د بالاحصار سره یو ځای په اومه هجري پیړۍ کې ودان شوی او د ټول تخارستان مرکز شو، تر دې وروسته بیا دا له ګولو ډګر وګرزید او وران شو د قندوز بالاحصار له یوې پیړۍ راهیسې بیخي ویجاړ شو.

څرنګه چې د اقتصادي مسایلو له پلوه د قندوز موقعیت ډېر مهم دی نو ځکه یې په ۱۳۱۳ هجري شمسي کې د دولت پاملرنه ځانته راګرزوله او د یو عصري ښار په شکل بیا له سره جوړ شو.

اوس د پنبې او صــابون جوړولو او د سپین زر غوړیو فـابریکې پکې موجودې دي او صنعتي ښار دی. ۱

کندز د لرغوني مستحکمې کلا په توګه

کندوز د وتلي جغرافیایي او پوځي مناسب موقعیت له مخې نه یوازې یو تجارتي، مذهبي او اداري مرکز ؤ بلکې د دې تر څنګه یوه پخوانی کلا، مستحکمه کلا یوه چونی او بالاحصار هم ؤ او زموږ د لرغوني هېواد د پخوانیو استحکامي دژونو څخه شمېرل کېده او که د تاریخي اسنادو په استناد د دې پخې کلا مشخصات وڅېړل شي، نو ویل کیږي چې د آریایي قبیلو څخه په غیر نور پوونده قبایل هم د منځنی آسیا څخه د آمو سین د دې غاړې سیمو ته د مهاجمو مهاجرو په بڼه راتلل او تلل او کله کله به یې د خپلو ګاونډیو قبایلو د فشار له امله دې سیمو ته په مهاجرت مجبوریدل، چې د دې مهاجرو قبایلو تر راتګ وروسته د باختري دولت او مدنیت د پاره یې یو لوی سرخوږي رامنځ ته کړ. د باختر حکومت هم د دوې د تهاجماتو د مخنیوي په مقصد تدافعي استحکامات تاسیس کړل او د هغوی له جملې څخه د ډېرو زړو ودانیو پاتې شونې اثار اوس هم باقي پاتې دي چې اغلب احتمال لري د کندز «زړه کلا» هم په اصل کې لکه د مخه ورته اشاره شوی وه (کیان دیس) یا (کیان دژ) (لکه ګردیس او ګردیز) وي چې د باختر د کیاني کورنۍ د حکومت په وخت کې یوه پخه چونۍ او بالاحصار ؤ. ۲

په یو بل روایت کندوز یا کهندز چې د زړې کلا معنا افاده کوي او د پورتنۍ لیکنې له مخې دغې زړې کلا یوه جنګي کلا یعنې پوځي چونۍ او بالاحصار هم درلود چې د هغوی په پخوالي او اهمیت یې دلالت کاوه. ویل کیږي چې قندوز د هندوکش په شمال کې د باختر ولایت او تخارستان ولایت په منځ کې د اوسني خان آباد څخه ۲۴ کیلو متره په لېرې مسافه پروت دی، او د منځنی پیړۍ را په دیخوا چې جوړ شوي دي د کوهندژ یعنې لرغوني مستحکمې کلا او د قندوز په نوم یادیده او د افغاني پنبې د مهم

۱ شهرهاي آریانا، محمد عثمان صدقي، ۷۳ – ۷۴ مخونه

۲ خیر محمد ساد، لرغوني آریانان، ا.ع.ا دولتي مطبعه، ۱۳۶۳، ۷ مخ

مرکز په نوم يې شهرت درلود (فضل احمد رهنماي افغانستان شماره ۱۲، رياست مطبوعتو ۱۳۲۸، مطبعه عمومي کابل).

د کهندژ دا تاريخي کلا زيات تاريخي واقعات لري چې له دې جملې څخه د بيهقي تاريخ د ۷۴۱ مخ په حواله د ۴۲۰ کال يوه پيښه بيان شوي او د دې کلا د پوخوالي د اثبات د پاره ښه دليل کيدای شي لکه چې وايي:

... په دې سيمه کې يو سړي ؤ چې علي قهندزي يې ورته وايه او يو وخت يې په دغه ولايت کې تير کړي ؤ، غلاګانې او لوټمارۍ به يې کولې، د سيمې يو شمېر مفسدين ور سره ملګــري شوي وو، دوی به کاروانونه لوټول او په کليو کې به يې ډاکې اچولې، تر څو چې دا خبر امـــير (مسعود بن محمود غزنوي) ته ور ورسيد هر څومره چې يـــسې د خپلې شحنه (کوتوالي) ډلې ور پسې وليږلې د ده شرارت دفع نه شو ځکه چې علي قهندزي په يو ځای کې چې کهندز يې باله او يو قوي حصار ؤ هستوګنه درلوده.

دغه حصار د غره پر سر يو سوري درلود او هغه د جنګ له لارې نيول کېدای نه شو. ۱

د پورتني اثر په يوه بله برخه کې ويل شوي دي چې بالاخره امير په يو چال سره دا کلا د علي سره يو ځای ونيوله او ورانه کړای شوه (سنه ۴۳۰ هجري قمري.) ۲

برنی طخارستان او ښکتنی طخارستان:

د دې د پاره چې د طخارستان د ښارونو او مهمو محلونو پر مبحث په مشخص او ټاکلي شکل کتنه او څيړنه شوې وې، نو په کار دي چې په عمومي صورت يې په دوو عمده برخو برنی طخارستان او ښکتنی طخارستان جلا کړو او په هر يوه برخه په جلا جلا توګه بحث وکړو که موضوع د طخارستان په دوام وڅيړل شي نو له يوې خوا به مبحث ډېر اوږد او غير مشخص شي او د بلې خوا به په يوه معين چوکاټ کې هغه تصنيف شوي نه وي او موضوعګانې به په يوه ټاکلي استقامت کې تر څيړنې لاندې نه وي نيول شوي.

لکه چې د مخه څرګنده شوه په تاريخي منابعو کې په عمومي شکل طخارستان د برنی طخارستان چې د بدخشان څخه عبارت دي او ښکتنی طخارستان چې د قطغن څخه عبارت دي او د دواړو واحد مرکز د کندوز لرغوني ښار ؤ.

---

۱ تاريخ بيهقي، ابوالفضل محمد بن حسين بيهقي، طبع کتب، مطبعه دولتي، ۱۳۶۳، ص ۷۴۱
۲ همدغه اثر، ۷۴۴ مخ

او دا هم د برنی طخارستان معرفي:

١- برنی تخارستان (بدخشان)، (د نجيبه ډبرو د کانونو او د طبيعت د عجايبو وطن)

برنی تخارستان چې د مشهور او تاريخي بدخشان څخه عبارت دي يوه ډېره لرغوني تاريخي، اقتصادي، فرهنګي او اداري سيمه ده چې د ورېښمو مشهوره تجارتي لار پکې تېره شوې په بدخشان يا په نړيوال کچ د لعلونو په وطن شهرت لري لکه کله چې د لعل نوم اخيستل کيږي نو دواره د سړي په ذهن کې د بدخشان نوم هم مجسم کيږي برنی بدخشان په تاريخي منابعو کې کله د طخارستان يوه مربوطه سيمه او کله کله هم د طخارستان د ايالت په خوا کې يوه جلا ايالت ښودل شوي دي، چې په دې دواړو صورتونو کې هغه يو شان له برمه ډك تاريخي مقام لري.

د برني تخارستان (بدخشان) موقعيت او څلور خواوې:

بدخشان چې پخوانی نوم يې (بلخشان) ؤ يعنې د ياقوتو وطن دا يو لرغوني ښار او پخپله د بدخشان د ولايت مرکز ؤ، مګر نن د هغه اصلي موقعيت مجهول او مشکوك دي.

احتمال لري چې لرغوني (بلخشان) د همدې اوسني فيض آباد په محل کې چې د بدخشان د ولايت مرکز دي واقع دي، ځکه چې د دې سمسوري ناوې مرکزيت همدا مقام تشکيلوي. ١

برنی تخارستان (بدخشان) د ښکتنی طخارستان (قطغن) په شمال کې د ختيز طول البلد په ٧٠ درجو، ٤ دقيقو او ٣٦ ثانيو او شمالي عرض البلد ٣٦ درجو، ٥٥ دقيقو او ١٦ ثانيو او همدارنګه په ٧١ درجو، ١٥ دقيقو او ١٨ ثانيو د ختيز طول البلد او د شمالي عرض البلد په ٣٧ درجو، ٢٩ دقيقواو ٥٠ ثانيو کې واقع دي. ٢

رهنمای قطغن د بدخشان په اثر کې د بدخشان حدود داسې ښودل شوي دي:

بدخشان د کابل په شمال کې د آمويه (پنج سين) په غاړه پروت دي چې:

- جنوب ته يې: د هندوکش غر.
- ختيز ته يې: چترار، شغنان او درواز.
- لويديز ته: کلفکان او د قطغن سيمې.

مګر د برنی تخارستان د مفهوم او برخې په اعتبار يې څلور خواوې يې داسې معرفي شوي دي:

- له شمال څخه: د آمويه سين.

---

١ شهرهاي آريانا، ٢٢ مخ

٢ پښتو آريانا دايره المعارف، ټ ٤، ٣٧٢ مخ

- د لويديز له خوا: د قطغن ولايت.
- د ختيز له خوا: چترال او ختيز ترکستان.
- د جنوب له خوا: د هندوکش د غرو په سلسلو پنج دريا (آمويه سين) د هغه په خوا کې بهيږي.

په برنی تخارستان کې يو لړ لوړ غرونه شته دي چې د هغوی په لمنو کې شتمنی او سمسوري درې او بيديا وې ليدل کيږي. ١

برني طخارستان (بدخشان) د مؤرخانو او جغرافيا ليکونکو په اثارو کې

په تاريخي اثارو کې د برنی تخارستان د زيات شهرت د وريښمو د مشهورې لارې پورې تعلق درلود، چې دا لار په لرغونو دورو کې ډېره مهمه تجارتي لار وه چې ختيز چين يې د اروپا سره نښلاوه.

بدخشان زموږ د هېواد د ډېرو لرغونو ښارونو له جملې څخه دي چې تر ميلاده دوه پيړی د مخه په چينايي منابعو کې د (Ts-Nag-Ling) (د پيازو غر) په شکل راغلي دي او په ۵ او ۶ ميلادي پيړی کې چينايانو دا ښار د تخارستان سره يو ځای ذکر کړې دی.

د بدخشان نوم د هېوان تسنګ په سفرنامه کې د (پو-تو-شينګ-نو- Po-to-char-no) په شکل پاسنی سيمه راغلي چې په ظاهره سره همدا بدخشان دي. په (يوان شي) کې هم د (با-دو-ها-شينګ) نوم د (سي- بای-تي) په لست کې ليدل شوي دي. ٢

د بدخشان د سيمې د شتمنی او نامتو والی په باب په حدود العالم کې راغلي دي:

بدخشان شهريست بسيار با نعمت و جای بازرگان و اندروی معدن سيم ست و ازو بيجاده و لاجورد و از تبت بدانجا برند.

يعقوبي بدخشان په دريمه هجري پيړی کې د طخارستان د مربوطاتو څخه شمېري او ليکي: (و مملکت حمارك، پادشاه شغنان و بدخشان و رود خانه بزرگ که تا شغنان می رسد از آن است و اينها همه اش مملکت طخارستان علياست.)

اصطخري د بدخشان د ښار په متعلق داسې يادونه کوي:

بدخشان يوه سيمه ده، ښار او کلي لري او کلي ته يې بدخشان وايي. (۲۱۷) مخ نوموړي مؤرخ د بدخشان د شتمنی او سمسورتيا په هکله وايي:

بدخشان آبادې ناحيې لري د (جرياب) د سين په غاړه ډېر باغونه لري له بدخشان لعل تر لاسه کيږي او لاجورد. د بدخشان په غرونو کې ډېر معدنونه دي او په بدخشان کې مشك زيات پيدا کيږي.

بدخشان له ډېرې لرغوني زمانې څخه د قيمتي ډبرو د درلودلو په وجه په تېره بيا د لاجوردو او

---

١ پښتو اريانا دايره المعارف، ۴ ټوك ۳۷۲ مخ

٢ مرحوم حبيبي ليکنه، اريانا مجله ۳۱۹ ګڼه، ۳ مخ

لعلونو د لرلو له کبله ترېوال شهرت لري لکه چې ابن هوقل په دې تړاو لیکي:

له بدخشان څخه ډېره ښه بیجاده (سور یاقوت، عقیق او کهربا) او نورې قیمتي ډبرې چې په ښکلي توب او رونق کې یاقتو ته پاتې کیږي، لاس ته راځي، دا قیمتي ډبرې په خاورین او اماني (اناري)، سرو (احمرقاني) او سرابي رنګونو دي او هغه اصلي لاجورد دي.

د بدخشان په غرونو کې زیات ډول ډول معدنونه شته دي او په زیاته اندازه تبتي مشک دي ښار ته راوړل کیږي او له دې ځایه یې وخان (واخان) ته وړي.

اصطخري د مقدسي له قوله په څلورمه هجري پیړۍ کې داسې وایي:

په (وخان) کې سپین زر او سره زر زیات دي له اوبو څخه زر دلته تر لاسه کیږي او د رودونو په واسطه راځرګندیږي، خلك یې راټولوي او د (وخان) په حد کې بدخشان د تبت د پولي سره نښتې دي.

د جواهرو دکان په خوا کې یوه کلا ده چې د (زبیده) د هارون الرشید د میرمنې د کلا یعنې د دې په نوم جوړه شوې ده او د بدخشان له یاقوتو او لاجوردو سربېره د بلور تیږه او پا زهران تیږه (شنه او خړ رنګې تیږه) هم په دغه ایالت کې شته دي.

اسبست چې عربان ورته حجر الفتیله وایي هلته په بدخشان کې موندل کیږي دا یوه محترقه ماده ده او له دې مادې څخه څراغ او فتیله جوړوي، مقدسي زیاتوي د دې مادې څخه د دسترخوان تو ته هم اوبدې او هر کله چې په غوړیو غوړه شي دا کفایت کوي چې په ډېر کم وخت کې یې تنور ته واچوي او هلته په بشپړه توګه پاکیږي.

په همدې توګه د څراغ فتیله (باتۍ) ترې جوړوي او هر کله چې خیر نه شي او یو څه وخت یې په لمبدونکي اور کې ږدي تر هغې چې پاکه شي، همدا شان په بدخشان کې یو ډول تیږې هم موندل کیږي کله چې یې په تور تم کوټه کې کیږدي نږدې شیان روښانه کوي.

قزویني هم تقریبا د پورتنی قول په تایید لیکي:

په بدخشان کې زیات جواهر او د لعلو ډبرې موندل کیږي چې یاقوت ورته وایي. همدا راز زیاتوي عام وګړي معتقد دي چې حجر الفتیله د یو هغسې مرغه وزر دي چې که یې په اور کې واچوي نو نه سوزي.

په بدخشان کې د یاقوتو کانونه خورا زیات دي، د یمګان د ښار په شاوخوا کې دا کانونه وجود لري او د سپینو زرو معدن ته نږدې دي. ۱

په هفت کشور (صورت الاقالیم، تالیف، ۷۴۸) کې د بدخشان د لعل په هکله داسې راغلي دي:

پخوا لعل نه ؤ او په هیڅ کتاب کې هم له لعلو څخه کومه یادونه شوې نه ده.

۱ لسترنج، جغرافیاي تاریخي خلافت شرقي، ۴۶۵ مخ

وايي يو وخت په بدخشان کې يوه سخته زلزله وشوه او تول غرونه ونړېدل دا وه چې يو کان را ښکاره شو چې په لومړي سر کې سور ؤ، بيا ژيړ، شين او بنفش، ۸۶ مخ.

همدا راز په هفت اقليم کې د (احمد رازي تاليف، ۱۰۱۰ هجري) په ۹۶ مخ کې راغلي دي: بدخشان به کسرت مراتع و وفور مراسيع و زيادی انهار و بسياری اشجار و اثمار خجلت کشمير و غيرت قندهار است.

و اهل ديار اکثراً الوس و احشام اند و بناً به لطافت آب و هوا و کثرت سبزه و چلکا هميشه در صحرا به سر می برند و اسپان قوی، قوايم فراخ، کفل ميان لاغر (سرين ميان لاغر) در ميان ايشان بسيار است اگرچه معادن بسيار در آن ديار باشد، اما آنچه توان ذکر کرد کان لعل و لاجور است. ۱

ښاغلي صدقي وايي چې اوسنی بدخشان چې د لان شي په نوم هم ياديده د تاهيتا پايتخت چې د چين په امپراطور سفيرد يوچيانو سره هغه په ۱۲۸ قمري ميلادي کې ليدلي ؤ، او د هغه موقعيت په اوسني بدخشان کې بولي.

د بدخشان د قيمتي ډبرو کانونه:

لکه په مخکيني بحث د مؤرخانو او جغرافيه ليکونکو په يادونو کې ليدل کيږي بدخشان د معدنونو له بابته يوه ډېره بډايه او سرشاره سيمه ده، د لعلونو، لاجورود او نقرې (سيم، سپين زرو) لوی تجارتي مرکز ؤ، او دا قيمتي معدنونه د بدخشان په لاندنيو سيمو کې موجود وو.

- سره زر: په ديشو، راغ او د کوکچې په سين کې.
- لاجور: په کران منجان کې.
- اوسپنه: د فيض آباد د شمال ختيز په ۱۴ ميلې او تورو سيمو کې.
- کاولين (د لوښو خته) په اشکاشم کې.
- گوگرد: په زيباك کې. ۲

د پخوانی طخارستان ښارونه:

د بدخشان ښارونو او مهم محلاتو په لاندې ډول دي:

- جرم
- ولواليز
- فيض آباد
- شهر بزرگ

۱ جغرافياي تاريخي افغانستان، ۲۰۴، ۲۰۷ مخونه

۲ پښتو آريانا دايره المعارف، ۴ ټ، ۳۷۲ مخ

- اشکاشم
- راغ
- کشم ۱

د فیض آباد ښار د بدخشان د مرکز په حیث:

د فیض اباد نوم دومره تاریخي سابقه نه لري ځکه چې دا د دې ښار د راوروسته وختونو نوي نوم دي د فیض آباد پخواني نوم (جوزګون) یا (جوزون) د غوزانو درې په نوم یادیده او اوس ورته فیض آباد وایي دا چې د جوزګون د دري نوم څنګه او څه وخت په فیض آباد واوښت حقیقت دا دي چې په پخوانیو زمانو کې د بدخشان ولایت (فیض آباد) کې د جوز (غوزانو) ونې ډېرې وې نو ځکه دا سیمه جوزګون یا جوزون دره بلل کېدله چې معنا یې د چار مغزو دره ده.

په ۱۰۱۹ هجري قمري د بدخشان مرکزیت چې په خنجان کې ؤ فیض آباد ته را انتقال شو بیا هم تر دې وخته پورې دا ځای د جوزون په نامه یادیده، تر دې چې د حضرت محمد (ص) د مبارکې خرقې چې (ویس قرن) ته ورکړ شوي وه او سلسلتاً بیا بلخ ته ورسول شوه نو له هغه ځایه د محمد شیخ ضیا او شیخ نیاز په واسطه جوزون ته راوړل شوه، دا وه چې د هغې خرقې شریفې په احترام یې د جوزون نوم د تبارك په ډول په فیض آباد واړوو.

وروسته بیا د احمد شاه بابا په امر ۱۱۸۲ هجري قمري دغه مبارکه خرقه له فیض آباد څخه کندهار ته راوړل شوه. ۲

په تاریخي اسنادو کې د جوزګون جغرافیاي موقعیت داسې ښودل شوي دي:

جوزګون د ختیز طول البلد په ۷۰ درجو، ۳۲ دقیقو او ۲۴ ثانیو او شمالي عرض ابلد په ۳۷ درجو ۶ دقیقو تر منځ پروت دي.

په یو بل روایت کې د جوزګون په اړوند داسې معلومات وړاندې شوي دي جوزګون په تخارستان کې یو ښار دي چې د جوزون د رود په غاړه پروت دي او د ختیز خواته یې د کوکچه سین موقعیت لري او د بدخشان د اعلی حکومت مرکز دي دا ښار دومره تاریخي سابقه نه لري ځکه چې په ۱۱۰۳ هجري قمري کې د بدخشان د میریار بیګ خان له خوا بنا شوي دي او پخوا یې یوازې د جوزون یا جوزګون د هماغه رود په نوم شهرت درلود.

څرنګه چې په پورتنۍ نیته خرقه مبارکه د میریار بیګ په واسطه دې ځای ته راوړل شوه نو په دې مناسبت په فیض آباد ونومول شو.

---

۱ جغرافیاي تاریخي افغانستان، ۳۴ مخ

۲ پښتو آریانا دایره المعارف، ۷ ټ، ۶۸۶ مخ

دلته په دې تکي يو څه تامل په کار دي چې په مخکيني قول جوزګون ته د خرقې مبارکې راوړونکي محمد شيخ ضيا او شيخ نياز معرفي شوي وو.

احتمال لري چې نومړو دوو شيخانو د ميريار بيګ په امر مبارکه خرقه دې ځاى ته راوړې وي نو ځکه يې په دې ډله کې دې هم معرفي شوي دي.

د فيض آباد ښار د شاه امان الله تر دورې پورې د بدخشان مرکز ؤ او د جرم، رستاق، زيباك، شغنان، واخان، راغ، شهر بزرګ، يفتل، کشم او دا هم يې د مربوطاتو څخه وو.

پخپله فيض آباد ۵۸ کورونه او د هغه په نورو ۷ کليو کې ۴۱۸ کورونه موجود وو

د فيض د ښار بازار درې زره دکانونه درلودل، په دې ښار کې درې جامع يو سراجيه سرکاري رباط، درې کاروانسرايونه، پنځه مدرسې او دوه سرکاري باغون موجود وو. ۱

د تاريخي پيښو په ترڅ کې په ۱۸۲۰ ميلادي مراد بيګ قندوزي دا ښار وران کړ او وګړي ورته کندوز ته را انتقال کړل مګر د امير عبدالرحمن خان په وخت کې بيا له سره آباد شو او ور پسې وروسته د سوداګرۍ د ېر مهم ځاى وګرزيد.

دا سيمه زرخيزې ځمکې، پراخ او زښته زيات باغونه لري.

د بدخشان ولايت اصلي مرکز د «بدخشان» په همدې نوم موجود ؤ، خو په تاريخ کې نور معلومات نه دي ورکړ شوي او داسې ښکاري چې د بدخشان په نوم د پخواني ښار محل په همدې فيض آباد کې ؤ. ۲

د ولوالج (رستاق) ښار:

رستاق چې د «رستا» له کلمې راوتلي او د کلي په معنا دي د بدخشان يو لرغوني ښار دي چې پخواني نوم يې «ورواليز»، «ورواليج»، «وليواليج» او «ولواج» دي. د خلم ختيز ته د دوو ورځو د لارې په فاصله موقعيت لري.

ابن حوقل او نورو مؤخذونو د «د ورواليز» څخه په څلورمه هجري پيړۍ کې د يو ښار په نوم يادونه کړې ده اوس په دغه سيمه کې په دې نوم کوم ښار نشته دي خو څه رنګه چې په سفرنامو کې د هغه موقعيت ښودل شوي دي نو په دغه مقام ولواج او يا اوسنى رستاق موجود دي. ۳

او داسې ښکاريږي چې د رستاق د ښار پخوا په پورتنيو نومونو يادېده.

د راوروسته وختونو په آثارو کې د اوسني رستاق په متعلق داسې ليکل شوي دي:

رستاق تخار ولايت يو غرنى حکومت دي چې څلورو خواوو ته يې لوړ لوړ غرونه پراته دي او مشهور

۱ رهنماى قطغن و بدخشان ۷۴، ۱۷۷ مخ
۲ آريانا مجله، ۹ ګڼه، ۱۳۲۳، ۲۷ مخ
۳ شهرهاي آريانا ۹۷ مخ او آريانا مجله، ۱۰ ګڼه، ۱۳۲۳ شمسي، ۲۹ مخ

غر يې د خواجه سرخ د غره په نامه ياديږي، رستاق د سمندر له سطحې څخه ۱۴۶۸ متره لوړ دي او په دوبی کې يې د تودوښې درجه د فارن هيټ ۹۵ درجو ته رسيږي.

د کوکچې مهم او مشهور سين په دې سيمه کې بهيږي، د دې سين سرچينه د بدخشان په جرم کې ده او وروسته په امو ورګډيږي، په رستاق کې زياتې چيني شته دي او پوره ګټه ترې اخيستل کيږي. ۱

په يو بل روايت کې ولواج چې د بحر له سطحې څخه ۴۷۷۰ فټه جګ دي ښار يې ۳۰۰۰ دکانونه لري د کسبګرۍ عمومي ګذرونه او بيا هر يو يې ځانګړي ګذرونه لري چې شمېر يې ۳۶۶ ته رسيږي.

رستاق درې کاروانسرايونه، ۳۰ جامع او ځلور مدرسې لري، په ۸۴ کليو کې يې ۴۰۲۵ يا ۳۹۲۹ کورونه موجود دي.

د ولواج تودوښه زياته او وګړي يې سپين ځېره دي او زياتره سوداګري يې د بخارا سره ده د پيښور او چترال سره هم تجارتي لارې لري. ۲

چاه آب:

د رستاق له مربوطاتو څخه يو محل دي ۳۱ کلي او ګذرونه لري او ۱۹۵۷ کورونه پکې موجود دي.

ورقت دينګي قلعه څخه ۹ کروه ليرې پروت دي او د بحر له تله ۱۹۲۰ فټه جګ دي. د چنګيزي ناورين د مخه پکې ۶ - ۷ کلي موجود وو چې په دغه پيښنو کې بيخي وران شول او يوازې ينګي قلعه ترې پاتې شوه. (همدغه اثر، ۴۰۱ مخ)

کاکا:

کاکا د رستاق د مربوطاتو څخه دي د ورقت نه ۹ کروه فاصله لري له بحره ۱۹۰۰ فټه لوړ دي او د کوکچې رود هم ترې دغومره لېرې بهيږي.

د ينګي قلعه ښار:

تر اسلامي دورې د مخه ينګي قلعه د (نومي) په نوم شهرت درلود او د يو لوی افغاني ولايت مرکز و.

د دې ولايت والي د آمو د سين د دواړو غاړو په سيمو حکومت کاوه.

د دوشنې، ختلان او نورو سيمې د دې ولايت پورې تړاو درلود.

د اسلام په لومړيو کې دا ځای د احنف بن قيس په واسطه فتح شو او د احنف د قلعه په نوم مسمی شو، د مغلي او ترکانو د تسلط په مؤقتي دوره کې دا ځای د (ينګي قلعه) په نوم ياد شو او تر ننه پورې په دې نوم ياديږي.

---

۱ پښتو آريانا دايره المعارف، ۶ ټ، ۱۳، ۷۱ مخ
۲ رهنمای قطغن و بدخشان، ۳۸۲ - ۳۸۱ مخ

ينګي قلعه د چاه آب د سيمې په لويديز کې او د فرخار د سيمې په جنوب کې د آمو دريا په جنوبي غاړه کې د يو کوچني کلي په شکل موقعيت لري، مګر په تاريخي دورو کې له فرخاره تر کوکچې پورې د ۴۲ ميلو په اوږدوالي او ۹ ميلو په پسور پرته ده او د آمو درياب يې له منځه تيريږي.

ينګي قلعه د طخارستان د ډېرو په زړه پورې او بديعو ښارونو څخه يو ښار دی. ۱

د رهنمای قطغن د بدخشان د ليکنې له مخې ينګي قلعه چې له چاه آب څخه ۶۱ (کروه ۳۲ کيلو متره) لري موقعيت لري له بحره ۲۱۷۰ فته جګ او په ۲۰ قشلاقونو کې ۱۶۳۰ کورنۍ لري. (۳۹۸ مخ)

جرم او د هغه تګابونه:

جرم د فيض آباد د ښار څخه ۱۵ کروه لېرې پروت دي او له بحره ۵۶۵۰ فته جګوالي لري د «دان خاش» له ښاره ۶ کروه لېرې دي او د کوکچې سين يې له منځه تيريږي د خلکو عمومي کسب يې د کوکچې په سين کې د زرو چڼول دي.

د کوکچې سين د بهارك لاندې د يو پراخ دښت په وروستنۍ برخه کې د وردوج د سين سره ورګډيږي او د فيض آباد ښار ته بهيږي او مخ په انجمن او منجان ځي.

جرم چې د بدخشان په ولايت کې اوس هم يو آباد ښار دي.

يعقوبي د نهمې پيړۍ جغرافيه ليکونکي هغه د ختيزو او روستينو ښارونو څخه بولي چې د بلخ يوه برخه او د تبت د مملکت د لارې په سر پروت ؤ، شهرهاي آريانا دا قول تاييد کړي دي. ۲

د جرم تګابونه:

۱- د يمګان تګاب:

د جرم د سيمې دواړه خواوې او تر هغه ښکته د کران تر تنګي پورې يمګان بلل کيږي د آريانا مجلې په يوه لومړنۍ ګڼه کې د يمګان په متعلق داسي معلومات ورکول شوي دي:

يمګان يوه سيمه ده د بدخشان په جنوب کې چې څلور خواوې يې په دې ډول دي:

- د شمال خواته، فيض اباد.
- جنوب خواته: نورستان.
- د ختيز يوه برخه په چترال او «دوراه» په مشهور غر او څه برخه يې د زيباك په سيمه او يوه برخه يې د وردوج او بله برخه يې د «پرردېو» او سرغلام په سيمو.
- له لويديزه: په خاشن، ځيني برخه يې په اشکان، يوه حصه يې د کشم په پولو څه برخه يې په فرخار

۱ آريانا مجله، ۱۰ ګڼه، ۱۳۲۳، ۳۱ مخ

۲ آريانا مجله، ۶ ګڼه، ۱۳۲۳، ۴۲ مخ

او اورسیچ او یوه حصه یې په پنجشیر ترلې ده.

د یمگان اوږدوالي له شماله تر جنوبه ۷ منزله او پسور یې له ختیزه لویدیز ته په ځینو برخو کې د یوې ورځې لار په فاصله او په لیریو برخو کې د ۲ - ۳ ورځو د منزل په اندازه دي.

که چیرته څوك وغواړي د دې سیمې په اوږدو کې داسې مزل وکړي چې هره ورځ ۱۶ میله مزل وکړي نو باید چې ۷ ورځې مسافرت وکړي کوم منزلونه چې په دې لار کې پراته دي د مزار او خواجه ابدال څخه عبارت دي منتها دا منزلونه د دې سیمې په شمال کې پراته دي جنوب خواته لومړي جرم بیا اشکان دریم حضرت سید، یعنې د حضرت حکیم ناصر خسرو علوي مزار، څلورم د لاجوردو د معدن، پنځم اسکازر یعنې د کران د سیمې مرکز. شپږم شهران چې د منجان په سیمه کې پروت دي، اوم د منجان هغه سرحد چې د یمگان د درې او نورستان تر منځه حد فاصل تشکیلوي.

دا ټولې درې په تاریخي مفهوم سره د یمگان په نوم یادیږي او د دې سیمې وگړو ته یمگي یا یمگاني ویل کیږي، دا ناحیه د (یمگ) په معنا افاده کیږي

اوس د یمگان دره په هغه ځای اطلاقیږي چې د بدخشان د خرم د حکوم مرکز ترې پیل کیږي د لاجوردو د معدن په نقطه یعنې د رباط په کلي پای ته رسیږي په دې معنا چې اوسني یمگان له شمال څخه جنوب ته د څلور ورځنۍ لارې په پراختیا دې مگر طبیعي او تاریخي حدود یې یمگان دي. ۱

شهرهاي آريانا کتاب په ۱۰۲ مخ کې لیکلي دي چې یمگان د بدخشان په ایالت کې یو ښار ؤ چې د هغه په خوا کې د سپینو زرو، بلخش یاقوت او بالاس معدنونه موجود وو

۲- د جرم وردوج تگاب:

د وردوج تگاب د جرم له ملحقاتو څخه یوه شرقاً او غرباً غزیدلي دره ده چې رود یې له زیباکه راوځي او د بهارك په لاندنۍ برخه کې د کوکچې پر سین ورگډیږي، بهارك ته نږدې تر زیباك پورې یې اوږدوالي ۲۸ کروه دي لکه چې د بهارك د سراجیه رباط څخه د چاکران د سراجیه رباط پورې دو رودوج تگاب ۸ کروه لیرې پروت دي او له هغه ځایه د سفیدي درې تر رباط پورې هم ۸ کروه مسافه ده.

د دې پسور په ځینو ځایونو کې نیم کروه ۱۰۰ متره او په ځینو برخو کې تر دې کمتر دې. پخپله وردوج دوه رباط لري یو یې د چاکران رباط دي چې د بحر څخه ۶۱۰۰ متره لوړ دي او بل یې د سفید درې رباط دي چې ۷۷۰۰ فته جگوالي لري.

د وردوج د درې په ۳۲ کلیو کې ۵۴۴ کورونه شته چې د نفوسو شمیر یې ۴۰۰ تنو ته رسیږي. ۲

---

۱ د شاه عبدالله بدخشي لیکنه، آریانا مجله، ۱ گڼه، ۱۳۲۳، ۴۵ مخ

۲ رهنمای قطغن و بدخشان ۲۲۰ مخ

۳- د بهارك او زردیو تګاب:

د جرم د درې دریم تګاب د زردیو تګاب دی چې د بهارك ټوله آبادي د دې تګاب په واسطه ده، د دې درې مرکز د بهارك قشلاقونه تشکیلوي چې په وروستۍ برخه کې یې زردیو موقعیت لري.

د زردیو تګاب شمالاً او جنوباً غزیدلی دی.

څرنګه چې زموږ په هېواد کې دوه نور تګابونه لکه د کاپیسا تګاب او شیرین تګاب هم شته او نور زیات شمېر تګابونه شته او که په لنډه توګه یې د معنا څېړنه وشي، نو تګاب، تګاب دي چې معنا یې تك آب، یك آب، باریك آب، د اوبو لاندې په پښتو نرۍ اوبه او یا د هغې درې مفهوم هم افاده کوي چې اوبه یا رود په کې بهیږي.

بهارستان (بهارك) ښار:

بهارستان د جرم یو مشهور ځای دی، د سمندر له سطحې څخه ۵۵۰۰ فټه لوړوالی لري د زردیو د میوجوج څخه ۴ کروه لېرې په یو لوړ او هوا دار محل باندې پروت دی بهارستان ته چې د اسم تصغیر له مخې بهارك هم وایي، د ده او د زردیو او سرغلان قشلاقونه په مجموع کې ۲۴ ته رسیږي چې ۶۳۶ کورونه پکې پراته دي او د نفوسو شمېر یې څلور زره تنه دی.

په یو بل اثر کې د بهارك په تړاو داسې لیکل شوي دي.

د بهارك لومړنی نوم بهارستان دی او زیبق هم ورته وایي او دا د تخارستان د تاریخي ښارونو له جملې څخه یو ښار دی. بارستان د کوشانیانو د پاچهي په دوره کې د (لان-شي) په نوم یادیده وروسته یې په تاریخي آثارو کې د بهارستان نوم واخیست او اوس په بهارك شهرت لري. دې ښار ته د بهارستان نوم په اغلب ګومان سره په اسلامي دوره کې ورکړ شوی دی او بیا کله چې د مغلو له خوا دا ښار وران شو او زیاتې خرابۍ یې ورته واړولې نو یې د تصغیر د نوم په توګه په بهارك ونومول شو.

د بهارستان ښار د بدخشان د فیض آباد د جنوب ختیز په ۳۸ میلي کې پروت دی د چین او ترکستان لویه کاروانی لار د دې ښار له منځه تیریږي، د وردوج، زردیو او کوکچې رودونه هم د دې ښار په منځ کې جریان لري. ۱

راغ:

د بدخشان د مهمو محلاتو څخه یو هم راغ دی چې د ختیز طول البلد د ۷۰ درجو، ۷ دقیقو، ۲۸ ثانیو، ۴۸ دقیقو او ۶ ثانیو په خط او د شمالي عرض ابلد په ۳۷ درجو، ۷۶ دقیقو، ۳۷ درجو، ۳۹ دقیقو او ۱۲ ثانیو په منځ کې د فیض آباد لمر لویدیز ته د ۲۷ کیلو مترو په مسافه پروت دی چې:

---

۱ آریانا مجله، ۶ ګڼه، ۱۳۲۳، ۳۹ مخ

- لمر خاته يې: د شبده دښت.
- جنوب لويديز ته: شهر بزرګ سيمه.
- شمال ته: د (يش) يا (ايش) دښته.

راغ ۱۲ کلي او په اټکلي ډول ۸۰۰۰ کورونه لري په ژمي سوړ او په اوړي نسبتاً تود دي د راغ مشهور رودونه له درخال، سياب او درونج څخه عبارت دي چې سرچينې يې د راغ په غرونو کې دي او د دې سمې د خړوبولو وروسته د پنج سين ته توئيږي.

د ثور نه تر سرطان مياشتې پورې يې اوبه زياتې وې بيا وروسته کميږي.

مشهور غرونه يې خواجه غلام غر، مزار جانان غر، مزار بزکش غر او د حضرت سلطان غر دي. ۱

راغ په ۴۸ قشلاقونو کې ۱۸۴۷ کورونه لري او نفوس يې ۱۵ زرو تنو ته رسيږي. ۲

هلاورد (شهر بزرګ):

شهر بزرګ لکه چې د نوم څخه يې څرګنديږي د بدخشان يو لوی ښار دي چې د فيض آباد څخه ۲۰ کروه لرې موقعيت لري پخپله دا ښار يو سراجيه رباط او د هغې لار په اوږدو کې چې فيض آباد ته تللې ده کوم رباط نه لري، په ۵۵ قشلاقو کې ۳۲۲۲ کورونه لري. ۲

د آريانا مجلې د لسمې ګڼې په ۲۹ مخ کې بيا د شهر بزرګ په متعلق داسې ليکل شوي دي:

د شهر بزرګ پخواني نوم هلاورد دي. دا ښار د واخان په ايالت کې دخش آب د رود په غاړه پروت دي.

د مقدسي په قول دا ښار د ايالت د پايتخت هلبوك څخه ښکلي ؤ.

د اشکاشم ښار:

اشکاشم د بدخشان يو ښار دي چې د سمندر له تل څخه ۹۴۵۰ فته جګ او د زيباك څخه ۷ کروه لرې او امويه (دريای پنج) په غاړه پروت دي ښي خواته يې د واخان دره ده او کيڼې خواته يې د غاران او شغنان درې پرتې دي. يو سراجيه رباط او يوه عسکري چونۍ لري.

اشکاشم د تاجکستان سره همسرحده په ۱۲ قشلاقونو کې ۶۵ کورونه لري. ۳

پښتو آريانا دايره المعارف د اشکاشم په باب داسې معلومات ورکوي:

اشکاشم د واخان د سيمې د کميساری مرکز دي د آب پنجه (پنج آب، امويه) په سهيلي غاړه کې د سمندر له تله ۲۵۹۱ متره لوړ پروت دي.

---

۱ پښتو آريانا دايره المعارف، ۶ ټ، ۳۸ مخ
۲ رهنمای قطغن و بدخشان، ۳۷۶ مخ
۳ رهنمای قطغن و بدخشان، ۲۶۲ مخ

د مشرقي طول البلد ۷۱ درجو، ۳۶ دقيقو او ۳ ثانيو او شمالي عرض البلد په ۳۶ درجو، ۴۰ دقيقو او ۵۰ ثانيو د خطونو په منځ کې واقع دي د آمو سين (امويه سين) دلته له يوې تنګې درې څخه تير شوي او د شمال ختيز په لور کږېږي. د اشکاشم تنګه علاقه چې د هندوکش په شمالي لمن کې پرته ده يوه غرنۍ سيمه ده، لوړې او ژورې لري، د هندوکش لوړې او يخچالي سيمې چې ځينې يې ۷۰۷۷ مترو څخه زيات جګوالي لري د خپلو هيبتناکو منظرو سره له جنوب څخه معلومېږي.

د نوشق يخچاله څوکه په جنوب ختيز کې واقع ده او ۷۴۸۶ متره لوړه او له دغې يخچالي سيمې څخه څو تندي شيلي راوتلي دي او د امو سين په لور بهيږي.

د اشکاشم کلا هم يو د دغو شيلو (رودګيو) لويديز پلوته پرته ده اشکاشم د زيباک له مرکزه چې شمال ختيز خواته پروت دي ۳۱ کيلو متره فاصله لري اشکاشمي ژبه د اريايي ژبې د ښاخونو څخه يوه څانګه ده او تر اوسه پورې اشکاشميانو ساتلي ده. زيباک او شغنان د اشکاشم پورې مربوط دي. ۱

زيباک:

زيباک د جغرافيايي شکل له مخې يوه دره ده چې شمالاً او جنوباً پرته ده، د سمندر له تل څخه ۹۲۵۰ فته لوړه ده او له (تيرګران) څخه ۱۱ کروه لېرې موقعيت لري پخپله زيباک په ۸ کليو کې ۱۳۹ کورونه لري. او جنوبي زيباک بيا په ۱۲ کليو کې د ۲۸۲ کورونو درلودونکي دي.

د زيباک دره ۱۵ کوتلونه لري. ۲

زيباک د بدخشان مربوط د افغانستان په شمال ختيزه برخه کې پروت دي د ختيز طول البلد ۷۱ درجو، ۵ دقيقو، ۴۸ ثانيو او شمالي عرض البلد ۳۶ درجو، ۱۴ دقيقو او ۲۴ ثانيو پر خط واقع دي.

زيباک له فيض آباد څخه د آس په سپرلۍ ۱۸ ساعته فاصله لري د سنګليج کلي د زيباک د سر خط کلي تر آخره پورې او چترال ته مخامخ د ژاندرمي تانۍ په محل واقع دي دلته سرحداري او د ګمرک ماموريت هم شته دي.

په زيباک کې د ګوګردو او موم لايي کان موجود دي، دلته ميوه لرونکي ونې د سرو او سختو بادونو له کبله چې کانې په هوا الوزي وده نه کوي.

زيباک چې د فيض آباد څخه ۱۲۰ کيلو متره لېرې دي له سمندره ۲۶۹۴ متره لوړ دي هوا يې زښته زياته سړه، د ورځې له ۱۲ بجو څخه د شپې تر ۱۲ بجو پورې پکې سخته سيلۍ چليږي له زيباکه چترال ته هم لارې تللي دي.

د دې سيمې ښځې د ګډيو ورۍ په باندې ريشې او نارينه څکمنونه، جرابې او نور شيان اوبي، د

---

۱ پښتو آريانا دايره المعارف، ۳ ټ، ۱۳۳۷، ۲۵۱ – ۲۵۲ مخونه

۲ رهنماي قطغن و بدخشان، ۲۴۵، ۲۴۸ – ۲۵۵ مخونه

غوېي او غرڅه له پوستکې نه چموس او سوګلي جوړوي (يو ډول پاپوشي) د غرونو خلك د خام پوستکې څخه جوړوي.

کورونه يې له تيږو او شګني ختې څخه دي. ١

کشم:

په منځنيو پيړيو کې کله چې د ګوډ تيمور د چپاوونو ختځ نو دا مهال د بدخشان د ايالت پايتخت کشم ؤ.

ښاغلي محمد عثمان صدقي د آريانا مجلې پورتنی قول تاييدوي او ليکي کشم د بدخشان د ايالت په توګه د کلفګان ختيز لورته د يوولس کروه په مسافه لېرې د بحر له سطحې څخه د ۴۲۸۰ په لوړوالي پروت دي.

کشم د ختيز طول البلد د ۶۹ درجو ۷ دقيقو او ۳۶ - ۴۱ دقيقو او ۲۴ - ۵۶ ثانيو او شمالي عرض البلد د ۳۱ درجو، ۲۹ - ۵۵ دقيقو او ۳۸ ثانيو په منځ کې موقعيت لري. غرنی سيمې او خاورينې غونډۍ لري. په ۱۸ کليو د ۱۷۹۸ په شاوخوا کې کورونه شته. ٢

کران او منجان:

دا د بدخشان د ايالت يو دولتي واحد دي چې د شرقي طول البلد په ۷۱ درجو، ۷ دقيقو، ۳۹ ثانيو او شمالي عرض البلد ۳۶ درجو، ۲۵ دقيقو او ۸ ثانيو پر خطونو پروت دي.

دا سيمه ټوله غرنۍ ده او ختيز خواته يې د بنو، نورستان او چترال غرونه او زيباك.

لمر لويديز ته: پروان او د فرخان يوه برخه.

جنوب ته: د نورستان سيمې.

په ژمي کې يې هغه دېره سړه ده، په غرونو يې هميشه واورې پرتې وې نو ځکه پکې هر ډول واښه نه شنه کيږي.

کران او منجان ۶ کلي او ۲۰۶ کورونه لري. (پورتنی آثار ۲۳۶مخ، ۸۱۲ مخ)

هېوان تسانګ منجان د (منګ کين) په نوم ياد کړي دي.

د منجان د کلمې تاريخي ريښه:

منجان چې په تاريخ کې د منجوان په شکل هم ثبت شوي دي د افغانستان پخواني تاريخ د سوما د مبحث په يوه برخه کې ليکلي دي.

١ پښتو آريانا دايره المعارف، ۲۰۷ - ۲۰۸ مخونه

٢ رهنمای قطغن د بدخشان ۱۹۲۰ مخ. آريانا دايره المعارف. ۱۲۳ مخ

... د سوماګیاه (موجاوات) په غره یا که ځرګنده وواېو د (منجوان) په غره کې شنه کېدله هغو ځیړونکو چې د افغانستان د جغرافیایي وضعیت او نومونو څخه پوره معلومات نه لري، سره د دې چې د (میجوان) نوم په ځرګند ډول یاد شوي دي اشتباه کړې او د هغه محل یې د افغانستان او پنجاب په ځینو نورو ځایونو کې ټاکلي دي، حال دا چې د دغه غره نوم یې له کوم کلي تفسیر نه په هماغه خپل پخواني شکل تر نن ورځې پورې پاتې دي او د منجان غر دی چې په دغه نامه یو غابنې هم مشهور شوي دي او د نورستان او د بدخشان د سیمو تر منځ د تګ او راتګ لار ده.

د منجان او منجوان تر منځ یوازې یو (و) فرق دی او په هغو ټولو مثالونو سره چې په لاس کې دي (و) او (الف) هر کله چې دواړه د علت توري دي په صوتي تلفظ کې (و) حذف شوي او منجوان په منجان اوښتلي دي. په دې کې هیڅ شك او شبه نشته دي چې د ویدې سرودونو منجوان همدغه او سني منجان دي چې د هندوکش د جنوب ختیز کوهستانونو یو ښاخ پکې راغلي دي.

په دې سربېره په (عتروید) کې یو قوم د منجووات په نامه هم یاده شوي چې A.Macdonelle په عقیده هغه قبیله ده چې موجاوات یا منجوان دغره په خوا کې یې ژوند کاوه او د ګندهاري د قبیلې سره یو ځای او ګاونډه وه. ۱

آی خانم (ماه بانو) ښار:

ای خانم په بدخشان کې زموږ د هېواد یو لرغوني تاریخي، پوځي، مذهبي، اداري او کلتوري ښار دي چې د باختر په ختیزه څنډه کې په کومه مهمه نقطه کې چې د آمو سین او د کوکچې سین سره یو ځای کیږي پروت دي.

د آی خانم په خوا کې د ګریکو باختر د پاچهي د دورې یو لوی ښار کشف شوي ؤ چې د دې ښار تاریخي نوم معلوم نه دي. دلته دا ایجابوي چې ای خانم د ساختمان مشخصاتو او استحکامي بیلګو په باب رڼا واچول شي.

د تاریخي روایتونو په بنا لکه د یو یوناني مؤرخ په قول د مسیحي پیړۍ د عصر په شاوخوا کې آی خانم یو یوناني ښار ؤ او پردې سربېره له ۱۹۶۱ میلادي وروسته لرغون پیژندونکي هیئت د دغه یوناني ښار په بقایاوو (چې اوس په آی خانم-بانو ترکي لفظ په مفهوم مشهور دي) د دې یوناني باختري مدنیت ډېر شتمن آثار دلته وموندل.

دې ښار لکه چې د مخه وویل شو د دوو سیندونو د تلاقي په حساسه نقطه کې موقعیت درلود دوی مشخصې برخې لري یوې خواته یې لوړه غونډۍ پرته ده چې د جنوب له خوا د کوکچې پر سیند حاکمیت لري او د بلې خوا یې د شلو مترو په لوړوالي یوه بله غونډۍ شته چې د آمو د سین په غاړه پرته ده د دې

۱ د افغانستان پخواني تاریخ، ج۱، کهزاد، ۱۸۵ – ۱۸۵ مخونه

غونډۍ د پاسه دېر لوی استحکامات پراته دي چې د دې ښار بالاحصار دي او يو حصار هم شته چې د برجونو او بارو په شکل دي.

د ښار په منځ کې يوه مرکزي جاده ده چې د شمال څخه د جنوبي دروازې په استقامت ۱۶۰۰ متره اوږدوالي لري، دلته دغه کوڅه هم تر سترګو کيږي د هغه ښار د مدنيت علايم چې دلته موندل شوي دي ښايي د ګريکو باختري د خاص مدنيت په نوم ياديږي چې د مرکزي آسيا د باديه نشينانو د حملې په واسطه له منځه تللې دي.

د دې ښار د معمارۍ سبک په ډېره زياته لوړه درجه دي چې د پخو خښتو او د تيږو د پايو، لويو ودانيو، مرکزي ماڼۍ چې مستطيل شکل غولي لري درلودونکي دي په دې ودانيو کې د شنو، ژيړو او تور رنګ اميزيو ښښې ليدلي کيږي. د ودانۍ هره ضلعه يې ۴۵ سانتي او له ۱۲ – ۱۵ سانتي مترو پورې پيړوالي لري د ښار اوبه د هغې ويالی په واسطه چې د کوتې پاسنی او حتی بالاحصار ته رسيږي د ۲۰ کيلو مترو په اندازه د کوکچې د سين څخه را اخيستل شوي دي.

د آی خانم ښار له دريو برخو څخه متشکل دي:

- بالاحصار
- د حصار ښکتنۍ برخه
- ارګ

د آی خانم د ښار په جنوبي او لويديزه برخه کې د خلکو هستوګنځي، ودانۍ ورزشګاوې او بازارونه دي چې له دې لوبغالو څخه د پهلوانۍ د رب النوع (هرمس) مجسمه تر لاسه شوې ده چې هغه يوناني (تير سباکوس)، (ولد استراستون) د کشفي شوي کتيبې له مخې هرمس او هر کول ته وقف کړې وه.

يوه بله کتيبه چې د دې ښار د خلکو د فکر او فلسفې دېر ښه مظهر کيدای شي هغه د يوه تن يوناني (کي ته اس) د قبر د مستطيل صندوق د کتيبې ليکنه ده چې هغه (کلا ارک) دا اپي (فراديوس) زوی په آی خانم کې د ده په آرامګاه باندې نقر او نصب کړې وه او د هغې ليکنې مفهوم په دې ډول دي:

(په ماشوم توب کې ښه تربيه واخله، په ځوانۍ کې خپلې غوښتنې سرته ورسوه، په پوخ عمر کې راستکار اوسه، په بوډاتوب کې ښه ناصح اوسه او د ژوند په ورستيو ورځو کې پوه شه چې څنګه پرته له افسوس څخه مړ شې. ۱

په تاريخي آثارو کې راغلي دي چې د آی خانم ښار درې برخې درلودلې لکه چې د مخه ترې يادونه وشوه، او دا دي په هرې يوې برخې بحث کيږي.

---

۱ تاريخ مختصر افغانستان ج۱، حبيبي، تاريخ انجمن، مطبعه دولتي، ۱۳۴۶، ۵۶ – ۵۷ مخونه

بالاحصار:

د آی خانم بالاحصار د عمومي وضعيت له مخې مثلث نما شکل درلود او د يوې تپې د پاسه جوړ شوې ؤ چې د اطراف له ځمکې څخه ۵۰ متره لوړ ؤ، يوه فرعي دروازه يې درلوده چې بالاحصار د غونډۍ د شمال ختيزې او آخري برخې ته ايستل شوې وه او له همدې دروازې او عمومي جادې څخه بالاحصار ور پورته کېدله.

ارګ:

د آی خانم قلعه يا ارګ د تپې په ډېره لوړه برخه په جنوب لويديزه زاويه کې په نيم دايروي شکل ساحه کې چې ۴۰۰ متره قطر يې درلود او په ټول ښار او ګاونډۍ جلګې حاکمه وه جوړ شوې ؤ په دې قلعه کې جمنازيوم، بازار او نور تعميرات موجود ؤ.[1]

د آی خانم د بنسټ ايښودلو د مبدا په هکله د مؤرخانو په لاس کې څه نشته دي او دا ښار د کومې نقشې له مخې هم نه دي جوړ شوي، خو نقل دي چې پخوا په دې سيمه کې يوې ښځې د آی خانم په نوم حکومت کړې دي مګر په دې باب ځيني نور روايات په لاندنی ډول دي:

- مقدوني سکندر ۳۲۹ – ۳۲۷ ق. ميلادي د دې ښار مؤسس ګڼل شوې دي. او وايي چې دلته يې دوه کاله استوګنه کړې ده.

- همدا راز لومړي سلو کوس په ۳۰۵ ق. ميلادي په سوريه او بين النهرين کې يوناني پوځونه ځای په ځای کړل، بيا هم د دې ښار مؤسس سکندر ښودل شوې دي.

- بطليموس هم دا ښار د (اوکاسايان سکندر) د (امو سيند سکندريه) په نامه ياده کړې چې د دې ښار موقعيت ډېر ښه د آی خانم سره مقايسه کېدای شي.

- د دې ښار په ودانولو کې سلو کوس او د هغه زوی (انتيو کوس) چې په آسيا کې يې د نيوکي سياست چلاوه هم برخه اخيستې ده.

- هيرودت د سکندر نه راوروسته هغې تاريخي سندونو او موادو د شواهدو له نظره چې په لاس کې يې درلودل ترتيب او تدوين کړی دی چې د آی خانم ښار يې د (اوکسايانا اسکندريه) په نامه ياد کړې دي البته اوکسايانا په لاتينه ژبه اوکسوس د (آمو سين) ياد شوې دي.

- د انګلستان د پوليسو د نامتو او نابغه رمان ليکونکي (تاون) د تاريخي سندونو له مخې يې دا څرګنده کړه چې د سکندر نه وروسته د اغتشاش په کلونو کې ۳۰۵ ق. ميلادي د سلوسيانو تر مستقيم واك لاندې وه. داسې څرګنديږي چې سکندر او لومړي سلو کوس په شخصي ډول د دې ښار په ودانولو

---

[1] آريانا مجله، ۱۱ – ۱۲ ګڼه، ۱۳۴۵، ۶۸۴ مخ

کې برخه نه ده اخيستې او دا ښار د (کيني اس) له خوا ودان شوی دی. ۱

په پورتني سند کې د دې ښار ساختماني کيفيت داسې ښودل شوي دي:

د دې ښار نه يو لوړ او سور ور ديوال راچاپير شوي دي. چې د ديوال جګوالي يې ۱۰ متره او سور يې ۱۱ متره اټکل شوي دي.

دا ښار له دوو برخو څخه تشکيل شوي دي:

۱- اصلي ښار چې مستطيل شکل لري د آمو سين سره د ۸۰ مترو په امتداد چې د ښار له بالاحصار څخه واټن لري موازي پروت دي او د يوې مثلث شکلې غونډۍ پر سر چې د ښار مهمه نقطه ګڼل کېږي ودان شوی دی. د ښار په منځنۍ برخه کې سرکاري دفترونه او لوی عمارتونه چې د ښار حکمرانان او يوناني جنرالان به پکې اوسېدل او له همدې ځايه يې ښار اداره کاوه.

۲- د ښار دوهمه برخه د شخصي کورونو، د ښار عمومي حمام او نورو ودانيو څخه عبارت وه د دې ښار په جوړولو کې له پخو خښتو له اهکي پستو ډبرو، ګچ او عاج او ځينې نورو موادو څخه استفاده شوې ده.

د آی خانم د ښار سرکاری ماڼۍ، بلاکونه او شخصي کورونه د هغې زماني د معمارانو او ختګرانو يو لوی شهکار دی چې په (پرسيپويس) کې د داريوش د ماڼۍ (د جمشيد د تخت) سره مقايسه کېدای شي. او هم د ښار په جوړولو او تنظيمولو کې د قايمې زاويې په اساس مراعات په نظر کې نيول شوي دي چې بيا هم د انسان فکر او ذهن د بين النهرين او هخامنشيانو د لرغونو ماڼيو د جوړولو سبک ته بيايي. (پورتنی اثر، ۱۳ مخ)

د آی خانم کلا چې مستطيل شکل لري يونيم کيلو متر په يوه کيلو متر کې ده هغه کيندنې چې په ۱۹۶۵ ميلادي د فرانسوي لرغون پيژندونکي هيئت له خوا د آی خانم په خرابو کې تر سره شوي داسې نتيجه ترې واخيستل شوه چې د آی خانم خرابو ښار بالاحصار او ښکتنۍ برخه درلودله. دا ځای پخوا د (سيلو سيد) د امپراطوری يو ولايت ؤ او د ميلاد نه د مخه په دريمه پيړۍ کې يو خپلواك دولت ؤ.

تر ميلاده د مخه تر دوهمې پيړۍ پورې د هندوکش په شمال کې د يو يوناني تمدن او يو (هيلينيستيکي) کلتوري نماينده ګۍ کوله او بيا د هغو قبيلو د هجوم له کبله وران شو چې د ماورالنهر څخه يې يرغل راوړ دغه تمدن د ننۍ ترکيې د مرکز اناتولي د سيلوسي او يا پارت د امپراطورۍ د حوزې د تمدن سره نژدې اړيکې لري.

د آی خانم د ښار ساختماني شکل يوناني سبك دي او د يوناني ښار غوندې جوړ شوي دي يعنې داسې يوه حويلي ده چې دروازې لري (پورتي ګيوس) د جوړونې شکل يې مستطيل دي ستنې لرونکي

---

۱ کابل مجله، ۱۳۵۵، ګڼه ۴، ۱۱ - ۱۲ مخونه

دهلیز لري چې د هرې پوره ستنې نه وروسته یوه نیمکله ستنه پکې ودرول شوې وه. دیوال یې په «پرسیپوپولیس» کې د هخامنشیانو د جمشید د تخت په څېر له پخواو اومو خښتو څخه جوړ شوي دي او په تهداب کې یې تیږې کارول شوي دي.

دغه ډول معماري د نژدې ختیز په حوزه او مرکزي آسیا کې هم معموله ده. خو بهست یې د جمشید د تخت نه توپیر لري لکه په یوناني سبك او طرز پکې کار شوي دي.

د کورنتین د مجللو ستنو سرونو د «فینتول» په پاڼو ښکلي شوي دي او د ستنو بیخونه «قاعدې» په دوو ردیفو کې تراش شوي دي. دا پوره او نیمکله ستنې «اکانت» په ګلانو او پاڼو تزئیني شوي دي. «دانتس» د دوو ستنو تر منځه معمارۍ نه پرته نورې برخې زیاتره په کلاسیك طرز جوړ شوي دي په دغو اثارو کې لویې اهکي ډبرې د دوو سرو میخونو او د برنجي اتصالي لولو په واسطه سره نژدې او نښلول شوي دي.

په یوناني سبك په نیسه پارت کې د ډبرو د کار تکمیل چې د دغو کنډوالو معمار دي هم بې ساری ګڼل کیږي.

سنګ کارۍ دغه صنعت د کوشاني عصر په معمارۍ کې چې له هغو څخه وروسته رواج لري هم نه دي لیدل شوي.

د ښار ښکتنۍ برخه په مرکز کې پرته ده چې د یو مهم سیاسي او اداري مرکز د حکمران د ماڼۍ او یا کوم لوی بازار به ؤ. یو لوی پراخ مستطیل ښار ۱۰۰ په ۱۴۰ مترو کې چاپېر ترې د ننوتلو دروازې او کورنتین ستنې راتاوې شوي دي. داسې ښکاري چې دلته یوه لویه دروازه وه چې په دواړو خواوو کې یې کوچنۍ کوچنۍ خونې وې خلك ننوتل او هغه د ګارد د عسکرو د پاره وې. د دغې دروازې داخلي دیوال دوی د کورنتین ستنې درلودلې.

دغه دروازه بیا په منځنۍ برخه کې یو لوی دهلیز ۱۷ – ۲۸ مترو کې خلاصیدله. په دهلیز کې د کورنتین ۱۸ ستنې په دریو قطارونو کې چې هر یوه ۱۶ ستنې دي ویشل شوي دي.

د دغه دهلیز په شا کې یوه لویه خونه شته او د دې خونې شاته یوه بله مستطیله خونه موجوده وه.

د دې دیوالونو د لومړۍ حویلي د جنوبي دروازې په څېر د ډبرو او نیمکله ستنو باندې ودرول شوي دي چې سرونه یې په ګلانو او پاڼو ښکلي کړي شوي وو، چې شنه، سره، تور او ژیړ رنګونه یې درلودل د ښکتنۍ ښار په بالاحصار کې پوره استحکامي عظمت موجود ؤ.

د بالاحصار مستطیـــــل برجونه له اوومو خښتـــو څخه جوړ شوي وو او پراخوالي یې له شلو

مترو زیسـات ؤ. ۱

د ارهنگ ښار (حضرت امام):

د ارهنگ ښار د آمو سین د جنوب د ۹ میلی. په یو پراخ ښاخ کې چې د آمو دریا څخه خروبیږي پروت دي او د طخارستان د ډېرو آبادو، معمورو ښارونو له جملې څخه دي.

همدا راز د ارهنگ ښار د هغو سکندریو له جملې دي چې د مقدوني سکندر له خوا په ۳۳۰ ق. میلادي کې بنا شوه او په طخارستان باندې د اسلام د تسلط په زمانه کې دا ښار د (ارهنگ) په نوم یاد شو او تر هغه وخته دي نوم شهرت درلود چې سلطان حسین مرزا کله چې د حضرت علي کرم الله وجهه روضه په مزار شریف کې جوړه کړه. د امام صاحب د روضې تعمیر یې هم شروع کړ او له هغې نیتې وروسته دا عقیده زیاته مروجه شوه چې حضرت سید الشهدا امام حسین (رض) روضه په دې ځای پرته ده. نو دا وه چې د ارهنگ نوم په حضرت امام صاحب تعویض شو.

نن ورځ د ارهنگ د تاریخي ودانیو پاتې شونې د امام صاحب په جنوب ختیز کې په دشت ارچي کې په یوه پراخ ښاخ کې تر سترگو کیږي. ۲

ښکتنی تخارستان

ضروري سریزه:

څرنگه چې د دې کتاب چاپ شوي وروستنی برخه (طخارستان، تخار) یا د قیمتي کانونو سیمې د معرفي په هکله او بیا په همدې اړوند (طخارستان د موقعیت، د تسمیې، وجې طخارستان د مؤرخانو او لیکوالانو په آثارو کې، د طخارستان سیمې او ښارونه او ور پسې دبرنی تخارستان یعنې بدخشان، دا د نجیبه ډېرو د کانونو او طبیعت د عجایبو وطن په باب مفصل معلومات وړاندې شوي وو چې تکرار یې بې ضرورته دي او دا به کافي وي چې د پورتنیو مفرداتو یادونه د راتلونکي بحث د کړی او پیوند ورکولو پر شکل وگڼل شي دا دې د تخارستان د معرفي په لړ کې ښکتني تخارستان (قطغن) دا د نژدې ختیز مروارید، د معرفی په پیل سره د هېواد د لرغونو ښارونو په باب بحث ته دوم ورکول کیږي.

ښکتنی تخارستان (قطغن) د نژدې ختیز مروارید.

پخوا قطغن د افغانستان له اوو گونو ولایتونو څخه یو ولایت ؤ چې د ختیز طول البلد د ۶۸ – ۶۹ درجو او د شمالي عرض البلد د ۳۵ – ۳۸ درجو په منځ کې د افغانستان په شمال کې پروت دي. د امو

---

۱ کابل کالنی ۱۳۴۵، ۲۵۲ – ۲۶ مخ په حواله د افغانستان استحکامي کلاوې، حصارونه او بالاحصارونه، پوهنوال رازقي نریوال، ۳۰ – ۳۵ مخونه

۲ آریانا مجله، ۸ گڼه، ۱۳۲۳، ۴۵ مخ

سيند او د پامير لوړه سطحه چې د افغانستان او تاجکستان تر منځ بيلوونکي کرښه جوړوي د هغې په وروستنۍ برخه کې موقعيت لري. قطغن پخوا د تخارستان په نوم ياديده او پر دې سربېره د قطغن مرکز د خان آباد ښار و بيا د څو کلونو راهيسې د بغلان ولايت مرکز وګرزيد چې له کابل څخه ۴۴۰ کيلو متره لرې واټن لري او د ډېرې مناسبې او په زړه پورې آب و هوا لرونکي دي. ۱

په پخوانيو زمانو کې قطغن پر ښکتني طخارستان (سفلي) باندې هم شهرت درلود او په لرغونو آثارو کې هم په دې نوم ثبت دي. همدا اوس يې نوم په اصلي شکل (تخار) اړول شوي دي.

په تاريخي آثارو کې د قطغن پرته له پورتنيو شکلونو څخه د قطغن په شکل نه دي ليدل شوي. همدا راز قطغن په ځينو تاريخي اسنادو کې د لومړنۍ تالقان (موجوده تالقان يا تاليکان) په نوم او په ځينو نورو آثارو کې لکه د کابل مجلې د ۱۳۱۱ کال د دوهم کال د څلورمې ګڼې د خواجه حسن سفرنامه هندوکشن ۱۹۳۳ د ډيلي چاپ د اردو ژباړې د لومړي مخ په حواله قطغن د قدغن په شکل هم ضبط شوي دي.

محترم استاد پوهاند اکاډميسين رشاد په دې عقيده دي او وايي: له کومه ځايه چې دا ښار په دې نوم تاريخي سابقه نه لري، له امکان څخه ليرې نه ده چې په دې سيمه کې د ترکانو د فيوډالي تسلط په وخت کې پرې دا نوم ايښودل شوي وي دا ځکه چې دا نوم د ترکي ژبې ريښې لري. ما هڅه وکړه چې د دې نوم د تسميې د وجې په باب مستند معلومات پيدا کړم خو داسې اثر مې تر ګوتو نه کړای شو چې په دې اړوند يې راسره دا مرسته کړې وای. ښکتنی طخارستان (قطغن) د ماکس اليس لين، د هندوکش سفرنامې د عبدالصمد آصفي، د درې ژباړې ۲۷ مخ له مخې قطغن د (قطغن مرواريد شرق نزديک) لقب ورکړ شوي دي.

ښکتني طخارستان دومره زيات تاريخي آثار نه لري، يوازې د هغه په دريو سيمو لکه کندز، قلعه زال او خوست و فرنګ کې يو شمېر لرغوني آثار ليدل شوي دي چې د وخت په تېريدلو هغه هم له منځه تللي دي او د دې تر څنګه د دې سيمو په اړه دومره کيندنې او څېړنې هم تر سره شوې نه دي. د قندز د ښار له پخوانيو ديوالونو څخه جوتيږي چې په لرغونو زمانو کې يې يو ستر مدنيت درلود او د معلوماتو له مخې دا ښار د طخارستان مرکز و چې زياتې حوزې يې درلودلې. ۲

پښتو آريانا دايره المعارف، اووم ټوك په دې باب څه معلومات هم نه دي ورکړي يوازې د هغه ولسوالۍ يې لکه خواجه غار، رستاق، اشکمش، چاه آب، ينګي قلعه، فرخار او علاقدارۍ يې لکه ينګي، چال، درقدو ورسچ او کلفګان يې معرفي کړې دي.

۱ قاموس جغرافيايي افغانستان، ۳ټ، او آريانا دايره المعارف، ۱۳۳۸، ۱۳۵ مخ
۲ قاموس جغرافيايي افغانستان، ج۳، ص ۱۴۴

د ښکتني طخارستان ښارونه او تاريخي مطالب:

د تالقانو ښار:

که څه هم په تاريخي آثارو کې له څو تالقانو څخه يادونې شوې دي لکه زموږ په هېواد کې د جوزجانان (ګوزګانان) تالقان، د بست او طخارستان تالقانونه او د ايران د اصفهان او د عراق تالقان دي، خو دلته د موضوع په اړوند چې په عمومي محاورو کې هم يوازنی شهرت لري هغه د طخارستان تالقان دي او لنډه ليکنه او څېړنه پرې کيږي.

د طخارستان طالقان چې د عربي مؤرخانو له خوا په دې شکل ثبت شوي دي د دې ايالت د کرسی والوالج (رستاق) په دوه منزلی او د بدخشان په درې منزلی کې موقعيت لري.

د طخارستان طالقان د قندوز په ختيز کې د فيض آباد د لارې پر سر پروت دي (تاريخ عباس اقبال، ۱۳۴، ۵۷ مخ په حواله) په يو بل روايت د طالقانو د ښار مؤسس (خوني) يا (خواني) هغه د طالقان – Talakan په شکل ضبط کړي دي. هيوان تسانګ چينايي زاير هغه د اسلام د ظهور په وخت کې د تالاکين – Talaken په شکل قيد کړي دي. ۱

دلته په دې مطلب تامل او سوچ په کار دي چې چيني زاير له کوم طالقان څخه يادونه کړې ده. خو د تاليکان د دې شکل له مخې په زياتره ګمان سره دا تالقان د طخارستان تالقان نه دي، ځکه چې محمد عثمان صدقي د تالقانونو په هکله ليکي:

د تخارستان په ولايت کې له ښارونو څخه يو ښار تاليقان يا تاليکان دي چې په څلورمه هجري پيړۍ کې د دې سيمې له نفوسو څخه يو ډك ښار ګڼل کېده او وايي چې يوه تجارتخانه يې درلوده او په يوه سارا کې چې له غره څخه يې د يو غشي د لګېدلو په اندازه واټن درلود پروت وو. په دغه زمانه کې د دې ښار مساحت د بلخ د ښار يو په دريمه برخه وو، دا سيمه يوه سمسوره او حاصلناکه سيمه ده.

د مستوفي په قول د دې ځای زياتې غلې او ميوې درلودلې د طالقانو ښار يوه پخه کلا هم لرله.

علي يزدي هم په خپل کتاب (ظفرنامه) کې د تيمور د لښکر کشۍ د بهير د بيانولو په ترڅ کې له دې ځايه په تکرار سره يادونه کړې ده او دا ځای يې طالقان ضبط کړی دی.

البته ښايي په پام کې ونيول شي چې طالقان او طاليقان يو نه دي د طالقانو پخوانی ښار د اوسني طالقان له ښاره د شمال خواته يو آباد ښار وو چې آبادی يې د ۳۲ ميلو په اوږدوالي د امو درياب تر غاړو پرتې وې، د تالقان ښار د چنګيز د چپاوونو په ترڅ کې او رواخيست او خلك يې قتل عام شول نن دې ښار خپل اهميت له لاسه ورکړی دی. ۲

۱ آريانا مجله، ۶ مه ګڼه، ۱۳۲۳، ۴۱ مخ

۲ آريانا مجله، ۸ ګڼه، ۱۳۲۳، ۴۲ مخ

له پورتنۍ خبرې څخه دا موضوع راڅرګندیږي چې پخوا د طخارستان طالقان موجود و، چې اوس یې نښه نښانه نه ده پاتې او د چنګیزي ناورین له امله (۶۱۷ هجري) لکه د ګوزګانان طالقان د هغه له مستحکمې کلا سره له منځه تللي دي باید وویل شي چې د ګوزګانان د طالقان کلا په نصرت کوه یادیدله.

د چنګیزي ناورین را وروسته هم د تالقانو کلا جنګي موجوده وه خو بیا د امیر دوست محمد خان په زمانه کې ورانه شوه چې تاریخي روایت یې په لاندینۍ توګه دي. هغه وخت چې د امیر دوست محمد خان د واکمنۍ پر ضد د تخارستان او بدخشان په ولایتونو کې الي ګولې پېښې شولې د قطغن یو فیودال میراتا لق خان (د پوهاند استاد رشاد له خولې اتالق یوه ترکي کلمه ده چې د شهزادګانو د استاد معنا لري) نومېده له دې وضعې څخه استفاده وکړه او د هغه ځای دا له ګوله کوونکو په مشرتوب راپورته شو، امیر دوست محمد خان په ډېر جدیت دا اغتشاشونه په اندراب، غوري او رستاق کې تر ۱۸۸۰ میلادي پورې وځپل او د طالقانو جنګي کلا یې هم له خاورو سره خاورې کړه، البته دا کلا پرته د نصرت کوه له کلا څخه یو بله کلا وه.

په پورتنۍ روایت کې دا سې ښکاري چې ممکن د چنګیزي فتنې راهیسې دا جنګي کلا سالمه پاتې وه او یا بیا وروسته جوړه شوې ده.

په تاریخي منابعو کې د طالقانو په تېره بیا د طخارستان د تالقان په اړوند یادونې شته دي لکه چې اصطخري ۲۷۰ کال، مقدسي ۲۹۹ هجري کال د ګوزګانان د تالقان د ښار په خوا کې یو بل تالقان ته هم په اشارې سره لیکي:

طالقان را ذیل مرو رود ذکر می کند، این طالقان که به فاصله سه مرحله از مرو رود و پاریاب (یعقوبی له فاریاب تر طالقانو پورې څلور مرحلې لیکي) واقع است، نباید به تالقان دګر یکه در تخارستان جا دارد اشتباه شود. ۱

په یو بل روایت چې وایي طالقان د خان آباد له مربوطاتو څخه دي، اواره او پراخه سیمه ده. له طالقانه د ۲ - ۳ کروه په واټن د دې سمې کلي او کورونه پراته دي او پخپله د طالقان ښار ۱۵۰ کورونه لري.

د طالقانو ښار په اټکلي توګه ۳۰ دکانونه لري یو جومات او څلور کاروانسرایونه پکې شته دي.

په عمومي ډول د طالقانو په ۱۳ کلیو کې ۶۰۳ کورونه د طالقان په شمال ختیځه برخه کې په ۲۲ کلیو کې ۱۰۲۷ کورونه د لویدیزې برخې په ۶ کلیو کې ۲۳۰ کورونه په ختیزه برخه کې په ۹ کیلو کې ۶۰۰

۱ حدود العالم، مؤلف ګمنام، ص ۱۷۶ - ۱۷۷

کورونه او د جنوب برخي په ۹ کلیو کې یې ۶۷۰۰ کورونه موجود دي. ۱

د اندراب ښار:

د ښکتنی طخارستان له مهمو او مشهورو ښارونو څخه یو هم د اندرب ښار دي چې د خان آباد له مربوطاتو د خوست او فرنګ له محلاتو څخه شمېرل کیږي.

که د اندراب لغوي معنا وڅیړل شي نو اندر په دري کې داخل او آب د اوبو یا رود معنا ورکوي او په اصطلاح یوه سیمه ده چې د دري شکل لري او رود په کې بهیږي او تقریباً تګاب او نجراب ته ورته مفهوم افاده کوي

اندراب یو تاریخي ښار دي او د نورو ځانګړتیا وو په اړوند په پورتنی اثر کې داسې معلومات ورکړ شوي دي:

اندراب د خان آباد متعلق د سمندر له تله یې لوړوالي ۵۶۲۰ فټه دي او د ۳۶ کروه په واټن د خان آباد له ښاره لیرې موقعیت لري.

اندراب د خاص ستراتیژیکي اهمیت او د طبیعي تدافعي استحکاماتو لرونکي دي لکه چې وایي: به جهت کار از آنقدر کار آمد است که اګر فوج قلیل در آنجا مسکون بشد افواج کثیر را تاب پیشقدمی به آنطرف نخواهد ګذاشت.

اندراب ته نژدې خوست هم یو امن ځای دی چې یو ازې له یوې خوا نه په غیر له نورو سیمو سره لار نه لري او که چېرته لس تنه هلته سنګر ونیسي زر تنه ترې تیریدلی نه شي.

په اندراب کې ۴۱۳۷ کورونه وو، ۱۵۰ تنه وو د بنو د بازار دکانونه یې ۵۰ بابه او په ده صلاح کې ۶۰ دکانونه او دوه سرایونه یې هم درلودل.

په بنو کې د فصاحت په نوم یوه مدرسه، په سنګ بران کې د ریاضت په نوم مدرسه، په ده اصلاح، شاسان او کشن آباد کې یې هم مدرسې موجودې وې اندراب ۱۴ کلي او ۳ سراجیه رباطونه درلودل لکه د نوبهار رباط د دشت شیر او تل میر غازي رباطونه چې دا وروستنی رباط د اندراب یوه مشهوره تپه هم ده چې لوړوالي یې ۶۳۵۰ فټه دي.

د اندراب له طبیعي بدایعو او عجایبو څخه یوه چینه ده چې د سراب په قشلاق کې موجوده ده او به یې ډیرې خوږې او د سماوار د اوبو غوندې په څلورو دقیقو کې د چرګې هګۍ پخوي.

په یوه بل روایت کې د اندراب په هکله داسې معلومات ورکړ شوي دي:

اندراب د دوشي د رود د جنوب ختیز د چیني پر سر پروت دي د اندراب ناوه د وزخاك تر درې پورې په جنوب او شمال کې تر خوست رسیږي.

---

۱ رهنمای قطغن و بدخشان، ۱۰۳ – ۱۰۷ مخونه

د اندراب رود او د هغه مرستيال د دې ناوې دوه رودګي دي.

د اندراب تاريخي اهميت په دې تکي کې پروت دي چې د پولي او اقتصادي مـــوقعيت له مخې د ځو پيړيو په اوږدو کې دلتـه يـو ضرابخانه موجوده وه عباس، ساســـاني او غزنوي واکمنانو په دې ښار کې سکي وهلـــې. ۱

مؤرخانو او جغرافيا پوهانو هم د اندراب په باب ليکنې کړي چې د دې ښار لرغوني توب او اهميت په ډاګه کوي.

مؤرخين د اندراب پخواني نوم دراپسه Drapsa بولي دراپسا او يا (ادرسپا - Adrespa) د باختر له ښارونو څخه يو مهم ښار ؤ او ځينو ورته باميان ويلي دي (البته د مرکزي افغانستان د باميانو په مفهوم نه) او کله چې مقدوني سکندر له هندوکشه (پاروپامسيس) څخه راواوښت او درپسا تـه ورسيد نو دا ښار د باختر په صفحه (ولايت) کې لومړی ښار ؤ. ۲

د حدود العالم مؤلف د اندراب په اړوند ليکلي دي:

اندراب يو ښارګوټي دي د غرونو په منځ کې، د کر کيلي او ډېرو غلو دانو ځای دی، دوه روده لري، هغه سپين زر چې له پنجشير او له جاريانه څخه تر لاسه کيږي دلته يې درهم و هي يعنې سکه کوي يې او پاچهان ورته د سلير ښار وايي.

اصطخري هم د اندراب په اړوند داسې تاييدي ليکنه لري:

اندرابه يو ښار دي د غره په يوه ښاخ کې موقعيت لري، له هغه ځايه چې نقره له جاريانه او پنجشير څخه استخراجيږي هغه ذره (ګرد) کوي دوه رودونه لري. يو د اندراب رود او بل د کاشان رود، باغ او زياتې ونې لري. (۲۱۹ مخ)

په تقويم البلدان کې په دې هکله راغلي دي:

په دارلمشترك کې راغلي دي چې اندراب د غزني او بلخ په منځ کې پروت دي کاروانونه له هغه ځايه کابل ته ځي.

اندراب ته نژدې د پنجشير غر دي چې په هغه کې د سپينو زرو کان دي صاحب اللباب وايي:

بلده کوچکی است نزديك اندراب از نواحی بلخ. ۳

هيوان تسانګ په خپلو يادښتونو کې اندراب داسې معرفي کړي دي، (ان-تا-لو-پو-An-ta-lo-po، يعنې اندراب چې د هماغه وخت د طخارستان د خان نشينو سيمو په جمله کې يې زښته زياته پراختيا

۱ شهرهاي آريانا، ۱۶ مخ

۲ هماغه اثر، ۴۸ - ۴۹ مخونه

۳ جغرافياي تاريخي افغانستان، مير غلام محمد غبار، ۵۳۷ مخ

درلودله لکه چې چاپيريال يې درې زره لي او د مرز چاپيريال يې ۱۴ - ۱۵ لي ليکلي شوي دي.

پورتنی مستند روايتونه په دې دلالت کوي چې اندراب نه يوازې يو مهم، بلکې زموږ د هېواد ډېر لرغوني ښار هم دي.

د خان آباد ښار:

د خان آباد ښار پخوا د قطغن او بدخشان يعنې طخارستان د نايب الحکومګۍ مرکز او د هغه هېواد له مهمو ښارونه څخه و، چې څلور خواوې يې په لاندني ډول ښودل شوي دي:

ختيز ته تالقان، شمال ته حضرت امام، لويديز ته قندوز او تاشقرغان جنوب ته نهرين او اندراب.

خان آباد چې د کندز يوه ولسوالي ده د ختيز طول ابلد ۴۷ - ۶۹درجو ۲۶ - ۵۱ دقيقو ۱۳ - ۱۷ ثانيو او د شمالي عرض ابلد ۳۶ درجو ۲۷ - ۵۱ دقيقو ۲۴ - ۴۲ ثانيو تر منځ يوه سمسوره سيمه او د کندز لمر خاته، ته د ۲۵ کيلومترو په واټن موقعيت لري. د فرخار او خوست رود له دې ځايه تيريږي، د خان آباد ښار د کندز او بدخشان يو ستر تجارتي مرکز ؤ هغه سرك چې له کندز څخه بدخشان ته ورغزيدلي له خان آباده تيريږي. د خان آباد ښار او کابل تر منځ مسافه (۵۱۸) کيلو متره او له تالقانو څخه ۳۲ کيلو متره ده.

او د سمندر له سطحې څخه ۱۲۶۰ متره لوړوالي لري. ۱

خان آباد چې پنځه ګذره لري په هغو کې ۵۵۷ کورونه موجود دي او ۱۷۶ د مختلفو کسبونو دکانونه يې لرل دوه جماعتـه اوه حمامـه او ۱۹ کاروانسرايونه يې لرل د خان آباد د ښار ختيزې خواتـه ۱۱ کلي، شمال ته يې ۹ کلي او لويديزې او جنوبي برخي تـه يې پنځه پنځه کلي پراتـه وو. خان آباد لکه د قطغن غونډې دومره تاريخي سابقه نه لري او دا فارسي نوم دی او که په تحقيقي ډول يې د تسميې وجه وپلټل شي لومړی په کار دي چې د خان آباد د کلمې تاريخي څيړنه وشي. د پورتنی آريانا دايره المعارف په ۷۹۵ مخ کې د خان آباد د کلمې په هکله داسې معلومات ورکړ شوی دی:

خان (ترکي لقب) او د قاغان مخفف دي چې په عربي او فارسي کې ورته خاقان وايي د (قان) او قاغان کلمې د ميلادي اتمې پيړۍ د مخه دواړه په همدغه معنا په کارول کيدلي مګر د خان کلمه د لومړی ځل لپاره په اسلامي دوره کې د هجري څلورمې پيړۍ په وروستيو وختونو کې په هغو مسکوکاتو چې ايلك خانيانو رواج کړل کارول کېده، په تېره بيا په پنځمه پيړۍ کې په دې کورنۍ پورې په اړوندو متنونو او نصوصو کې تر سترګو کيږي.

په مغولي دوره کې د قاغان او قاان کلمې د حاکم اعلی په معنا او خان د امپراطورۍ په ساحه کې د مستقل حاکم په مفهوم پيژندل شوې ده. همدا شان د خان ترکي لفظ لکه د ملك او شاه د عربي او دري کلماتو په شان د سلطان د لقب په مقابل کې د امير د لقب په توګه کارول کېږ. په يو بل اثر کې د خان

۱ د آريانا دايره المعارف، ۵ ټوك، ۱۳۵۴ کال، ۷۹۵ مخ

کلمه په طخارستان کې دوو واکمنو کورنيو ته داسې انتساب ورکړې شوی دی... د ميلادي شپږې پيړۍ د نيمايي په شاوخوا کې د هياطله دولت او د فارس د ساسانيانو په يرغل سقوط وکړ او يا ترکان په طخارستان مسلط شول چې هغه وخت له ۲۷ ولايتونو څخه مشتمل و بار تولد د حبيب السير د ليکوال په قول د هجري ۳۱ کال (د حضرت عثمان (رض) د خلافت دوره، يعني د اسلام تر ظهور پورې د ترکانو په لاس کې و. ۱ او کله چې په لسمه ميلادي پيړۍ کې چې د ازبکانو سلطنت ترقي وکړه او د نورو سيمو تر څنګ يې په تخارستان هم تسلط پيدا کړ او هم له دې جملې د ازبک خان پراخ ملک چې د امو سيند د دواړو غاړو په څو ولايتونو يې حکومت کاوه او د دې خان د حکومت مرکز د قندز ښار و له پورتينيو څرګندونو څخه دا نتيجه اخيستل کيږي چې د خان د کلمې ريښه او په طخارستان کې د تورکان او ازبکانو واکمني دا احتمال قوي کوي چې د خان آباد ښار د دواړو يا د ازبک خان په زمانه کې، يعني د خان نشينو سيمو د ودانيو په جمله کې ودان شوی او د هغه د واکمنيو نيتې هم په پورته ډول ښودل شوي دي. لنډه دا چې پرته د پورتنيو معلوماتو نور داسې اسناد په لاس رانغلل چې په محقق ډول د خان آباد د ښار د تسميې وجه د جوړېدو او نور څرنګوالي ترې ومونډل شي خو محققه ده چې د دې ښار د نامه له مخې دا دخان نشينو يو ښار و.

د وزوالين (اشکمش) ښار:

اشکمش د تالقانو مربوط د ښکتنی طخارستان يو لرغوني ښار دی. چې په تاريخي دورو کې يې د وزوالين په نوم شهرت درلود. د دې ښار موقعيت د ختيز طول البلد ۶۹ درجو ۱۵ دقيقو او ۴۸ ثانيو او شمال عرض ابلد ۳۶ درجو ۱۷ دقيقو او ۷ ثانيو ۳۶ درجو ۳۲ دقيقو او ۶۸ ثانيو کرښو ترمنځ د اشکاشم د سيند پر غاړه څه ناڅه د خان آباد جنوب په ۳۰ کيلو مترۍ کې ښودل شوي دي. د اشکمش سيند د خوست او فرنګ له غرونو سرچينه اخلي او د اشکمش له سيمو څخه تر تېريدلو وروسته د تقريباً ۵ر۵ کيلو متره واټن تر وهلو وروسته لويديز استقامت ته د خان آباد په رود ورګډيږي دا يو سيلابي سيند دي او زياتره وچ وي، اشکمش د تيرو د سکروکان لري. ۲

ښاغلي محمد عثمان صدقي هم د وزوالين د ښار په هکله يو څه تفصيلي معلومات وړاندې کوي او ليکي: اشکمش يو ښار دي چې د تالقان د رود د يو مرستيال رود پر غاړه پروت دي نږدې ۱۵ ميله مربع مساحت لري او د وګړو کسب و کار يې مالداری ده په تاريخي دوره کې دې ښار په وزوالين شهرت درلود يو شمېر اديبان او عالمان له دې سيمې راپورته شوی دی چې د بيلګې په توګه مونس بدخشي مشهور شاعر يادولای شو او حق لري چې اشکمش نه يوازې د طخارستان، بلکې د هېواد يوه علمي او

---

۱ جغرافياي تاريخ افغانستان، ۳۸ مخ

۲ پښتو آريانا دايره المعارف، ۲۵۲ مخ

فرهنګي بډایه سیمه وبلل شي لکه چې مولینا بدخشي د افغانستان د پنځلسمې پیړۍ نامتو شاعر هم د همدې ځای دی.

د وزوالین لرغوني ښار د مغلو د چپاوونو په وخت کې بیخي وران شو او لا تر اوسه پورې دیوې کنډوالي په توګه د هغه نښې نښانې پاتې دي، تر څو چې په ۱۳۱۵ هجري لمریز کال دلته د یو عصري ښار بنسټ کیښودل شو او په اشکمش وبلل شو.

د وزوالین ښار په لرغونو زمانو کې په پاسنی طخارستان پورې تعلق درلود او تر یوې پیړۍ زیاته موده د مخه یې د ښکتنی طخارستان له مربوطاتو وشمېرل شو. مارکوارت اشکمش د لرغوني طخارستان د پایتخت په حیث ګڼلي دي. په چین کې چې کوم ښار ته (کین شیي- Kien-shhi) ویل کېده همدا د اشکمش ښار ؤ. د تالقان رود چې د کولفګان (کلفګان) او د فرخار له رودونو څخه تشکیل شوي دي او د دې رود د کیڼې غاړې یو لوی مرستیال د خوست، چال او اشکمش له رودونو څخه متشکل دي.

د چال سیمه چې اوس اشکمش سره یو ځای شوې ده د مالګې د لوی معدن په لرلو خاص شهرت لري. ۱

<u>د نهرین ښار:</u>

د نهرین ښار د ښکتني طخارستان یو ښار او تاریخي سیمه ده، چال او اشکمش په کې شامل دي نهرین زیات قشلاقونه لري چې د نهرین په د ننه او شاوخوا کې پراته دي. پخپله د نهرین ښار ۱۰۰ کورونه لري.

د نهرین ختیزې سیمې په ۱۰ قشلاقونو کې ۱۲۹۷ کورونه.

- د شمالي سیمې په ۱۸ قشلاقونو کې ۱۱۰۴ کورونه.
- د لویدیزې سیمې په ۳ قشلاقونو کې ۱۱۰ کورونه.
- د جنوب سیمې په ۸ قشلاقونو کې ۵۹۲ کورونه شته دي او د چال او اشکمش په ۸ کلیو کې ۸۲۰ کورونه. ۲

د چال او اشکمش له ښارونو څخه یو ښار یون نومیده دا ښار د خوست چال او اشکمش د رودونو د یو ځای کېدو په ځای کې موقعیت لري چې د دې ښار ستراتیژیکي اهمیت په ګوته کوي.

د چاول ناوه چې د زیاتې مالګې درلودونکی ده خو د خوست یا خست د ناوې اهمیت چې چال ته نژدې ختیز او جنوب ته پروت دي د زیاتو لیارو د لرلو له کبله له هغه سره ننبلي.

د دې ښار استحکام او د هغه د فتحې ناشوني توب د خصوصیت له مخې پوره شهرت درلود د

۱شهرهاي آریانا، ۱۲ مخ

۲ رهنمای قطغن و بدخشان ۳۴۳، ۱۳۵، ۱۳۸ مخونه

تاريخي روايتونو له مخې وايي چې د يون پاچا چې د خوست واکمن هم و او په اسانۍ سره يې کولای شول چې د ناوې په خوله کې د موقعيت له پلوه ورسيږي د يادونې وړ خبره دا ده چې د يون پاچا (تيو الدار) د ختان، ختلان امير هم و او د کوکچې د حوزې سيمې له ختال څخه شمېرل کېدلې دختان ښاخ په بلخ کې هم پاچهي کړې ده. د چال او اشکمش او يون چې د نهرين له سيمو څخه شمېرل کېدلې د ترلاسه شويو مدارکو په استناد پيژندل شوې خو د نهرين په هکله تر دې زيات معلومات تر لاسه نه شول.

خوست (خست) او فرنګ:

(سياه چاه)

خوست او فرنګ د ښکتني طخارستان د اندراب له مربوطاتو څخه دي. د بحر له سطحې يې لوړوالي ۴۸۳۰ يا ۵۴۵۰ فته دي او تر ۲۷ زيات کلي لري.

پخپله خوست په يوه داسې ځای کې موقعيت لري چې څلور خواوې يې غرونو نيولي او پخپله په يوه تيته هواره سيمه کې پروت دي او فرنګ د سمندر له تله ۵۸۵۵ فته جګوالي لري او ځکه د سياه چاه په نوم ياد شوي دي.

شيرخان او خاوش له دې ځايه د ۱۷ کيلو مترو په اوږدوالي لرې پروت دي. ۱

وايي چې خوست او فرنګ د تالقانو ولايت يو حکومتي واحد دي او له دې نامه څخه يې څرګنديږي چې دا دوی سيمې د درو شکل لري، د خوست او فرنګ رودونه يې له منځه تيريږي او وروسته تر هغې چې د خپلې مجرا سيمې خړوبې کړي د خان آباد په سيند ورګډيږي په ۱۰ کليو کې ۱۶۱۰ يا ۲۵۰۰ کورونه لري.

خوست او فرنګ له خان آباد څخه نږدې ۱۱۶ کيلو متره او له تالقانو څخه هم همدغومره ليرېوالی لري. ۲

د هېوان تسنګ په يادښتونو کې خوست د کوه زي –تو – Kouh-si-to په شکل ليدل شوي دي.

کلفګان:

په تاريخي ځينو آثارو کې کلفګان ته لولفګان هم ويل شوي او يو تاريخي ځای دي او له تالقانو څخه د ۱۲ کروه په واټن لرې دي.

---

۱ رهنمای قطغن و بدخشان، ۶۱ – ۶۲ مخونه

۲ پښتو آريانا دايره المعارف، ۵ ټوک، ۸۵۹ مخ

فرخار:

فرخار په ځينو مدارکو کې د دخار په شکل ثبت دي د ښکتنی طخارستان د تالقانو مربوط دي.

نمك آب:

لکه چې له نامه څخه يې څرګنديږي دا سيمه د مالګې کان لري.

غوري:

غوري د بغلان مربوط له خان آباد څخه ۳۶ کروه لري موقعيت لري چې د سمندر له تله ۲۱۰۰ فټه لوړوالي لري او دهنه غوري چې يو مشهور ځای دی لوړوالي يې ۲۵۰۰ فټه دي.

دوشي او کيله ګی:

دا محلات د غوري ختيز ته پراته دي.

د بحر له سطحې ۴۳۲۰ فټه لوړ دي او ۶ درې لري.

سکلکند - Sakalkand:

د بغلان او لولنج په منځ کې ښايي هماغه (اسکر – Askar) د برفك د سيمې په مدخل کې پروت دي.

د سکلکند مشکله کلمه په عامه ژبه په اسکند تبديله شوې ده. ۱

د بغلان (بغلانك) ښار:

بغلان چې په تاريخي آثارو کې ورته بغلانګ او بغلونګ هم ويل شوي دي يو لرغوني تاريخي ښار دي او دا نوم د بيهقي د تاريخ په حواله د (بغولانګو د بغلان د لوی معبد له ډبر ليك څخه اخيستل شوي دي.

د بغلان ښار په ۱۳۲۲ هجري لمريز کال د طخارستان (قطغن او بدخشان) ولايت مرکز ؤ چې د کندز د جنوب په ۴۱ ميلي کې په يو پراخ ميدان کې پروت دي.

د بغلان ښار په تاريخي دورو کې ځانګړې شهرت درلود او د افغانستان د يو تاريخي ولايت مرکز ؤ.

د بغلان تاريخي نوم (بوهلای) او پخپله بغلان له همدې تاريخي نومه بدل شوي شکل دي.

شونګ تونګ (هيوان تسانګ) بغلان په "فوك يلانګ- Po-Kia-long ليکلي او وايي چې بغلان په تاريخي دورو کې يو ودان ښار ؤ او مؤرخانو هغه کلتوري، تجارتي او صنعتي مرکز ياد کړي دي. ۲

د آريانا مجلې د ۱۳۲۲ کال د ۴ مې ګڼې په ۳۵ مخ کې هم بغلان د مرکزيت او د افغانستان د ډېرو ودانو سيمو په حيث ګڼل شوي دي.

---

۱ شهرهاي آريانا. ۵۷ مخ

۲ شهرهاي آريانا، ۲۷ مخ

اوس د بغلان د غوري له مربوطاتو څخه د بحر له سطحې ۲۰۶۰ فټه لوړ او د غوري سيند يې له منځه تيرېږي په ۹ کليو کې يې ۲۱۴۶ کورونه موجود وو.

د تاريخي منابعو په حواله بغلان د تاريخي آثارو له پلوه يوه ډېره مشهوره سيمه ده.

د بغلان ګرد چاپير يو شمېر تپې او ستوپې شته چې له دې جملې يوه د بغلان چم قلعه ده.

چم قلعه د تاريخي آثارو له مخې په هغه ځاى کې کشف شوې ده.

دا يو بل بودايي معبد دي چې د کوشانيانو د قلمرو په زړه کې پروت ؤ چم قلعه بغلان ته نږدې په ۱۰ کيلو متري کې د اجمير د نهر د پاسه په مربع شکل چې هره ضلعه يې د ۱۰۰ مترو په اندازه ده موقعيت لري.

د دې تپې په جنوبي جناح کې يوه برامده ګۍ ښکاري چې هماغه د چم قلعه نوم يې ځانته اختيار کړى دى. ۱

پلخمري:

د پلخمري د نوم د تسميې مستنده وجه معلومه نه ده خو د سيمې د خلکو له خولې روايت دي چې دا نوم له دوو کلمو څخه مرکب دي (پل او خمري) وايي: چې په پخوانيو زمانو کې د مستو او شيدو له خمري څخه په لاس ته راغلو پيسو دا پل جوړ شو او د پل خمري نوم پرې کېښودل شو او بيا وروسته ورو ورو پلخمري شو خو څوك نه پوهېږي چې دا افسانه څومره حقيقت لري. ۲

خنجان:

خنجان د اندراب مربوط او له خان آباد څخه د جنوب لويديز خواته موقعيت لري.

په ۶ قشلاقونو کې يې ۷۰۰ کورنۍ اوسيدلي، دا کلي له خنجان څخه ۱ - ۶ کروه ليرې پراته دي.

د اندراب رود د شمال په استقامت د يو کروه واټن په ليريوالى د اندراب غر (کون کاو) کې بهيږي او د جنوب خواته يې د هندوکش غر ؤ. له حکومتي مرکز څخه ۱۲ کروه مسافه لري.

د خنجان مشهوره دره د وليان دره ده چې د اولياوو مزارونه پکې پراته دي.

د کابل او قطغن ډېره نږدې لاره د خنجان او سالنګ له درې څخه تيرېږي. ۳

تاشقرغان-خلم:

لکه څنګه چې سمنګان او ايبك چې د يو تجارتي او مذهبي او سوق الجيشي ښار دوه نومونه دي په همدې ډول تاشقرغان او خلم هم د دغسې يوه ښار دوه نومونه دي تاشقرغان نن ورځ يو کوچني ښار دي

۱ مراکز آئين بودايي در افغانستان، محمد اسحق ابراهيمي، ۱۳۶۳، ۲۰۳ مخ

۲ آريانا مجله، ۶ ګڼه، ۱۳۲۳، ۴۰ مخ

۳ رهنماى قطغن و بدخشان، ۶۶ - ۶۷ مخونه

چې په خاورين حصار (فصيل) ايسار شوی دی او پر يوې تجارتي لويې لارې باندې پروت دي، دې ښار ګوتې ته نژدې د خلم لرغوني ښار موقعيت لري چې د ميوه لرونکو باغونو لرونکي دي.

مقدسي خلم يو کوچنۍ ښار ياد کړي چې په يو شمېر کليو او لويو سيمو ايسار شوي دي او ښه آب او هوا لري.

د خلم ښار په ۱۸ مې پيړۍ کې ويجاړ شوي او اعليحضرت احمد شاه دراني، تاشقرغان د خلم د اصلي ښار د جنوب د درې ميلۍ په شاوخوا کې جوړ کړ او د خلم خلك ورته انتقال شول.

د تاشقرغان د ښا بازار د شمالي ولايتونو له مهمو بازارونو څخه دي په پخوانيو زمانو کې يې هم ډېر اهميت درلود.

شونګ تونګ (هيوان تسانګ) د تاشقرغان له ښاره کتنه کړې ده او هغه يې د "هولن- Holin" يعنې هومن په نوم ياد کړي دي.

بودايي مذهب دلته پوره پرمختګ وکړ او دغه چينايي زاير د خپل مسافرت په مهال لس ديره او ۵۰۰ راهبان دلته استوګن ليدلي دي.

دا ښار د کندز او بلخ په منځ کې پروت دي او د ده په خوا کې د خلم پخواني ښار پروت دي علي يزدي پخپله سفرنامه کې له خلم څخه هندوکش ته د تيمور د پوځي سفربرۍ په ترځ کې هغه په سمنګان ضبط کړي دي.

حال دا چې سمنګان د خلم د رود په پاسنۍ ناوه او شايد د خلم د ايبك په منځ کې وي چې نژدې په ۴۲ ميلي کې د بغلان لويديز ته پروت دي.[1]

په پورتنۍ اثر کې زياته شوې ده چې په تاريخي آثارو کې د خلم پخواني نوم (باندو بن – Bando bene) ثبت دي. وايي چې باندوبن يو ښار دي چې د (خوئيس- Khose) (خلم رود) په ختيزه غاړه کې چې يوناني مؤرخانو د مقدوني سکندر په واسطه د هغه فتحه ليکلې ده. (دغه اثر، ۲۲ مخ)

حدود العالم هم د خلم په اړوند يادونې لري او ليکلي يې دي:

خلم د بلخ او تخارستان په منځ کې په يوه سارا کې پروت دي چې د غره لمنې ته نژدې دي او يو رود لري او خراج (حاصلات) يې په اوبو دي.

د ډېرې کرکيلې او زراعت سيمه ده.

په يو بل روايت کې وايي: خلم د يوې درې په منځ کې پروت دي. بني تميم (رض) عرب دلته مهاجر شوی ؤ.

[1] شهرهاي آريانا، ۴۰ – ۴۱ مخ، آريانا مجله، ۶مه ګنه، ۱۳۲۳، ۴۰ مخ

حمدالله مستوفي لیکي:
خلم یو ښار ګوټی دی، ختیز خواته یې دري سره نښتې محلونه دي او لویدیز خواته یې دري سره ځلا ځلا محلې پرتې دي.
خلم د ساختماني شکل له مخې یوه مستحکمه کلا وه. ۱
په یوه بل تاریخي سند کې خلم ته اورانوس ویل شوي او په دې باب داسې لیکل شوي دي:
کنګهم د افغانستان له لرغونو ښارونو څخه له اورانوس د بکترا ښار له شاهي ښارونو څخه ګڼي.
بطلیموس په خپل نګارستان کې په دې هکله داسې یادونه کړې ده:
دا ځای د دارګیدوس (خلم) درود خانې په غاړه او د زر لیسپه جنوب ختیز کې قرار ورکوي.
اورانوس د سمنګان پخواني او مستحکم ښار ایبک ته نژدې د خلم درود پر غاړه موقعیت لري.
ځینې مؤرخان اورانوس ته خلم وایي، حال دا چې د خلم ښار دا یو کراتیدس د ښار له هغو کنډوالو څخه عبارت دي چې هغه ایوکراتیدس د یونانیانو باختري مشهور پاچا آباد کړي ؤ او مقدوني سکندر د اورانوس ښارته نژدې یو پوځي ښار جوړ کړ چې د اورانوس په سکندریه یې شهرت پیدا کړ. ۲
باید وویل شي چې د اورانوس په نوم یو ځای په بریکوټ کې شته چې کونړ ته د مقدوني سکندر د سفربرۍ په بهیر کې ترې یادونه شوې ده.
په یو بل روایت د خلم ښارته اون پایکال یاد (ایوکراتیدیا) ښار هم ویل شوي دي لکه په دې روایت کې:
اون پایکال د باختریانه په ولایت کې یو ښار دي چې نملیك د ښار په شمال لویدیز کې پروت دي، د دې ښار کنډوالي او د پخوانیو آبادیو نښې نښانې په دې دلالت کوي چې د یو ساعته لارې په مسافه دا ښار د نملیك له ښاره لیرې پروت دي.
د شمالي افغانستان د کتاب مؤلف (ایت) دلته د یو مهم ښار کنډوالي د یو شمیر لویو او کوچنیو کورونو په شکل لیدلي دي او څرګنده ده چې په یوه زمانه کې د دفاع او ځانګړو تاسیساتو دا هر یو کور احاطه کړي ؤ.
یار تولد وایي:
احتمال لري چې دا ښار هماغه د (ایوکراتیدا) ښار دي چې پاچا ایوکراتیدس دا (دارګیدوس) د خلم د

۱ جغرافیاي تاریخي سرزمین ها خلافت شرقي، ۴۵۴ مخ
۲ اریانا مجله، ۵ مه ګڼه، ۱۳۲۳ کال، ۱۷ مخ

رود په غاړه ودان کړ د يونانو باختري او بيا وروسته د دې وران شوي ښار پر کنډوالو باندې د خلم ښار آباد شو. ۱

ايبک او سنی سمنګان:

سمنګان زموږ د هېواد له لرغونو ښارونو څخه يو مهم ښار دي چې د سوق الجيشي، اداري، کلتوري او مذهبي ملحوظاتو له مخې ډېر شهرت لري او همدا وجه ده چې سمنګان او ايبک لکه خلم او تاشقرغان تقريباً دواړه د يو ښار مفهوم افاده کوي او په زياتو تاريخي مدارکو کې ترې يادونې شوي دي.

ايبک د طبيعي موقعيت له مخې د خلم د سيند د منځنۍ مجرا پر غاړه د هندوکش د عمومي تيغې په شمال کې او د سيمه ييزو غرونو د فرعي ښاخونو په منځ کې پروت دي يا په بله وينا ايبک په غرنی سخته منطقه کې اونه د باختر په هواره جلګه کې، بلکې د دواړو په منځ کې موقعيت لري او له دې امله د آب او هوا او نباتاتو په اعتبار د دواړو سيمو مميزات لري.

ايبک په خپل جغرافيايي مناسب موقعيت (تير يا اوس) هميشه د بلخ له مهمو لارو څخه په يوه لاره باندې پروت دي.

ښکاره خبره ده چې د هندوکش، بند مخ په شمال يو شمېر تنګي لري لکه د تاشقرغان تنګي د شاديان تنګي او د بلخ آب تنګي چې هر يو يې د جلګې د دروازې په څېر تلقي کيداى شي.

د تاشقرغان تنګي چې د خلم له تنګي څخه عبارت دي، د خلم د سيند د اوبو په ذريعه پيدا شوي دي چې د زندان له تنګي څخه راوتلي دي او له ايبکو څخه تيرېږي.

د سمنګان د ښکاري نوي سرک په جوړېدو سره دې لارې خپل اهميت له لاسه ور نه کړ، بلکې لايې پسې شهرت او اهميت وموند.

ښکاري سرک چې نقليه وسيلې ورباندې تګ راتګ کوي د پلخمري او دهنه غوري او رباطک نه وروسته ايبکو ته رسيږي.

د ايبک د ښار مرکزي هسته نژدې يوه پيړۍ د مخه له يو لوی کلي څخه عبارت وه، سره د هغې ورانې او ويجاړې کلا او کاروانسراى چې د دوو پيړيو د مخه عمراني يادګار شمېرل کېده او نسبتاً تود او جم و جوش بازار يې درلود د باميانو او د تاشقرغان له لارې د کابل او مزار شريف له مهمو پړاوونو او منزلونو څخه بلل کېده.

د ښکاري درې طرحه کېدو او عمراني مفکورې د ايبکو مرکز ته څو کيلو متره سيمه ييز بدلون ورکړ او نوي ايبک د دې ناحيې د بودايي لرغونو آبداتو د شمال په دوه کيلو مترۍ کې واقع شوي دي.

د سمندر له سطحې څخه د ايبکو جګوالي له زرو مترو څخه زيات دي.

---

۱ پورتني اثر، ۱۷ – ۱۸ مخونه

د ایبکو آب و هوا په زړه پورې او حاصلخیز ځای دی، د ایبکو شفتالو او د ستاینې وړ دي. هغه موضوع چې د سیاحت له پلوه د ایبکو د شهرت سبب شوې ده، هغه د دې ځای د بودایي لرغونو آبداتو موضوع ده چې د (تخت رستم) له نامه سره کلکې اړیکې لري او د ایبکو د حکومتي مرکز څخه ۱۵۰۰ قدمه واټن لري. د ایبکو طبقات الارضي جوړښت لکه د بامیانو غونډې د دې سبب شوي دي چې د دې سیمې بودایي پیروان په دې ځای کې بودایي آبدات ایجاد کړي.

د ایبکو ځانګړې او وتلې ممیزه له هغې لویې ستوپې څخه عبارت ده چې د یوې ټوټې تیږې نه تراشل شوې او په خپل نوعیت، تناسب او لویوالي کې د بامیانو د لویې مجسمې په شان په بودایي عالم کې بې مثله او بې نظیره ده.

د موسیو فوشه په عقیده په تیرو کې د استوپو د تونلو او جوړېدو مفکورې که څه هم رواج درلود او تازه ګۍ یې نه لرله، مګر هندي استوپې ټولې کوچنۍ دي او معمولاً د معبدد دیوالونو په منځ کې بندې دي، یعنې هغه وخت چې مهندسینو غوښتل چې د ننه په تیره کې یو معبد وتوږي نو د معبد له منځنیو ډبرو څخه به یې استفاده کوله او هغه به یې د استوپې په شکل ګرځولې، مګر د ایبکو استوپه د دې قضیې پر عکس ده او ډبرینه تپه د خپلو څلورو خواوو نه په جرتراشل شوې ده او هغه جربیا د طواف په دالان (دهلیز) بدل شوې دي.

د ایبکو د ډبرینې احاطې لوړوالي تر ۸۰ مترو زیات دی. او پر هغې باندې د هماغه غره له تیرو نه د ځانته او سیدونکي راهب لپاره یوه کوچنۍ خونه تراشل شوې او جوړ شوې ده، چې لړ راښکته د استوپې د شمال خواته د ننه په بله غونډۍ او تپه کې چې شرقاً او غرباً پرته ده، یو قطار اتاقونه چې د معبد له مربوطاتو څخه دي کیندل شوي او یو اوږد دالان دا ټولې کوټې له یو بل سره نښلوي او دا ځای تر همدې وروستیو کلونو پورې د غنمو د ګودام او طویلې او حتی د بازار په توګه استعمالېده، دا سمڅې په مختلفو شکلو او تناسب عموماً ګردې کیندل شوې دي او دا لومړنۍ سمڅې دي چې په دې شکل دي او د هګۍ په شان (بیضوي شکل) ګنبدې لري چې د احاطې اوږدوالی یې ۷۵ - ۱۰ مترو ته رسیږي او د هغې ګنبدې په چت کې د نیلو فریو لوی (زرپانیزه) ګل مخ د ځمکې خواته غوړېدلي دي چې یو شمېر نور ډېر کوچني نیلوفرې ګلان ورځنې تیت و پرك شوي دي او د معبد د دروازې په مخکینۍ هغې کوټه کې چې ۶۰.۳ متره لوړوالي او ۵۲.۳ متره سور او ۹۵ سانتي متره ژوروالي لري د بودا ناسته لویه مجسمه جوړه شوې وه چې اوس یې څه پته نشته.

دوهمه سمڅه هم ګرده او مدوره ده او څلورمه سمڅه هم د لومړۍ سمڅې په تناسب وه څلور کنجه ده او پس له دینه یوه لویه پیل کیږي چې له نورو پنځو سمڅو څخه مرکبه ده او هرې یوې یې طاقونه، رواقونه او بیلا بیلې مجسمې درلودلې چې د وخت په تیریدلو سره ټولې ورکې او له منځه تللې دي.

لنډه دا چې ويل کيداى شي چې په ايبکو کې د لاري پر سر د يو بودايي مرکز د تاسيس د آبادۍ او عمران مفکوره د ننه په غره کې د دې ټولو آباديو سبب ګرزيدلي ده هغه غونډۍ چې د مخه ترې يادونه وشوه سره د هغې د داخلي سمڅو د اصل معبد په بڼه او لويه ډبرينه استوپه د هغې استو په شمېرل کېدله مګر دا خبره بايد هېره نه شي چې د موسيو فوشي په عقيده د آبادى دا ټولې نقشې په هغو علتونو سره چې دومره څرګندې او ښکاره نه دي د تکميل درجې ته نه دي رسيدلي.

فرانسوي عـالم د هغـو علتونـو پـه جملـه کـې چې پـه استـوپو کـې د شق پيـدا کېدل او دا عـاني ورکوونکي مړه کېدنه هم ذکر کوي او د يفتليانو له قدرته لويدل هم په خورا قطعي صورت بولي او په دې حساب اټکل کېدلاى شي چې د ايبکو د بودايي ودانيو او عمراناتو مساله د مسيحي پنځمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې ځنډيدلي ده بې د ايبکو له مرکز څخه له بودايي آبداتو څخه د هغه په ګرد چاپير ځايونو او مربوطاتو کې نور شواهد هم شته چې ځينې د سمڅو او ځينې هم د غونډيو په بڼه ليدل کيږي چې دا دواړه د اسلام تر مخه د پخوانيو آباديو پاتې شونې او شواهد دي، يو له دې ځايونو څخه نن ورځ د دره ګز په نامه يادېږي چې د ايبکو د شمال لوېديز خواته او د بلخاب پاسنى مجرا ته نژدې پروت دي او هيوان تسنګ هغه مهال چې د بلخ آب له درې څخه تيريده يو ځاى يې د (کي –تحه- Kie-Teha) په نامه ياد کړي دي چې اوس همدغه دره ګز دي او اوس بودايي معبدونه يې دې ځاى ته منسوب کړي دي.

بل ځاى له رباطك څخه عبارت دي چې د دهنه غوري او ايبکو په منځ کې پروت دي او ۴۹.۱۳ کيلو متره له لومړۍ ځاى څخه او ۳۶ کيلو متره له دوهم ځاى نه فاصله لري. په رباطك کې د هغو غونډيو پاتې شونې شته چې په ښکاره توګه د دې سيمې پر پخوانيو ودانيو او آباديو باندې دلالت کوي او کوشاني مسکوکات له همدې ځاى نه تر لاسه شوې دي او د امير عبدالرحمن خان له آباديو او عمراناتو څخه هم د کلا او حصار بقاياوې تر اوسه پورې پاتې دي.

په (انجير دره) کې چې دا هم د رباطك د شمال لويديز په درې کيلو مترۍ کې پرته ده په (سارباغ) او هغه غره کې چې سپين ښاخ (شاخ سفيد) نوميږي خورا مضبوطي کلاګانې موجودې وې چې په (رويې او مويې) کې چې له ملا او (دوشاپسند) څخه د خرم، سارباغ او زندان د درې (تنګي) له لارې ايبکو ته لاره تللې ده د ساساني منقوشو تصويرونو بقاياوې موجودې وې چې د نوشيروان د لور په نامه شهرت لري، نو په دې توګه څرګنده ده چې ايبك د افغانستان د تاريخ په بودايي دوره کې د مذهب او صنعت له پلوه خورا مهم مقام درلود چې له يوې خوا د باختر له جلګې څخه او له بلې خوا د هندوکش له درو څخه لارې ورغلي دي.

لنډه دا چې ايبك د باميانو غونډې د هندوکش يوه ستره نقطه وه چې مذهب او صنعتي ذوق له هغه ځاى نه د هندوکش دواړو خواوو ته خپرېده. بايد وويل شي چې د اسلامي دورو ځينو مدققانو ايبك د

سمنګان په نامه هم یاد کړي دي یا په بله وینا ځینو مدققینو له سمنګان څخه د ایبکو تعبیر کړي دي. ۱

په پورتنیو پراخو معلوماتو کې چې د سمنګان (ایبکو) د مذهب او صنعت د ځرنګوالي په هکله وړاندې شول ځینو نورو مؤرخانو هم د سمنګان په باب یو لړ یادونې کړي چې د موضوع د لا وضاحت لپاره یې اقتباس بې ګټې نه دي.

د حدود العالم مؤلف لیکي:

سمنګان یو ښار دي چې د غرونو په منځ کې پروت دي دا غرونه لکه رخام د سپینو تیږو غرونه دي په دې غرونو کې کوټې کیندلې شوي دي، دلته د ناستې ځایونه او کوشکونه او بتخانې دي.

د تقویم البلدان مؤلف د دې ښار په اړوند لیکلي دي:

په اللباب کې راغلي دي چې سمنجان (سمنګان) یو کوچني ښار دي د بلخ هغې خواته د تخارستان له مربوطاتو څخه دي. ۲

شونګ تونګ (هیوان تسانګ) په خپل کتاب کې له سمنګان څخه یادونه کړې او هغه یې د (سي-لو-مین-کین- Si-lo-min-kien) په نامه قید کړي دي.

مقدسي سمنګان د خلم له ښاره لوی ښار بولي او زیاتوي چې جامع جومات او اعلی میوې لري.

مستوفي په اتمه هجري پیړۍ کې له دې ښار څخه د یو لوی وران شوي کلي په توګه یادونه کړې او وایي چې زیاته غله، پنبه او انګور پکې کرل کیږي.

د سمنګان د ښار موقعیت بې له شکه همدا د ایبك محل دي چې د خلم په ډېره پراخه سیمه کې ډېره حاصلناکه او د ونو او باغونو په لرلو سره شهرت لري.

د سمنګان په سیمه کې د بودایي مذهب او نفوذ د دورې یادګارونه او زیات آثار پاتې دي چې دا آثار له هغو مغارو (سمڅو، غارونو) څخه عبارت دي چې (زهاد) او رهبانانو کیندلي او هغه خونې (بقعه) دي چې د هېوکو د ساتنې لپاره یې جوړې کړي دي.

علي یزدي هم د تیمور د پوځي سفر د بحث په ترځ کې له خلم څخه د هندوستان د استقامت په بحث کې یادونه کړې ده ۳ چې د ایبك په بحث کې پرې خبرې وشوې.

پورتنی یادونې د آریانا مجلې ۸ ګڼه، ۱۳۲۳ کال په ۳۹ مخ کې کټ مټ راوړل شوی دی چې د مخه بیان شوي او تکراریدو ته یې اړتیا نه لیدل کیږي.

خو دلته د ایبك د ښار په اړه یو څو خبرې د دې بحث په باب د معلوماتو په زیاتوالي کې ګټورې دي.

---

۱ پښتو آریانا دایره المعارف، ج۱، ۱۳۲۹، ۵۳۵ – ۵۳۶ مخونه

۲ جغرافیاي تاریخي افغانستان، ص ۲۲۴

۳ شهرهاي آریانا، ۵۷ مخ

تاريخي اسناد ښيي ايبک يو ښار دي چې د باختر په ولايت کې موقعيت لري او په افسانو کې پوره شهرت لري. د ايبکو وادي د بحر له سطحې ۳۱۰۰ فته لوړه ده يوه حاصل ناکه سيمه ده.

د ايبکو په شاوخوا کې د بودايي آيين د يادګارونو د زياتو کنډوالو پاتې شونې شته چې دا ټول د دې تاريخي ښار د لرغونتوب په مرکزيت دلالت کوي.

(تخت رستم) چې يوه مهمه تاريخي آبده ده همدلته موقعيت لري که د دې تخت مشخصه وښودل شي نو تخت رستم د يوې صفي په شکل دي چې ګرد چاپير ترې خندق کيندل شوي دي. د دې صفي دپاسه يوه کوټه ده چې ۲۱ فته لوړوالي لري او په مربع شکل له تيږې تراشل شوې ده.

د ايبکو نژدې او شاوخوا سيمه، حاصلناکه او سمسوره ده.

ايبك د کابل او مزار شريف د لويې لارې پر سر موقعيت لري او هغه ښار دي چې د سمنګان د ښار پر ځاى جوړ شوي دي. ۱

حضرت سلطان:

حضرت سلطان د سمنګان مربوط يو ښار دي چې د ختيز طول البلد په ۶۷ درجو ۳۸ دقيقو او ۲۶ ثانيو، ۶۸ درجو، ۱۲ ثانيو او د شمالي عرض البلد په ۳۶ درجو ۲۲ دقيقو، ۱۳ ثانيو ۳۶ درجو او ۳۷ ثانيو پر کرښو باندې پروت دي دا سيمه د سمنګان په شمال لويديزه څنډه کې د کابل او مزار شريف د لويې لارې سره لګېدلې ده او څلور خواوې يې داسې ښودل شوي دي.

- شمال لويديز ته يې خلم
- شمال ختيز ته يې سمنګان، ختيز او لويديز خواته يې بيا هم د سمنګانو سيمې.

د حضرت سلطان زياتې سيمې خاورينې غونډۍ او للمي ځمکې دي په دې سيمه کې څو چينې شته لکه د ګاکري د کلي چينه، د دولت آباد چينه، د خواجه پريشان چينه، د شلکتو چينه او د کوک بلاق چينه.

دا چينې له غرو او درو څخه راوځي او مربوطې سيمې اوبوي.

د حضرت سلطان مشهور غرونه لکه خواجه بغلانګ غر، اق ګوميت او اتم کوه د دې غره کوتل د اوغري کوتل په نامه يادېږي. ۲

۱ شهرهاي آريانا، ۱۸ مخ
۲ پښتو آريانا دايرة المعارف، ۶ ټ، ۷۴۲ - ۷۴۳ مخونه

د تخارستان طبيعي عجايب

زموږ په ګران هېواد کې څه د طبيعي خلقت له مخې او څه د بشري شهکاريو له مخې يو زيات شمېر طبيعي عجايب او هنري بدايع شته دي چې په جهان کې يې سارى نه ليدل کيږي او که له واقعيته تېر نه شو زموږ لرغوني هېواد د دې عجايبو او شهکارونو يو په زړه پورې کلکسيون دى. چې دا دى د يوې غوري نمونې په توګه د تخارستان او په خاصه توګه د بدخشان (بلخشان) د طبيعي عجايبو په هکله يو څه معلومات وړاندې کيږي.

د بدخشان د اندمين په سيمه کې يو طبيعي لوى حوض دى چې د جهيل بڼه لري ډېر پراخ او هوادار دى.

دا جهيل د څو درو په خوله کې چې اوبه ترې رابهيږي پروت دى. جهيل ډېر ژوروالى لري او د جهيل غونډې د يونيم کروه اوږدوالي او شپږ زره کرو پسور والي درلودونکي دي. جهيل ته چې چلاب وايي په دې سيمه کې يې يوه زړه وړونکي او په زړه پورې منظره تشکيله کړې ده. دا کول چې په خپل ذات کې د څو رودونو تم ځاى دى شاوخوا ترې د يو شمېر رودونو لړۍ پيل شوي دي لکه چې يوه برخه يې (بزاى ګنبد) او لنګر په استقامت او بله برخه يې د واخان د سرحد نه د کارخان خواته بهيږي او له (پنجه) نه بر د لوى پامير د سين سره يو ځاى کيږي او بيا خپل مسير ته د شغنان خواته ادامه ورکوي.

له دې جهيل څخه يو بل رود هم سرچينه اخلي چې منارونو ته ځي وروسته له هغې چې له مرغابه تير شي دور خوري د شغنانو يارکنګ او د امويه (کوکچې) سره يو ځاى کيږي. دا حوض په خپل ذات کې ځکه د طبيعت له بدايعو څخه شمېرل کيږي چې د لوړو غرونو په منځ کې پروت دى او هيڅ تشيده او وچېده نه لري او د نورو رودونو سرچينه بلل کيداى شي، د بدخشان د ډېرو عجيبو جهيلونو له جملې نه يو هم هغه لوى جهيل دى چې د بدخشان د منارونو د حد بخشى د لارې پر سر چې له (آق سو) نه يې اوبه اخستلې دي، دا عجيبه جهيل د هيليو او قازونو هستوګنځي هم دى

د نرس او شلك له عجايبو ډکه چينه:

د بدخشان د نرس او شلك د سيمو په منځ کې يو لويه چينه ده چې د يو هسي لوى ديګ بڼه لري چې ګويا اور ترې د لاندې بل وي او جوشيږي. خو خبره بل ډول ده که څه هم د دې چينې اوبه په ډېر جوش او خروش له ځمکې هواته د فوارې په شکل پورته کيږي مګر بيا هم اوبه يې سړې او د سودا غونډې مزه لري او هم يو څه د ګرکرد بوى ورکوي.

کله چې د دې چينې اوبه په ګيلاس کې واچول شي نو د سودا غونډې سوزنك وهي او په ځوښ راځي او د ګيلاس غاړو ته سور رنګ ورکوي.

دا چينه چې د يو رودکي په شکل په بهيدو راځي د خپل مسير د غاړو تيږې او خاورې لکه زنګ

ګلنار کوي.

د بدخشان د سرحد په سيمه کې يوه چينه شته دي چې اوبه يې تودې دي.

د اورګند او پګش چينه:

د بدخشان د اورګند او پګش د سيمو په منځ کې يوه موسمي چينه شته چې په خاص ډول د سنبلې او ميزان په مياشت کې له شګو راوځي که څه هم اوبه دومره يې تودې نه دي خو بيا هم څوک پکې تر پنځو دقيقو پورې لاس نيولی نشي.

پرته له دې مياشتو دا چينه ورکيږي او ور سره د چينې د محل د شګو تودوښه هم له منځه ځي.

د بابا تنګي ډېره توده چينه:

د بابا تنګي په سيمه کې کله چې له روده سړي پورې وځي يوه داسې له عجايبو ډکه چينه مخې ته راځي چې اوبه يې ډيرې زياتې تودې دي، دومره زياتې چې د چرګې هګۍ په دريو دقيقو کې پخوي.

د يماق او چلق عجيبه چينه:

د حد بخشي د منارونو څخه دوه کروه ليرې د يماق او چلق په سيمه کې يوه چينه ده چې د چودني ديګ په شان ښکاري او اوبه يې بيخي سړې دي خو کله چې يې اوبه له دغه ديګه راوبهيږي، څو ګامه وړاندې په يوه سخته تيږه بدليږي.

دې چينې ته نژدې يوه بله چينه ده کله چې سړې د يوه شنې رنګې مغارې نه تير شي او يوې غونډۍ ته ور پورته شي هغه تر سترګو کيږي دا چينه د ور سره نژدې يادې شوې چينې برعکس تودې اوبه لري او د څوښ په حالت کې ده، د غرڅه لکۍ پرې د جنډو په عنوان څړيدلي دي.

په دې برخه کې دوې نورې چينې هم شته دي چې اوبه يې تودې دي او تر بهيدو وروسته دواړه په تيږو بدليږي او دا دواړه چينې د يخمير په نامه ياديږي همدا شان د سرشح په خواجه جرغاتو کې يوه عجيبه چينه چې اوبه يې لکه فواره په شدت له مځکې آسمان ته پورته کيږي هم شته.

د اندراب له اعجازه ډکه چينه:

په قطغن کې د اندراب د طبيعي بديعو له جملې نه يوه عجيبه چينه ده دا چينه د سراب په قشلاق کې موجوده ده د دې چينې اوبه ډيرې خوږې دي او د سماوار د جوشيدونکو اوبو غوندې ګرمې دي چې د ۴ دقيقو په موده کې د چرګې هګۍ پخوي.

د شاخدره او بارتنك ولاړې اوبه:

د بدخشان د جهيلونو په ډله کې يوه لوی جهيل شته دي چې له ۳۰ – ۴۰ کروه پورې د مساحت درلودونکي دي.

په سرشح کې د پورتني ياديادي شوي چيني دوې نورې چيني چې د دوارو اوبه ګرمې دي هم شته دي، د دې چينو اوبه چې څو قدمه وړاندې وبهيږي اوبه يې په ژيړه او سپين رنګه تيږه بدليږي او بله يې لکه تيږه په ژيړ قير اوړي او خوند يې لکه سودا دی د دې چيني دوارو خوا ووته شنه وابنه ښکاري.

د دې دوارو چينو له نژدې له غره نه رنې او خوږې اوبه راڅخيږي چې په حقيقت کې د يو په زړه پورې ځروبې ښه لري.

د خارجين لوی ډنډ:

دا جګ دره په سيمه کې يوه قشلاق چې خارجين ورته وايي هغه د ۱۲۹۶ مترو په لوړوالي يو سخت غابني لري، د دې غابني لاندې يو ډنډ دی چې ګرد چاپېر يې ډېر شفاف دي، له خوا وشا زياتې اوبه ور پکې ور توئيږي د دې اوبو د سرچيني هيڅ پته نه ښکاري دا لوی ډنډ د «بدري جمال» په نامه په محلي افسانو کې لکه د «بدري جمال ښاپيری» په کيسه کې فلکلوريکې شهرت لري.

د تخارستان د ولاړو اوبو، لويو ډنډونو او بې نظيرو عجيبو چينو شمېر په دې نه شي محدود يدلای او بې له دې ښه نور هم داسې طبيعي مظاهر شته چې ليدنه يې سړي د لوی خدای (ج) معجزه ناك خلقت ته حيرانوي بايد وويل شي چې دا ډول معجزه آسا طبيعي مظاهر په نورستان کې هم په زيات شمېر ليدل کيږي لکه د ديوانه بابا د تودو اوبو چينه د پورتنيو چينو په منځ کې داسې ډيري چيني هم شته دي چې د هغو اوبو څخه د ځينو ناروغيو د معالجې د پاره د يوې طبيعي پديدې په توګه کار اخيستل کيږي.

د تخارستان د پورتنيو طبيعي عجيبو پديدو په څنګ کې ځيني بوټي هم شته چې د هغوی نه يو ډول د غاټولو سپين ګل دی چې د پيازو په شان سټه لري، د هغه ځای اوسيدونکي هغه راوباسي جوشوي يې اوبه يې له پوټکي زيبښي هغه سټه ټکوي او د نشايستې غونډې شکل نيسي بيا دا نشايسته په شيدو کې جوشول کيږي او بالاخره يو ډول خواږه ترې لاسته راځي چې د شير برنج او شيدو غونډې خوند لري. د تخارستان په غرنيو سيمو کې ډېر داسې بوټي هم موندل کيدای شي چې د هغو په واسطه ځيني ناروغۍ معالجه کيږي لکه چې په ډېر ساده ډول د ريزش او محرقې د تداوۍ د پاره باقلي په آش او شروميو کې پخوي او استفاده ترې کوي. د تخارستان د اقليمي نادرو مظاهرو څخه د بدخشان د زيباك اقليمي شرايط دي يعنې څه رنګه چې د دې سيمې هوا ډېره سړه ده په اوړي او ژمي کې سخت شمال لګيږي.

دلته د ورځې له ۱۲ بجو نه د شپې تر ۱۲ بجو پورې دا شمال دوام کوي او د ژمي چې هر څومره واوره و وريږي نو د دې سخت باد د لګيدلو له کبله هغه واورې تيتيږي او پر ځمکه نه پايي.

پایلې او وړاندیزونه

«د افغانستان لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې» چې د مخه په متفرق ډول د هېواد ورځپاڼې له خوا چاپ شوي دي په حقیقت کې د لرغوني افغانستان، آریانا، خراسان او ګندهارا د ښارونو او سیمو د فرهنګي او تاریخي ځانګړتیاوو او ښېګڼو وپانده او مستند معرف او زموږ د نیکه ګانو د فرهنګي، علمي، مذهبي، رزمي او هنري نوښتونو، قهرمانیو او کارنامو یو انکار نه منونکي ممثل ګڼل کېدای شي، چې په عمده او مجموعي توګه یې په محتویاتو کې لاندینیو ځانګړتیاوو ته خورا مهم ځای ورکړ شوي دي:

۱- د ښارونو جغرافیوي موقعیتونه او تاریخي اهمیت.

۲- د ښارونو تدافعي او سوق الجیشي ارزښت.

۳- د ښارونو د تسمیې وجه او د جوړېدو نېټې.

۴- استحکامي کلاګانې او د هغوی عمراني او تدافعي څرنګوالي چې په ترکیب کې یې کهندژونه، شارستانونه، بالاحصارونه، حصارونه، ارګونه، ماڼۍ، شاهبرجونه، برجونه او نور تدافعي تاسیسات شامل دي.

۵- د ښارونو او مستحکمو کلاګانو عمومي دروازې، منارونه او سرایونه او د اوبو زېرمې.

۶- د مؤرخانو او جغرافیا لیکونکو په آثارو کې له دې ښارونو څخه یادونې.

۷- د ښارونو لقبونه او توصیفي نومونه.

۸- د ښارونو او سیمو تاریخي او د مستظرفه صنایعو نمونې.

۹- د ښارونو ځینې فرهنګي او تاریخي پېښې.

۱۰- طبیعي عجایې او د طبیعي بدائینو زېرمې.

۱۱- او تر دې ټولو خورا ارزښتناکه د بحث وړ موضوع د کوشاني د غوړېدلې دورې پر تیره بیا د ستر کوشانشاه کنشکا د ځلاندې دورې د مدنیت د عروج تر خاورو لاندې شوې فرهنګي او کلتوري زېرمې او په یو شمېر کتیبو او مسکوکاتو، افزارو د لوښو کې د هغې د برم او د بدبې له ویاړه ډکې بیلګې د خورا لوړ مقام لرونکې دي.

زما په آند به راسره درانده پوهان او د مطالعې لېوالان هم عقیده دي چې د ګوتو په شمېر په دې محدودو پاڼو کې د لرغوني افغانستان چې تر ۵۰۰۰ زرو زیاته تاریخي لرغونتیا لري د هغه د زیاتو نامتو او تاریخي ښارونو او سیمو په باب لیکنه، څېړنه، څه عادي کار نه وي او په دې برخه کې زما دا علمي، تحقیقي هلې ځلې یوازې په خروار کې د پونۍ له ریشلو څخه به بل مفهوم و نه لري.

او د دې تر څنګه به د دې اثر دغه محدود معلومات يوازې د يو کوچني مؤخذ په توګه محترمو محققانو او پوهانو ته د دې امکان او پته په لاس ورکړي تر څو چې په اسنادي او يا ساحوي څېړنو کې ترې يو څه ګټه واخستلای شي.

زه د دې اثر د کمزورو اړخونو هغه چې له يوې خوا د اسنادي څېړنو او له بلې خوا د ضروري مؤخذونو په واک کې د نه درلودلو له مخې ورته متوجه دي دومره ويلای شم چې له نورو لاملونو څخه د اسنادي څېړنو په وجه زما ناچاري ده. ځکه اسنادي څېړنې د ساحوي څېړنو غوندې مستندې او رښتينې نه دي او خامخا پکې نيمګړتياوې موجود وي.

دا يو عيني واقعيت دي چې زموږ د تاريخي هېواد لرغوني ښارونه او سيمې د خورا پريمانو فرهنګي او کلتوري او مدني بډاينو سرشاره زيرمې لري او دا ټولې زموږ د وياړلی هېواد د حماسو او د وياړونو لاملونه دي، خو متاسفانه زموږ زيات شمېر هېوادوال او حتی لوړ کچې کسان ترې بې خبره او بيخي بيګانه دي او دا موضوع ده چې يې هغوی د هېواد د راتلونکو مقدراتو او د لرغوني تاريخي له وياړنو څخه يې بې تفاوته کړې دي.

زه د دې اثر په ليکلو کې د هېواد د هغو پوهانو او مؤرخانو څخه بايد په پوره درناوی يادونه وکړم چې هغوئ تر خپلې وسې پورې د دې ښارونو او سيمو او د هغوی د کلتوري ميراثونو په معرفي کولو کې د قدر وړ زيار ايستلی او تلپاتې آثار يې راپرېښې دي، او دا دې ماته يې د دې امکان را په برخه کړ چې د هغو په رڼا کې مې دا اثر وليکلای شو.

بايد اعتراف وکړم چې زه مې له دې کاره راضي نه يم نو د ښاغلو پوهانو او محققانو څخه په پوره ارادتمندۍ هيله کوم چې زما د دې اثر د نيمګړتياوو په ليرې کولو کې له يوې خوا او د هغه د غنامندۍ په برخه کې له بلې خوا لکه چې ښايي خپله ونډه واخلي.

په درنښت

ليکوال

اخځليکونه

۱- آريانا دايرة المعارف، ټ۲، دايرة المعارف ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۳۲، کابل

۲- آريانا دايرة المعارف، ټ۳، دايرة المعارف ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۳۷، کابل

۳- آريانا دايرة المعارف، ټ۴، دايرة المعارف ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۴۴، کابل

۴- آريانا دايرة المعارف، ټ۵، دايرة المعارف ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۴، کابل

۵- آريانا دايرة المعارف، ټ۶، دايرة المعارف ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۵، کابل

۶- آريانا دايرة المعارف، ټ۷، دايرة المعارف ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۵، کابل

۷- آريانا مجله، ۱۳ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۱۰، کابل

۸- آريانا مجله، لومړۍ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۲۳، کابل

۹- آريانا مجله، ۱۲ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۲۳، کابل

۱۰- آريانا مجله، ۵ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۲۳، کابل

۱۱- آريانا مجله، ۷ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۲۳، کابل

۱۲- آريانا مجله، ۸ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۲۳، کابل

۱۳- آريانا مجله، ۱۰ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۲۳، کابل

۱۴- آريانا مجله، ۹ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۲۸، کابل

۱۵- آريانا مجله، ۳ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۳، کابل

۱۶- آريانا مجله، ۲ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۶، کابل

۱۷- آريانا مجله، ۲ ګڼه، تاريخ ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۶۲، کابل

۱۸- ابراهيمي، محمد اسحق، مراکز مهم آئين بودائي در افغانستان، مؤسسه طبع کتب، مطبعه دولتي، ۱۳۳۶، کابل

۱۹- ابو زيد احمد بن سهل بلخي، صورت الاقاسيم، (اشکال البلاد يا تقويم البلدان، تاليف،

۳۰۸ هـ.

۲۰- اداره مرکزي احصائيه، اتلس محلات افغانستان، ج۳، ۱۳۵۳، کابل.

۲۱- اداره مرکزي احصائيه اتلس محلات افغانستان، شماره ۷، کنرها، ۱۳۶۴، کابل

۲۲- اسلامي دايرة المعارف، ۱۰۴۹ مخ

۲۳- اسفزای معين الدين محمد زمچي، روضات الجنات في اوصاف المدينه هرات، ۱۳۳۸، تهران

۲۴- اصطخري، ابو اسحق ابراهيم بن محمد، المسالك و الممالك، تهران

۲۵- الهروي، سيف بن محمد بن يعقوب، تاريخنامه هرات، مؤسسه انتشاراتي خيام، ۱۳۵۲، ايران

۲۶- بار تولد، جغرافياي تاريخي ايران، (ترجمه حمزه سرداد، داور)، ۱۳۰۸، تهران

۲۷- بويلي ميجر، د افغانستان تاريخ، ژباړه منشي احمد جان، ۱۹۳۰ ميلادي

۲۸- بيهقي، خواجه ابو الفضل محمد بن حسين، تاريخ بيهقي، کميته طبع کتب، دولتي مطبعه، ۱۳۶۴، کابل

۲۹- پژواك، عتيق الله، غوريان، انجمن تاريخ افغانستان، ۱۳۴۵، کابل

۳۰- پنجشيري، عزيز احمد، جغرافياي تاريخي غور، انتشارات پوهنتون کابل، مطبعه پوهنتون، ۱۳۶۰، کابل

۳۱- تاريخ افغانستان، ج۲.

۳۲- تاريخ زبان فارسي، ج۱.

۳۳- تازه، سميع الله نورستاني، ريشه هاي تاريخي و فرهنگي نورستان، آمريت فرهنگ وزارت اطلاعات و کلتور، دولتي مطبعه، ۱۳۶۷، کابل

۳۴- جلالي، علي احمد، مطالعه تاريخ افغانستان از نگاه عسکري، ج اول، وزارت دفاع، مطبعه اردو، ۱۳۴۲، کابل

۳۵- وکيلي، پوپلزائي عزيز الدين، غزنه در دو قرن اخير، طبع کتب، مطبعه دولتي،

۱۳۵۶، کابل.

۳۶- جلالي، غلام جیلاني، غزنه د غزنویان، موسسه، موسسه طبع کتب، دولتي مطعه، ۱۳۵۱، کابل

۳۷- جوزجاني، ابو عمر منهاج الدین عثمان بن سراج الدین، طبقات ناصري، ج۱، ۱۳۴۲.

۳۸- حبیبي، عبدالحی، تاریخ افغانستان در عصر گورگاني، ۱۳۴۱

۳۹- حبیبي، عبدالحی، تاریخ مختصر افغانستان، ج۲، انجمن تاریخ، دولتي مطبعه، ۱۳۴۹، کابل

۴۰- حبیبي، عبدالحی، پنځوس مقالې، د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۶۲، کابل

۴۱- حبیبي، عبدالحی، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړه بینوا، دولتي مطبعه، ۱۳۴۶، کابل

۴۲- حیات، محمد حیات، حیات افغاني ټ۱ (ژباړه فرهاد ظریفي) سرحدونو وزارت، دولتي مطبعه، ۱۳۷۰، کابل

۴۳- رازقي نړیوال، د افغانستان استحکامي کلاوې، حصارونه او بالاحصارونه، میوند مطبعه، ۱۳۸۳، کابل

۴۴- رازقي نړیوال، د لرغوني غور استحکامي کلاوې، بیهقي موسسه، دولتي مطبعه، ۱۳۸۴، کابل

۴۵- رازقي نړیوال، لرغوني او اوسنی کونړ، وزارت دفاع، اردو مطبعه، ۱۳۸۴، کابل

۴۶- رښتیا، سید قاسم، افغانستان په نولسمه پیړۍ کې، دولتي مطبعه، ۱۳۴۱، کابل

۴۷- رهنمای قطغن و بدخشان، برهان الدین کشککي په زیار ایستنه، طبع ۱۳۰۲، کابل.

۴۸- ساد، خیر محمد، لرغوني آریایان، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۶۴، کابل

۴۹- سیستاني، محمد اعظم، سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه ها، اکادمي علوم، دولتي مطبعه، ۱۳۶۶، کابل

۵۰- سیفزی شهزاده، مدنیت غوري در افغانستان، پوهنځي ادبیات پوهنتون کابل، ۱۳۵۵، کابل

۵۱- شورماچ، محمد اکبر، جغرافیاي عمومي افغانستان، انتشارات زوري، ۱۳۵۰، کابل
۵۲- صدقي، محمد عثمان، نگاهي بر کابلشاهان، ۱۳۵۷، کابل
۵۳- صدقي، محمد عثمان، شهرهاي آریانا، موسسه طبع کتب بیهقي، مطبعه دولتي، ۱۳۵۴، کابل
۵۴- ظفر، کاکاخیل ژباړه سید بهادرشاه، پښتانه د تاریخ په رڼا کې، یونورستي بك، ۱۳۴۸، پشاور
۵۵- عطائي، محمد ابراهیم، د کابل پر تاریخي جغرافیه تقریظ، د افغانستان د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه، ۱۳۴۶، کابل
۵۶- عطائي، محمد ابراهیم، د پښتونستان مساله د حق خود ارادیت په رڼا کې، پوهنې مطبعه، ۱۳۴۸، کابل
۵۷- غبار، میر غلام محمد، جغرافیاي تاریخي افغانستان، موسسه طبع کتب بیهقي، دولتي مطبعه، ۱۳۶۸، کابل
۵۸- غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ، موسسه طبع کتب بیهقي، دولتي مطبعه، ۱۳۴۶، کابل
۵۹- غبار، میر غلام محمد، افغانستان و نگاهي به تاریخ آن.
۶۰- فضل احمد، رهنمای افغانستان، شماره ۱۲، مدیریت عمومي نشرات، ریاست مستقل مطبوعات، مطبعه عمومي، ۱۳۲۸، کابل
۶۱- کریمي، الحاج شیر محمد، ژباړه پټانز، دانش کتابخانه پشاور، ۱۳۷۸.
۶۲- کابل کالنۍ، ۱۳۴۵
۶۳- کهزاد، علي احمد، افغانستان در پرتو تاریخ، انجمن تاریخ، مطبعه دولتي، ۱۳۴۶، کابل
۶۴- کهزاد، علي احمد، بالاحصار کابل و رویدادهاي تاریخي آن، ج۱ مطبعه دولتي، ۱۳۳۶، کابل
۶۵- کهزاد، علي احمد، از سروبي تا اسمار، مطبعه دولتي، ۱۳۳۳، کابل

۶۶- کهزاد، علي احمد، د افغانستان پخواني تاريخ، ج۱، انجمن تاريخ، مطبعه دولتي، ۱۳۴۴، کابل

۶۷- لسترنج، جغرافياي تاريخي سرزمين هاي خلافت شرقي، ۱۸۸۰ م، ايران

۶۸- مير حسين شاه، ژباړه حدود العالم مولف گمنام، پوهنځي ادبيات، مطبعه پوهنتون کابل، ۱۳۴۲، کابل

۶۹- مؤلف نامعلوم، تاريخ سيستان، تاليف ۴۴۵- ۷۲۵ هجري شاوخوا

۷۰- مستوفي، حمدالله قزويني، نزهت القلوب، تاليف ۷۴۰ هجري

۷۱- مؤلف... مجمل التواريخ و القصص، تاليف ۵۲۰ هجري، طبع ۱۳۱۸، تهران

و قاموس جغرافياي افغانستان، ج۳

۷۲- هوتك، محمد بن داود، پټه خزانه چاپ دوم، دولتي مطبعه، ۱۳۳۹، کابل و اسلامي دايرة المعارف، ۱۳۴۹ ميلادي

۷۳- کابل مجله، ۵ گڼه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۱۰، کابل

۷۴- کابل مجله، . گڼه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۱۶، کابل

۷۵- کابل مجله، . گڼه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۱۸، کابل

۷۶- کابل مجله، ۱ گڼه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۳۹، کابل

۷۷- کابل مجله، ۵ گڼه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۳۹، کابل

۷۸- کابل مجله، ۴ گڼه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۵، کابل

۷۹- ننگرهار مجله، ۲ گڼه، مديريت مطبوعات ننگرهار، ۱۳۲۱

۸۰- او زما متفرق يادداښتونه.

د لیکوال لنډه پیژندنه

نوم او تخلص: محمد صدیق "رازقي نړیوال"

د پلار نوم: ملک عبدالرزاق

د زیږیدلو ځای او اټکلی نېټه: د کونړونو بر نرنګ ، ۱۳۲۰ هـ م.

علمي رتبه: پوهاند

لومړنۍ زده کړې: په خصوصي توګه، نظم او متداوله فقه او په رسمي توګه د نرنګ په لیسه کې شپږم ټولګي څخه فراغت

بکلوریا: حربي ښوونځی

لیسانس: حربي پوهنتون
او دژورنالیزم شپږ میاشتنی کورس

ادبي او فرهنګي سابقه: له ۱۳۲۹ کال راهیسي

دندې: د پوځي مسلکي دندو سربیره، د مطبوعاتو په برخه کې او هم د کیمیا او ګاز او پښتو ژبې استادی په بیلابیلو ادبي، فرهنګي، ژورنالیستي، طبي، نظامي، دیني، تاریخي، فلسفي، فلکلوریکي، علمي، تحقیقي، او داسې نورو زمینو کې په عمومي ډول د لاندنیو اثارو لیکوال دی:

چاپ شوي کتابونه: پنځه ټوکه

ژباړلي کتابونه: پنځه ټوکه

په اهتمام چاپ شوي کتابونه: دوه ټوکه

ناچاپ شوي کتابونه: د ۶۰ ټوکو په شاوخوا کې

ناچاپه رسالې: لس ټوکه

دهېواد په مطبوعاتو کې بیلابیلې مقالې او شعرونه: تر ۲۵۰۰ عنوانو مطالبو زیات

_ له ۱۳۳۷ کال راهیسې په ادبي او فرهنګي مشاعرو او محفلونو کې ګډون

_ له ۱۳۵۶ کال راهیسې په زیاترو علمي، تحقیقي، سیمینارونو کې فعاله برخه اخیستنه.

ژبې: په پښتو او دري ژبو بشپړه پوهیدنه او د عربي، انګلیسي او روسي سره آشنایي.

وروستنۍ پوځي دنده: د حربي پوهنتون د تاریخ حرب استاد په ۱۳۸۴ د ډګروالی په رتبه کې تر ۳۸ کلونو خدمت او ډي ډي آر کیدو وروسته له پوځي مسلک په ملکي تعدیل.

اوسنۍ دنده: د افغانستان د علومو اکاډمۍ، د کوشانی څېړنیز نړیوال مرکز علمي منشي.